## پوهنوالی اثر

# په افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل

### ۱_ سریزه :

افغانستان باندې دخپل جغرافیایي موقعیت له امله دنړۍ هر زبر ځواک یرغل کړی چې له دې هیواد څخه د تیریدو وروسته هند ته رسیدلي دي . لکه مقدوني سکندر ، چنګیز خان ، ګود تیمور ، نادر افشار .خو برخلاف انګلیسانو د هند د ساتنې په خاطر زمونږ په هیواد دوه نظامي یرغلونه په ۱۸۳۹ او ۱۷۷۸ ز کلونو کې وکړل. د شلمي پیړۍ زبر ځواک شوروي اتحاد د سیوسیالیزم او دیموکراسۍ دپلې کولو په خاطر په افغانستان یرغل وکړ . ( [1] _ مخ : ۱۳۳ )

افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل د نړۍ استعماري هیوادونو د رقابت په پایله کې صورت وموند. څکه کله چې ترکانو په ( سلطان محمد فاتح ) پنځلسمه پیړۍ ( ۱۴۵۳ز کال ) کې استانبول ( دختیځ روم دامپراتورۍ مرکز ) فتح کړ ، د ختیځ روم دامپراتورۍ له تجزیې وروسته ، اسپانیا ، پرتګال او انګلستان د سمندر له لارې د ختیځ لوري ته حرکت وکړ چې د دې سمندري قوتونو په سر کې برطانیه ځای ونیو ، دمستعمرو په ویشلو کې د لویدیځې اروپا هیوادونه تر یو حد متحد وو ، چې په پایله کې یې امریکا ، افریقا او د آسیا براعظم یوه برخه د سمندر له لارې تر خپل سلطې لاندې را وستله ، مګر روسیه هم بې تفاوته پاتې نه شوه [illegible] ان د بالتیک بحیرې ، توري بحیرې او د ارام سمندر سواحلو ته ورساوه . الاسکا یې تصرف کړه چې وروسته یې بیا د امریکا په متحده ایالاتو باندې خرڅه کړه . کله چې روسي د افغانستان او ایران د سرحداتو په لوري حرکت وکړ ، د برطانیه امپراتوري یې مخې ته ودریده څکه چې په هغه وخت کې د لویدیځې اروپا د استعماري هیوادونو لوي دښمنان عثماني ترکیه او نزاري روسیه ګڼل کیدل ،

Ketabton.com

---

[1] _ شینواري ، محمد ابراهیم ( ۱۳۸۹ ل ) . سبا به ناوخته وي . دانش خپرندویه ټولنه، کابل ،افغانستان مخ : ۱۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر روسي او انګليسانو په ګډه د وچې له لارې په عثماني ترکيه کلکې ضربې واردې کړې. تر څو عثماني امپراتوري د لومړۍ نړيوالې جګړې ( ۱۹۱۴ _ ۱۹۱۸ ز ) په پايله کې تجزيه او د ترکي جمهوريت مينځ ته راغی ، المان او اتريش د لويديځې اروپا هيوادونه د نزاري روسي له خوا کلابنده و ، ونه توانيدل چې د سمندر له لارې د مستعمرو خاوندان شي ، ناپيلون غوښتل چې يوريشيا ونيسي . خو د برتانيه له خوا يې مخه ونيول شوه ، په لومړۍ نړيواله جګړه کې المان غوښتل چې اتريش او عثماني ترکيې سره د اتحاد پواسطه دا حلقه ماته کړئ مگر د لويديځې اروپا ټول هيوادونه د دوي په مقابل کې جګړې ته داخل شول ، حتی امريکا د روسي اولويديځې اروپا سره د مرستي لپاره جګړې ته داخله شوه چې په پايله کې المان اتريش او عثماني ترکيې ماتې وخوړه . ( [1]_مخونه : ۶_۷)

د شلمې پيړۍ په لومړيو ( ۱۹۱۷ ز کال اکتوبر ) کې په روسيه کې سيوسيالستي انقلاب وشو . همدارنگه د شلمې پيړۍ په دويمه نيمايي کې جاپان ، المان او ايټاليا په نيمه کره باندې د حاکميت او په خپل مينځ کې د ويش له پاره سره متحد شول . په ۱۹۳۹ ز کال د پولينډ له نيولو وروسته دويمه نړيواله جګړه رسماً پيل شوه چې متحدينو په ۱۹۴۵ ز کال کې ماتې وخوړه ، د برتانيې لويه امپراتوري هم د سقوط سره مخ شوه . مگر په آسيا او اروپا کې شوروي اتحاد د سياسي ، اقتصادي او ايدیالوژيک حاکميت د پراختيا په حال کې و ، امريکا د شوروي د پرمختګ د مخنيوي په خاطر د ناټو او سنټو نظامي پکتونه جوړ کړل . لږ ه موده وروسته اندونيزيا له سوسيالستي بلاکه څخه وگرزيده ، چين هم په ۱۹۶۹ ز کال کې شوروي اتحاد سره فاصله پيدا کړه ، خو په امريکا کې کيوبا او نيکاراګوا ، عراق ، جنوبي يمن ، ويتنام، لا وس ، کمپوچيا او کوريا په آسيا کې د شوروي اتحاد د پلويانو په توګه پاتې شول . ( [2]_ مخ: ۸ )

[1]_ مينه پال ، عبدالحنان ( ۱۳۷۲ ) . نامه يک افسر به ډاکتر نجيب الله مخونه : ۶_۷

[2] _ مينه پال ، عبدالحنان ( ۱۳۷۲ ) نانه يک افسر به ډاکتر نجيب الله مخ : ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي اتحاد يوازې دانقلاب په صادرولو او له هغو څخه پخپل انترناسيونالسيتي ملاتړ باندې اکتفا نه کوله . بلکه د شوروي له دويمې نړيوالې جګړې وروسته له جاپان څخه د کوريا ټاپوګان له رومانيا څخه د يارابي او يوکويني ايالتونه ، د چکوسلواکيا څخه ترانسس ، د پولنډ ختيځې برخې بالتيک ځينې برخې يې له شوروي سره يو ځاى کړې . په امريکا باندې د هلسنګي د ( ۱۹۷۵ ز کال ) د تړون پواسطه د ختيځې اروپا سرحدونه او رژيمونه په رسميت وپيژندل . په ۱۹۷۲ ز کال کې په ولاديوستوک کې د امريکا او شوروي جمهور رئيسانو تر مينځ د لومړي سالت تړون په ( ۱۹۷۹ ز کال ) د امريکا جمهور رئيس جمي کارتر او شوروي جمهور رئيس بريژنف تر منځ دوم سالت لاس ليک شو . او د ۱۹۷۹ زکال د ډسمبر په ۲۷ شوروي قوتونه پر افغانستان يرغل وکړ ، خو د افغانستان د خلکو د کلک مقاومت او قرباني په پايله کې له ماتې وروسته د ۱۹۸۹ زکال د فبروري په ۱۵ مه د ژنيو د موافقې ( ۱۹۸۸ ز کال امپريل ۱۴ مه ) وروسته له افغانستان څخه ووتل . ([1]_ مخ : ۸ )

په معاصر تاريخ په ځانګړې توګه له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د کمونيزم او لويديځ ، د کمونيزم او اسلام تر منځ رقابت زيات شو ، سيوسياليزم په شوروي اتحاد او چين کې مسلط و. خوسو سياليزم هجومې حالت او لويديځ (امپرياليزم) دفاعي حالت درلود ، چې ورځ په ورځ شاته روان وو ، خپل سوداګريزه مارکيټونه يې سيوسيالستي بلاک ته خوشې کړل چې سوسياليزم په ډيرې چټکې سره په آسيا ، ختيځې اروپا ، افريقا او حتى په لاتينه امريکا کې خپل نفوذ ته پراختيا ورکړه ، په ټوله ختيځه اروپا ، شمالي کوريا ويتنام ، کمبوديا ، يمن ، سوريه ، عراق ، مصر ، سودان ، کيوبا ، چلي هيوادونو کې ګڼ شمير ګوندونه ايجاد شول چې له شوروي اتحاد سره يې دوستانه اړيکي درلودې . په ويتنام کې د امريکا ماتې د لويديځ روحيه ماته کړه ، مصر ، سوريه او عراق کې هم شوروي پلوه ګوندونه قوي

---

[1] _ مينه پال ، عبدالحنان ( ۱۳۷۲ ) نانه يک افسر به ډاکتر نجيب الله مخ : ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، د افغانستان سیاسي جریانونه هم د دې نړیوال بهیر څخه متاثره کېدل ، خو دشوروي نفوذ په دې هیواد کې هغه وخت چټک شو چې د افغانستان دولت د پوځ په تربیه او تجهیزاتو کې د شوروي مرسته زیاته شوه . (2_ مخ: ۲)

افغانستان هغه وخت د بدبختۍ او ستونزو سره مخ شو چې په شلمه پیړۍ کې د روسي او انګلیسانو تر منځ ستراتیژیک موقعیت کې واقع شو ، ځکه دې هیواد دنړیوال رقابت په پایله کې ډېر زیان ولید ، په دې رقابت کې ختیځ هڅه کوله چې د افغانستان له ځانګړي ستراتیژیک موقعیت څخه په دوامداره توګه هند ته د رسیدو له پاره ګټه واخلي ، شوروي غوښتل افغانستان کې د خپل نفوذ او واک له ټینګیدو وروسته یوې خوا ته د مرکزي اسیا هیوادونو امنیت ټینګ کړي او بل پلو ته ایران ، پاکستان او هند تر تاثیر لاندې راولي او د افغانستان د طبعي منابعو څخه د ګټې اخېستلو په خواکې د لویدیځو هیوادو سره له اتحاد څخه لیرې وساتي . خو غرب افغانستان د شوروي په لاس کې کیوتۍ او د هغوی تر مستقیم تاثیر لاندې ګاڼه ، لویدیځ هغه وخت په هوش راغی چې د شوروي نفوذ مخه نیول یو ستونزمن کار و .

د سردار محمد داود خان د کودتاه له بریالیتوب څخه وروسته د پرچم اړخ په کابینه کې د وزیرانو په توګه د خپلو ملګرو په موجودیت خوښ و ، دوی په دې اند وو چې په کابینه کې د خپل نفوذ پواسطه کولای شي چې سردار محمد داود خان ترخپل نفوذ لاندې راولي ، په همدې خاطر یې د پرچم جناح د مشرانو په مشوره خپل ملګري د دولت په مختلفو څوکیو کې ځای پر ځای کړل ، تر څو په دې کار سره د دې توان پیدا کړي چې داود خان په دوی اتکا وکړي او خپل واک دومره زیات کړي چې داود خان یوه سمبولیکه بڼه ولري او محمد داود خان د دې توان ونه لري چې هغوی (پرچمیان) له څوکیو لرې کړي خو په رښتیني توګه محمد داود خان په پرچمیانو اعتماد نه کاوه او پرچمیانو پر داود خان اعتماد نه درلود ، دواړو خواو غوښتل چې د یو بل

---

[2] _ حکمتیار ، ګلبدین ( ، ) . د نادري کورنۍ له راوستلو د روسانو تر سیدو . مخ: ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نفوذ څخه استفاده وکړي . داود خان ته د هغه نږدې ملګرو د پرچميانو د وجود او خطر په اړه يادونه کوله . (1_ مخ: ۵۹۴)

افغانستان د شوروي اتحاد اوپاکستان سره د ګاونډيتوب له امله د سختو سياسي ستونزو سره مخ شو ، شوروي اتحاد دشمالي ګاونډي او نړيوال ځواک په توګه د افغانستان سياسي پيښې څارلي او بې تفاوته نه پاتې کيده ، پاکستان چې د انګليسانو او له امريکا سره د نظامي تړون غړی و ، د افغانستان سره يې د پښتونستان د مسئلې پر سر اختلاف درلود ، پاکستان تل د دې هيواد د دولت په مقابل کې ستونزې ايجاد ولې ، خو شوروي په دې تبليغاتو سره چې سيوسياليزم د بشر د ارامۍ ضامن دی او د بشر ټولې ستونزې يوازې د سيوسيالستي نظام په جوړولو سره حل کيږي . خود بشر خلاصون نه په غربي ديموکراسۍ او نه په کمونستي ديکتاتورۍ کې ده . بلکه دبشريت خلاصون يوازې د اسلام د مقدس دين د اصولو په تطبيق کې دي ، روسانو د ازبکستان ، ترکمنستان ، قزاقستان ، تاجکستان ، قرغزستان ، اذربايجان ، ګرجستان او ارمنستان دجمهوريتونو له نيولو وروسته يې د هغو هيوادونو دين او ژبې ته بدلون ورکړ . (2_ مخ: ۲)

د مرکزي آسيا له نيولو وروسته روسانو له افغانستان څخه پنجده او مروه جلا کړل ، خو د۱۹۱۷ ز کال د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته دشوروي سياست بدلون وکړ په افغانستان کې يې سياسي حالات څارل . د سردار محمد داود خان د رژيم دسقوط او د افغانستان د خلق ديموکراتيک تر منځ له اختلاف وروسته بريژنيف پر افغانستان باندې د

---

1 _ دريځ ، امين الله ( ۱۳۷۹ خورشيدي ) . افغانستان در قرن بيستم ، انجمن نشراتي ، دانش ، پشاور مخ : ۵۹۴

2_ حامد ، خليل احمد ( ۱۳۹۱ لمريز ) . سور ښامار . د مومند خپرندويه ټولنه ، ننګرهار مخ: ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغـــل پریکـــړه     وکـــړه ، چـــې د ۱۹۷۹ ز کـــال د دســـمبر ۲۷ مـــه او د ۱۳۵۸ ل کـــال د جـــدي ۶ مـــه پـــر افغانســـتان نظـــامي یرغـــل وکـــړ . خـــو پـــر هغـــه مهـــال د ملگـــرو ملتونـــو د امنیـــت شـــورا پـــه ۱۹۸۰ ز کـــال پـــه جنـــوري کـــې پـــه خپلـــه غونـــډه کـــې دا مســـئله مطـــرح کـــړه او لـــه افغانســـتان څخـــه یـــې د بـــې قیـــد او شـــرط څخـــه د دې پوځونـــو د وتلـــو پریکـــړه وکـــړه ، کـــورټ والـــد هـــایم ، پریـــزدو کـــویلار د افغانســـتان د قضـــیې د حـــل لپـــاره خپـــل ځـــانگړي اســـتازي     وټاکـــه . خـــو کلـــه چـــې پریزدوکـــویلار د ملگـــرو ملتـــوب د منشـــي پـــه توگـــه وټاکـــل شـــو . د افغانســـتان د قضـــیې د حـــل لپـــاره یـــې د یکوکـــور دویـــز د خپـــل اســـتازي پـــه توگـــه وټاکـــه . کـــوردویز و توانیـــده چـــې پـــه ۱۹۸۸ ز کـــال پـــه اپریـــل کـــې د ژنیـــو تـــړون د پاکســـتان او افغانســـتان تـــر مـــنځ لاس لیـــک کـــړئ تـــر څـــو لـــه افغانســـتان څخـــه د شـــوروي اتحـــاد د پوځونو د وتلو زمینه برابره     شوه . ([1]_ مخ : ۲ )

پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو حساسه او د پام وړ موضوع ده چې ددې یرغل پر مهال د افغانستان خلکو د قربانۍ او جهاد ځانگړې اهمیت لري چې د شوروي اتحاد پوځونه یې ایستلو ته اړ ایستل ، د نړۍ ډیري هیوادو د دې یرغل په مقابل توند غبرگون وښود او د افغانستان د مجاهدینو ملاتړ یې وکړ ، خو د دې یرغل په لومړیو وختونو کې د شوروي اتحاد رهبري او د افغانستان تش په نوم واکمن ببرک کارمل غوښتل چې دنظامي عملیاتو او پوځي فشار په اساس به زمونږ ولسونه دځان تابع او خپله کړنلاره به عملي کړي . د دوی دا وړاندوینه غلطه ثابته شوه ځکه دوی د افغانستان په مظلوم ولس باندې هر ډول پر مختللې وسلې استعمال کړي . خو د حاکمیت ساحه یې ورځ تر بلې محدودیده ، د دوی نظامي کړنلاره د ناکامۍ سره مخ شوه ، په ۱۹۸۵ ز کال کې د شوروي اتحاد په رهبرۍ کې د بدلون او د گرباچوف واک ته له رسیدلو وروسته شوروي

---

[1] _ کاروین ، فلیپ ( ۱۳۸۴ش ) . سرنوشت غم انگیزدر افغانستان مترجم حکیم سروري ، دانش خپرندویه ټولنه مخ : ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهبرۍ دې ته اړ شوه چې په خپله کړنلاره باندې نوې کتنه وکړي . گرباچوف د افغانستان جگړه د ناسور زخم په نوم یاده کړه او اعتراف یې وکړ چې په افغانستان کې د دوی نظامي بریالیتوب ناشوني دی د خپلو پوځونو د ایستلو له پاره یې هلې ځلې پیل کړې. ځکه شوروي اتحاد د افغانستان د خلکو د اوږدې قربانۍ په پایله کې په دې یقیني شو چې دوی نورخپل پخواني تشکیل نشي ساتلی او گرباچوف مرکزي آسیا هیوادو ته آزادۍ ور کړه او شوروي کمونستي رژیم هم لږه موده وروسته د ۱۹۹۱ ز کال په آگست کې سقوط وکړ ، اوپه نړۍ کې د قواو انډول له مینځه ولاړ چې د نړۍ په تاریخ کې یو ستر بدلون او نړیوالو پېښو له دې سقوط وروسته نوي بڼه خپله کړه .

د گرباچوف له فشار او غوښتنې وروسته د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اود افغانستان دخلق دیموکراتیک گوند په رهبرۍ کې هم بدلون راغی او ډاکتر نجیب الله د کارمل پر ځای د افغانستان واکمن شو ، نجیب الله په گوندي او دولتي کړنلاره کې بدلون راوست د ملي روغې جوړې سیاسي کړنلاره یې اعلان کړه . د ملگرو ملتو په منځگړیتوب د افغانستان او پاکستان تر منځ په ۱۹۸۸ ز کال یې د ژینو تړون لاس لیک کړ. چې د دې تړون پر بنسټ د ۱۹۸۹ ز کال د جنوري په ۱۵ شوروي پوځونه ټول له افغانستان څخه ووتل ، نجیب الله ډېره هڅه وکړه چې دملگرو ملتو د پلان د تطبیق سره سم به په افغانستان کې سوله راشي او ټاکنو ته به لاره هواره شي . خو د ډاکتر نجیب الله او بینن سیوان پلان د پرچم د یوې ډلې له خوا د ناکامۍ سره مخ شو او ډاکتر نجیب الله خپله واکمني له لاسه ور کړه ، د ملگرو ملتو په دفتر کې بندي شو او واک مجاهدینو ته انتقال شو .

دغه څېړنیز اثر چې پرافغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل او کمونستي رژیم پر سقوط یې اغیز تر سرلیک لاندې لیکل شوی دی . د دې اثر د لیکنې پر مهال کوښښ شوی د شوروي اتحاد دیرغل پورې اړوند موضوعات چې د شوروي یرغل ته یې زمینه برابره کړې ده، څېړل شوې دی . د دغه موضوع د ښې توضیح په خاطر په وړو عنوانو ویشلي شوې ده . چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي د کمونستي رژیم پر سقوط پای ته رسیږي . په څیړنه کې هڅه شوي چې د یرغل پر مهال د افغانستان د خلکو قرباني او جهادد په هر اړخیزه توګه روښانه شي او د لویدیځو هیوادونو غبرګون هم د امکان تر بریده تحلیل اوپه ځینو برخو کې د اوسنیو پیښو سره د هغوي اړیکې ښودل شوی دی ، په لیکنه کې د هر شخص نظر ته درناوی شوی او پرته له تغیر څخه مې لیکلی دی ، په دغه څیړنیز اثر کې د پیښو نیټې په لمریز او زیږدیز نیټه ښودل شوی دی . چې د لمریز پر ځای (ل) او زیږدیز پر ځای د (ز) توري استعمال شوی دی . چې (ل) د لمریز او (ز) د زیږدیز معني ور کوي . د اثر په لیکنه کې د ښو او معتبرو منابعو څخه ګټه اخېستل شوې ده چې زیات لیکوالان د دې پېښو اصلي شاهدان دي .

د اثر اصلي موضوع ترمختلفو سرلیکونو لاندې توضیح شوی ده چې په ځینو ځایونو کې د افغانستان د خلق د یموکراتیک ګوند پرځای د ا، د ، خ ، ګ توري استعمال شوي چې عین مطلب افاده کوي . دمتن له اوږدیدو څخه د مخنیوي په خاطر د نور محمد تره کی پر ځای د تره کی ،د حفیظ الله امین پر ځای د امین او د ببرک کارمل پر ځای د کارمل نومونه استعمال شوی دی . او د ثور د انقلاب او کودتاه پر ځای ما د بدلون کلیمه استعمال کړې ده . کوښښ شوی د موضوع د دواړو خواوو یعني دولت او مجاهدینو کړنې په منظمه اوپرته له پلویتوب څخه توضیح کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ـ دموضوع ستونزه (پرابلم)

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل ، زمونږ د هیواد په معاصر تاریخ کې یوه مهمه موضوع ده . ځکه د دې یرغل په وجه زمونږ هیواد له ستونزو سره مخ او د پرمختګ مخه یې ډب کړه . د موضوع اصلي ستونزه دا ده چې زمونږ د ټولنې ځوان قشر د دې یرغل په اصلي لاملونو نه پوهیږي . ځینې د شوروي پوځونو راتګ پر حفیظ الله امین او ځینې د یرغل اصلي څیره کارمل ګڼي . په څیړنه کې کوښښ شوي چې سرو لښکرو د یرغل اصلي لاملونه په ګوته شي ، تر څو په تاریخي لحاظ دغه تشه ډک شي . په ازاد بازار کې د هر ډول کتابونو د چاپ زمینه برابره ده . هره ډله او هر شخص غواړي چې واقیعتونه په خپله ګټه تعبیر او بیان کړي ، ما ځکه د دې موضوع څیړنه غوره کړه . تر څو وکولای شم چې دشوروي یرغل د موخو او د هغوي دکړنو په اړه کره او بی طرفه معلومات را ټول او تحلیل کړم چې دمحصلینو او تاریخ د مینه والو پوښتنې تر یو حده ځواب شي ، ځکه د افغانانو قربانۍ او جهاد په پایله کې د شوروي اتحاد پوځونو دنوو (ماډرن) وسلو په درلودلو سره ماتې وخوړه ، شوروي اتحاد د خپل نیول شویو هیوادونو له اداري څخه عاجز شو ، چې (۱۵) جمهوریتونو تری ازادي واخیستله په نړۍ کې د دوی نفوذ ختم شو . په خپله د شوروي کمونستي رژیم سقوط وکړ . په څیړنه کې هغه پوښتني حل شوي چې افغانانو ته شوروي د یرغل او دشوروي د کمونستي رژیم سقوط په اړه موجودې وي . هیله ده چې محصلینو هغه پوښتني چې د شوروي د یرغل او د هغه د پایلو په اړه یې لري حل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳_ موخه :**

۱_ په دې باید و پوهیږو چې د شوروي اتحاد پر افغانستان ولې یرغل وکړ .

۲ _ ایا پر افغانستان دشوروي اتحاد یرغل دشوروي د کمونستي رژیم لپاره څه راز پایلې درلودلې دي ؟

۳_ په کار ده افغانان پوه شي چې د شوروي اتحاد دیرغل تر څنګ نور کوم عوامل د شوروي د کمونستي رژیم د سقوط لامل شوي دي .

**۴_ د څېړنې اهمیت:**

د دې موضوع دڅېړنې اهمیت په دې کې ده ، چې دټولنې ځوان قشر په ځانګړي ډول د محصلینو پوښتنو ته ځواب وایې خصوصاً هغه ځوانانو ته چې دشوروي د یرغل څخه وروسته پیدا شوي او اوس د ځوانۍ مرحلي ته رسیدلي ، د هغوی پوښتنو ته ځواب وایې ، د دې موضوع څېړنه دتاریخ دڅانګې محصلینو ته دپام وړ ارزښت لري ، تر څو هغوي د دې موضوع په اړه علمي او څېړنیزو معلوماتو ته لاس رسۍ پیدا کړي او د تبلیغاتي اثارو د اغیزو څخه خلاص شي . هغوي باید په خپلو څېړنو کې دڅیړنیزو اثارو او علمي کتابونو څخه ګټه واخلي دغه موضوع د افغانستان په معاصرتاریخ کې ډیره مهمه موضوع ده او توضیح یې ډیره اړینه ده ځکه معاصر تاریخ د ښووني او روزنې دپوهنځي دتاریخ د څانګې پرته په نورو څانګو او د ننګرهار پوهنتون په نورو پوهنځیو کې تدریسیږي ، چې په دې صورت کې دڅانګې یوه تشه ډکه چې د څو واکمنانو د واک دوري پکې توضیح کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څېړنه د شوروي یرغل اقتصادي ، سیاسي او ټولنیزو پایلو د څېړنې له پاره لاره هوار وي . څېړنه کې دا واقعت په واضح توګه څرګندیږي چې د افغانستان دولتونه باید د سیمې ، روسیي او نورو هیوادو سره دسیاسي اړیکو په ټینګښت کې خپلو ګټو او د هغوی اهدافو ته په دقیقه توګه متوجې اوسي .

۵_تیرو ماخذونو ته یوه کتنه :

ما د څېړنې پر مهال د موضوع پورې اړوند یو لړ علمي چاپي اثار مطالعه او د هغوی د معلوماتو څخه مې د دې څېړنیز اثر پــــــه لیکنه کـــــــــې ګټه اخســــتې ده . دا موضوع « پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد یرغل او د کمونستي رژیم پر سقوط یې اغیز » د تاریخ د څانګې له خوا ماته دپوهندوی علمي رتبې څخه د پوهنوال علمي رتبې ته د لوړیدو په خاطر را سپارل شوي ده تر څو یو څېړنیز اثر ولیکم ، ما ددې اثر د بشپړولو په خاطر د ننګرهار پوهنتون کتابتون ، داطلاعاتو اوکتلور ریاست کتابتون ، د مرکو او انټرنیت له سایټونو څخه ګټه اخستي ده . له کومو کتابونو څخه چې ما د دې اثر په لیکلو کې ګټه اخیستي دموضوع د نه اوږدیدو په خاطر په لنډو جملو کې در پیژنم .

۱_ د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې .

پورته اثر زمونږ د هیواد پیاوړي مورخ پوهاند محمد حسن کاکړ په ( ۴۷۴ ) مخونو کې لیکلی ، په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا خپور شوي ، چې په ۱۳۸۹ ل ( ۲۰۱۰ ز ) کال د آسد دانش مطبعې چاپ کړی په دې کتاب کې دثور د بدلون له پاره زمینه برابریدل ، دمیر اکبر خیبر مړینه ، د خلقي دولت بیرغ ، دحفیظ الله امین او نور محمد تره کي تر مینځ اختلاف ، د هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورستان ، پلخمري ، چنداول ، بالاحصار پاځونونه ، هاوانا ته د تره کي سفر ، د حفيظ الله امين حکومت له امريکا ، شوروي او پاکستان سره د امين اړيکې او نور موضوعات څېړل شوي دي . ما د دې اثر څخه د خپلې ليکنې په مختلفو ځايونو کې ګټه اخستې ده . د دې کتاب لوستل د تاريخ د ځانګې محصلينو ته اړين ګڼم او ټول لوستي هيوادوال بايد نوموړی اثر مطالعه کړي .

۲ ـ روابط سياسي و دپيلوماتيک افغانستان و روسيه طی سالهای ۱۱۰۸ ـ ۱۳۸۱ هـ ( ۱۷۲۹ ـ ۲۰۰۱ )

ښاغلي سرمحقق شاه محمد ميهن ورد د افغانستان دعلومو د اکاډمي غړی په خپله څېړنيزه پروژه کې د افغانستان او روسي تر منځ د ډيپلوماتيکي اړيکې له ۱۱۰۸ هـ ش څخه تر ۱۳۸۱ هـ ش پورې څېړلې دي . نوموړی اثر په اوو فصلونو کې ليکل شوی چې د غازي امان الله ، حبيب الله کلکاني ، نادر خان ، اعليحضرت محمد ظاهر ، سردار محمد داود خان ، نور محمد تره کی او دشوروي پوځونو تر وتلو پورې د دواړو هيوادو د ډيپلوماتيکي اړيکې څېړلې دي . هغه کوښښ کړی چې په هر واکمني کې د افغانستان او شوروي اړيکې تحليل کړي . دا اثر د ټولو افغانانو له پاره د اهميت وړ دی چې د افغانستان او روسي په اړيکو وپوهيږي .

۳ ـ د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه :

نوموړی اثر د افغانستان د علومو اکاډمي غړي مرحوم محمد ابراهيم عطايي ليکلی. محترم عطايي په دې اثر کې د افغانستان د معاصر تاريخ پيښې د احمد شاه بابا له واکمنۍ څخه دمجاهدينو تر حاکميت پورې څېړلي دي ، ده د نور محمد تره کی او حفيظ الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین واکمني او امین ته د بریژنیف هغه وړاندیز چې د پاکستان دبهرنیو چارو دوزیر راتګ دي معطل شي ، په مکمل ډول توضیح کړی دی ، دغه کتاب په ( ۴۳۲ ) مخونه او دوویشت فصلونو کې د میوند خپرندویه ټولنې له خوا د ځلورم ځل له پاره په ۱۳۸۹ لمریز کال چاپ شوي دی .

۴ ـ د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرني مداخله :

پورته اثر د افغانستان مشهور ژورنالست او لیکوال ډاکتر نبي مصداق لیکلی او ډاکتر نثار احمد په پښتو ژبه ژباړلی دی د احمد شاه بابا له واکمنۍ څخه د شوروي اتحاد تر یرغل پورې د افغانستان سیاسي پیښې څیړلي دی . د نور محمد تره کې ، حفیظ الله امین ، ببرک کارمل واکمنۍ او د شوروي یرغل په مفصل ډول تحلیل کړی دی ، ده په ملپاتو کې هم ډیر مطالب توضیح کړي دي ، د پیښو څېړونکي کولی شي له نوموړي اثر څخه دماخذ په توګه ګټه واخلي .

۵ ـ ظهور وزوال حزب دموکراتیک خلق افغانستان

دا اثر د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند مرکزي کمیتي غړي دستګیر پنجشیري په دوو برخو کې لیکلی په دې اثر کې د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند دبنسټ ایښودلو له پاره د ملي او نړیوالو شرایطو تحلیل ، له ۱۳۵۷ لمریز کال څخه وروسته د ګوند داخلي اختلافات د ډاکتر نجیب ګوندي سیاست اودشهنواز تڼي کودتاه په مفصل ډول توضیح شوي دي . نوموړی اثر په ۱۳۷۷ لمریز کال دجدي په ۱۱مه د ۱۹۹۹ ز کال د جنوري په لومړی نیټه په پیښورکې چاپ شوی دی ، ما له دي اثر څخه د ګوند د موسسې کنګرې او وحدت په برخه کې ګټه اخستي ده . که چیري څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د خلق دیموکراتیک گوندتاسیس او اختلاف په اړه څېړنه کوي ، له دې اثر څخه د یوه ښه ماخذ په توګه ګټه اخستلی شي .

۶ـ سرې لښکرې په افغانستان کې :

نوموړی اثر دشوروي د سرو لښکرو یو پوځي قوماندان جنرال باریس ګروموف لیکلی او ډاکتر داود جنبش په پښتو ژبه ژباړلی دی . په دغه اثر کې ګروموف دسترګو لیدلی حال لیکلی دی د تره کي ، امین او بریژنیف اړیکې همدارنګه او دبریژنیف او کارمل اړیکې توضیح کړي او افغانستان ته د شوروي پوځونو د یرغل په اړه یې د شوروي د کمونست ګوند په سیاسي بیرو کې د نظر اختلاف هم توضیح کړی دی . دا اثر په ۱۳۷۵ ل ( ۱۹۹۷ ) کال د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی .

۷ـ پشت پرده :

دا اثر دیکوکوردووز او سلیک آس هارسون لیکلی او اسدالله شفایي په دري ژبه ترجمه کړی ، په نوموړي اثر کې د شوروي دیرغل ځیني اړخونه،د ژینو تړون ، دشوروي او امریکا له خوا تضمین لیکونه په دقیق ډول څېړلي دي، چې په ۱۳۷۹هـ ش کې د ایران المهدي بین المللي انتشاراتو له خوا چاپ شوی دی.

۸ـ سپیڅلی پاڅون :

دغه اثر د افغانستان پیاوړي ژورنالیست او لیکوال مرحوم یعقوب شرافت لیکلی دی، په دې اثر کې د۱۳۵۷ لمریز کال د بدلون څخه وروسته لومړنی مهاجرتونه او پاڅونونه توضیح شوي . نوموړي اثر په روانه پښتو ژبه لیکل شوی چې د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجاهدينو قرباني يې توضيح کړي دي ، دغه اثر په ۱۳۹۱ لمريز کال کې د النور نشراتي اداري له خوا چاپ شوی دی .

۹_ جنگ اشباح :

پورته اثر ستيو کول ليکلی او مهندس محمد اسحاق ترجمه کړي چې په ۱۳۹۰ هـ ش( ۲۰۱۲ م ) کې د ميوند د انتشاراتو له خوا په کابل کې چاپ شوی دی په دې اثر کې په افغانستان کې د سي . آی . اې ، ای. اس . ای او کا . جي . بي د استخباراتي ادارو مداخلې څېړل شوی دی ، چې دافغانستان دمجاهدينو د جهاد او شوروي يرغل پورې اړوند مسايل توضيح شوی دی ، سيتوکول د واشنگټن پوست د اداري منشي و او له ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۲ ز کاله پورې دجنوبي آسيا د مسول په توگه دنده اجرا کوله . نوموړي د افغانستان دجگړې په اړه ډير ارقام ټول کړي چې د تاريخ څېړونکو له پاره ځانگړې ارزښت لري .

۱۰_ جنگهای افغانستان : ۱۹۷۹ _ ۱۹۸۹ ز کال :

دا کتاب دجنرال ای بگدانوف له خوا ليکل شوی ، چې انجينر عبدالاحد ( لعل زاده ) او سلطان محمود عزيز پنجشيري په دري ژبه ترجمه کړی دی او په ۱۳۸۲ هـ ش کال کې چاپ شوی دی په نوموړي اثر کې د شوروي پوځونو فعاليتونه د هغوي وضعيت ، ددواړو دولتونو ( شوروي اوافغانستان ) اړيکې په پوره دقت سره څېړل شوي دي .

۱۱_ د پاکستان بهرنۍ پاليسي ته يوه کتنه له ۱۹۴۷ څخه تر ۲۰۰۴ ز کال:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اثر ډاکتر حسن عسکر رضوي ليکلی او څېړنيار محمد سرور احمدزي په پښتو ژبه ژباړلي دی. کتاب دحجم په لحاظ کوچني دی خو د پاکستان اړيکې له هند او افغانستان ، امريکا او اسلامي هيوادونو سره په مختصر ډول څېړلي دي . نوموړی اثر په ۱۹۹۲ لمريز کال دمومند خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوی دی ، د دې کتاب موضوعات لوستونکې دپاکستان دبهرنۍ پاليسي سره آشنا کوي ، لوستل يې د تاريخ مينه والو او سياسي اشخاصو ته اړين دی .

۱۲ ـ د سی ، آی ، اې پټې جګړې له ويتنامه تر افغانستان :

نوموړې اثر پيترهار کليرود ليکلی او محمد زبير شفيقي ژباړلی دی ، ليکوال کوښښ کړی چې د سی ، آی ، اې ټولې پټې کړنې او فعاليت يې تحليل او ارزيابي کړي ، د کتاب ټول موضوعات د اهميت وړ دي ، نوموړی اثر په ۱۳۹۲ لمريز کال د اسد دانش مطبعې له خوا چاپ شوي دی .

۱۳ ـ وطن يا کفن :

دا اثر پاکستاني ژورنالست نورالبشر نويد ليکلی او په ۱۹۹۹ ز کال چاپ شوی دی . په دې اثر کې د ډاکتر نجيب الله ژوند ، د ملي روغې جوړې سياست دنجيب دواکمني اساسي قانون ، د ژنيو توافقات ، د ډاکتر نجيب شخصيت ، دشهنواز تڼی کودتا او نورموضوعګانی څيړل شوی دی .د کتاب ټول موضوعات لوستونکو ته د اهميت وړ دی . .

۱۴ـ کې . جي . بي په افغانستان کې :

نوموړي اثر د شوروي د استخباراتي اداري پخواني غړي واسيلي ميتروخين ليکلي او امين رحمت اريا ژباړلی دی ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثر کې د ثورکودتا ، د سپتامبر کودتاه او ډسمبر یرغل او نور موضوعات توضیح شوي دي. چې دشوروي یرغل پورې اړوندو موضوعاتو د څېړنې له پاره ښه ماخذ دی.

۱۵ ـ د اسلامي نهضت لوړې ، ژورې ، د نادري کورنۍ د راوستو د روسانو تروتو

پورتني اثر داسلامي حزب مشر ښاغلی گلبدین حکمتیار لیکلی دی. په دې اثر کې ښاغلي حکمتیار دخلق دیموکراتیک گوند جوړښت د داود خان کودتا ، دداود خان اوپرچمیانو اختلاف ، د داود خان له خوا د اسلامي نهضت د غړو تحدید او نوري موضوعگانی څېړلي دي.

۱۶ ـ تحولات سیاسې جهاد افغانستان :

نوموړی اثر د اکتر نصري حق شناس په دریو ټوکونو کې لیکلی چې د ۱۳۵۷ لمریز کال څخه د مجاهدینو تر حکومت پورې یې ټول موضوعات لکه د ثورکودتا ، د کې . جي . بي او د افغانستان د استخباراتي سازمان (اکسا) تر منځ همکاري . د کابل او مسکو تر مینځ تړون ، دخلقیانو او پرچمیانو تر منځ اختلاف ، د امین وژنه دکارمل واک ته رسیدل او نور ورکې څېړل شوی دی ، نوموړی کتاب په ۱۳۸۵ لمریز کال د نعماني مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

۱۷ ـ یاداشتهاي سیاسی و رویداد های تاریخی :

دغه اثر سلطان علي کشتمند لیکلی چې نوموړی د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند غړی ، د پرچم جناح ته منسوب و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارمل په واکمني د وزارت اودنجیب په واکمني کې د صدراعظمۍ دنده درلوده . ده ټول موضوعات دسترگو لیدلي حال او یاداشت په بڼه توضیح کړي . ده د گوند اختلاف . دشوروي یرغل او نورموضوعات یې توضیخ کړي دي لیکونکي او لوستونکي د دې اثر څخه گټه اخیستي شي .

۱۸_ غمیزه څرنگه مینځ ته راغله :

دا کتاب پوهنوال ډاکتر عبدالرشید جلیلي لیکلی چې نوموړی د افغانستان دخلق دیموکراتیک گوند مرکزي کمیټې غړې و . دشوروي تر یرغل وروسته دببرک کارمل په واکمنۍ کې بندي و . ، دثور بدلون او د شوروي یرغل د غمیزې په نوم یاد کړی . ټول موضوعات یې په بڼه روانه توگه لیکلي دي . د ملگرو ملتو د سولې پروگرام ، د کارمل واک ته رسیدل ، د نجیب الله سیاست او نورموضوعات یې توضیح کړي دي . چې په ۱۳۸۷ ل (۲۰۰۸ ز) کال کې د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوي دی .

۱۹ _ تلک خرس :

دا اثر د پاکستان د استخباراتي سازمان غړي ډگروال محمد یوسف او مارکه ادکین لیکلی او ډاکتر نثار احمد (صمد) په دري ژبه ژباړلی دی چې په دې اثر کې د افغانستان پر مجاهدینو دپاکستان له خوا د لویدیځو هیوادونو دمرستو ویشس ، دتنظیمونو له ایجاد ، اهداف ، مجاهدینو ته د وسلو ویشل ، اکمالاتي کربښي او نور استخباراتي مسئایل څرگند شوی دی .

۲۰ _ روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان :

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی اثر د ولي محمد له خوا لیکل شوي په ۱۹۹۹ ز کال د دانش کتابتون له خوا چاپ شوی دی . په دې اثر کې دخلق دیموکراتیک گوند اختلاف ، دحفیظ الله امین دوره ، روسی عسکر چا راوستل . د شوروي پر ضد کورنۍ او بهرنۍ عکس العمل دشوروي عسکرو بیرته ستنیدل او یو شمیر نورې موضوعگانې توضیح کړي دي .

۲۱_ دثور وسله وال پاڅون او د افغانستان مساله :

دا اثر پوهاند محمود سوما لیکلی ، نوموړی د افغانستان دخلق دیموکراتیک گوند دمرکزي کمیتي غړی او دخلق جناح ته منسوب و ، چې د نور محمدتره کۍ په واکمني کې دلوړو زده کړو وزیر و ، ده د ثور بدلون ، د شوروي یرغل ، د ببرک کارمل واکمني ، د ډاکتر نجیب الله واکمني اود مجاهدینو واکمني توضیح کړي دي ، نوموړی اثر په ۱۳۸۷ ل ( ۲۰۰۸ م ) کال کې د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی .

۲۲ _ راز خوابیده :

نوموړی اثر د افغانستان پیاوړي ژورنالست رزاق مامون لیکلی ، چې په ۱۳۸۷ هـ ش کال دسعید د انتشاراتي موسسې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی . په دې کتاب کې د ډاکتر نجیب الله د وژنې ، د طالبانو داسلامي امارت او شمالي ټلوالې په اړه گټور مالومات شته چې لیکونکي ور څخه گټه اخستلی شي .

۲۳ _ افغانستان دتیلو په لمبو کې :

دا اثر خواجه بشیر احمد انصاري لیکلی او سید عبدالله پاچا په پښتو ژبه ژباړلی دی . د میوند خپرندویه ټولنې له خوا په ۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمریز کال کې چاپ شوی دی . په دې اثر کې دامریکا موضعګیري ، د افغانستان په چارو کې اړیکې او دمجاهدینو سره د هغوي مداخله ، په افغانستان کې د هغوی هدف ور کې توضیح شوی دی.

۲۴ـ د ثور پاڅون د کې . جي . بي د سیسي اوشوروي یرغل :

دا اثر دمحمد اقبال وزیري لیکنه ده چې نوموړی دحفیظ الله امین په واکمنۍ کې د ملي دفاع وزارت دسیاسي چارو رئیس و ، د شوروي د یرغل پر مهال په خپله دنده کې حاضر وو . چې د یرغل ټول جریان او د شورویانو برخورد او کړنې یې په خپلو سترګو لیدلي دي ، او نور ډیر موضوعات لکه د داود خان پر ضد کودتاه ، دامین پر ضد د کې جي بې کودتا دټنی کودتا او نور مهم موضوعات یې لیکلي دي د لوستونکو له پاره ډیر اهمیت لري چې د یادو موضوعاتو په اړه ډیر مستند معلومات ارایه کړي دی.

ـ ما د موضوع داوږدیدو څخه د مخنیوي په خاطر دهغو ټولو کتابونو له یادوني څخه چې ددې اثر په لیکلو کې له هغو څخه ګټه اخیستي ، ډډه وکړه . خو د دې ټولو کتابونو له مطالعې څخه وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې دشوروي اتحاد یرغل تر ډیره بریده دهغوی دپراختیا غوښتونکي سیاست پورې اړه درلوده ، خو دافغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند په داخل کې دخلقیانو او پرچمیانو او د نور محمد تره کی اوحفیظ الله امین تر مینځ اختلاف دشوروي د یرغل له پاره زمینه برابره کړه ځکه ببرک کارمل د حفیظ الله امین دله مینځه وړلو لپاره دشورویانو ملاتړ ته اړتیا درلوده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د اثر د ليکلو پر مهال کوښښ شوی چې د پوهنتون د استادانو او د دې موضوع دعيني شاهدانو دنظرياتو څخه ګټه واخلم چې تر ډېر بريده ما د هغوی د نظرياتو څخه په ګټې اخستلو سره خپل اثر بشپړ کړ .

**۶. د څېړنې پوښتني**

لومړي پوښتنه : شوروي اتحاد دکومو موخو له پاره پر افغانستان يرغل وکړ؟

دويمه پوښتنه : ايا پر افغانستان باندې د شوروي يرغل دشوروي کمونستي رژيم د سقوط لامل شوی دی ؟

دريمه پوښتنه : ايا نورو داسې داخلي او باندنيو عواملو شتون درلود چې دشوروې کمونستي رژيم يې سقوط کړ ؟

**۷. مواد اوکړنلاره :**

د دې څېړنيز اثر د ليکنې پر مهال د ليکنې د ټولو معيارونو په نظر کې نيولو سره مې کار پيل کړ . څرنګه چې دڅېړنې موضوع يوسياسي موضوع ده کوښښ مې وکړ . چې دخپل کاري پلان په ترتيب کې دموضوع ټول اړخونه په پام کې ونيسم . وروسته مې بيا د نويو او معتبرو ماخذونو دپيدا کولو هڅه پيل کړه ، په ځانګړي ډول مې د هغو اشخاصو ليکنې او چاپي اثار پيدا کړل چې د۱۳۵۷ لمريز کال د ثور د۷ نيټې له بدلون وروسته اودشوروي يرغل پر مهال يې دندي اجرا کړي او يا يې د دې ګوندي سره تړاو درلود چې لوړې ګوند او دولتي دندې يې درلودې ، د شوروي دپوځي او استخباراتي چارواکو کتابونه چې په پښتو او دري ژبه ژباړل شوي دي ، ګټه واخسته لکه سرې لښکرې په افغانستان کې، K.g.B په افغانستان کې او هم مې د افغاني چارواکو لکه محمود سوما ، عبدالرشيد جليلي ، دستګير پنجشيري ، سلطان علی کشتمند او نبی عظيمي ، جهادي مشرانو لکه ګلبدين حکمتيار ، يعقوب شرافت او نورو اثار مطالعه کړي او ګټه مې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخستې ده . د منظم پوښتنلیک پواسطه مې د هغو اشخاصو څخه معلومات ترلاسه کړل چې د شوروي د یرغل پر مهال یې دندې درلودې اویامخالف و .

په دې څېړنه کې داود خان د رژیم سقوط، د افغانستان دخلق دیموکراتیک گوند داخلي اختلاف ، د نور محمد تره کی وژنه او نور موضوعات چې دشوروي د یرغل لپاره یې زمینه برابره کړه ،څېړل شوي دي .

په اثر کې څېړل شوي مواد او معلومات دتاریخ د څانگې او تاریخ له مینه والو سره د یادي موضوع په اړه دمرستندویه موادو په توگه مرسته کوي ، هیله ده چې د افغانستان چارواکي د دې هیواد جیوپولتیک موقیعت ته په پاملرنې دگاونډیو هیوادونو د لاس وهنې مخه ونیسي او هم د لویو قدرتونو دسیاسي هدفونو په رڼا کې د خپل هیواد گټې تامین کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸.داود خان اوشوروی اتحاد د اړیکو د خرابیدو لاملونه

د افغانستان دولت د اسیا دامنیتي پکت په اړوند د ځینو عمومي وړاندیزونو ملاتړ ته چمتو و خو په کې د ونډې اخیستو لپاره تیار نه و. مگر شوروي اتحاد په افغانستان باندې زور (فشار) راوړ چې په ښکاره ډول د اسیا د امنیتي تړون ملاتړ وکړي. ځکه مسکو ادعا درلوده چې دا تړون د هیڅ هیواد د گټو خلاف نه دي . د(1973)ز کال د می په (22) نیټه پوډګورني په خپله مستقیمه غوښتنه کې وویل : (( مونږ اوس حق لرو ترڅو د اسیا په وچه کې یو باوري سیستم د تاسیس په اړه د یوي بیړنی مسئلي په توگه خبرې وکړو . ځکه استعماري پاتې شونو د اسیا د ډیرو هیوادونو په ټولنیز او اقتصادی ډگرونو کی د وروسته پاتې کیدو په تر څنگ په نورو خپل منځي ځمکنیو اختلافاتو کې چې تر اوسه یې لا لړې روانه ده خپله اغیزمنتیا ښودلي ده، استعماري ځواکونه اوس هم هلې ځلې کوي چې اسیا کې دسولي دغښتلي کیدو مخه ډب کړي. ([1] ) مخونه ۱۱۴ او ۱۱۵

د پوډګورني دا څرگندونې ددي له پاره وې چې افغانستان له شوروي اتحاد سره د اړیکو لاپیاوړتیا ته وهڅوي، ځکه افعانستان په دې مهال د پاکستان سره چې د غربي هیوادونو په ځانگړي ډول د انگلستان او امریکا ډیر نږدې پلوي هیواد و. د پښتونستان مسئلې پر سر اختلاف درلود.او پوډګورني غوښتل له دي اختلاف څخه گټه واخلي . شوروي اتحاد د پښتونستان په مسئله کې په نړیواله کچه د افغانستان دولت پلوي توب وکړي.

د شوروي اتحاد او داود خان تر منځ د اړیکو خړپړتیا هغه وخت پیل شوه چې داودخان د دولت له دستگاه څخه د کارمل د ډلې د هغو کسانو په تصفیي چې د کودتا په لومړیو وختونوکې یې د وزیرانو، والیانو، ولسوالانو او نورو لوړ رتبه مامورینو په حیث مقرر کړي وو. پیل وکړ داود خان غوښتل په دي کار سره د شوروی اتحاد د نفوذ اندازه کمه کړي . خو د شوروي اتحاد چارواکو وار د مخه

---

[1] صباح الدین کشککي (1389) داساسي قانون لسیزه ژباړه_ مخونه (114_115)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کاوه چې د داود خان په کودتاه او کابینه کې د پرچمیانو موجودیت به داود خان له لویدیځو هیوادونو او د هغو له متحدینو څخه لیرې وساتي او شوروی اتحاد ته به یې ډیر نږدې او اړ کړي چې بیا هر څه دوي ورته ووایې هغه به یې په پټو سترګو مني خو داسې ونه شول. کله چې شوروی اتحاد ته د داود خان د وروستي سفر پر مهال د خبرو په جریان کې د شوروی اتحاد د هغه وخت مشر بریژنیف چې زړه یې له دولت څخه د کارمل د ډلي د کسانو په شړلو له قهر ډک و په امرانه ډول داود خان ته وویل : «چې ولې د افغانستان په شمال کې د ځینو پروژو د پرمخ بیولو له پاره د شوروي مخالفینو ته د کار کولو اجازه ورکوي ؟چې دا کار د شوروی امنیت ته ګواښ دي...» د بریژنیف دا خبره پر داود خان بده ولګیده په ځواب کې ورته وویل: «افغانستان یو مستقل هیواد دي او هر څه چې وغواړي هغه به کوي بل څوک حق نه لري چې ورته ووایې چې څه به کوي او څه به نه کوي...» داود خان د همدي خبری په کولو سره خبرې قطع او پرته له کومې پایلې بیرته افغانستان ته راستون شو. (1_ مخ ۲۴)

د شوروی اتحاد او سردار محمد داود خان تر منځ د اړیکو خرابیدو لاملونه د ډیرو سرچینو لخوا د افغانستان په اقتصادي او نظامي برخو کې د شوروي اتحاد نفوذ د کموالي له پاره د داود خان هڅې ، د بریژنیف او سرداد محمد داود خان ترمنځ لفظی ټکر و، چې د افغانستان په شمالي ولایتونو کی دلویدیځو هیوادونو د انجینرانو د دندې د اجرا په اړه پیښ شو . یوازې د جملو په تغییر سره دا ټکې تایید شوي دي.

پاتې دې نه وې په شمال کې د لویدیځو هیوادونو فني انجینران د امریکا او اروپا زلزلي پیژندونکی او د فرانسي د نفتی کمیټی کارپوهان وو چې دتیلو او ګازو په برخه کې بې پلټني کولې.

په دغه وخت کی دافغانستان دبهرنیو چارو د وزارت مرستیال وحید عبدالله سردارمحمد داود خان ته نږدې شو. هغه یې متوجه کړ چې تاسې باید د بریژنیف سره خدای پاماني وکړې؟ داود خان دا مشوره ومنله او بریژنیف ته یې لاس ورکړ

---

[1] _عبدالرشید ، جلیلي . (۱۳۸۷ل کال) ، غمیزه څرنګه منځ ته راغله ، لومړي چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پیښور مخ : ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

. په همدي مهال بريژنيف وويل: ((تاسی له ماڅخه غوښتي وو چې دوه په دوه به سره وګورو نو زه اوس تياريم )) داود خان ځواب ورکړ((دداسې يوې کتنې لپاره سمدستي کومه اړتيا نشته )) (٢مخ : ٢٠٧ )

د سردارمحمد داود خان د ځانګړې کتنې څخه هدف دا وه چې شوروی اتحاد د خلقيانو او پرچميانو حرکتونو په درولو کې چې دوي پرهغوي باندې نفوذ لري مرسته وکړي خو شوروی چاروا کو غوڅ او منفي ځواب ورکړ، وروسته له داود خان څخه بل افغان چې د دوي پر وړاندې ودريد او غوڅ ځواب يې ور کړ او بيا يې د شوروي سفير په سپيره وواهه هغه حفيظ الله امين وو. خو شورويانو د هغه د له منځه وړلو لپاره په (١٣٥٨ل)کال د مرغومي په شپږمه د (١٩٧٩ز)کال د ډسمبر پر٢٧مه پر افغانستان نظامي يرغل وکړ. د حفيظ الله امين رژيم يی له منځه يوړ شوروی اتحاد پرته له دې بله کومه لياراه نه در لود ه . چی د افغانستان د سياسی رژيم په بدلون کې مداخله وکړي . ځکه چې د شوروي اتحاد په جنوبی سرحدونو کې مخالف دولتونه لکه ترکيه ، ايران او چين واقع وو . شوروی اتحاد هڅه کوله او چمتو نه وه چې افغانستان هم په يو بل داسې هيواد واوړي چې د شوروی اتحاد پر ضد او د امريکا سره متحد په توګه له هغوي سره په نظامي پکت کې شامل شي . ځکه امريکايي مشرانو د ايزونهاور څخه نيولي تر ريچارد نکسن پورې د وسلو د رانيولو په اړه د افغانستان غوښتني رد کړې او له افغانستان څخه يې غوښتنه کوله چې د سياټو او سينټو په تړونونو کې شامل شي. چې دغه تړونونه د شوروی اتحاد پر ضد وو ، افغانستان نه غوښتل چی د شوروی اتحاد سره يی اړيکې خرابې شي ځکه شوروی اتحاد مشرانو خروشچف او بلګانين په ډيرو ښو شرايطو سره افغانستان ته (١٠٠)سل ميلونه ډالرو پور ورکړ، بل پلو ته افغانستان په خپل ناپيليتوب باندې ټينګ ولاړ وه.[1]_ مخونه ١٨٩ او ١٩٠

---

[2] _ ډاکتر نبي مصداق (١٣٨٩ ل کال) ، د افغانستان سياسي کمزورتيا او بهرني مداخلي ، مترجم ډاکتر احمد حمد ، علامه رشاد خپرندويه ټولنه مخ : ٢٠٧

[1] _ ډاکتر نبي مصداق (١٣٨٩ ل کال) ، د افغانستان سياسي کمزورتيا او بهرني مداخلي ، مترجم ډاکتر احمد حمد ، علامه رشاد خپرندويه ټولنه مخونه : ١٨٩ _ ١٩٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې استاد پوهندوي فضل ولي ناګار داسې نظر لري: (( شوروي ځانګړي نظریات لرل ، د دوي په مرسته د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند جوړ شو خو سردار محمد داود خان یو هیواد پال شخصیت په توګه نه غوښتل چې د هیواد استقلال د شورویانو د غوښتنو قرباني کړي . خو شوروي اتحاد غوښتل چې د افغانستان له لوري د هند ګرمو اوبو ته ځان ورسوي بالاخره د دوي ترمنځ اړیکې خرابې شوې...)) (2)مرکه

خو د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پوهنوال شاه ولي خان د سردار محمد داود خان د صدارت او جمهوریت پرمهال د افغانستان او شوروي د اړیکو د اړتیا او د شوروي اتحاد د لیوالتیا په اړه داسې نظر لري: (( سردار محمد داود خان د صدارت پر مهال د شوروي اتحاد سره نږدې اړیکې درلودې، خو د جمهوري ریاست په اخرو کلونو کې یې مخالفت پیل کړ، شوروي اتحاد د یو نږدې ګاونډي دولت په حیث دلچسپي درلوده ترڅو په افغانستان کې خپل نفوذ وساتي. البته دغه مهال په نړیواله کچه د دوو نړیوالو قدرتونو امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد ترمنځ سړه جګړه په ډیر شدت روانه وه، شوروي اتحاد کوښښ کاوه چې افغانستان له لویدیځ څخه لرې وساتي ، شوروي اتحاد هڅه وکړه چې په افغانستان کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند او ځینو تکنو کراتانو سره نږدې اړیکې وساتي، بالاخره شوروي اتحاد وتوانید چې په دولتي او نظامي برخو کې خپل نفوذ وساتي خو داود خان د یوه ملي شخصیت په توګه د شوروي اتحاد غوښتنو ته اماده نه وو . داود خان هم په دې پوهیده چې ګاوندیانو له خوا د ده پر ضد تحرکات شته . خو پاکستان او غربي نړۍ ته د داود خان له سفر وروسته د داود خان او شوروي اتحاد یو بل په دریځونو کې بدلون راغی ځکه داودخان غوښتل چې د شوروي اتحاد له نفوذ څخه ځان خلاص او لرې وساتي . همدغه لاملونه وو چې په مسکوکې سر دار محمد داود خان او لیونید بریژنیف ترمینځ په خبرو کې ټکر

[2] پوهندوي فضل ولي ناګار د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاد ( ۱۳۹۲/۸/۸ لمریز کال )

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی . (3) مرکه ) همدارنگه د ننگرهار پوهنتون دعلمي چارو مرستیال او د شرعیاتو پوهنځي استاد پوهاند ډاکتر دل آقا ( وقار ) داسې نظر لري : (( سردار محمد داود خان د شوروي اتحاد د کې، جي،بي په مرسته د یوې سپیني کودتا په نتیجه کې واک ته ورسید ،دا چې سردار محمد داود خان د شوروي په مرسته واک ته رسیدلې و خو د دې تر څنگ یې د سرداری نیشه هماغسې په مغزو کې ځای پر ځای و . او د آزادی حس یې تاند او څپانده و او کوښښ یې کاوه چې د روسانو د ولکې څخه ځان آزاد کړي . ځکه یې د سعودي عربستان او پاکستان سفرونه تر سره کړل خو د روسانو لپاره دا ډیره گرانه و چې له اوږدې پانگې اچوني څخه وروسته دې د افغانستان چارواکی د هغوي له نفوذ څخه پرته په خپله د یو مستقل هیواد په حیث مطرح شي . هماغه وو چې د خپلو گوداگیانو په وسیله یې۱۳۵۸ کال کې د غوایی له کودتاه څخه وروسته پر افغانستان یرغل وکړ . ( ۱ )مرکه

د دې مخالفت پایله دا شوه چې سردارمحمد داود خان په دی ځواب سره د شوروی اتحاد څخه د مرستو ترلاسه کولو پرته افغانستان ته را ستون شو ، لږ موده وروسته محمد داود خان پاکستان ،سعودی عربستان، لیبیا او ایران ته سفرونه پیل کړل په دغه سفرونو کې د پورته هیوادونو مشرانو داود خان ته د مرستو وعدی ورکړي .خو شوروی اتحاد په دي سفرونو ډیرخفه وه ځکه داود خان غوښتل چی لویدیځ لوري ته مخه کړی ،خو شورویانو پلان درلود چې ببرک کارمل واک ترلاسه کړي . خو له اسلامی هیوادونو سره د اړیکو ټینگوالی شوروی اتحاد له پاره ستونزی زیاتولی ، په لومړیو وختونو کی پرچمیانو غوښتل چی د ملی غورځنگ لیکو کی شامل شی خو لویدیځو هیوادونو ته د داود خان د پاملرني په وجه یې ددی کار څخه ډډه وکړه ، بیا دوي له خلقیانو سره یوځای شول ، ببرک کارمل د حفیظ الله امین سره سخت اختلاف درلود ، .بل پلو ته شورویانو پریکړه وکړه چې د داود خان څخه باید قدرت واخیستل شي، د میراکبر خیبر په ترور سره د پیښې جریان بدل شو د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند مرکزی کمیټې ډیر غړی بندیان او هغوي ته د سختني سزا

۱_ پوهنوال شاه ولی خان د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاد ( تاریخ نشته )

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلان وشو،حفیظ الله امین د خپل کوچنی زوی په لیک کې خپلو ملګرو ته ولیکل؛ (( د ګوند مشرتوب د محمد داود د رژیم له خوا نیول شوي او بندیان شوي دي تاسې د هغوي د خلاصون له پاره هر څه چې کولی شي مه یې سپموی . ))(١) مخ ۱۶۴)

ددی لیک د رسیدو سره سم ګوندی پوځی افسرانو د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په ۷مه نیټه پاڅون پیل او د داود خان رژیم یې سقوط کړ د افغانستان اوسنۍ ستونزي او جګړې د شورویانو د هغو هڅو پایله ده چی غوښتل یې د پرچم ډله په افغانستان کی د خپل لاسپوځی په توګه سیاسی واکمنی ته ورسوی شورویانو لومړی محمدداودخان وهڅاوه چی د خپل تره ځوی محمد ظاهر شاه پر ضد پوځي کودتاه وکړي ، دوي پلان درلود چې بیا له محمد داود خان څخه وروسته پرچمیان د هیواد سیاسې واک ترلاسه کړي .خو څرنګه چی په تصادفی توګه له محمد داود خان څخه د هیواد سیاسی واک د خلق ډلی په واسطه ترلاسه شو ،شورویانو ، پرچمیان د خلق ډلي پرضد کودتاه ګانو ته وهڅول . خوکله چې د خلق ډلي پر ضد کودتاه ګانی شنډی او د ماتې سره مخامخ شوي ، له هغي وروسته شورویانو د افغانستان سیاسې واکمنۍ ته د پرچم ډلی د رسولو په غرض زمونږ په هیواد وسله وال تیري او یرغل وکړ، څه وخت له پاره یې افغانستان لاندې کړ خو افغانانو د سختو او دوامدارو مبارزو او قربانیو له امله هغوي له افغانستان څخه وتلو ته اړ کړي شو .(4)

١ _ محمود سوما ( ۱۳۸۷ ل کال ) دثور پاڅون او د افغانستان مسئاله ، دانش خپرندویه ټولنه پیښور مخ ۱۲۴

4 پوهنوال ډاکټر عبدالرشید جلیلی (۱۳۸۷ل)غمیزه څرنګه منځ ته راغله پیښور ،دانش خپروندویه ټولنه مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹.د ۱۳۵۷ل _ ۱۹۷۸ ز کال بدلون او د محمد داود خان د رژیم سقوط

شوروی اتحاد د سردار محمد داود خان ، امریکا او اسلامی هیوادونو ترمنځ اړیکې په ډېر دقت سره څارلې ، سردار محمد داود خان د خپل صدرات پرمهال شوروی اتحاد سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې . مګر د جمهوريت پرمهال يې غوښتل چې مستقل سياست تعقيب او په افغانستان کې د شوروی اتحاد اقتصادي نفوذ کم کړي، داود خان او دهغه ورور سردار محمد نعيم خان غوښتل چې امریکا په افغانستان کې ټينګ اقتصادي حضور ولري، په همدې وخت په کابل کې د امریکا سفير تيود رو، دوی دواړو ته ډاډ ورکړ چې امريکا د افغانستان د خپلواکۍ او د ناپليتوب د سياست درناوی کوي . غواړې چې په خپلو مرستو سره د افغانستان په ثبات کې برخه واخلي.

د ۱۹۷۴ ز کال د نوامبر په مياشت کې د امریکا د بهرينو چارو وزير هنری کيسنجر افغانستان ته په رسمي سفر راغی، هغه سردار محمد داود خان ته ډاډ ورکړه ، امریکا غواړی چې د افغانستان سره په اقتصادي ، ټولنيزو او پرمختيايي پروګرامونو کی مرسته وکړي، د داود خان او کيسنجر ترمنځ د خبرو غټه موضوع د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکې وې، ځکه د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علی بهوټو کسينجر ته شکايت کړی و، چې افغانستان د پاکستان د بی ثباتۍ له پاره د پاکستان مخالف پښتانه او بلوڅ روزي او د ورانکارۍ له پاره يې پاکستان ته راليږی [1](م ۱۳۲-۱۳۳)

په دغه وخت کی د پاکستان او افغانستان اړيکې ترخې وې، محمد داود خان کيسنجر ته د اوږدو خبرو په ترڅ کې دا خبره توضيح کړه چې پښتانه او بلوڅان د پاکستان د زور زياتي له امله افغانستان ته پناه راوړی، افغانستان د دوی خپل هيواد دی مونږ يې منو ، بيا د دوی جنګياليان د خپلې خاورې د دفاع په خاطر خپلو وطنونو ته ځي د دې کشالی د حل چاره داده چې پاکستان له دوی سره زور زياتی ونکړي . محمد داود خان زياته کړه چې افغانستان به هيڅکله د

[1] محمد حسن کاکړ ، د سرطان کودتا بی ثباتی پيلامه - مخونه ۱۳۲ او ۱۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د روا هلوځلو له ملاتړ څخه لاس وانه خلي ، او دوی زمونږ ډیر نږدی خپلوان دی او په اخر کی یی زیاته کړه چې د ګډو دوستانو روغ نیتې به ګټوره وي ، چې دواړه هیوادنه د خبرو میز ته وهڅوی . کسینجر د داود خان له دغه نظر څخه خوښي ښکاره کړه ، چی افغانستان له پاکستان سره د خبرو له لاری د کشالې هوارول غواړي، کیسنجر وویل چې : د افغانستان او پاکستان دوستی به د نړی په دغه مهمه سیمه کی د سولې او ثبات له ټینګښت سره مرسته وکړي ، د امریکا حکومت به یې هرکلی وکړي...»[1] (مخ -۱۳۴)

د کیسنجر له سفر وروسته د ښوونځیو د درسي کتابونو، د کابل پوهنتون د پراخولو ، کلیوالي پرمختیا ، ښوونځیو او دروغتیایی مرکزونو د جوړولو ، د هلمند ناوې د نهرونو د ایستلو په هکله د دواړو خواو ترمنځ هوکړه لیکونه لاسلیک شول، صمد غوث وایي چې د امریکې مرسته که څه هم ډیره نه وه خو د افغاني مشرانو د خوښی سبب شوه ، امریکی مرسته تر ۱۹۷۸ ز کال پورې څه کم ۵۳۳ میلونه ډالره وه چی له هغو څخه (۷۱٪) سلنه یې بې عوضه وه .[2](م ۱۳۴)

په ۱۹۷۶ ز کال سردار محمد نعیم خان امریکی ته سفر وکړ، د دې سفر موخه نشه یی توکو پرضد مبارزه کې د امریکا ونډه اخیستل او په افغانستان کې یې د کوکنار د کښت مخنیوي و . له ده وروسته د امریکا د بهرینو چارو وزیر کسینجر د دویم ځل له پاره په ۱۹۷۶ ز کال د افغانستان د دولت په بلنه کابل ته راغي، ده د افغانستان او پاکستان اړیکو له ښه والی څخه خوښي څرګنده کړه او افغانستان ته یی د اقتصادي مرستو، ترڅنګ یې د امریکا د ولسمشر بلنلیک سردار محمد داود خان ته وسپاره چې امریکی ته سفر وکړي، داود خان قبوله کړه ، ځکه داودخان غوښتل چی کرار کرار د شوروی اتحاد څخه لیرې ، پاکستان ، ایران او عربی هیوادو ته نږدې شي ، خو د ۱۳۵۷ل کال د ثور د اومې نیټی بدلون ، محمد داود خان په خپله پالیسی کې ناکام کړ.[3](م ۱۳۵)

---

[1] محمد حسن کاکړ- د سرطان کودتا بی ثباتی پېلامه - مخ ۱۳۴

[2] محمد حسن کاکړ - د سرطان کودتا - مخ ۱۳۵

[3] محمد حسن کاکړ - د سرطان کودتا - مخ ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا نه غوښتل په خلاص مټ د افغانستان سره مرستی وکړي ، څو د افغانستان اقتصادي ستونزی حل او د شوروی نفوذ د افغانستان په اقتصادي او نظامي برخه کې کم شي، د امریکې له خوا د ډېرو مرستو نه ور کولو علت دا و چی هغوی افغانستان د شوروی اتحاد یو سپوږمکی بلله ، او بل پلو ته د پاکستان سره د پښتونستان د مسئلې د اختلاف په وجه یې افغانستان نه خوښیده. خو ایران په ۱۹۷۶ ز کال کې د دوو میلیاردو ډالرو د مرستو وعده وکړه چی ددغو پیسو پواسطه ۱۸۱۰ کلیو متره د اوسپني پټلۍ د اسلام قلعه- هرات - هرات - فراه ـ لشکرګاه د ایران تر سرحد پورې ، بل طرف د کندهار - سپین بولدک ، کندهار - کلات - مقر-غزنی- د لوګر (مس عینک) - کابل د حاجي ګګ د اوسپنی کان پورې و غزول شي، ددې تړون کار بشپړ شوي و ، دا یو لویه پروژه وه چی محمد داود خان ورته هوسیده ، مګر شوروی اتحاد په ډېر تشویش ورته کتل ، پرچمیانو هم داود خان پسې تبلیغ کاوه چې لویدیځ ته ځان نږدې کوي. خو کله چې پاکستانی مشران ذوالفقار علی بهوټو او جنرال ضیاوالحق افغانستان ته راغلل او د مناسباتو د نوی کیدو په اړه یې خبرې کولې، شوروی اتحاد د افغانستان حالات په ډېر دقت سره څارل او ورته نګران و. ([1]( م م -۲۹۳-۲۹۴)

د شوروی اتحاد د اقتصادی او نظامی نفوذ د کموالي په اړه د سردار محمد داود خان ورور سردار محمد نعیم خان داسې نظر درلود چې (( جواري مو بایلله ، مونږ خپل چال وچلاوه، خو مو بایلوده، ډیر ژر به یو وړوکی اقلیت واک ترلاسه کړي او د وسلې په زور به په ټولو خلکو حکومت کوي.)) ([2])(م، ۲۴۱)

د جواری څخه د سردار محمد نعیم خان مطلب د داود خان د صدارت او جمهوریت پرمهال د شوروي اتحاد ترمنځ نږدې اقتصادي او پوځي اړیکې دي، ځکه شوروی اتحاد پر همدې مهال خپل پلویان زیات او هغوی یې پیاوړي کړل ترڅو هغوی د نظام د له منځه وړولو ځواک ومومي.

د شوروی اتحاد له لوری د سردار محمد داود خان د رژیم د سقوط په اړه د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړې پوهنوال ډاکتر

---

[1]

[2] نیازی ، مستعلی - د داود خان د واکمنی سیاسی ستونزی، مخ ۲۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرشید جلیلي داسې نظر لري : (( د داود خان وروستیو هلو ځلو شوروي اتحاد ته دا ثابته کړه چې افغانستان نور د هغوی د دوستو هیوادو له قطار څخه بهر او د مخالفو هیوادونو په قطار کی ودریدونکی دی او د داود خان د کمزورکولو په هکله د ببرک کارمل د ډلې له خوا مفصل معلومات ورکړل شوی وو، شوروي اتحاد په دې لټه کې شو چې د داود خان پر ځای داسې څوک واکمن شي چې سل په سلو کی د شورویانو خبره ومني او هر څه چې هغوی ورته ووایي هغه عملي کړي. ددې کار لپاره د ببرک کارمل څخه بل مناسب سړی نه و، ځکه چې هغه د شوروی اتحاد د کی. جی. بی د جاسوسۍ سازمان پخوانی غړی او د پرچم د ډلې مشر په حیث دنده درلوده چې د شورویانو له مشورې څخه پرته یې څه نه کول او د شوروي ګټې یې د افغانستان له ګټو څخه لوړی ګڼلې ...))[3] (م ۲۵)

د ښاغلی عبدالرشید جلیلي نظر د ګوند د یو لوړ پوړې کادر په توګه د شوروي د بهرنۍ پالیسۍ په اړه تر ډیره حده واقعیت ته نږدې ده ، ځکه نوموړی د خلق د جناح غړی او د شوروي اتحاد سره یې هم اړیکې درلودې خو دوی د شوروی اتحاد تولې غوښتنې نه منلې او شورویانو دوی د خپل هدف د عملی کیدو په مخکې یو لوې خنډ ګڼله ،همدا علت و چې د شوروی اتحاد د یرغل په لومړیو وختونو کی د حفیظ الله امین له وژنې وروسته د دوی ډلې ډیر غړی ، شوروی فوځونو تر وتلو پورې بندیان وو، څو د ډاکټر نجیب الله په واکمنۍ کې له بندی خانی څخه آزاد شول.

په ۱۹۷۷ ز کال کی د بریژنف او سردار محمد داود خان ترمنځ د لفظي ټکر وروسته سردار محمد داود خان د اقتصادي مرستو د جلبولو په خاطر بیا مصر، سعودي عربستان، لیبیا او کویټ ته سفر وکړ، بیرته هیواد ته د راستنیدو پرمهال یی د هرات په ولایت کې د یوې وینا پرمهال په پرچمیانو سختې نیوکې وکړې او هغوی یې د هیواد ورانونکي عناصر وبلل، کابل ته د رسیدو سره سم یې یو شمیر پرچمیان له دندو ګوښه کړل، په مقابل کې پرچمیانو هم تخریب پیل او د داود خان د جمهوریت د له منځه وړلو پلان یی طرحه کړ، لومړی یې د دواړو

---

[3] ډاکټر پوهنوال عبدالرشید جلیلی ، غمیزه څرنګه پیل شو- مخ ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخونو ( خلق او پرچم )په خپل منځ کې وحدت وکړ، ترڅو د رژیم سقوط اسانه شي، په ۱۹۷۸ زکال کې د اپریل په ۱۷ مه د میراکبر خیبر(*) په وژنه باندې د داود خان متهمول او د میراکبرخیبر په جنازه او فاتحه د دولت پرضد د ډیرو سختو شعارونو ورکولو داود خان سخت عصبی کړ. بل پلو د داود خان لنډ اندو همکارانو له خوا دده لمسول چې د خلق او پرچم رهبران ونیسي . د کی . جی. بی پلان یی د تطبیق مرحلې ته نژدی ، او جمهوریت ته یې سقوط ورکړ، په ۱۹۷۸ ز کال د اپریل په ۲۵ مه د کابل راډیو اعلان وکړ چی لاندې ملي خائن عناصر ونیول شول. نورمحمد تره کی ، ببرک کارمل، داکتر شاه ولی، دستګیر پنجشیری، عبدالکریم شرعی جوزجانی، پوهاند محمد ضمیر ساپی او حفیظ الله امین یې پرسبا ونیول شول ، په دوي کې یوازی ببرک کارمل د پرچم جناح سره اړیکه درلوده ، نور ټول خلقیان وو چی دا ترکیب دا ثابتوي چې د داود خان په کابینه او رهبری کې تردی مهاله هم پرچمیانو نفوذ درلود ځکه یې د هغو د نیولو څخه ډډه کړې وه، په نیول شوو کسانو باندی د وطن پروراندې د خیانت تور ولګول شو، دوی په زندان کې واچول شول، په بله ورځ د هیواد په مرکز او ولایاتو کې جشنونو ته تیاري کیده .

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په ۷ مه نیټه د څلورمې او پنځلسمې زغره والو قوو او هوایی ځواک له خوا پر ارګ حمله وشوه ، لومړی ټانکسټ محمد اسلم

---

* میر اکبر خیبر د خلق دیموکراتیک ګوند د پرچم د جناح مهم کادری غړی په قوم پښتون و، د پولیسو په ښانګه کی یي دیپلوم واخیست، د شاه محمود پرضد توطیه کی بندی شوه، دی په زندان کی وه چی میرمن او دوه ماشومان یی ورک شول چی بیا تر مړینی هغوی ونه لیدل ، نوموړی د پراخو معلوماتو خاوند او په ګوند کی یی ډیر نفوذ درلود ، ببرک کارمل چی په قوم تاجګ و او د نوموړی سخت رقیب و ځکه چی د ده څخه ویریده چی د پرچم د رهبری مقام تری ونیسی . خو د شوروی اتحاد سفارت په ځانګړی ډول د دی سفارت د کی . جی . بی ښانګی ببرک کارمل سره علاقمندی درلوده، په دی لحاظ میر اکبر خیبر کی . جی . بی ته هم بد ویل . په همدی علت نوموړی د ۱۹۷۷ز کال د اپریل په ۱۷ مه وروسته له غرمی د عبدالقدوس غوربندی سره په چکر ووت، د غوربندی څخه د جلا کیدو وروسته د روسی جیب راغی او له دغه موټر څخه په میراکبر خیبر ډزی وشوی، خیبر ځای په ځای مړ شو، چی دغه قتل د شوروی د سفارت د کی . جی . بی د غړی ( ابلوف ) پواسطه سرته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنجار و چی پر ارګ او دفاع وزارت یی ډزي وکړي ، داود خان دا مهال د کابینې غونډه راغوښتې وه چې د نیول شویو کسانو په اړه تصمیم ونیسي ، البته د دوی له پاره د پانسی (اعدام) سزا په نظر کی نیول شوی وه . محمد داود خان کابینه رخصت کړه د ارګ زیرخانی ته ولاړ ، د دفاع وزیر غلام حیدر رسولی او لوی درستیز عبدالعزیز له صحنې څخه وتښتیدل او د قرغی یعنی ۸ فرقې لورې ته یې حرکت وکړ ترڅو د هغوي مرسته ترلاسه کړي، خو هلته وضع بدله و، دوی د ریشخور د فرقی خواته وخوځیدل خو په لاره کې د مخالفو وسله والو قوتونو له خوا له نیولو وروسته ووژل شول، مازیګر پاڅون کوونکي زندان ته ورغلل او خپل رهبران یی د افغانستان راډیو تالار ته بوتلل ، ماښام د داود خان د جمهوریت سقوط اعلان شو ، سبا داود خان د خپلې کورنۍ له غړو سره په قتل ورسیده، په دې ترتیب د داود خان جمهوریت ته سقوط ور کړ شو . ([1])(م ۲۹۶)

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په ۸ مه نیټه لاندې کسان په جمهوري ارګ کې مړه او زخمیان شول، چی ډیرو یی د داود خان په کورنۍ پورې ارتباط درلود .

هغه کسان چی مړه شول:

1. سردار محمد داود خان
2. سردار محمد نعیم خان
3. زینب د داود خان میرمن د ظاهر شاه خور
4. بلقیس د تیمور شاه آصفی میرمن د ظاهر شاه خور
5. محمد عمر د داود خان مشر زوی
6. ویس د محمد داود خان زوی
7. خالد د محمد داود خان زوی
8. شینکۍ د محمد داود خان لور
9. زرلښته د محمد داود خان لور
10. شیما د ویس میرمن او د محمد داود خان نږور

[1] عطایې محمد ابراهیم ، د افغانستان پرمعاصر تاریخ لنډه کتنه ، مخ ۲۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

11. هیله د محمد داود خان لمسۍ د عمر لور
12. غزاله د محمد داود خان لمسۍ د عمر لور
13. حارث د محمد داود خان لمسۍ د ویس زوی
14. وایګل د محمد داود خان لمسۍ د ویس زوی
15. زرمینه د محمد نعیم خان لور د عبدالعظیم خان غازی میرمن
16. صفورا د محمد نعیم خان لمسی د عبدالعظیم خان لور
17. عایشه د محمد داود خان او محمد نعیم خان خور
18. نظام الدین غازي د محمد داود خان زوم
19. عبدالاله د جمهور ریس مرستیال - چې د داود خان کورنۍ سره یې کومه اړیکه نه در لوده .
20. عبدالقدیر نورستانی د کورنیو چارو وزیر - چې د داود خان کورنۍ سره یې کومه اړیکه نه در لوده .

هغه کسان چې په دې ورځ په ارګ کې زخمیان زخمیان شول:

1. ګلالۍ د محمد داود خان نږور د عمر میرمن او د عبدالله ملکیار لور.
2. خورشید د محمد نعیم خان لمسی د عبدالعظیم خان غازي لور
.
3. زهرا د محمد داود خان لمسۍ د نظام الدین غازي لور .
4. داود د محمد داود خان لمسۍ د نظام الدین غازی زوی
5. زهرا د ظاهر شاه د خور لور .
6. د تیمور شاه آصفی زوی .
7. شیرین ګل د محمد داود خان د عایشي جانې پرستاره
8. تیمور شاه آصفی د محمد ظاهر شاه د خور میړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د محمد داود خان د کورنی دوه نور غړی عبدالله روکی او صلاح الدین غازی په زندان کی مړه شول. ([1])(م م ۲۹۹-۳۰۰)

د سردار محمد داود خان د جمهوریت له سقوط څخه وروسته د افغانستان سیاسي ، اقتصادي او پوځي حالات د استعماري قوتونو او ګاونډیو هیوادونو د مداخلی په اساس ورځ تر بلې د خرابیدو په لور روان او ملت بدې ستونزې وګاللې او ګالي یې .

[1] عطایي ، محمد ابراهیم، د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه ، مخونه ۲۹۹-۳۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰. د نور محمد تره کی په واکمنی کی د خلق او پرچم د اړخونو ترمنځ د مخالفتونو زیاتوالی

کله چې نوی اساسی قانون د ۱۳۴۳ ل کال د تلی په میاشت کی تصویب شول ، له دې قانون څخه په استفادې نور محمد تره کی د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د موسسه کنګره دایره او د ۱۳۴۳ لمریز کال د جدی په ۱۱ مه د ۱۹۶۵ز کال د جنوری لومړی نیټې سره سمون خوري د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند تاسیس کړ، په دې کنګره کې د مختلفو حوزو څخه لاندې تنو ګډون کړی وو: (۲۷)

1. نور محمد تره کی
2. ببرک کارمل
3. غلام دستګیر پنجشیری
4. سلطان علی کشتمند
5. شهر الله شهپر
6. صالح محمد زیری
7. محمد طاهر بدخشی
8. ډاکتر شاه ولی
9. ډاکتر محمد طاهر احمدزی
10. عبدالوهاب ساپی
11. عبد الکریم میثاق
12. سلیمان لایق
13. ډاکتر عبدالله درمانګر - عبدالقیوم قویم (♥)

---

♥ د ډاکتر عبدالله درمانګر پر ځای ښاغلی دستګیر پنجشیری په خپل اثر (تاسیس حزب خلق افغانستان) کې عبدالقیوم قویم ذکر کړی، او دا خبره تر ډیرې حده د تائید وړ ده . خو عطامحمد شیرزی په خپل اثر د خلق دیموکراتیک ګوند تاسیس کې عبدالله درمانګر ښودلی دی، خو دا نوم په نورو اسنادو کې نه ده شوې. شیرونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

14. محمد ظاهر افق
15. عطا محمد شیرزی
16. آدم خان ځاځی
17. عبدالله ځاځی
18. نور احمد نور
19. غلام محی الدین زرمتی
20. ملا عیسی کارګر
21. عبدالحکیم هلالی
22. عبدالحکیم شرعی جوزجانی
23. اکبر کارګر [1]
24. سید نور الله ګلالی
25. محمد حسن بارق شفعیي
26. عبدالهادي کریم
27. انجینر خالیار [2] مخ : ۸۳

له پورته (۲۷) تنو څخه ۱۳ تنه پښتانه ، (۸) تنه تاجک ، (۳) تنه هزاره او (۳) تنه د ازبکو ملیتونو سره تړاو درلود. په دې کنګره کې د افغانستان د (۱۶) ولایتونو څخه استازو ګډون کړی و . له دې جملې څخه نورمحمد تره کی ، ببرک کارمل ، ډاکتر صالح محمد زیری ، سلیمان لایق ، نور احمد نور ، محمد طاهر احمدزی ، عبدالحکیم هلالی، عبدالوهاب ساپی ، ظاهر افق ، عطامحمد شیرزی ،عبدالله ځاځی ، آدم خان ځاځی او غلام محی الدین زرمتی پښتانه وو. طاهر بدخشی ، دستګیر پنجشیری ، ډاکتر شاه ولی ، محمد حسن بارق شفعیي ، سیدنور الله ګلالی ، عبدالقیوم قویم ، عبدالهادی کریم او اکرم کارګر

---

[1] اکبر کارګر ښاغلي دستګیر پنجشیری په خپل اثر (تاسیس حزب دیموکراتیک افغانستان) کې اکرم کارګر په نوم یاد کړی.

[2] عطا محمد شیرزی، دیموکراتیک ګوند تاسیس، مخ ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاجک ملیت پورې . سلطان علی کشتمند ، عبدالکریم مثیاق او ملاعیسی کارګر په هزاره ملیت پورې . شهرالله شهپر ، عبدالحکیم شرعي جوزجاني او انجینر خالیار له ازبک ملیتونو څخه وو.([3] مخ : ۱۵۴.

د دې ګوند د مؤسسې کنګرې (۲۷) تنه ګډون کونکي او فعالین د تحصیل درجو په لحاظ : نورمحمد تره کی ، کریم میثاق او ملاعیسی کارګر خصوصی زده کړی لرلې . محمد حسن بارق شفعیي ، اکرم کارګر او غلام محی الدین زرمتی د منځنیو زده کړو لرونکی وو. سلیمان لایق ، دستګیر پنجشیری او سید نورالله ګلالی د کابل پوهنتون له ادبیاتو پوهنځی څخه فارغ وو . محمد ظاهر افق ، عبدالحکیم هلالی ، عبدالقیوم قویم د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی د (څلورم) ټولګي محصلین وو. ببرک کارمل او نوراحمد نور خپلی زده کړی د حقوقو په پوهنځی کې سرته رسولې وې. طاهر بدخشي، سلطان علی کشتمند او شهرالله شهپر د اقتصاد پوهنځی لسانس وو. عبدالحکیم شرعی جوزجانی ، عبدالوهاب ساپی او عبدالهادی کریم د شرعیاتو د پوهنځی څخه لسانس اخیستی وو. ډاکتر صالح محمد زیری ، ډاکتر شاه ولی او ډاکتر محمد طاهر احمدزی د طب په پوهنځی کې محصلین او د ستاژ دوره یې تیروله . آدم خان ځاځی ، وکیل عبدالله ځاځی او عطامحمد شیرزی نظامی تعلیمات کړی وو، چی د وسلوالو قواوو متقاعد صاحب منصبان وو. او خالیار د کابل پوهنتون انجینری پوهنځی څخه فارغ شوی و. په لنډه توګه ویلی شو چې د مؤسسې کنګری له (۲۷) تنو غړو څخه دریمه برخه د خصوصی او متوسطو زده کړو لرونکی چی د دوی څخه دری غړی یی متقاعد او مستعفی افسران ، یو تن یې په کور ناست مامور ، دوه غړی یی کارګران او درې غړې یې د دولت ټیټ رتبه کارکوونکي وو. او ۱۸ نور غړی د خصوصي ، منځنیو او لوړو زده کړو لرونکي وو .

په دې کنګره کې د سیمې په لحاظ درې تنه هر یو ببرک کارمل ، سلطان علی کشتمند او ډاکتر شاه ولی د کابل ښار او اړونده سیمو اوسیدونکي وو، نور پاتی ۲۴ تنه د غزنی ، پکتیا، قندهار ، فراه ، هرات ، بدخشان، ننګرهار، بلخ،

[3] دستګیر پنجشیری ، تاسیس و زاوال مخ ، ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

میدان وردګ، پروان ، شبرغان ، تخار ، فاریاب او لوګر ولایتونو روڼ اندی او اوسیدونکی وو. ( [۱] مخونه ۱۵۴ او ۱۵۵ )

د ا - خ - د - ګ په لومړنۍ مؤسسه کنګره کې ددې ګوند د مرکزي کمیټې دا لاندې (۷) تنه اصلي غړي په دیموکراتیکه بڼه د پټو رایو پواسطه وټاکل شول :

1. نورمحمد تره کی د رایو په یووالی ۲۷ رائې
2. ببرک کارمل د رایو په اکثریت ۲۶ رائې
3. طاهر بدخشی د رایو په اکثریت ۲۵ رائې
4. دستګیر پنجشیری د رایو په اکثریت ۲۴ رائې
5. شهرالله شهپر د رایو په اکثریت ۱۸ رائې
6. سلطان علی کشتمند د رایو په اکثریت ۱۶ رائې
7. ډاکتر صالح محمد زیری د رایو په اکثریت ۱۴ رائې

ډاکتر شاه ولی ، کریم میثاق ، ډاکتر محمد طاهر احمدزی او عبدالوهاب ساپی د مرکزی کمیټی د علی البدل غړو په توګه وټاکل شول . د مرکزي کمیټې په اصلي غړو کې په طبعي ډول ملی ترکیب مراعات شوی و.

1. نورمحمد تره پښتون
2. ببرک کارمل د ګوندی اسنادو پر بنا پښتون( [۱] )
3. ډاکتر صالح محمد زیری پښتون
4. طاهر بدخشی تاجک
5. دستګیر پنجشیری تاجک
6. شهرالله شهپر ازبک
7. سلطان علی کشتمند هزاره

---

[۱] دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخونه ، ۱۵۴ او ۱۵۵

[۱] ببرک کارمل ځان پښتون باله ، خو د هغه ورور محمود بریالي ځان تاجک

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د مرکزي کميټې على البدل غړي يې هم له پښتون ، تاجک او هزاره ملیتونو څخه وو.

1. عبدالوهاب ساپی پښتون
2. ډاکتر محمد ظاهر افق پښتون
3. عبدالکريم ميثاق هزاره
4. ډاکتر شاه ولی تاجک (۲) مخونه ۱۵۶ او ۱۵۷)

او ددی کنګرې پاتې غړې د الفبا له مخې په لاندې کسان وو :

1. ادم خان ځاځی
2. اکرم کارګر
3. خاليار انجينر
4. سليمان لايق
5. عبدالحکيم شرعی جوزجانی
6. سيد نورالله ګلالی
7. عبدالله ځاځی
8. عبدالحکيم هلالی
9. عبدالقيوم قويم
10. اکبر کارګر
11. عطامحمد شيرزی
12. ملاعيسی کارګر
13. غلام محی الدين زرمتی
14. محمد حسن بارق شفعيی
15. ډاکتر درمانګر
16. نور احمد نور

[2] د ستګير، پنجشيری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا، مخونه ۱۵۶ او ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

میر اکبر خیبر او اناهیتا راتب زاده د ځینو معاذیرو له امله په دې کنګره کې ګډون نه وکړي . (۱) مخ ۱۵۸)

په ۱۳۴۵ ل کال کی د ګوند د ګوندي فعالیتونو د ښه تنظیم په خاطر لاندې (۸) کسان د رایو په یووالي سره ددې ګوند د مرکزي کمیټې د علی البدل غړو په توګه وټاکل شول :

1. محمد اسمعیل دانش
2. حفیظ الله امین
3. عبدالحکیم شرعی
4. محمد ظاهر افق
5. ډاکتر عبدالله درمانګر
6. محمد حسن بارق شفیعی .
7. نور احمد نور
8. غلام مجدد ( ۱ ) مخ ۱۵۹) (سلیمان لایق )(۲ مخ ۱۵۹ )

د ۱۳۴۶ ل کال د ثور د ۱۴ مې نیټې د انشعاب پرمهال د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې په غونډه کې (۹) اصلي او (۱۰ ) علی البدل غړیو په لاندې ترکیب کې ګډون کړی وو:

د مرکزي کمیټې اصلي غړي عبارت وو له :

1. نور محمد تره کی
2. ببرک کارمل
3. محمد طاهر بدخشی
4. دستګیر پنجشیری

---

۱ دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۵۸

۱ بناغلی دستګیر پنجشیری په خپل اثر(ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان)کی دسلیمان لایق نوم غلام مجدد ذکر کړی دی .مخ ۱۵۹

۲ دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. شهرالله شهپر
6. سلطان علی کشتمند
7. صالح محمد زیری
8. ډاکتر شاه ولی
9. نور احمد نور

على البدل غړي يې عبارت وو له :

1. عبدالکریم میثاق
2. ډاکتر محمد طاهر احمدزی
3. عبدالوهاب ساپی
4. محمد اسمعیل دانش
5. حفیظ الله امین
6. عبدالحکیم شرعی
7. محمد ظاهر افق
8. ډاکتر عبدالله درمانګر
9. محمد حسن بارق شفعیی
10. غلام مجدد (سلیمان لایق)([1] مخ ۱۵۹)

د ۱۳۴۶ ل کال د ثور ۱۴ انشعاب پر مهال د خلق او پرچم د اړخونو د مرکزي کمیټې غړي عبارت وو له :

د خلق اړخ :

الف : د مرکزی کمیټې اصلي غړي عبارت وو له :

1. نور محمد تره کی
2. طاهر بدخشی

[1] دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. ډاکتر صالح محمد زیری

ب : د مرکزی کمیټې علی البدل غړي عبارت وو له :

1. عبدالکریم میثاق
2. محمد اسمعیل دانش
3. حفیظ الله امین
4. ډاکتر محمد طاهر احمدزی
5. ډاکتر عبدالله درمانګر
6. محمد ظاهر افق

د پرچم اړخ :

الف : د مرکزی کمیټې اصلي غړي عبارت وو له :

1. ببرک کارمل
2. دستګیر پنجشیری
3. شهرالله شهپر
4. سلطان علی کشتمند
5. نور احمد نور

ب : د مرکزي کمیټې علی البلدل غړي عبارت وو له :

1. عبدالحکیم شرعی جوزجانی
2. سلیمان لایق
3. محمد حسن بارق شفیعي
4. عبدالوهاب ساپی ( [1] ) مخ ۱۶۰)

د داخلي او فرکسوني مبارزو او کشمکشونو په پایله کې په ۱۳۴۸ لمریز کال کی دستګیر پنجشیری، شهرالله شهپر او عبدالحکیم شرعی د ( پرچم ) له

[1] دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخ څخه جلا او یو کال یې د «خلق کارګر» په نوم د جلا تشکیلاتو په درلودلو سره مستقل فعالیت کاوه، خو په ۱۳۴۹ ل (۱۹۷۰ز) کال کی دوی د خلق له جناح سره یو ځای شول . په همدی ډول د خلق د جناح څخه طاهر بدخشی په ۱۳۴۷ ل کال کی جلا او د «سازا» په نوم سازمان یی تاسیس کړ ، شهرالله شهپر هم د خلق د جناح سره خپلی اړیکي پرې کړې . په دې ترتیب د ۱۳۵۶ لمریز کال د سرطان د ۱۲ نیټې د وحدت پرمهال د خلق د اړخ د مرکزي کمیټې اصلي او علی البدل غړې په دې ترتیب وو.

<u>الف</u>: د مرکزي کمیټې اصلي غړې عبارت وو له :

1. نور محمد تره کی
2. طاهر بدخشی
3. ډاکتر صالح محمد زیړی
4. ډاکتر شاه ولی
5. عبدالکریم مثیاق
6. عبدالحکیم شرعی جوزجاني
7. حفیظ الله امین
8. محمد اسمعیل دانش

<u>ب</u>: د مرکزي کمیټې علی البلدل غړې عبارت وو له :

1. منصور هاشمی
2. عبدالاحد ولسی
3. محمود سوما
4. عبدالرشید ارین
5. محمد حسن پیمان
6. محمد یاسین بنیادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. ډاکتر کریم زرغون ([5]) مخ ۱۶۱)

د ۱۳۴۶ ل کال د ثور د ۱۴ نیټې تر انشعاب پورې د پرچم جریده نه وه نشر شوې ، کله چې د نورمحمد تره کی او ببرک کارمل له خوا انشعاب منځ ته راغی دواړو خواو خپل خپل نشراتي ارګان د (خلق او پرچم ) په نومو نو پیدا کړل، خوله ۱۲ کالو فرکسیونی مبارزو او د کنفرانس سند لاسلیک شو. د ۱۳۵۶ ل کال د سرطان په ۱۲ مه یې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند مرکزي کمیټه، سیاسی بیرو او دارلانشاه له دواړو اړخونو څخه د ۲۸ اصلی او ۲ علی البلدل غړیو په لرلو سره په لاندې ترکیب جوړه شوه:

الف : د مرکزي کمیټې اصلي غړي:

1. عبدالاحد ولسي
2. محمد اسمعیل دانش
3. میر اکبر خیبر
4. اناهیتا راتب زاده
5. محمد حسن بارق شفعیی
6. ببرک کارمل
7. محمد حسن پیمان
8. حفیظ الله امین
9. عبدالحکیم شرعی
10. غلام دستګیر پنجشیری
11. عبدالرشید ارین
12. سلطان علی کشتمند
13. سرور یورش
14. سلیمان لایق

[5] دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

15. ډاکتر شاه ولی
16. صالح محمد زیری
17. عبدالقدوس غوربندی
18. عبدالکریم میثاق
19. مجید سربلند
20. محمود بریالی
21. محمود سوما
22. منصور هاشمی
23. ډاکتر نجیب الله
24. نظام الدین تهذیب
25. نوراحمد نور
26. نورمحمد تره کی
27. عبدالوکیل
28. یاسین بنیادی

ب : د مرکزي کمیټې علی البلدل غړي عبارت وو له :

1. فدامحمد دهنشین
2. قیوم نورزی (1 مخ ۱۶۲)

د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د ۱۳۵۶ لمریز د سرطان د ۱۲ مې له وحدت وروسته په لومړي پلینوم کې (۱۰) تنه د سیاسي بیرو او څلور تنه د دارلانشاء لپاره وټاکل:

الف : د سیاسې بیرو غړي :

1. نور محمد تره کی

[1] دستګیر پنجشیری ، ظهور و زاوال ، ج- د- خ - ا ، مخ، ۱۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. ببرک کارمل
3. دستګیر پنجشیری
4. سلطان علی کشتمند
5. صالح محمد زیری
6. نور احمد نور
7. ډاکتر شاه ولی
8. سلیمان لایق
9. عبدالکریم میثاق
10. محمد حسن بارق شفعیی

ب: د دارلانشاء غړي:

1. نور محمد تره کی
2. ببرک کارمل
3. ډاکتر شاه ولی
4. نور احمد نور(1[1] مخ ۱۶۳)

ددی ګوند لومړنی نشراتی ارګان د ((خلق)) جریده د ۱۳۴۵ لمریز کال د حمل د میاشتې په ۲۲ نیټه چې د ۱۹۶۶ ز کال د اپریل له ۱۱ سره سمون لري نشر شوه، مګر د پرچم جریده په ۱۳۴۷ لمریز کال په خپریدو پیل وکړ. (1[1]مخونه ۱۶۴ او ۱۶۵)

د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند دواړو خواو (خلق او پرچم) تر منځ د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ پر ۱۲ د یووالي سند د(۹۰) استازو له خوا لاسلیک شو.(۲)

د ۱۳۵۲ ل کال د ګوند وحدت او په ۱۳۵۷ ل کال کې د میراکبر خیبر له مړینې وروسته د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند ټوله رهبری د سردار

[1] دستګیر پنجشیری، ظهور و زاوال، ج-د-خ-ا، مخ، ۱۶۳
1

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد داود خان له خوا بنديان شول ، دولت د دوې د محاکمې اعلان وکړ . د دولت له خوا د افغانستان دخلق ديموکراتيک گوند رهبرانو دمحاکمې د اعلان سره سم د ۳۵۷ لمريز کال د ثور په ۷ مه د پنجشنبې ورځ د ۱۹۷۸ ز کال د اپريل په ۷ مه نيټه له غرمې څخه مخکې ۱۱ بجې او ۴۵ دقيقې لومړنې ټانګ د محمد اسلم وطنجار په لارښوونه د دفاع په وزارت باندې ډزوکړ ، ده پسې جوخت محمد عمر په ګارد باندې فيرونه پيل کړل د غرمې ۱۲ بجې يې ددفاع وزارت ونيو څکه ددفاع وزير غلام حيدر رسولي او لوی درستيز عبدالعزيز له اوومې اواتمې فرقې څخه د مرستې او ادارې په خاطر د دفاع وزارت له شا دروازې څخه ووتل ، کله چې د دفاع وزير غلام حيدر رسولي او لوي درستيز عبدالعزيز له صحنې څخه وتښتيدل او د قرغې فرقې ته ورسيدل ، هلته وضع بدله وه ، ډير ژر د ريشخورو فرقې خوا ته وخوځيدل په لارکې له نيولو وروسته ووژل شو . [1]_ مخونه : ۱۲۴_۱۲۵

د افغانستان د راډيو له نيولو وروسته د افغانستان دوسله وال پوځ د نظامې شورا اعلاميه په لاندې متن په پښتو ژبه محمد اسلم وطنجار او په دري ژبه عبدالقادر وويله (( د نادر د سلطنتي کورنۍ آخرنۍ واکمن سردار محمد داود خان دغه بيې ساري عوام فريب ، د افغانستان د خلکو ارادې او تاريخ ته خاين عنصر د تل لپاره له مينځه ولاړ ، وروسته له دې په ملي حاکميت تاسې د افغانستان نجيبو خلکو پورې اړه لري . د انقلاب له لاس ته راوړنو څخه دفاع او ددې مستبد سردار دملګرو له مينځه وړل دافغانستان د شرافتمندو خلکو دنده ده . [2]_ مخ : ۷۷

د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۷ مه نيټه د نظامې شورا په وړانديز د ګوند نظامي اوسياسې رهبر د پريکړې سره سم د ګوند سياسې رهبرې په همدې نيټه د ( ۷/ ۲ / ۱۳۵۷ ) د شپې په ۱۲ بجو د زرهپوش وسايطو پواسطه د خواجه رواش هوايې دګر محل چنار ته چې هلته د هوايې قواو قرارګاه وه انتقال شول ، هلته يې د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۸ مې د سهار تر شپږو بجو پورې د راډيو د

---

[1]_ دستګير پنجشيري ، ظهور و زاوال ، ج ، د ، خ ، ا ، مخونه : ۱۲۴ _ ۱۲۵

[2]_ : فرهنګ ، محمد صديق ، افغانستان در پنج قرن آخير ، جلد سوم مخ : ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشراتو لپاره مضامین اوشعارونه لیکل . سهار ۴ بجې د ګوند سیاسي رهبري دهوایي ډګر ( محل چنار ) څخه راډیو افغانستان ته بیرته را وستل شوه . په همدې ورځ ( ۸ / ۲ / ۱۳۵۷ ل کال ) د کوماندو د قطعې دیو ټولي قوماندان امام الدین ته دندې ور سپارل شوه چې د انقلاب فرمان سردار محمد داود خان او د هغه لور پورو چارواکو ته اعلان او د ګوند د ستور یې هغوي ته ور ساوه ، امام الدین هغوي ته وویل (( د مرکزي کمیټې په فرمان تاسې محکوم یاستي خپل ځانونه تسلیم کړي )) داود خان نه یوازې چې تسلیم نه شو خپل زوي او قدیر نورستاني ته یې دستور ور کړ چې امام الدین او نورو سپاهیانو باندې ډزې وکړي ، خپلې اخري مرمۍ خلاصې کړي هغوي د سردار محمد داود خان اخري امر هم پر ځاي کړ ، پر امام الدین او کوماندو عسکرو باندې یې فیرونه شروع کړل په پایله کې خپله سردار محمد داود خان ، سردار محمد نعیم خان ، عبدالاله د مالي وزیر ، زامنو او یو شمیر نږدې کسانو یې ژوندله لاسه ور کړ ، د حکومت نور غړي تسلیم شول د هغوي امنیت د پاڅون کوونکو له خوا تامین شو .([1])

د انقلابۍ سورا لومړۍ غونډه د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۹ مه د ملي دفاع په وزارت کې چې د جمهوري ریاست په قرارګاه کې وه دایره شو تر څو په دې غونډه کې د دولت نوم د انقلابۍ شورا رئیس او مرستیال وټاکي په دې وخت کې د هوایي قواو قوماندان ډګروال عبدالقادر داسې طرح وړاندې کړه ، چې ګوند باید په پټه رهبري کوونکې نقش ولوبوي او نظامي شورا په ظاهره کې انقلابۍ دندې اجرا کړي چې دا طرح د نور محمد تره کۍ او د ګوند د رهبرانو له غوځ مقاومت سره مخامخ شوه ، نور محمد تره کۍ وویل (( دثور پاڅون د افغانستان دخلکو د اوږدې مبارزې او په لومړۍ درجه کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د اګاهانه مبارزې او ۱۴ کلن سیاسي ژوند پایله ده . هغه بیا په ډیر اطمنان او ډاډ سره زیاته کړه نوموړي ګوند په ډیرو سختو او ناوړه شرایطو کې د افغانستان خلک په تیره بیا وطنپالونکې افسران متحد کړل دا ګوند چې نظامي سازمانونه یې په سازماني او سیاسي لحاظ د دولت له

[1] _ فرهنګ ، محمد صدیق ، افغانستان در پنج قرن اخیر ، جلد سوم مخ ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

منیځه ورلو لپاره وسله وال پاڅون ته تیار کړل ، وسله والو ځواکونو او نظامي سازمانونو خپله انقلابي دنده سرته رسولي وروسته له دې ګوند دپوځ دولت او ټولني رهبري په غاړه لري . »(2مخ : ۱۰۱ )

کله چې نوبت دڅلورمې زغره والې قومې قوماندان محمداسلم وطنجار ته ورسید هغه په صراحت سره وویل : « زه د خپل ګوند عسکر وم او یم یوازې ګوند کولې شې چې ټولنیز حرکتونه پوځ او پرګنې رهبري کړي . » ( 3مخ : ۱۰۲ )

د محمد اسلم وطنجار وینا د انقلابي شورا د غړو له خوا بدرګه شوه اوپه دې غونډه کې نور محمد تره کی د رایو په یووالې د انقلابي شورا د رئیس په توګه وټاکل شو اوپه همدې غونډه کې د افغانستان جمهوري دولت په اړه نور محمد تره کې « افغانستان دخلکو جمهوریت » طرحه اوببرک کارمل « د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت » طرحه وړاندې کړه ، دوهمه طرحه تائید شو ، او د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت باندې یاد شو چې د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال د افغانستان جمهوریت باندې بدل شو . ( 1مخ : ۱۰۳ )

د۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۱۰ مه د انقلابي شورا دویمه غونډه دصدارت قصر کې دایره شوه ، په دې غونډه کې واک د کلیدي پوستونو د لاس ته راوړني له پاره هڅې پیل شوي ، حفیظ الله امین د ثور پاڅون دخلق دجناح دافسرانو د پاڅون پایله ګڼله ، اما ببرک کارمل د ۱۳۵۲ ل کال دچنګاښ د ۱۲ مې د وحدت دواړه خواوي د یو واحد ګوند په توګه د مساوي حقوقو لرونکې دي څرنګه چې په ګوندي مقاماتو کې مساوي دي په دولتي مقاماتو کې هم د مساوي حقوقو لرونکې دي ببرک کارمل په دې ټینګار کاوه چې دکورنیو چارو وزارت ، بهرنیو چارو وزارت ، مطبوعات او د صدارت یو

[2] ـ پنجشري ، دستګیر ، ظهور و زاول ح ، د ، ح ، ا مخ : ۱۰۱ بخش دوم
[3] ـ پنجشري ، دستګیر ، ظهور و زاول ح ، د ، ح ، ا مخ : ۱۰۲ بخش دوم

[1] ـ پنجشري ، دستګیر ، ظهور و زاول ح ، د ، ح ، ا مخ : ۱۰۳ بخش دوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاونیت باید پرچمیانو ته ورکړل شي ، برعکس حفیظ الله امین د صدارت ، کورنیو چارو وزارت ، بهرنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت دڅوکیو غوښتونکي و حفیظ الله امین ادعا کوله چې د پرچم نظامي سازمان تر اخره داود خان ته وفادار پاتې شو ، ځکه جګړې پر مهال نور احمد نور چې د پرچم د نظامي سازمان مسول و او د داود خان له خوا بندي شوي هم نه و په اګاهانه ډول یې ځان پټ کړي و ، لنډه دا چې د واک په ویش باندې یو ورځ بحث وشو د اوږدو خبرو څخه وروسته په ناچارۍ سره یې د لومړني دولت دکابیني بنسټ کیښود ، د باور نه درلودلو ، بې اعتمادۍ او سو تفاهم په فضا کې یې کابینه تصویب کړه چې له همدې ځایه د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند او ځوان دیموکراتیک جمهوریت زوال پیل شو . خو کله چې دغه کابینه د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۱۰ مه رسماً اعلان شو .

1. نور محمد تره کې د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت رئیس ، د انقلابی شورا رئیس او صدراعظم په توګه
2. ببرک کارمل د جمهور رئیس ، انقلابی شورا او صدراعظم مرستیال په توګه
3. حفیظ الله امین د صدراعظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر په توګه
4. محمد اسلم وطنجار د صدراعظم مرستیال او د مخابراتو وزیر په توګه
5. عبدالقادر د دفاع وزیر
6. نور احمد نور د کورنیو چارو وزیر
7. ډاکتر شاه ولی د عامی روغتیا وزیر
8. صالح محمد زیری د کرنی او ځمکو اصلاحاتو وزیر
9. دستګیر پنجشیری د پوهنی وزیر
10. سلطان علی کشتمند د پلان وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

11. عبدالکریم مثیاق د مالی وزیر
12. محمد حسن بارق شفعیی د اطلاعاتو او کلتور وزیر
13. سلیمان لایق د راډیو تلویزون وزیر
14. اناهیتا راتب زاده د ټولنیزو چارو ګرځندوی وزیر
15. عبدالحکیم شرعی جوزجانی د عدلی وزیر او لوی څارنوال
16. محمد اسمعیل دانش د کانو او صنایعو وزیر
17. نظام الدین تهذیب د سرحدونو او قبایلو وزیر
18. محمد منصور هاشمی د اوبو او بریښنا وزیر
19. عبدالقدوس غوربندی د سوداګری وزیر
20. محمود سوما د لوړو زده کړو وزیر
21. محمد رفیع د فواید عامی وزیر

لومړي شوروي اتحاد ، وروسته دبلغاریا د خلکو جمهوریت او نورو سیوسیالیستي هیوادونو نوي دولت په رسمیت وپیژانده . ( [1] مخ: ۱۰۴ )
په پورته کابینه کی (۱۳) خلقیان او (۸) پرچمیان وو، دوی چی کله وزارتونه ولاړل ، خلقیانو خپل ملګری او پرچمیانو خپل ملګری په اړونده وزارتونه کی مقرر کړل، لږ ورځی لا تیری شوی نه وی چی د دوی ترمنځ یو خطرناکه رقابت او اختلاف پیل شو. ( [2] ) مخونه ۳۰۱ او ۳۰۲ )

د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند دواړه خواوي ( خلق او پرچم ) له همدې ځایه دومره بي اتفاقه شوې او اختلاف یې دې حد ته ورسید چې د قدرت د لاس ته راوړلو په خاطر یې یو د بل په وژلو او بندي کول لاس پوري کړ ، همدې اختلاف د ثور د ۷ مې نیتې بدلون ناکام او دشوروي اتحاد د یرغل

[1] ـ پنجشري ، دستګیر ، ظهور و زاول ح ، د ، ح ، ا مخ : ۱۰۴ بخش دوم

[2] محمد ابراهیم عطایی ، د افغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه ، مخونه ، ۳۰۱ او ۳۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاره یې زمینه برابره کړه ځکه ببرک کارمل دحفیظ الله امین له واکمنۍ څخه د شوروي اتحاد د تسلط ډیر ښه ګانه نوموړي دشوروي اتحاد د کمونست ګوند رهبري وهڅوله چې انقلاب ته دنجات تر نوم لاندې په افغانستان یرغل وکړي ، چې د دې نا روا یرغل په پایله کې زمونږ د بې ګناه هیوادوالو وینې تویې شوي اود خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ اختلاف ورځ تر بلې زیاتیده ، د ببرک کارمل او حفیظ الله امین ترمنځ د تبلیغاتو فضا ډیره پراخه او توده شوه، خو دا وضع تصادفی نه وه بلکې د یو منظم پلان پواسطه مخ پر وړاندې روانه وه ، او دواړو خواو یو د بل پر ضد تخریب پیل کړ.

په دی اړه د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د سیاسی بیروی غړی د خلق جناح ته منسوب خو د حفیظ الله امین مخالف میر صاحب کاروال داسی نظر لری: ((د ثور د اوومي نیټې د قیام څخه وروسته حفیظ الله امین په دی عقیده و چې ټول کلیدی دولتي پوستونه د خلق د جناح او ده ته د نږدی کسانو په لاس کې وي، حفیظ الله امین غوښتل چی لومړی پرچمیان لري کړي بیا به خپلو خلقی حریفانو سره خپل حساب تصفیه کړی. ده تر ډیره بریده خپله سناریو په عمل کې تطبیق کړه، زما په آند پرچمیانو هم په خپل عکس العمل کی بیړه وکړه، ځکه وضعی ډیر ژر بدلون وکړ....)) ([1] مخ ۱۲۵)

د خلقیانو او پرچمیانو اختلاف په دریو نقطو باندی څرخید.

- په رسمي او ګوندی غونډو کی د خلقیانو د رهبری په غړو باندی د پرچمیانو په ځانګړي ډول د ببرک کارمل لخوا نیوکې.
- د پرچمیانو له خوا د خپلو پخوانیو مخفی (پټو) تشکیلاتو بیا فعالول چې د ثور د بدلون څخه مخکی یې درلودل.

[1] محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۷۱-۱۳۵۷)، مطبعه میوند ، مخ ، ۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

•د شوروي اتحاد د سفیر او مشاورینو سره د لیدونو پرمهال د خلقیانو په رهبرانو نیوکي، اعتراضونو او شکایتونه کول. ([2] مخ ۱۲۵)

د ثور د اوومی نیټی د بدلون وروسته د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل په ۲۹ مه د شوروی اتحاد د سفیر میخایل پوزانف سره په لومړی غونډه کې ، د ګوند عمومي منشي نور محمد تره کی ویل: « زمونږ ګوند واحد ګوند دي د فولادو غوندی محکم او د انقلاب په څیر ماتی نه خوړونکي...» په مقابل کی ببرک کارمل وویل : « په اوسنی وخت کی عملاً یو واحد ګوند وجود نلری په داسی حال چی د واحد ګوند ادعا کیږی نو ولی دوه ګونی برخورد کیږی...» ([1] مخ ۱۲۸) ، همدارنګه د پرچم د جناح د رهبری غړي او د نورمحمد تره کی په کابینه کې د کورنیو چارو وزیر نور احمد نور د ۱۹۷۸ ز کال د اګست په ۱۱ مه په کابل کی د شوروی اتحاد سفیر پوزانف سره په کتنه کې د خلق او پرچم د جناح د اختلاف په اړه داسی وویل: « امین او تره کی قدرت غصب کړي ، د پرچم د ډلی پرضد تصفیوی عملیات ترسره کوي، د سیاسی بیرو غړي له امین څخه ویریږی ، او زیاته یی کړه د شوروی اتحاد د مرستې څخه پرته نور هیڅوک نه شي کولي چې د حفیظ الله امین په مقابل کې مقاومت وکړي » ([2]مخ ۱۲۵ )

یوه اوونی وروسته سلطان علی کشتمند د پوزانف سره په کتنه کې د خلق او پرچم ترمنځ د اختلاف د چټک زیاتوالی په اړه هغه ته خبرورکړه هغه وویل چې تره کی غواړي چې د پرچم ډله نابوده کړی ، سفارتونو ته د هغوی د لیږلو وروسته پوځ تصفیه کړی ، ځکه تردی مهاله په پوځ کی دری تنو نفوذ درلود لکه حفیظ الله امین ، ببرک کارمل او جنرال عبدالقادر د دفاع وزیر - د قادر او حفیظ الله امین ترمنځ د اختلاف د زیاتوالی له امله جنرال عبدالقادر هم د ۱۹۷۸ ز کال د اګست په ۱۷ مه بندی (۸۰۰) افسران له پوځ څخه خارج او ځینی په اعدام

---

[2] محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۵۷-۱۳۷۱ )، مطبعه میوند ، مخ ، ۱۲۵

[1] محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۵۷-۱۳۷۱ )، مطبعه میوند ، مخ ، ۱۲۸

[2] محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۵۷-۱۳۷۱ )، مطبعه میوند ، مخ ، ۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکوم شول . خو د شوروي اتحاد د مداخلې په اساس اعدام په دوامداره حبس تبدیل شو، خو د پرچم ډلي دومره نفوذ نه درلود چې د حفیظ الله امین په مقابل کې مقاومت وکړي. (3 مخ ۱۲۵)

یو امریکایي لیکوال ( سلیک هرسین ) د شوروی اتحاد د نړیوالو اړیکو د مدیر وادیم ګلادین له قوله داسی لیکلي: « په دي مرحله کې شوروی اتحاد په چې د اختلاف د حل په اړه څه وکړي د نظر اختلاف درلود، د شوروي استخباراتی سازمان په لومړي مرحله کې جنرال عبدالقادر وهڅوه چې خپله نظامی شورا جوړه کړي مګر د شوروی اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمیټې رهبری هئیت ځینی غړی د دی امر مخالف وو، هغوی د یوه پراخه بنسټه حکومت پلوی وو، چې دا کار بیا دوي د یرغل وروسته د ببرک کارمل واک ته رسیدلو سره په ۱۹۸۰ ز کال کې د پلار وطنی ملی جبهی د ریاست له پاره محمد نذیر کبیر سراج چې د پاچا او ( ظاهر شاه ) محمد داود خان په وخت کې جنرال و، راوغوښت.(1 مخونه ۱۲۹ او ۱۳۰ )

د پرچمیانو او خلقیانو د اختلاف په اړه د خلق د جناح د مرکزی کمیټی غړی او د حفیظ الله امین د پلویانو څخه ښاغلی عبدالرشید جلیلی داسې نظر لري: « شورویانو غوښتل چې د داود خان څخه وروسته ببرک کارمل واک ته ورسوی خو داسی ونشول مګر د خلقیانو په مقابل کې د پرچمیانو د ټولو توطیو ترشا د شوروی اتحاد د استخباراتی سازمان د کی - جی - بی لاس و، خو د خلقی دولت په دریمه ورځ د پرچم ډلي مشرانو د ببرک کارمل په ګډون او مشری د هغه وخت د کورنیو چارو د وزیر نور احمد نور په دفتر کی غونډه وکړه او پریکړه یې وکړه چې ټول سیاسی قدرت د پرچم ډله په خپلو لاسونو کی واخلی. د کارمل ډلی دویمه غونډه د کابل په بادام باغ کې د هغه وخت د کوپراتیفونو رئیس په دفتر کې جوړ کړه، چې د شوروی سفارت استازی هم ورکي ګډون درلود بیا هم پریکړه وشوه چې پرچمیان باید د نظامی کودتاه له لاری واک لاس ته راوړي، د پرچمیانو

---

3 محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۷۱-۱۳۵۷ )، مطبعه میوند ، مخ ، ۱۲۵

1 محمد اکرم ، اندیشمند (۱۳۹۱هـ ش) ، حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتا حاکمیت و فروپاشی (۱۳۷۱-۱۳۵۷ )، مطبعه میوند ، مخونه ، ۱۲۹ او ۱۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرتابه دریمه غونډه د حشمت کیهانی په کور کې چې د شوروی سفارت ته نږدې په دریمه کارته کې وه، وکړه، په دې غونډه کې د پرچمیانو له خوا د سیاسې واک د تر لاسه کولو په خاطر پریکړه وشوه ، لومړی باید د پرچم د ډلی غړي داسې کارونه وکړی چې د هغی پواسطه خلک د خلقی دولت پرضد راوپاریږی - ترڅو په اردو او ځارندوی کې د پرچمیانو د وسلوال پاڅون له پاره بهانه پیدا شی...)).([2]) مخونه ۶۲ او ۶۳)

د محترم عبدالرشید جلیلی خبره ښاغلی نبی عظیمی چې د پرچم د جناح مشهور غړي او نظام کادر او په نوموړئ وخت کې محمد نبی عظیمی د غزنی د ۱۴ می فرقی قوماندان و، په خپله لیکنه کې پورته نظر تائیدوی او داسې لیکی:

(( ... روزی یکی از دوستانم از کابل تیلفون کرد و گفت، مادرت مریض است فوراً به کابل بیا... آن روز که ۲۸ ماه جون سال ۱۹۷۸ میلادی بود و منزلم در خیرخانه مینه بود باشتاب خود را انجا رسانیدم ، مادرم را کاملاً صحتمند یافتم ، برادرم توضیح داد که رهبری ارزو ملاقات با تو دارد ، بعد از ساعتی عبدالوکیل که در ان موقع معین وزارت خارجه بود به منزلم امد... او گفت متاسفانه ارزو ها و کوشش های صادقانه ما ( مطلب د پرچم جناح وه ) در راه وحدت حزب دیموکراتیک خلق افغانستان به اثر دسایس و توطیه های حفیظ الله امین و همدستانش با شکست مواجه شد... او نظر دارد تا تمام پرچمی ها از رهبری و صفوف از صحنه خارج و حتی به صورت فزیکی بنام خائینین از بین ببرد... همین اکنون تصمیم وی در مورد سفیر شدن رفیق کارمل در پراگ، نور احمد نور در واشنگتن و اناهیتا راتب زاده به بلگراد... به معنی کودتاه سیاسی علیه حزب ما است ... ما اکثریت افسران و اعضای حزب صحبت کرده ایم ... نظر تمام اعضای حزب پرچم این است در صورتیکه امین در تصمیم خود پافشاری نماید ، باید اردو قیام مسلحانه را علیه امین آغاز نماید ، وی گفت من میخواهم اماده گی خود و رفقای فرقه ۱۴ به رفیق کارمل در مورد قیام مسلحانه اردو اطلاع بدهیم ، چی فکر میکنی ایا میتوانی در آنجا استقلال فرقه را اعلان و در

---

[2] عبدالرشید جلیلی، غمیزه څرنګه پیل شوه، مخونه ۶۲ او ۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت درخواست ما به طرف کابل مارش نمائید... من به وکیل گفتم، راه و وسیله دیگری سراغ ندارید ، من حاضرم.))( [1]_ مخونه ۶۳ او ۶۴)

بیا هم نوموړی لیکي : (( مونږ دقیق پلان ترتیب کړ خو د مرکز څخه کوم خبر را ونه رسیده ، که څه هم د پرچم د ډلي رهبران په سفارتونو کې مقرر شول خو هغوی کوم عکس العمل ونه ښوده خو لږه موده وروسته سلطان علی کشتمند ، جنرال شاهپور او میر علی اکبر د جمهوریت د شفاخانی سرطبیب بندیان شول، او زه ( محمد نبی عظیمی ) د غزنی د ۱۴ مي فرقي څخه تبدیل او په حربی پوهنتون کې د پیاده پوهنځی د قوماندان په توګه مقرر شوم ، چی زه دا د حفیظ الله امین یوه لویه بخښنه او تیریدنه ګڼم ځکه ما د ځان له پاره د بندیخانی او یا پانسي انتظار درلود.)) ([2])مخ ۶۵ )

پرچمیانو د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د جوړیدو لږ موده وروسته انشعاب وکړ او جلاوالي پرمهال یې د خلقیانو پرضد تبلیغات کول ، خو د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د اوومي نیټې بدلون څخه وروسته د ډیرو واک د لاس ته راوړلو په خاطر د دوي هڅی زیاتې او ګړندي شوي. د دوي او حفیظ الله امین ترمنځ د جوړی امکانات موجود نه و. د نوراحمد نور ، عبدالوکیل او نبی عظیمی د څرګندونی دا ثابتوی چې دوي د ټول واک د لاسه راوړلو په خاطر د شوروی اتحاد د ملاتړ لپاره هلې ځلې پیل کړی . ترڅو د شوروی اتحاد په ملاتړ حفیظ الله امین ناکام کړی ، خو حفیظ الله امین د خپلی پوهي او زیرکتیا پواسطه په پرچمیانو بریالی شو او د رهبري ټول غړي د هیواد څخه وویستل ، د پرچمیانو ټولی هڅی د ده له خوا شنډی شوی ترڅو پرچمیان د شوروی اتحاد د پوځی یرغل او حفیظ الله امین د مړینی وروسته واک ته ورسیدل .

سلیمان لایق د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړې د دوارو اړخونود اختلاف په اړه داسې نظر لري او دا پړه په نورمحمد تره کي او ببرک کارمل اړولي ده. (( تاسې پوهیږې هغه وخت چې حکومت د حزب په لاس کې و او زه د حزب د مرکزي کمیټې غړې وم، اساسي مسئله فقط هلته دا وه

---

[1] عبدالرشید جلیلی، غمیزه څرنګه پیل شوه، مخونه ۶۳ او ۶۴

[2] عبدالرشید جلیلی، غمیزه څرنګه پیل شوه، مخ، ۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تره کي صاحب او کارمل ترمنځ هغه پخوانۍ زوړ مخاصمت بیا شروع شو او کارمل صاحب د تره کي صاحب له خوا د یو ډلې نورو پرچمي رهبرانو سره په خارجي هیوادونو کې د سفیرانو په توګه مقرر کړل زه دلته پاتې شوم، ما کومه پرچمي یا خلقي موضعیګیري نه درلوده او کله چې ګوند یو شو تر ننه پورې زه ددې فرکسیوني اختلافاتو کې د یو سره هم نه وم. ما ځان ته ډیر لوی شرم باله چې په دې لوبو کې سرې د قدرت د نیولو له پاره علاقه وښیي ، هلته دا فکر کیده چې زه شاید یو پرچمي یم او علاقمند به یم ، د پرچمیانو د تصفیه کار شروع شوې ؤ نو زه یې له وزارت نه موقوفه کړم. ([1] مخونه ۲۶۴ او ۲۶۵)

په هیواد کې د مختلفو ډلو د جوړیدو په اړه د ننګرهار پوهنتون د ژبو ادبیاتو د پوهنځی استاد پوهنوال مسعود نیکبخت داسې نظر لري: (( هر وخت چی کوم استعماری هیواد وغواړی پر کوم هیواد باندې د یرغل له پاره زمینه برابره کړي او خپلې سلطې لاندې یې راولي ، د هغه هیواد په داخل کی له خپل لوری مختلفی ډلی جوړوی چی د اړتیا پرمهال یو د بل په له منځه وړلو کې تری ګټه واخلي . )) ([6] مرکه)

د خلقیانو او پرچمیانو اختلاف چی د یوه ګوند دوه اړخونه وه کورنۍ او بهرنې عوامل لرل ځکه شوروی اتحاد د دغو دواړو جناحو کې د پرچم ډلی سره ډیري نږدې اړیکې درلودې او د هغوي تقریباً (۱۰) لس کلن یرغل کې زیات واک له همدی ډلې سره وه، ځینی خلقیان هم په واکه کې شریک وه خو د هغوی واک د دوی په نسبت ډیر کم وه او دغه اختلاف نه یوازې ددې ګوند حاکمیت ته د پای ټکې کیښود، د د وي لخوا پر یو او بل باندې د کودتاه ، بندې کولو او وژنو په پایله کې یې نوموړي ګوند ضعیفه او مختلفو ډلو وویشل شو ، چې د افغانستان ټولنه یې په بشري او مادي لحاظ ډیره زیانمنه کړه.

---

[1] ډاکتر عبدالعلي ارغنداوی (۱۹۹۷ز)، په تیرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ ، بی بی سي د پښتو څانګه ، چاپ ځای پبلک ارت پرس- پیښور ، مخونه ۲۶۴ او ۲۶۵

[6] پوهنوال مسعود نیکبخت سره مرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰ . ۱ ـ د پرچم اړخ د رهبري د غړو په سفارتونو گومارل

د شوروي اتحاد سلا کارانو هم جمهور رئیس نور محمد تره کي ته مشوره ورکوله چي پرچمي رهبران دي په سفارتونو کي مقرر شي . دوي غوښتل چي د دواړو اړخونو تر منځ نفاق زیات کړي . د پرچم د ډلي مشران په لومړیو وختونو کي حاضر نه وو . چي د سفیرانو په توگه دنده اجرا کړي . خو وروسته یي ومنله چي بیا دوي د ۱۳۵۷ لمریز کال د غبرگولي په ۱۲ مه چي د ۱۹۷۸ ز کال د جون د دویمي نیټي سره سمون لري په لاندي هیوادونو کي د سفیرانو په توگه مقرر شول :

۱ ـ ببرک کارمل چکوسلواکیا کي د سفیر په توگه .
۲ ـ نور احمد نور په امریکا کي دسفیر په توگه .
۳ ـ اناهیتا راتب زاد په یوگوسلاویا کي د سفیر په توگه .
۴ ـ عبدالوکیل په انگلستان کي د سفیر په توگه .
۵ ـ محمود بریالي په پاکستان کي د سفیر په توگه .
۲ ـ ډاکتر نجیب الله په ایران کي د سفیر په توگه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لړ کې داود خان د کابينې غړی او د پرچمي ډلې ته منسوب فيض محمد په عراق کې سفير مقرر شو . په همدغه وخت کې ځيني خلقيان هم په لاندې هيوادونو کې د سفيرانو په توګه وګمارل شول .

۱ـ پاچاګل وفادار په هندوستان کې *.

۲ ـ راز محمد پکتين په شوروي اتحاد کې .

۳ـ انجينر نظر محمد په لويديځ المان کې .

د دې خلقيانو مقرري په دې خاطر وشوه چې دغه درې واړه هم کليدي سفاتونه وو . ( ۱ ) م : ۳۰۴

کله چې د پرچم د اړخ د رهبری غړي سفارتونو ته ولاړل په ناڅاپي ډول د ۱۹۷۹ ز کال د اګست په ۱۷ مه د ۱۳۵۷ ل کال د زمري د مياشتي په ۲۲ مه اعلان وشو چې يوه کودتاه کشف شوه چې پرچميانو پکې لاس در لود . د دې سره سم سلطان علی کشتمند ، جنرال شاه پور او مير علی اکبر خيبر د جمهوريت د روغتون رئيس و ونيول شول .

تورنو کسانو ته د تحقيق له پاره هئيت مقرر شو ، هغوی هم د کودتاه په کولو اعتراف وکړ په دې محاکمه کې جنرال شاه پور په پانسی ، سلطان علی کشتمند ، محمد رفيع او جنرال قادر په بند محکوم شول . خو دا درې تنه د يو پټ لاس د مداخلې له امله له اعدام څخه بچ شول ، دوی په دې هم اعتراف وکړ هغو پرچميانو چې په سفارتونو کې يې دنده اجرا کوله په دې کودتاه لاس در لود . د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد پوهاند محمد بشير دوديال په دې اړه داسې نظر لري . : « حفيظ الله امين ځان اتل باله د ده په شخصيت کې د قدرت غوښتني عنصر پياوړی و . نو ځکه يې خپل مخالفين او سيالان لکه

---

* : کله چې پاچا ګل وفادار په هندوستان کې سفير و ، د خلق ديموکراتيک ګوند کې يې د ازمايښتي غړي حيثيت در لود ، ښايي دغه ګوندي حيثيت له دې امله وي چې خلقيان د ( ۲۲ ) پرځان په پيښه کې خپل ګډون نه انکار در لود ، دا يې ښودله چې نوموړي هغه مهال د ګوند غړي نه و . او اوس اوس ګوند ته نوي جذب شوي دي ، با وري سرچينه

۱ـعطايي محمد ابراهيم د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه مخ : ۳۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرک کارمل ، سلیمان لایق ، سلطانی کشتمند ، محمود بریالی ، ډاکتر نجیب الله او نور په بیلابیلو شکلونو له سیاسي ډگر څخه بهر کړل . )) ( ۲) مرکه

لږه موده وروسته دولت ټول پرچمي سفیران را وغوښتل خو هغوي ټولو د سفارت شتمني چور کړه او مسکو ته ولاړل چې په دوی کې ډاکتر نجیب الله او نور احمد نور ( **۲۲۵** ) زره ډالره وتښتول . ( **۳** ) م : **۳۰۵**

کله چې دوي په کابل کې واک ته ورسیدل بیا هم دي ته حاضرنه شول چې د وړل شوي پیسو حساب ور کړي . د پرچم اړخ رهبرانو مسکو ته له تللو وروسته خپلو صفوفو ته د ستور ور کړی وو ، چې د هیواد په ټولو سیمو کې ځانونه خلقیان معرفي کړي او داسې کارونه وکړي تر څو نظام او خلقیان بد نامه شي د یوې بیلگې په توگه د هغه وخت د پروان ولایت د امنیي قوماندان علی محمد مجبور د سترگو لیدلي حال لیکو هغه وایي . : (( یوه ورځ چاریکارو د پروان ولایت مرکز ته په نږدې کلي تتمدره کې د واده مراسمو کې د دې قریې د ښوونځي امر چې د پرچم اړخ سره یي اړیکې در لودې ، د دولسم ټولگې د دوو زده کوونکو سره د کلي د واده ځای ته ورغلی وو او د واده د خوراکي موادو دیگونه یې چپه کړي وو ، د اطلاع سره سم زه د امنیت له امر سمونیار رجب علی سره د پیښې ځاي ته ورغلم ، چې دیگونه رښتیا چپه شوي وه او خلک لاس تر زنې ناست وو . له پوښتنې وروسته مې خلکو وویل چې دا کار د مکتب امر کړی دي ؟ د مکتب ځینو زده کوونکو وویل چې هو قوماندان صاحب همدوی دا کار کړي . د مکتب د امر او زده کوونکو څخه مې د خلکو په مخکې وپوښتل چې دا کار تاسې کړي دي ؟ هغوي هم اقرار وکړ چې دا کار مونږ د اووم نمبر فرمان د تطبیق په خاطر کړ ي ، بیا مې د واده خاوند ته د غوښې قیمت ( **۲۵۰۰** ) افغانۍ ور کړې . خلکو ته مې وویل چې د اووم نمبر فرمان مفهوم دا نه دي ... د پیښې عامل په ځارنوالي کې اقرار وکړ چې زه د پرچم د مخفي ډلې غړی یم . د خپلو ملگرو د دستور سره سم غواړم چې خلقیان بد نام

---

۲ : محمد ابراهیم عطایي د افغانستان په معاصر تاریخ یو لنډه کتنه . مخ : **۳۰۴**

1 پوهاند محمد بشیر دودیال د ننگرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد .

2 معاصر تاریخ محمد ابراهیم عطایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم ، د شوروي اتحاد له یرغل څخه وروسته نوموړي امر د پروان ولایت د خاد په ریاست کې دنده سرته رسوله ، زما د دې ادعا شاهدان د تتمدرې خلک ، د مکتب امر د هغه وخت د پولیسو د امنیت امر رجب علی چې لا ټول ژوندي دي شاهدان دي . (1 _ م م : ۲۷ _ ۲۸

په دې اړه پوهاند محمد حسن کاکړ هم داسې لیکي : (( نور محمد تره کی د پوزانوف * په مشورو پرچمیان مشران د سفیرانو په توګه وټاکل خو د ننه په وطن کې نور پرچمیان کرار نه شول او د پخوا په شان به یې په پټې غونډې کولې . څنګه چې دوي زیات ښاریان وو . د خلقیانو له پاره د اندیښنې وړ شول . ځینې یې د ۱۹۷۸ ز کال د اګست په ۲۸ مه د کودتاه په تور لوړ پوړي چارواکي ونیول شول او د هغوي د اعترافونو فوتوکاپي ګانې په ورځپاڼو او بیا کتابونو کې خپاره شول .له دغو اعترافونو له مخي کارمل پخوا له دي چې له وطن څخه بهر شي ، عبدالقادر او نوروته یې د کودتاه دستور ورکړی و . او کشتمند د اعتراف له مخي دغه وخت د کودتاه له پاره شرایط برابر شوي وو . ... )) [1]م م : ۱۵۲ _ ۱۵۳

## ۱۰ . ۲ _ د پرچم پر اړخ پوري اړوند سفیرانو له خوا د سفارتونو پریښودل او شوروي اتحاد کې پناه اخستل

د اکتوبر په ۲۵ نیټه هغه وخت شوروي حکومت له خوا د کې جي - بي مرکز د اتم ریاست د لوي درستیزوال مرستیال ډګرمن اي ، وي پیتروف د یوه لوړ پوړي چارواکي په توګه پراګ ته ولیږدل شو چې له ببرک سره کار وکړي . د پیتروف خپل پخواني یا مستعار نوم وو . وورسته یي نوم بدل شو او د مارتوف په نوم یادیده . ببرک کارمل په نه ستړي کېدونکې توګه هڅه کوله چې د چکوسلواکیا له لارې پر شوروي اتحا د خپله اغیزه وښندي ، او ده د شوروي

---

_ [1] _ عبدالرشید جلیلي غمیزه څرنګه پیل شو . مخونه ۲۷ _ ۲۸

* : پوزرنوف په کابل کې د شوروي اتحاد سفیر و .

[1] _ پوهاند محمد حسن کاکړ ( ۱۳۸۹ ) د ثور کودتاه او د هغې ژوري پایلي د افغانستان کلتوري ویلي ټولنه ، دانش خپروندوي ټولنه ، کابل _ افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کميټي د نړيوالي څانګي له يو غړي سره په يوه غونډه کې وکتل او اسرار يې کاوه چې د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې د اوسنۍ وضع په پام کې نيولو سره په اړونده چارو کې دي يوه شيبه هم ځنډ را منځه ته نشي . ببرک کارمل او ملګري يې ځکه ژر تر ژره بيرته را تګ ته سترګي په لار وو او ګومان يې کاوه چې د انقلاب لاس ته راوړني له ګواښ سره مخامخ دي .

د نوامبر په مياشت کې د افغانستان راتلو نکي مشران او دافغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند د پرچم غړي مسکو ته را وستل شول ، دوه تنه له چکوسلواکيا څخه ، دري تنه له بلغاريا څخه او نور دوه تنه چې په يوګوسلاويا کې پټ شوي وو ، دوي ټولو کې ، جي ، بي غړو ته په زړه پوري مشوري ور کولې او هغوي يې پر افغانستان باندې د يرغل او مداخلي له پاره هڅول او په بدل کې به دوي د کې . جې . بي ټولي غوښتني ومني . ( [1]_ م : ۱۹۳

داسې وړانديزونه وشو چې سيد محمد ګلا بزوی دې په بې قانونه ډول کابل ته يوړل شي څو تياري او چمتوالي تر لاس لاندي ونيسي . له سيد محمد ګلا بزوي سره په دي اړه د شوروي اتحاد يو عملياتي افسر ايروشوف ، ببرک کارمل او اسد الله سروري خبري وکړي . خو سيد محمد ګلا بزوی ونه منله ځکه چې هغه ته د نورو په پرتله دروند پټي پري ايښودل کيده . ګلابزوي وويل د دي کار له پاره تر ټولو ښه او غوره سړي محمد اسلم وطنجار دي وروسته دوي د نوامبرپه ۱۲ نيټه د افغانستان سرحد ته را وستل شول . ([1] مخ : ۱۹۴

دوي په خپلو هڅو سره د کې . جې . بې غړي دومره ورخطا کړي وو چې د نوامبر په مياشت کې دغه سازمان د شوروي اتحاد دولت او ګوند مشرليونيد بريژنف ته داسې وليکل : (( د افغانستان ددولت او ګوند په مشر تابه کې له بدلونونو ( موخه د حفيظ الله امين اقتداد ته رسيدل وو ) وروسته نور

---

[1] _ واسيلي ميروخسن ، کې . جې . بې په افغانستان کې ، ژباړه ، رحمت اريا . دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور مخ : ۱۹۳

[1] _ کې . جې . بې په افغانستان کې مخ : ۱۹۴

۲ _ کې . جې . بې په افغانستان کې مخونه ګ ۱۹۴ _ ۱۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د شوروي اتحاد او سوسیالستي جمهوریتونو د ګټوپه تاوان دی . پر له پسي ګزارشونه دا ثابتوي چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت په پام کې لري چې په خپلي بهرنۍ تګلارې کې بنې لاس ته مخه واړ وي . د حفیظ الله امین استازي مخالفي مسلماني ډلې هڅه کوي چې شخړ و ته د هواري لاره ومومې ، حفیظ الله امین په خپله د امریکا د متحده ایالاتو له شاژدا فیرسره د خپلو خبرو اترو او موخو په اړه شوروي لوري ته هیڅ معلومات نه دي ور کړي .... ) ۲ م : ۱۹۵ )

د کې . جي . بې د رپوټ په خوا کې د ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر د میاشتي په اتلسمه د خلق اړخ د مرکزي کمیتې ځینو غړو لکه سید محمد ګلابزوی ، محمد اسلم وطنجار او اسدالله سروري د شوروي اتحاد کمونست ګوند مرکزي کمیتي ته په یو لیک کې د نور محمد تره کی په کړنو کلکه نیوکه کړې وه چې حفیظ الله امین ته یې د ډیر واک تر لاسه کولو زمینه برابره کړې وه . همدارنګه د ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر په ۳ مه د پرچم د ډلي مشر ببرک کارمل پریژنف ته لیکلي وو : (( ... په افغانستان کې د ګوند ټول مخکښ غړي چمتو دي چې کمونستان ، هیواد پال او ټول مترقي او ولسپاله ځواکونه سره سمبال او یو موټی کړي . د دغو موخو تر سره کول به زمونږ شوروي ملګرو د سلا او مشورو ، وړاندیزونو او دوستانه مرستو په رڼا کې تر سره شي .... ) [3] : مخ ۱۹۲

د پرچم د رهبري هئیت غړو د سفارتو له پرینښودلو وروسته د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمیتي غړي او ددي ګوند مشرلیونید بریژنف دي ته هڅول تر څو پر افغانستان باندې نظامي یرغل وکړي .

---

[3] ـ کې . جي . بې په افغانستان مخونه ۱۹۵ ـ ۱۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳.۱۰_ د هاوانا په کنفرانس کې د نور محمد تره کي او جنرال ضیاء والحق په لیدنه د بریژنیف خواشیني کیدل

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت جمهور رئیس نور محمد تره کي د ۱۳۵۸ لمریز کال د وږي په ۹ مه د ناپیلو هیوادونو په کنفرانس کې د گډون په موخه د کیوبا پلازمیني هاوانا ته د تللو پر مهال د شوروي اتحاد د مشرانو په غوښتنه په مسکو کې تم شو . د هغوي موخه دا وه چې نوموړی له دغه سفر څخه ډډه کولو ته وهڅوي ، د شوروي اتحاد مشرانو له خوا په زغرده نور محمد تره کي ته وویل شول : چې کیوبا ته لاړ نشي خو ده کیوبا ته په خپل سفر ټینگار وکړ ، وروسته د شوروي د مشرتابه له خوا ورته وویل شول چې له کیوبا څخه د راگرځیدو په وخت کې د مسکو له لاري افغانستان ته ستون شي ، چې یو ځل بیا ور سره خبري وکړي ، نور محمد تره کي د دي خبري په اوریدو سره ناارامه او په موسکا شو بیا یې هم کیوبا ته په خپل سفر ټینگار وکړ . ( [1]_م م : ۱۱۰ _ ۱۱۱ )

کله چې نور محمد تره کي د افغاني هیئت په رائس کې د ناپیلیو هیوادونو په کنفرانس کې د گډون په خاطر د کیوبا مرکز هاوانا ته ورسید د هرکلي مراسمو د پاي ته رسیدو وروسته د هاوانا په ښار کې د اوسیدو ټاکل شوي ځاي ته ولاړ ، هره ورځ یې د بهرنیو دپلوماتانو سره لیدنې درلودلې ، چې کنفرانس د کیوبا د جمهور رئیس فیدل کاسترو په رسمي وینا پیل او د هر دولت مشر به په نوبت سره خپلي بیانیي ایراد ولي ، هر چا به له بیانیي وروسته دوخت نه په استفادې په کنفرانس په حاشیه کې غیر رسمي خبرې کوم چې بل مشر سره کولې . خپل وخت څخه به

---

[1] محمد اقبال وزیري ( ۱۳۸۲ ل کال ) ، د ثور پاڅون د کی ، جي ، بي د سیسي او شوروي یرغل ، پښتونخوا ادبي دیره ، چاپ دانش خپرندویه ټولنه . مخونه : ۱۱۰ او ۱۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د نورو دولتونو له مشرانو سره غير رسمي ليدنې له پاره ګټه اخسته . ( 2_ م : ۲۸ )

د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د جمهور رئيس او د افغانستان دخلق ديموکراتيک ګوند عمومي منشي نور محمد تره کي د نورو هيوادونو له مشرانو سره خپلو ليدنو ته ادامه ورکړه ، د نور محمد تره کي تر ټولو مهمه ليدنه چې د افغانستان له سرنوشت سره يې مستقيمه اړيکه درلوده ، د پاکستان د اسلامي جمهوريت له جمهور رئيس جنرال ضياوالحق سره ليدنه وه ، دوي موافقي ته د رسيدو په موخه څو ځلي ليدنه وکړه ، د دې ليدنو په جريان کې يو ځل جنرال ضياء والحق د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت جمهور رئيس نور محمد تره کي د اوسيدو ځاي ته راغی ، د بيرته تګ پر مهال کله چې له ودانۍ څخه بهر را ووتل د ښاغلي نور محمد تره کي ځانګړې احترام يې وکړ او ويې ويل : (( تاسي زمونږ مشر او بزرګوار ياست بايد له ما څخه مخکې حرکت وکړئ . )) ( 1_ م : ۲۸ )

ضياء والحق له نور محمد تره کي وروسته حرکت کاوه ، کله چې داوسيدو ځای څخه ووتل په هيجان سره جنرال ضياء والحق نور محمد تره کي ته غېږ ورکړه او له ژورناليستانو څخه يې غوښتنه وکړه چې د دوی انځور واخلي او ټوله صحنه فلمبرداري کړي . (2م : ۲۸ )

د څو ځلي ليدنو وروسته په لاندي څلورو موضوعاتو باندي موافقه وشوه :

۱ _ د افغانستان او پاکستان دولتونه موافقه کوي چې په خپله خاوره کې د دواړو دولتونو مخالفو قوتونو ته د فعاليت اجازه ور نکړي او موافقه کېږي چې د افغانستان د دولت مخالفين د پاکستان په خاوره کې د دولت له خوا د جدي مراقبت او څارنې لاندي ونيول شي . او نور مها جرين به د عمومي عفوي

---

[2] : نهضت الله ، نظيف الله ( ۱۳۳ هـ ش _ ۲۰۰۴ ز اپريل ) حقايق پشته پرده ، اشوب چاپ دوم ، بنګاه انتشارات ميوند سبا مخ : ۲۸

([1]) نظيف الله نهضت د نور محمد تره کي پر مهال په کېوبا کې د افغانستان سفيرو . چې هاوانا ته د نور محمد تره کی سفر يې له نږدي څارلي او د سترګو ليدي جريان يې ليکلي دي .

([2]) نظيف الله ، نهضت . اثوب بيګانه نګان مخ : ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اساس دوباره افغانستان ته راځي او هغوی ته به د ټاکل شوي نصاب سره سم کرنیزه ځمکه توزیع کېږي.

۲ ـ افغانستان به د پاکستان د سوداګریزو مالونو له پاره د حیرتانو د بندر او د پاکستان دولت به د کراچۍ د بندر له لاري د افغانستان د سوداګریزو مالونو له پاره لازمي آسانتیاوې برابروي.

۳ ـ د افغانستان دولت د پنځو کلونو لپاره به د پښتونستان د مسالي په اړه د پاکستان د دولت پرضد تبلیغاتو ته د پای ټکي ږدي. په مقابل کې دپاکستان لوری به د افغاني دولت پرضد خپل هر ډول تبلیغات بند وي.

۴ ـ د دې موافقې د نهایي کولو په خاطر د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اغاشاهي به کابل ته سفر وکړي تر څو د دوستۍ او مرستو تړون لاس لیک کړي. ( [1] ـ م : ۷۹ )

دلته دوه ټکو ته پام ډیر اړین دی یو دا چې د دې تړون په لاس لیک او عملي کېدو کې د افغانستان ستونزي حل کېدلي او د اقتصادي پرمختګ له پاره لاره هواریدله. شوروي اتحاد د دې موافقي خبریدو سره سم سخت اندیښمن او وارخطا شو. ځکه له نوموړي موافقي وروسته په شوروي اتحاد باندې د افغانستان اقتصادي اتکا کمیده او په راتلونکي کې یې خلاصون مونده. خو د یو مستقل هیواد په توګه د افغانستان پرمختګ او د افغانۍ حاکمیت پیاوړتیا د شوروي اتحاد له پاره د تحمل وړ نه وه. له همدې کبله د شوروي اتحاد د وخت واکمن لیونید بریژنیف د نور محمد تره کي د حاکمیت د له منځه وړلو له پاره په یولړ تو طیو لاس پورې کړ.

دویم ټکي چې له دې موافقي څخه معلومیږي هغه دا دي چې د پاکستان جمهور رئیس جنرال ضیاء والحق د خپل هیواد د سیاسي او قتصادي ګټو په اړه فکر کاوه. خو زمونږ اسلامي تنظیمونو د خپلي پاکې عقیدي په وجه هغه ته هم د یو کلک مسلمان په توګه احترام درلوده. او هغه یې د افغانانو جهاد ته ډیر وفادار او ریښتنی خدمتګار ګاڼه، خو اوس (۱۳۹۳ ل) واقیعیتونو او

---

([1]) نظیف الله ، نهضت اثوب بیګانه نګان مخ : ۷۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيښو له‌را منځ ته کېدو څخه معلومېږي چې د پاکستان اسلامي جمهوريت مشران تر هر څه زيات د پاکستان ګټو ته ډير ژمن‌وو او دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴.۱۰_ په مسکو کې د نور محمد تره کی او ببرک کارمل په لیدنه باندې د حفیظ الله امین اندېښنه

د هاوانا په کنفرانس کې د نور محمد تره کی د پام وړ کار د پاکستان له مشر جنرال ضیا والحق سره د افغانستان او پاکستان د ستونزو په اړه خبري کول و، دویم کار د هاوانا څخه د راستیندو وروسته په مسکو کې د شوروي اتحاد له مشر لیونید بریژنیف سره لیدنه وه . چې له افغانستان څخه کې ، جې ، بې لیونیربریژنیف ته یو اوږد یادښت سپارلی و. په دې یادښت کې یې داسې لیکلي وو : (( د افغانستان حکومت په خلکو کې واک له لاسه ور کوي ، او افغانان مخ په زیاتیدونکي ډول د شوروي پر ضد کېږي ، شوروي مشاورین ، په هره سطحه کې تره کی او امین ته مشوري ور کوي، چې د خپل حکومت بنسټ پراخه کړي ، خو هغوی یې له پامه غورزوي او په بدل کې دوی د کورنیو مسالو د حل لپاره په پوځي زور ډډه لګوي . د دغې سیاست لوی تنظموونکې امین دی . مسکو باید یو لار پیدا کړي چې امین د هیواد له مشری نه ګوښه کړل شي اوتره کی باید وهڅول شي چې یو دیموکراتیک ائتلافي حکومت جوړ کړي . د رهبري دنده دې د پرچمیانو په ګډون د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند کې تامین کړي او په حکومت کې وطنپالو روحاینونو ، قومونو ، ملي لږکېو او د روڼ اندو استازو ته ونډه ور کړل شي . )) ( [1]_م م : ۳۴۱ _ ۳۴۲ )

پورته نظر او راپور په څرګند ډول په واک کې د پرچمیانو شریکول او د امین سره مخالفت و. بل هدف دا و چې بریژنیف او د هغه ملګري په مسکو کې له نور محمد تره کی سره ووینې تر څو یو ډول موافقې ته ورسیږي . د همدې موخې لپاره په هاوانا کې نور محمد تره کی ته وویل چې له هاوانا څخه مسکو ته لاړ شي او له بریژنیف سره وګوري تر څو د کابل څخه د کې ، جې ، بې راپور د شوروي د عالي کمیسون چې د افغانستان له پاره د هرات د پاڅون څخه

---

[1] : کاکړ ، محمد حسن . ( ۱۳۸۹ ل ) د ثور کودتاه او د هغې ژوري پایلي ، د افغانستان کلتور ټولنه ، دانش مطبعه مخونه : ( ۳۴۱ _ ۳۴۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د اندروپوف استینوف او اندروګرومیکو په ګډون جوړ شو دي دغه راپور قبول اوغور پري وشي.(١_ م :٣۴٢ )

د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت جمهور رئيس نورمحمد تره کی د هاوانا څخه د افغانی هيئت سره يو ځاي د راستيندو پر مهال دوه ورځي د ١٩٧٩ ز کال د سپمتبر په ٩ مه او ١٠ مه نيټه په مسکو کې تم شو . ، د سپتمبر په ١٠ مه نور محمد تره کی يواځي له بريژنيف سره وليدل په دغه ليدنه کې بل افغان له ده سره نه و . بريژنيف نور محمد تره کی مخاطب کړ او ورته يې وويل : (( د نورو په لاسونو کې له حد نه ډير د قدرت تمرکز که ستا ډير نږدي ملګري هم وي د انقلاب له پاره خطرناک کيداي شي دا به له مصلحت څخه ډيره ليري وي چې په مشرتابه کې دي يو څوک په وسله والودولتي امنيتي ځواکونو او دولتي امنيتي څانګو کې د ممتاز قدرت خاوند وي . (2_ م: ٣۴٢ )

بريژنيف له پورته څرګندونو وروسته دري اړخيزو کتني ( بريژنيف ، نور محمد تره کی ، ببرک کارمل تر مينځ ) زمينه برابره کړه ، بريژنيف نور محمد تره کی ته وويل : (( زمونږ استخباراتو ما ته داډ را کړی چې کابل ته ستا له رسيدو څخه مخکې به حفيظ الله امين ووژل شي . نو زما وړانديز دا دي چې همدا اوس له ببرک کارمل سره د يو حکومت په جوړولو موافقې ته ورسيږې . او کارمل بايد د حفيظ الله امين ځای ناستی شي ، ځکه کارمل زمونږ دوست او دباور وړ متحد دی . )) (1_ م: ٧٠ )

نور محمد تره کی د بريژنيف له څرګندونو وروسته د شوروي اتحاد تصميم باندي پوره يقيني شو چې هغوی حفيظ الله امين له مينځه وړي او دا څرګندونی د دي لپاره وي چې امين په فزيکې ډول له منځه وباسي .

د اندروپوف په نوښت ببرک کارمل او نور محمد تره کی دوه په دوه سره وليدل . او نورو شوروي مشرانو سره هم د نور محمد تره کی يوازي ليدنه دا څرګندوي چې د دوی تر منځ يو څه خبري وې . ځکه لږ تر لږه خو دي ډاکتر شاه

---

١: محمد حسن ، کاکړ . د ثور د کودتاه پايلي ، مخ ٣۴٢

2 : محمد حسن ، کاکړ د ثور د کودتاه پايلي ، مخ : ٣۴٣

1اثوب بيګانه ګان نظيف الله نهضت . مخ : ٧٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي د باندنيو چارو د وزير په توګه پکې ګډون کړي وايې. او يا نور محمد تره کی خپل ملګري خبر کړي واي، نور محمد تره کی حاضر شو چې خپل صدراعظم او نږدي ملګري له څوکۍ لرې او مړ يې کړي دې کا رکې سروري هم اغيزه درلوده څکه د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر په ۷ مه نيټه هغه مهال چې نور محمد تره کی په هاوانا کې و په تليفون کې ورته وويل: « امين پلان لري چې مونږ بنديان کړي يا مو تول ووژني د دې لپاره چې ستا ترستيندو د مخه يې حکومت په لاس کې نيولي وي.» ([1]_ م: ۲۴۴)

نور محمد تره کی کابل ته د رسيدو سره سم په هماغه ورځ (د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر په ۱۱ مه) د انقلابي شورا غونډه را وغوښته، په هاوانا او مسکو کې يې د خپلو خبرو راپورونه وړاندې کړل، خو اصلي موضوع يې پټه کړه په همدغه ورځ دشوروي سفير پوزانوف سره يې هم وليدل، سروري يې هم خپل د بار ته را وغوښت او حفيظ الله امين يې هم د تيلفون له لارې را وغوښت خو حفيظ الله امين ور څخه وغوښتل چې سروري او ملګري* يې له دندو څخه ګوښه کړي، امين د هيواد د وضيعت راپور هم وړاندې کړ او دا يې هم ورته وويل چې په اوس اوس د ده د وژلو قصد شوی چې محرکان يې اسدالله سروري او د هغه ملګري دي. ([2]_ م: ۳۴۵)

د هاوانا په کنفرانس کې د پاکستان له جمهور رئيس جنرال ضياء والحق سره د نور محمد تره کی ليدنی او د هغې موافقي له تطبيق څخه پاتې شوې څکه کې، چې، بې د دې پرځای چې د افغانستان د سولي او امنيت د ټينګښت سره مرسته او د نور محمد تره کی ملاتړ وکړي، هغه ته يې په خپل پلان کې نور نوي جنجالونه وړپيښ کړل د نور محمدتره کی او حفيظ الله امين تر مينځ اختلاف نور محمد تره کی په وژنه پاي ته ورسيده او افغانستان يې د نورو سياسي بحرانونو سره مخ کړ، د پاکستان او افغانستان تر منځ موافقه پر ځای پاتي شوه او شوروي اتحاد نور په دې لټه کې و چې نيغ په نيغه پر

[1]: کاکړ محمد حسن د ثور د کودتاه او د هغې پايلي مخ: ۲۴۴

*: ملګري يې ګلاب زوي، سروري او شير جان مزدويارو. خپرونکې

[2]: کاکړ محمد د ثور د کودتاه او دهغې پايلي مخ: ۳۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان بربنډ نظامي يرغل وکړي او ببرک کارمل واک ته ورسوي په مسکو کې د نور محمد تره کی او ببرک کارمل په ليدنه باندي د حفيظ الله امين انديښنه پرځای وه او هغه ترډيري اندازي د شوروي اتحا په سياسي لرليد او د ده په اړه د هغوی په نظر باندي پوهيده . ځکه د ببرک کارمل واک ته رسول د حفيظ الله امين د له مينځه وړلو پرته امکان نه درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰,۵ ـ د نور محمد تره کی او حفیظ الله امین تر منځ مخالفت لاملونه

د هرات د پاځون ناکامولو حفیظ الله امین ډیر مغروره کړ ، د انقلاب په بریالیتوب او ساتنه کې ځانته تر نورو په ډیر امتیاز قایل و ، او ځان یې ستالین مزاجه شخص باله . خو اسلم وطنجار ، اسدالله سروري ، سید محمد ګلاب زوي او شیر جان مزدوریار د امین پر وړاندې مخالفت پیل کړ . دوي نور محمد تره کی هڅاوه چې د حفیظ الله امین په خلاف حرکت پیل کړي . خو نور محمد تره کی نه یوازي د امین سره مخالفت نه کاوه هغه ته یې د پرمختګ ، کار او فعالیت زمینه برابر وله په مقابل کې حفیظ الله امین هم نور محمد تره کی په ټولو غونډو کې د استاد او ځان یې د وفادار شاګرد په نوم یادوه مګر حفیظ الله امین واک ته رسیدو لپاره هلي ځلي کولي . ډاکتر شاه ولي ، د اسد الله د خور زوي عبدالقدیر چې اکسا (دولتي اشخیاراتو) کې لوی مقام در لود او د تره کی نظامي سریاور و . او سید داود تړون ته یې دنده وسپارله چې د نور محمد تره کی او عبدالعزیز د کتنو او فعالیتونو په اړه ده ته منظم را پور ور کړي . په همدې وخت کې حفیظ الله امین د دفاع وزیر شو چې د مرکزي کمېټي ډیر غړي د تره کی په دې کار خفه شول چې تیروتنه یې وکړه حتی د شوروي اتحاد سفیر پوزانف هم په دې کار خفه شو . خو نور محمد تره کی استدلال کاو چې زه په حفیظ الله امین باور لرم هغه زما زوی دی . سید محمد ګلاب زوي او محمد اسلم وطنجار د امین له لاسه نور محمد تره کی ته د وژنی خبر هم ور کړل شوی . خو هغه نه منله . حفیظ الله امین ډیر ژر په وزارت دفاع کې د نور محمد تره کی طرفدارانو پر ځای خپل ملګري مقرر کړل . په دې ترتیب خلقي جناح دوه ځایه شوه چې د تره کی طرفدارانو د ترکیزم او د امین پلویان د امنیانو په نامه یاد شول . نور محمد تره کی وروسته پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې امین د ده د له مینځه وړلو پروګرام طرحه کړی دی . ( [1] _ م : ۳۰۷ عطایي )

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی استاد پوهندوي فضل ولي ناګار د دې اختلاف په اړه داسې نظر لري : (( دوي ټول چپ او راست قوتونه وټکول ،زیات خلک یې مهاجرت ته اړ ایستل ، امین الله لویدیځ خوا ته تمایل او میلان پیدا کړ بل پلوته شورویانو غوښتل چې د ادواړه پښتانه یو د بل په وسیله له مینځه یوسي تر څو ببرک کارمل ته چې د اقلیت نماینده دی او سور استعمار غوښتل چې د اقلیتونو په ملاتړ خپل حاکمیت تامین کړي . ( [1] مخ مرکه )

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پوهنوال شاه ولي خان د عطایي صاحب سره هم نظر دی وایي : د ثور د اوومي نیټي څخه تقریباً د دوو رهبرانو څرک تر سترګو کیده . او حفیظ الله امین ځانګړي مقام درلود ، امین د ځان غوښتني پر بنا غوښتل د ګوند رهبري په لاس کې واخلي . کله چې نور محمد تره کی، باندي د پرچم د اړخ په واک کې شریکول تحمیل شول دي موضوع د اواښن نور هم زیات کړ ځکه نور محمد تره کی، د ببرک کارمل راتګ ما نه وي ، حفیظ الله امین ته دا کار د منلو وړ نه و . د دي اختلاف په زیاتیدو کې د شوروي اتحاد کې ، چې ، بې هم مداخله کوله . بالاخره د وسله وال برخورد په پایله کې سید داود تړون ووژل شو او امین وتوانیده چې نور محمد تره کی، ووژني . خو د خلق او پرچم تر منځ هیڅکله یو واقعي وحدت تامین نشو . ( [2] )

پوهاند محمد بشیر دودیال د یادي موضوع په اړه داسې نظر لري : (( کله چې تره کی، د هاوانا غونډي ته ولاړ او له هغه ځایه بیرته راستون شو د

---

[1] محمد ابراهیم ، عطایي د افغانستان په معاصر تاریخ لنډه کتنه . مخ ک ۳۰۷

[1] پوهندوي ، فضل ولي ناګار د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګي استاد

[2] _پوهنوال شاه ولي خان دننګرهار پوهنتون د ژوبو اوادبیاتو د پښتوڅانګي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

حفیظ الله امین د قدرت غوښتني عنصر لوړ حد ته رسیدلی و . دا وخت د ګوند وضعیت داسې و ، چې د دوو جناحو تر منځ د رزمخ په زیاتیدو وه . حال دا چې له دې څخه یو کال مخکې ببرک او تره کی د متحد ګوند لپاره یو بل ته لاس ور کړی و . او دواړه جناح یو شوي وي او تره کی نه غوښتل چې دواړه جناحی سره متفرق شي . حفیظ الله امین دغه تصور درک کړ نو ځکه د قدرت افراطي لیوال ( امین ) بو ډا رهبر ( تره کی ) ته یوه داسې لار جوړه کړه چې په آسانه یې هغه نه قدرت ( د انقلابي شودا له ریاست او وسله والو پوځ اعلی قوماندانی ) د ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي توب او جمهوري ریاست څخه لرې او په خپله واک ته ورسید او ډیر ژر یې هغه له منځه یوړ . . . ) ( [1] م : مرکه )

حفیظ الله امین او نور محمد تره کی د ببرک کارمل له لیرې کولو وروسته د واک پرسر د یو بل سره مخالفت پیل کړ د صدارت په څوکی د حفیظ الله امین مقرري د دفاع وزارت سرپرستي له هغه څخه د افسرانو ملا تړ نور محمد تره کی نګران کړی و . کله چې نور محمد تره کی د هاوانا څخه راتللو پر مهال مسکوکې تم شو بریژنیف سره لیدنه کې د شوروي اتحاد مشر نور محمد تره کی ته د پرچمیانو په مقابل کې د حفیظ الله امین د تندروي په اړه وویل چې دغه حاکم رژیم چې شوروي اتحاد هغه امید ته چې یې کم تر کمه نیمه پیړي انتظار ایستلي زیان رسوي . ځکه حفیظ الله امین نظر تره کی ته د کنترول وړ نه وه په دې خاطر شورویانو د تره کی ملاتړ وکړ مګر دغه ملا تړ د نور محمد تره کی په مړینه تمام شو . ([2]_ م : ۱۹۳)

نور محمد تره کی د روسانو د غوښتني سره سم د هاوانا له سفر وروسته په مسکو کې د بریژنیف او ګرو میکو سره وکتل ، هغوی دستور ور کړ چې کابل

---

[1] پوهاند محمد بشیر ډودیال د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد مرکه

[2] سرمحقق شاه محمود مهین ورد(  ) روابط سیاسي و دیپلوماتیک افغانستان و روسیه سالهای ( ۱۱۰۸ هـ ۱۳۸۱ هـ ش ) اکاډمي علوم ، معاونیت بخش علوم بشری مرکز علوم اجتماعیی ، انیتون تاړنح واتنوګرافي مخ : ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته له رسیدو سره سم حفیظ الله امین قتل کړي او خپل سفیر پوزانوف ته یې هم دستور ور کړ چې په دي برخه کې له تره کی سره مرسته وکړي . مګر حفیظ الله امین د مسکو له پریکړې او د تره کی له ماموریت څخه د خپل ملګري سید داود تړون پواسطه چې له نور محمد تره کی سره ملګري و خبر شو او د دي توطې له پاره یې ځان اماده کړ . د ۱۹۷۹ ز کال د سپمتبر په ۱۴مه د ۱۳۵۸ ل کال د سنبلي په ۲۳ مه تره کی حفیظ الله امین خپل دفتر ته وغوښت تر څو دا ستونز د شوروي سفیر په موجودیت کې سره حل کړي خو هغه له را تللو انکار وکړ ، وروسته دوی سید داود تړون (پوزانوف او تره کی) حفیظ الله ته ور واستوه تړون حفیظ الله امین ته ډاډ ور کړ چې د حملی په وخت کې به له ده څخه دفاع کوي . حفیظ الله امین د تړون له ډاډ وروسته د خلکو کور ته لاړ خو د نور محمد تره کی د دفتر سالون ته د رسیدو سره سم په دوي ډزي وشوي. یوه مرمی د ده په ښي اوږه ولګیده ده ځان موټر ته ورساوه خو د ده محافظین سید داود تړون ، د اکسا معاون تواب او د امین یاور خیر محمد ووژل شول ، امین د صدارت مانۍ ته ځان ورساوه او دستور یې ور کړ چې جمهوري ریاست کلا بند کړي او د ښار امنیت ونیسي . د ۱۳۵۸ ل کال د سنبلي په ۲۵ مه نیټه د سهار ۹ بجي د مرکزي کمیټي غونډه د ډاکتر شاه ولي په مشری دایره او تره کی یې له دولتي او ګوندي څوکیو څخه لیرې کړ .([1] _ م م : ۴۵ لومړي جلد)

---

[1] داکتر نصري حق شناسي (۱۳۵۸ ل) ، تحولات سیاسي جهاد افغانستان ، مطبه نعماني ، بره کی شهرارا ، مارکیت تجاراتي ګلزاده کابل افغانستان . مخونه : ۴۵ _ ۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ . ۲_ د هرات پیښنه :

په هرات کې د سواد زده کړې کورسونه په تیره بیا د ښځو لپاره په جبیري ډول د هغه ځای د ولایتي او ولسوالیو د مسولینو له خوا دایریدل او د ځمکو داصلاحاتو په تطبیق کې هم تیروتني وشوي بل پلو ته د هرات والي نهضت الله د ۱۷ مې فرقې قوماندان سید مکرم هم د حوصلې او تدبیر څخه کا وانخست ، ایران هڅه کوله چې د خلک مخالفت ته وهڅوي او وسلې ورکولې خو والي له شدت څخه کار واخیست د خلکو شکایت ته یې پام ونکړ . عبدالباقي مجددي یې او د کرخ د حضرت سید معظم کورنیو ۲۰ کسان یې ونیول په مقابل کې دهرات ښار د جامع مسجد خطیب مولوي عبدالعزیز ، پوهني مدیر قاري ابوبکراو سید اسحق د لجو خلک پاڅون ته دعوت کړل . صبغت الله مجددي هم د هرات خلک تشویق کړل . یودم په ښار او اطرافو کې شدید قیام پیل شو . په لومړیو ورځو کې یو شمیر شوروي مشاورین او افغاني افسران ووژل شول ، د دولت له خوا هم قوي حمله وشوه له ځمکښنو او هوایي قواو څخه یې ګټه واخیسته بیا هم نږدې وو چې پاڅون کوونکي ټول هرات ونیسي . خو حفیظ الله امین له کندهار څخه یوه غټه قوه هرات ته واستوله او د وسایطو په سر یې شنه او سپین بیرغونه ځړولي و . مخالفینو داسې فکر کاوه چې قندهار هم قیام کړي دي . کله چې دغه قوتونه ښار ته ننوتل په شدت سره یې قیام کوونکې وځپل دا شورش د ۱۹۷۹ ز کال په مارچ کې پای ته ورسید قیام په سر کې جکتورن محمد اسمعیل ، جکتورن علاوالدین ، جکتورن نور محمد ، ډګرمن محمد انور نصرتی ، جګړن عبدالعزیز او جګړن غلام رسول بلوڅ ولاړ و و . وروسته کابل کې هم د چند اول ، بالاحصار او ریشخوو پیښې را منځ ته شوي . ([1] _ م: ۳۰۲ عطایي)

---

[1] محمد ابراهیم ، عطایي د افغانستان معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ ۳۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰,۷_ د امریکا د سفیر وژنه

De Bs ادولف دبز د ۱۹۷۹ ز کال د فبروري په ۱۴ مه سهار د کابل په شهرنو کې له خپله کوره څخه را ووت . سفارت ته روان و چې د عامي روغتیا ځلور لاري ته څیرمه کله چې موټر یې د تره باز خان له ځلور لارې را تیر شو غوښتل یې هغه سړک ته ور برابر شي چې د ایران د سفارت مخې ته تیر شوی و ، دلته درې کسه تروررستان د ترافیکو په جامو کې ورته و درېدل لاس یې ور کړ کله چې موټر ودرید دوی په چټکۍ موټر ته وختل ، ډریور او سفیر یې دواړه تهدید کړل او موټر یې کابل هوټل* ته روان کړ ، هلته یې سفیر له موټر څخه ښکته او د هوټل د دوهم منزل په یوه کوټه کې واچوه . په همدغه وخت کې د لویدیځو هیوادونو سفیران را غلل او غوښتل یې چې د اختطاف کوونکو سره خبرې وکړي خو پولیسو اجازه ور نکړه ، په دغه وخت کې سفیر په کوټه کې تړلی پروت و . له باندې خوا پر دغه کوټه فیرونه وشول په نتیجه کې تروررستانو سفیر مړ کړ . پولیس چې ماهر نښان زن وو تروررستان یې هم مړه کړل . د کابل پولیسو په څیړنو کې وویل چې تروررستیانو د ستمیانو د مشر بحرالدین باحث خوشي کول غوښتل د دوی په غوښتنه لا غور روان و . چې سفیر یې وواژه ، خو د امریکا د پولیسو لوی دفتر ( ایف ، بی ، اي) خپل قوي نماینده ګان را ولیږل هغوی په تحقیقاتو کې دا څرګنده کړه چې دغه قتل د شوروي د جاسوسي دفتر ( کې ، جي ، بي ) له خوا سرته رسیدلی دی .[1]

---

* دغه هوټل اوس د کابل سرینا هوټل په نوم یادیږي ، چې د حامد کرزي په واکمنۍ دغه هوټل شخصي شو .

[1]_ محمد ابراهیم ، عطایي ، د افغانستان په معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ : ۳۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰. ۸ـ د نور محمد تره کی وژنه
## ۱۳۵۸ ل کال د میزان ۱۷ مه
## ۱۹۷۹ ز کال اکتوبر ۹ مه

د خلقي دولت د ترکیب اړول او پرچمیانو ته یکي ځای ورکول له حفیظ الله امین څخه پرته د بل چا په وس کې نه وه . خو حفیظ الله امین دا کار نه کاوه ، د نور محمد تره کی په وس کې دا هم نه وه چې حفیظ الله امین له صدراعظمی څخه گوښه او د بهر ته یې د سفیر په توگه واستوي بل دا چې په دي اړه د نور محمد تره کی سره د حفیظ الله امین لیري کیدو له پاره کوم دلیل هم موجود نه و، چې خپل لوړ پوړي خلقیان پري قانع کړي خو شوروي اتحاد مشران په دي فکر ټینگ وو چې د دوی د پام وړ پلویان باید په حکومت کې برخه ولري . : دا کار باید په یو ډول سره وشي ، شوروي مشرانو د دې لپاره خپلې هڅې پیل کړي ، او دي کار لپاره په ظاهر کې خلقیان په تیره د اسد الله سروري ډله غوره شوه خو دا یوه عجیبه پیښه وه چې د کابل ښار ډیر ژر د خلقیانو د وژنې ډگر شو .([1]ـ م : ۳۴۵ )

د شوروي اتحاد د څارگري اداري (کې ، جې ، بې) او په خپله بریژنیف په دې باره کې نور محمد تره کی ته ډاډ ورکړ او په لیدنه کې ورته وویل چې د ده له رسیدو څخه مخکې به حفیظ الله ووژل شي ځکه اسدالله سروري د حفیظ الله امین د وژلو پلان لا هاوانا ته د نور محمد تره کی له تللو څخه دمخه طرحه کړي و ، پلان داسي و چې هغه وخت به امین د ماشین گڼو پواسطه له مینځه وړل کیږي . چې کله نوموړی د نور محمد تره کی د هر کلي له پاره هوایي ډگر ته روان شي ، د دي امر د تطبیق دنده اسدالله سروري دخپلې خور زوي عزیز اکبري ته چې د اگسا مرستیال و، سپارلي وه . ( سروري ) لس تنه د دي کار له پاره تربیه کړي وو پرته له دي چې هغوی د پلان په مقصد پوه شي . خو عزیز اکبري هم د شوروي مشاورین او هم حفیظ الله امین په پلان خبر کړل . شوروي مشاورینو او امین په گډه د لوي درستیز

---

[1] کاکړ ، محمد حسن د ثور کودتاه او د هغي ژوري پایلي مخ : ۳۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد یعقوب سره د هغه په دفتر کې د پورته پلان د ناکامولو له پاره بل پلان جوړ کړ په نتیجه کې امین هوایي ډګر ته روغ رمټ ورسید پوښتنه دا ده چې په افغانستان کې شوروي مشاورینو ولي د خپل مرکز په خلاف د امین د له منیځه وړلو د پلان په شنډولو کې برخه واخیسته ، یا خو دوی د مرکز له پریکړو ځخه ناخبره وو یا دوي ډاډه وو چې اندروپوف او بریژنیف د وینا مطابق د نور محمد تره کی د رسیدو سره سم به امین له واک ځخه لیري شوی وي . (7_ م : ۳۴۵)

کله چې حفیظ الله امین ځان په خطر کې ولیده د وفادار شاګرد او ستر لاربنود تر مینځ بی باوري پیدا شوه ، پرچمیان په کابل کې فعال شول او اصولی خلقیانو سره یې د وحدت خبري کولي . خو کابل ته له هاوانا ځخه دنور محمد تره کی له را رسیدو وروسته تره کی د ارګ د ګلخانی په ماڼي او حفیظ الله امین د دلکشاه په ماڼی کې اوسیدل .۱۳۵۸ ل کال د وږي له ۲۰ می ځخه تر ۲۵ می د ۱۹۷۹ ز کال د سپټمبر د ۱۱ می د سپتمبر تر ۱۲ مه پورې ډیری ستري او مهمي پیښي را منځته شوي . په دې ورځو کې نور محمد تره کی بي واکه او یو شمیر خلقیان ووژل شول ، نور محمد تره کی مړینه هم ۱۳۵۸ ل کال د میزان په ۱۷ مه د. ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر په ۹ مه پنجشنبی ورځ اعلان شو او حفیظ الله ټول واک تر لاسه کړ . دا پیښي په ډیرو کتابونو کې په مختلفو بڼو بیان شوی . خو دلته هڅه شوې ده چې د پیښو جریان په اصلي بڼه ذکر او واقعیتونه روښانه شي . د پیښي جریان په دې ډول و (8_ م : ۳۴۷) کاکړ

۱۳۵۸ ل کال د سنبلی ۲۰ مه د ۱۹۷۹ ز کال د سپټمبر په ۱۱ مه نور محمد تره کی کابل ته له رسیدو سره سم د انقلابي شورا غونډه جوړه کړه . دهاوانا او مسکو د خبرو په اړه یې معلومات ورکړل خو د بریژنیف سره یې د پټو خبرو په اړه څه ونه ویل په همدي ورځ نور محمد تره کی له پوزانوف سره هم ولیدل . د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر په ۱۲ مه سهار مهال نور محمد

---

7_ کاکړ د ثور کودتاه مخ : ۳۴۵

8_ کاکړ د ثور کودتاه مخ : ۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

تره کی، اسدالله سروري خپل حضور ته وغوښت او حفیظ الله امین یې هم را وغوښت خو حفیظ الله امین هم ور څخه غوښتنه وکړه چې اسد الله سروري باید دده سره په خواکي نه وي . خو تره کی، کوښښ کاوه چې امین سروري او د هغو ملګرو ښښنه وکړي او موضوع ختمه وګڼي . د ۱۹۷۹ ز کال د سپټمبر ۱۳ مه ۱۳۵۸ ل کال د سنبلی په ۲۲ مه سهار اسدالله سروري خپلو دریو ملګرو سره د تره کی، دفتر ته کلا شنکوفونو ه په لاس راغي ، خو حفیظ الله امین د ترون پو اسطه خبریږي او د ګارد د قوماندان جانداد او د پوځ لوي درستیز محمد یعقوب ته یې قومانده ورکړه چې د تره کی، د امر له منلو څخه ډډه وکړي . دواړو خواو ( نور محمد تره کی، او حفیظ الله امین ) کوښښ کاوه چې په دي مقابله کې د شوروي د مشرانو ملاتړ تر لاسه کړي . په همدي ورځ اندروپوف ته په یو تلګرام کې له کابل څخه خبر ورکړ شو تره کی، کوښښ کوي چې حفیظ الله امین وهڅوي د هغه استوګنځي ته ورشي او څرګنده یې کړه چې د هغه ټولي غوښتني باید ومنل شي خو تره کی، دا ادعا نه منله دا یوه دسیسه یې وګڼله . ([1] _ م : ۳۴۹ کاکړ )

( ۱۹۷۹ ز کال د سپټمبر ۱۳ مه ) ماښام اسدالله سروري ، سید محمد ګلاب زوی ، محمد اسلم وطنجار او شیر جان دوریار د شوروي اتحاد سفارت ته ولاړل هلته د تره کی، له خوا اسدالله سروري وغوښتل چې یوه ډله شوروي ملګري د امین په نیولو کې له دوی سره مرسته وکړي ، محمد اسلم وطنجار عسکرو ته قومانده ورکړه چې د تره کی، ژوند په خطر کې دی ، د امین پر ضد یې حرکت ته رابولي خو هیڅوک له ځایه ونه خوځیده مګر صاحب جان صحرایي هاند او کوښښ وکړ ، تره کی، او امین یې د تره کی، په استوګنځي کې سره پخلا کړل ، نور محمد تره کی، هغو څلورو تنو ته چې د شوروي په سفارت کې وو تیلفون وکړ او ورته یې وویل چې بچو خپلو کورونو ته راشئ امین دا اوس زما په کور کې ناست دی . مونږ سره پخلا یو ، بیا یې تیلفون

[1] محمدحسن ، کاکړ د ثور کودتاه او د هغي پایلي مخ : ۳۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین ته ور کړ هغه هم محمد اسلم وطنجار سره خبري وکړې او دا پخلاینه تائید وي( [1] ـم: ۳۴۹ )

اسد الله سروري ګلاب زوی ، وطنجار او شیر جان مزدوریار هم دا پخلاینه ومنله ، د شپې په دولسو بجو په مکرویانو کې خپلو کورونو ته ولاړل . خو کله چې سبا سروري او ملګري یې له دې خبر شول چې دوی د سفیرانو په توګه مقرر شوي . بیرته وتښتیدل (۱۳۵۸ ل کال د سنبلې په ۲۳ مه ) د ۱۹۷۹ ز کال د سپټمبر په ۱۴ مه یې د کې ، جې ، بې د یو چارواکې کور کې پناه واخستله . په همدغه نیټه د امین پلوي او اکسا مرستیال نوري هم ترور شو خو اسد الله سروري په ټیلفون کې تره کی ته وویل : چې امین د ده پرضد توطیه کوي ، دوي حاضر دي چې د ده د ساتنې له پاره واسله وال راشي خو تره کی دغه وړاندیز قبول نه کړ . یو ورځ مخکې د شوروي سفیر ورته ویلي وه که چیري مونږ دامین په نیولو کې مرسته وکړو دا د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله ده خو افسوس شوروي ته دا مداخله ښکاریده خو بل پلو ته وزیرانو ته یې د صدراعظم پرضد پناه ور کوله ، جمهور رئیس یې د صدراعظم پرضد هڅوه ترڅو د دوي تر منځ اختلاف زیات او خپل اعتباري کسان پرچمان په حکومت کې ځای پر ځای کړي خو بر خلاف د بریژنیف د پیغام په بهانه یې غوښتل چې امین ګلخانې ماڼۍ ته وغواړي او هلته یې د روسي کوماندو عسکرو له خوا چې د شوروي د ځانګړي استازي جنرال ایوانوف د ساتونکو په نوم په ځانګړي موټر کې د هغه سره راغلي وو ونیسي . د تره کی ساتونکو (قاسم او ببرک ته دنده سپارل شوي وه چې د تره کی دفتر ته راننوتلو پر مهال امین ووژني . ([2]م : ۳۵۱ _ ۳۵۳ کاکړ)

حفیظ الله امین د تره کی په غوښتنه او د شوروي سفیر پوزانوف په ضمانت د ورتګ لپاره زړه ښه کړ ، خو ځیني وایي چې پوزانوف د کې ، جې ، بې لوړ پوړی چارواکي د بریژنیف پیغام را وړونکې جنرال ابوانوف د تره کی دفتر ته راغلی و خو پوزانوف ضمانت ور کړ او ورته یې وویل که چیري په دي

[1] محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغي پایلي مخ ۳۴۹
[2] محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغي پایلي مخ ۳۵۱_۳۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه وی د خپلو ساتونکو سره دي راشي ، حفيظ الله امين ، حبيب الرحمن ، مصطفي ، وزير او ځبرک بوتلل ، امين د ګلخانې ماڼۍ ته ننوت مخه يې سيد داود تړون ورپسې وزير ځيرک او په وزير پسې امين او د هغه شاته مصطفی او حبيب الرحمن روان وو. د تره کی ياوران مهال زينې ته وختل ډزې پرې وکړې ، تړون ووژل شو ، وزير سخت ټپي شو ، امين ځيرک په لاسونو کې نيولی او په بيړه خپل موټر ته وخوت په چټکۍ سره يې د لکشا ماڼۍ ته ځان ور ساوه . خو د ګلخانې ماڼۍ له بام څخه د شوروي کوماندو له خوا پر امين ډزې وشوې . امين دا صحنه هم وليدله ځان يې له دې ځايه روغ ، رمټ د دفاع وزارت ته ورساوه . (م [1]: ۳۵۴ کاکړ)

ځينې وايي چې سيد داود تړون لومړي پر يو محافظ باندې ډزې وکړې او هغوی بيا د سمدلاسه دې وواژه کوم شي چې دلته ډير مهم دي هغه د نور محمد تره کی په دفتر کې د دغې پيښې پر مهال د پوزانوف او درې تنو شوروي جنرالانو شتون وو . شايد دوې ته به دنده ور کړل شوې وه چې د امين په لاندې کولو کې تره کی سره مرسته وکړئ او هغې پخلاينې ته يې اهميت ور نکړ . چې څلورويشت ساعته د مخه يې د صاحب جان صحرايي په منځګړيتوب په پايله حفيظ الله امين سره کړې وه . ځکه په پخلاينه کې تره کی منلي وه چې اسدالله سروري او ملګري به يې سفيران کوي خو هغوي له دې پريکړې سرغړونه وکړه او شوروي ته يې پناه يوړه . د سروري ملګري ياغی وګڼل شول د هغه پر ځای د امين د له منځه وړلو له پاره د شورويانو سره لاس يو کړ . بل داسې معلوميږي چې نور محمد تره کی دې روغې جوړې ته چندان خوشحاله نه وو په بدل کې يې مسکو د پلان عملي يې کول غوښتل . (م [1]: ۳۵۵)

حفيظ الله امين د ثور بدلون په خپل نوبت او قوماندې سرته رسولی و او خلقي نظام يې په خپل فعاليت سره په پښو در ولي و . نور محمد تره کی بايد دا په نظر کې نيولي واي : ځکه کارمل ، سروري ، ګلاب زوي او وطنجار د

---

[1] محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پايلې مخ ۳۵۴

[1] محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پايلې مخ ۳۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین پر ځای د بل واکې ته هم تیار وو لکه څرنګه چې دوي (کارمل ، سروري ، ګلاب زوري او وطنجار) د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال د هیواد په مهمو څوکیو کې کار کاوه ، حتی کارمل د شوروي اتحاد پوځونو وتلو سره هم مخالفت کاوه چې بالاخره استعفا ته اړ ایستل شو .

حفیظ الله امین له ډزو وروسته وضع ډیره کړکیچنه شوه . نور محمد تره کی او امین هر یوه د خپل دریځ د پیاوړتیا لپاره کوښښ کولو ، تره کی ته حفیظ الله امین په تیلفون کې وویل : (( زه ستا په دفتر کې په ډزو استقبال شوم خو تاسي او سفیر زما دفتر ته راشئ زه به مو په ګلونو استقبال کړم . (٢ ـ م : ٣٥٢ )

پوزانوف هم د خپلو ملګرو سره د حفیظ الله امین سره ولیدل د پیښي په اړه یې خواشیني ښکاره کړه او وعده یې ورکړه چې ماښام په اوه نیمو بجو یعني دونیم ساعته وروسته به بیا سره ووینو . د امین له دفتر څخه ووت په همدغه وخت کې نور محمد تره کی د ګارد قوماندان جانداد ته امر وکړ چې د دلکشا مانۍ له خاورو سره برابره کړي خو هغه ورته وویل هلته امین او نور ملګري دي نشي کولی چې په خپلو ملګرو برید وکړي . نور محمد تره کی د هوایي پوځ د قوماندانۍ مرستیال حاجی محمد ته تیلفون وکړ چې په بګرام کې د شوروي پوځ پراشوت کندک د ده مرستي ته ور ودانګي . نوموړي ورته وویل هغوي دا کار نه کوي یوازي دخواجه روش په هوایي ډګر کې د سیاسي څانګي مرستیال دوست محمد د یو جنګي ماشین سره را ووت او په ارګ باندې ډزې وکړي ، خو ماشین تسلیم او دوست محمد ونیول شو . د امین پر ضد د نور محمد تره کی کوښښونه کوم ځای ته ونه رسیدل ، پوزانوف او ملګرو یې هم ورته شاه کړه. تره کی په یوه بې واک واکمن بدل شو . ښه به دا وائې چې حفیظ الله امین ته تللي وای او ښښني غوښتني یې کړي وای خو دا کار یې ونکړ . ولې د تره کی پرضد دامین کوښښونه بریالي و ، هغه د تیلفون مزي پرې کړل ، تره کی یې په خپل دفتر کې ګوښه کړ ، د امین په قوماندہ وسله والې قطعې ښار ته ننوتلې او د ښار امنیت یې ونیو د

---

[٢] محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پایلې مخ ٣٥٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په راډيو کې سروري او ملګري يې له وظيفو ګوښه اعلان شول . د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر په ۱۵ مه پنځلسمه ۱۱۳۵۸ ل کال د سنبلې په ۲۴ مه امين په واقعي توګه په ګوند او حکومت کې د تره کي ځای يې ونيو . ځکه ده په همدي ورځ د دلکشاه په مانۍ کې مرکزي کميته را وغوښته دګلخاني او نور اړوند پيښو په اړه يې را پور وړاندي کړ . په دي مهال په ګوندي او دولتي ارګانونو کې د امين پلويان اکثريت وو . په غونډه کې د ستګير پينجشيري وړانديز وکړ چې نور محمد تره کی دې غونډې ته را وغوښتل شي او په دي خبره ډير بحث وشو امين هم سر خوړ اوه خو په اخر کې يې وويل چې د نور محمد تره کی د محافظانو اخطار ورکړي چې که چيري څوک ور نږدې شي ډزې به پرې وکړي او د دغه کار مسوليت اخستلي نشي .

د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر په ۱۲ مه ۱۳۵۸ ل کال د سنبلې ۲۵ مه د مرکزي کميتي په غونډه کې د امين په وړانديز د تره کی په مستعفي کولو بحث وشو . د صالح محمد زيري په وينا : تر بحث او سوال پر ته نور محمد تره کی مستعفي او حفيظ الله امين د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو انقلابي شورا هم د نور محمد تره کی ګوښه کېدل ومنل او امين يې د هغه پر ځاي د رئيس په توګه وټاکه خوحفيظ الله امين ته د تره کی شتون د اندیښني وړ و . ځکه هغه په ګوند او دولت کې تر اوسه پلويان لرل او هم يې په مسکو کې د ليونيد بريژنيف سره د امين په لیري کېدو موافقه کړي وه .

درې اونۍ وروسته د ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر په لسمه د ۱۳۵۸ ل کال د ميزان په ۱۷ په يو رسمي څرګندونې کې په لنډ او عادي ډول وويل شول چې نور محمد تره کی د هغې ناروغتيا له امله چې ور پيښه شوې وه مړ شو . او په قول ابچکان کې خاورو ته وسپارل شو ، نور محمد تره کی د ځيګر او معدې او ساه بندۍ ناروغي در لوده . خو دومره جدي نه وه چې ديوې نا څاپي مړينې سبب شي . د بې ، بې ، سي ، استازي ته حفيظ الله امين د هغې پوښتنې په ځواب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویـل : زه طبیـب نـه یـم چـې نـاروغي راتـه پـه دقیـق ډول معلومـه وي . ( ۱ _ م : ۳۵۸ )

نــور محمــد تــره کــی د لــوي درســتیز محمــد یعقــوب او د گــارد قومانــدان جانــداد پــه ځــارنی ســره عبــدالودود د گــارد د مخــابري رئــیس او وزیــر ځیــرک د ۱۳۵۸ ل کــال د میــزان پــه ۱۷ مــه ۱۹۷۹ ز کــال ( اکتــوبر پــر ۹ ) د ارگ پــه کــوټې کــې چــې کــورنۍ یــې ور څخه بیله کړې وه ، په بالښت سره وواژه . ( ۲ _ م : ۳۶۰ )

پـه بـل روایـت نـو رمحمـد تـره کـی هغـه وخـت لـه مینځـه یـوړل شـو چـې د شـوروي مشـر لیونیـد بریژنیـف د هغـه د برخلیـک پـه اړه علاقـه ونـه ښـودله او د امـین د هغـه پیغـام پـه ځـواب کـې چـې لـه بنـدي نـور محمـد تـره کـی سره څـه وشـي ؟ ویلـي یـې وو « دي تـه اړتیـا نشـته چـې تـره کـی مسـکو تـه واستوي دا ستاسي مسله ده .

پـه کـوم ډول چـې تـه ښـه پـوهیږې حـل یـې کـړه » خـود گرومیکـو پـه وینـا د بریژنیـف تـره کـی لـه بنـدي کېدو څخـه دخبریدو سره سم ښه بدلـه شـوه خـو د بریژنیف موخه لـه واک څخـه د حفیظ الله امـین لیري کـول او پـر افغانسـتان باندې نظامي یرغل وه . ( ۳ _ م : ۳۶۰ )

د نور محمد تره کی وژنه چې د شوروي اتحاد کې ، جې ، بې پـه مسـتقیمه لاس وهنـه او د دې دواړو د اختلاف پـه پایلـه کـې سرتـه ورسـیده ، حفـیظ الله امین وار دمخه د ببرک کارمل و بریژنیـف لـه توطیې څخه اگاهي درلوده دا کار د اخلاقي او سیاسي مصلحت څخه لیري و . ځکـه د سلیم عقل او د هغـه مهـال سیاسي وضعیت پـه پام کې نیولو سره دهغو څلورو اشخاصو ( اسدالله سروري ، سید محمد گلاب زوی ، شیرجان مزوریار او محمد اسلم وطنجار ) لـه گوښه کیدو څخه وروسته د نور محمد تره کی پـه بندي کېدو باید اکتفا کـړې وای . ځکه دهغه اړیکې لـه بیرون سره شـلیدلې وې او شاید د امین او خلقي

۱ محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پایلې مخ ۳۵۹

۲ محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پایلې مخ ۳۶۰

۳ محمد حسن ، کاکړ د ثورکودتاه او د هغې پایلې مخ ۳۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ ته د خطر له پیدا کېدو څخه ډډه کړې وای. بل دغه په وژنه په ګوند کې د تره کۍ طرفداران او هغه کسان چې د امین پلوي نه و د ده مقابل کې ودریدل. امین ته دغوي زغمل هم یو ګران کار و خو زمونږ دولتي چارواکي د ملي چارو په اجرا کې هیڅکله له مصلحت څخه کار نه اخلي او د هیواد ګټې په پام کې نه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰,۹_اته فرمانونه

د نور محمد تره کی په واکمنی کې د انقلابي شورا لاندي ۸ فرمانونه صادر شول .

۱_ لومړي فرمان : لومړي فرمان د بریالیتوب څخه دري ورځي وروسته د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل په ۳۰ مه د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۱۵ مه صادر شو چې په هغه کې د دولت تشکېلاتي او اداري ارگانونو بڼه ته معرفي شوي وه . چې نور محمد تره کی ، ببرک کارمل ، حفیظ الله امین او د نور دولتی اراکېن په ترتیب سره معرفي شول. نور محمد تره کی د انقلابي شورا رئیس او صدراعظم او ببرک کارمل یې د مرستیال په توگه وټاکل شول .

۲ _ دویم فرمان :انقلابي شورا دویم نمبر فرمان د ۱۹۷۸ ز کال د مې په لومړي نیټه ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۱۱ مه صادر کړ ، د پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه ، محمد داود خان او د نادر خان دکورنی او دځینو نورو سردارانو جایدادونه ضبط . او د هغوي د کورنی د غړو څخه د تابعیت حق واخستل شو .

۳ _ دریم نمبر فرمان : دریم نمبر فرمان چې د ۱۹۷۸ ز کال د مي په ۱۵ مه او د۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۲۰ مه صادر شو . د دي فرمان سره سم د داود خان د ۱۹۷۷ ز کال قانون لغوه او د نوي دولت اساسي کرښي اعلان شوي .

۴_ ددولتي نښان ، بیرغ او ملي سرود بدلول .

۵ _ پنځم نمبر فرمان: څلورم نمبر فرمان د ۱۹۷۸ دجون په ۲مه چې د ۱۳۵۷ ل کال د جوزا له ۲۲ مي سره سمون لري صادر شو . ددي فرمان په اساس ټولي ژبي خوندي وبلل شوي . اوزبکې ، ترکمنی ، نورستاني اوبلوڅي ژبو د نشراتو حکم وشوه . (_[۱] مخونه : ۳۰۲ عطایي )

۶ _ شپږم نمبر فرمان : شپږم نمبر فرمان د ۱۹۷۸ ز کال د جولایي ۱۲مه د ۱۳۵۷ ل کال د سرطان په ۲۱ مه صادر شو چې د گروي او سود په باره کې وه .

---

[۱]_ عطایي محمد ابراهیم ، ( ۱۳۸۹ ) افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ ۳۰۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ ـ اووم نمبرفرمان : اووم نمبر فرمان د ۱۹۷۸ ز کال د اکتوبر ۱۷ مه د ۱۳۵۷ ل کال د میزان په ۲۵ مه صادر شو نوموړي فرمان کې د انجلي د واده عمر ۱۲ او د هلک عمر ۱۸ کاله و او ولور ۳۰۰ افغانۍ ټاکل شوي وه .

۸ـ اتم نمبر فرمان : د ۱۹۷۸ ز کال د نوامبر په ۲۸ مه د ۱۳۵۷ ل کال د قوس په ۸ مه صادر شو . نوموړي فرمان د ځمکو د اصلاحاتو په اړه وه . ([1] مخونه : ۳۹۲ ـ ۳۰۳ )

په پورته فرمانونو کې ۲ـ۷ او ۸ نمبر فرمانونو د لویو پیښو د را منځ ته کېدو سبب وګرځېدل . د فرمانونو په تطبیق د ټولني موجوده عیني او ذهني شرایط په پام کې ونه نیول شول . بل پلوته یې د تطبیق پروسه ډېره چټکه وه . همدا علت وه چې دغوفرمانونو د خپل محتوا او ماهیت سره سم تطبیق صورت ونه موند د باتربیه او فني اشخاصو څخه واکی ګټه وانه خستل شوه او حتي د ډیرو ګوندي غړو نظریاتو ته هم پام نه کېده . همدا لاملونه و چې د ۷ او ۸ نمبر فرمان په مقابل کې په ځینو سیمو کې مخالفتونه او ستونزي پیدا شوي ، په مقابل کې د مقابل لوري تبلیغات هم بې اغیزي نه وه چې په کلو او بانډو کې د هغوي له خوا کېدل .

ښاغلي عبدالقدوس غوربندي د دي فرمانونو په اړه داسې لیکي : (( فرمانونه یو ربښتیني لاسته راوړنه وه کوم عیب یې نه درلود . عیب او نیمګړتیا د هغوي په تطبیق په کې وه ، چې په د کارکونکو له بې تجربه ګې څخه یې سرچینه اخیستنه چې دا ستونزه هم په د ورکېدو وړ و([3]ـ مخ : ۱۲۲ )

---

[1] ـ فرهنګ محمد صدیق ( ) افغانستان دریځ قرن اخیر مخ ۳۹۲ جلد سوم

۲ ـ عطایي محمد ابراهیم ، ( ۱۳۸۹ ) افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ ۳۰۳ .

نوټ : دي فرمانونو په اړه د عطایي صاحب او فرهنګ صاحب اثارو څخه ګټه اخستل شو.

[3] غوربنده ، عبدالقدوس ( ۱۳۷۹ ) د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند تاریخ ته یوه لنډه کتنه .ژباړه : نور محمد کړاو ، ګل حاجي پلازه پیښور مخ : ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰٫۱۰_ د پاکستان سره سیاسي اړیکې

پاکستان زمونږ ګاونډی هیواد دی له ۱۹۴۷ زکال څخه بیا تر ننه پوري د دغه هیواد سیاسي بدلونونو او پرمختګونو د افغانستان پر حالاتو مستقیمه اغیزه کړې ده د ګاونډیو او د سیمي د نورو هیوادونو په څیر له تیرو دیرشو کلونو راهیسي بیا تر ننه پاکستان د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کړې ده . د روانۍ دیرش کلنې جګړې له امله د افغانستان په مسائیلو کې د پاکستان رول او اغیز زیات شو .[1]_ مخ : ۱ )

ډاکتر حسن رضوي د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو د خړپړتیا او پاکستان د مداخلي لاملونو په اړه داسې نظرلري : (( د پاکستان په خاوره د افغانستان د عوي د پاکستان د امنیتي اندیښنو آساس جوړ وي . ځکه افغانستان پر شمال لویدیځ ایالت او بلوچستان باندي د پاکستان حاکمیت په رسمیت نه پیژندي ، د افغانستان حکومت د شمال لویدیځ ایالت او بلوچستان پښتنو له پاره خود ارادیت د جلا دولت جوړیدو او یا له افغانستان سره د یادو ایالتونو د یو ځای کېدو غوښتنه کوي ، هندوستان د پاکستان پرخاوره د افغانستان له دعوي څخه ملا تړ کوي د پاکستان پالیسي جوړونکې د شوروي له ملاتړ څخه د برخمنو افغان او هندي پوځونو د فشار له امله په ویره کې دي د یادو ګواښوونو پر وړاندي د پاکستان د امنیت خوندي کول د دغه هیواد اصلي او اساسي اندیښنه ګڼل کیږي .( [۲] _ مخونه : ۲_۷ )

د ۱۳۵۷ ل ( د ۱۹۷۸ ز کال ) له بدلون وروسته د امریکا جمهور رئیس د پاکستان د ولسمشر جنرال ضیاوالحق څخه په یو لیک کې غوښتنه وکړه چې د نور محمد تره کی د واکمنۍ او د ثور د بدلون په اړه امریکا ته دقیق معلومات

---

[1] _ رضوي ، حسن ، عسکر ( ۱۳۹۲ ل ) . د پاکستان بهرنۍ پالیسي ته یو کتنه ، ژباړن څیرنیار محمد سرور صمدزي ، مومند خپرندویه ټولنه جلال آباد _ ننګرهار مخونه : ۱ _ ۲ _ ۷

[۲] _رضوي ، حسن ، عسکر ( ۱۳۹۲ ل ) . د پاکستان بهرنۍ پالیسي ته یو کتنه ، ژباړن څیرنیار محمد سرور صمدزي ، مومند خپرندویه ټولنه جلال آباد _ ننګرهار مخونه : ۱ _ ۲ _ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور کړي. دهمدي مقصد لپاره جنرال ضیاوالحق د ۱۹۷۸ ز کال دجولاي په میاشت کې په یو ورځي سفر کابل ته راغی او په پغمان کې چې د افغانستان د یموکراتیک جمهوریت له جمهور رئیس نور محمد تره کي سره وکتل دواړه خواوي له خبرو څخه راضي وي . نور محمد تره کي د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د سیاسي بیرو په غونده کې د دي لیدني په اړه وویل: (( په افغانستان کې سیاسي او نظامي وضع داسې ده چې تر هر څه وړاندي باید له پاکستان سره اړیکې نرمې شي اودا کاملاً زمونږ په ګټه ده .)) ( ۱ _ مخ: ۳۰۹ )

حفیظ الله امین ځیني تحریکوونکې ویناوې کولي او شوروي هم په دي خوښ نه و چې د افغانستان او پاکستان اختلاف رفع شي خو د تره کي تلاش د اړیکونور مال ساتلو ته متوجه و . ځکه نور محمد تره کي د ۱۹۷۹ ز کال په سپتمبر کې د غیر منسلکو هیوادونو په کنفراس کې چې کله د کیوبا مرکز هاوانا ته ولاړ هلته یې د پاکستان له جمهور رئیس جنرال ضیاء والحق سره لیدنې وکړي د تره کي د سفر ملګري د هغه د اطلاعاتو کلتور وزیر بی بی سی سره په مرکه کې وویل: (( یو ځل جنرال ضیاء والحق قرارګاه ته ورغي هغه یې فوق العاده احترام او هر کلي وکړ بل ځل جنرال ضیاء والحق د تره کي مقر ته راغي او په دواړو غونډو کې د افغانستان او پاکستان د اړیکو په اړه کې د ډاډ وړ نظریات تبادله شول .)) ( ۲[1] _ مخ: ۳۰۹ )

دوی خپلو موافقو د ډیپلوماتیکي بڼې غور کولو په خاطر ومنله چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اغاشي به افغانستان ته سفر وکړي . د اغاشاهی د راتګ له پاره زمینه او تاکلې موده په را نژدي کیدو وه ، خو شوروي اتحاد په هغه راتګ معطل کړ داسې چې ( کې ، جي ، بي ) د امین د وژنې زمینه برابره کړي وه . د نور محمد تره کي په واکمنۍ کې د دغو اړیکو د نورمال کیدو لپاره ځیني ګامونه واخستل شول ، خو شوروي اتحاد په دي راضي نه و چې د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې نورمال شي او په هره برخه کې به یې

[1] _ عطايي ، محمد ابراهیم ،۱۳۸۹ ( افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه مخ: ۳۰۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفتیش کاوه څو یي فضا داسې نا سالمه کړه چې پاکستان د افغانستان د رژیم ضد اډې په توګه عیار شو . ( [1] ـ مخ : ۳۰۹ )

د شوروي اتحاد له یرغل وروسته د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې بدلون راغی . پاکستان د شوروي اتحاد لښکرو پر ضد د غربي نړۍ د اډې په توګه استعمال او د افغان مهاجرینو پنډ غالي پکې جوړ شو چې وروسته یې د افغان مجاهدینو او مهاجرینو سره یې پوره مرستي وکړي او دجګړي او لا پسې تازه شو .

[1] ـ عطایی ، محمد ابراهیم . د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ : ۳۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰.۱۱_ د نور محمد تره کی ژوند او تیروتنې

ژوند :

نور محمد تره کی د نظر محمد زوی او په رسمي خپرونو کې د ده زیږیدو نیټه د ۱۹۱۷ز* کال د جولایي ۱۴ مه چې ۱۲۹۲ ل کال د چنګاښ له ۱۷ مي سره سمون لري ده د غزني ولایت د مقر ولسوالی په سره کلي کې زیږیدلی دي .
د ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر په ۹ مه _ ۱۳۵۸ ل کال د ( میزان ) په ۱۷ مه یې مړینه اعلان شوه . د ډیر منابعو په استناد دي مړینې پر مهال ۶۲ کلن و . ([1] _مخ : ۳۲۱ )

د نور محمد تره کی سترګې شنې ، اوږې یې پلنې ، پرڅان منډلي ، پنډ ، ټینګ او زیږ پښتون و . لومړي څو ټولګي یې لوستلي و او په خپل شخصي زیار سره یې ځان دي حد ته رسولی و چې د کندهار د موسی خان شرکت له خوا بمبی ته واستول شو وروسته د محمد زمان خان په مرسته د مالیي وزرات په مجله کې د محرر په توګه مقرر شو ، بیا دملي بانک سروال عبد المجید زابلي په مرسته په دولتي انحصاراتو کې مقرر شو . له دویمي نړیوالي جګړې وروسته د ویښ زلمیانو په ګوند کې یو فعال غړی شو ، د شاه محمود خان د صدارت پر مهال د بینوا په سپاریښتنه په باختر اژانس کې په کار وګومارل شو نوموړي له امریکاڅخه د محمد داود خان د صدرات پر مهال بیرته هیواد وغوښتل شو . ځکه چې تره کی د افغانستان د حکومت پر خلاف یې هلته مرکه کړې وه .وروسته د محمد اکبر پروانی او بینوا په شفاعت وبښل شو او کابل ته راغی

---

* خو عبدالقدوس غوربندي د تره کی له دندو لریکول د شوروي اتحاد د مشرانو دسیسه ګڼي او لیکي : ( ۱۳۵۸ ل کال د سنبلي په ۲۵ مه مرکزي پلنوم تره کی له ټولو دولتي دو ګوندي مقاماتو لري کړ ، غونډه د امین په ګټه پای ته ورسیده ، امین ګوندي او دولتي مقاماتو ته اړ شو . په دي توګه د اندروپوف او بریژنیف د پلان لومړي مرحله چې امین ترور کړي او هر څنګه چې وي امین برطرف کړي او پر ځاي ببرک کارمل ته ورسوي ناکامه شو خو په مقابل تره کی واک لري اومړشو . ( غور بندي مخ : )

[1] حسن ، کاکړ د ثور کودتاه د هغي پایلي مخ : ۳۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته د ثور تر کودتاه پورې یې کومه رسمي دنده نه درلوده . له واک وروسته او مخکې یې د شوروي چاروا کو ته سرټيټ نکړ . کله چې زه په ۱۹۲۸ ز کال له انګلستان څخه وطن ته ستون شو م د تره کی د یوې پوښتنې په ځواب کې مي وویل چې ما د یو څیړنیزه تیزس په لیکلو سره د لندن پوهنتون څخه ماستري اف ، ایم ، فل ( M ,P,Hil ) شهادتنامه تر لاسه کړي ده . هغه سمد لاسه وویل هر هغه اثر چې د امیر پالستي اثارو پر بنسټ لیکل شوی وي مونږ ته د منلو وړ نه دی . د حیرانی ځای دی چې د داسي ذهنیت په لرلو سره په ۱۹۲۵ ز کال په دي بریالی شو چې افغانی عنعنوي ټولنه کې تعلیم لرونکې ځوانان د خلق دیموکراتیک ګوند په نامه سره تنظیم او پر ځان را ټول کړي . ده په ساده او عامه ژبه وینا وې کولې ځان یې د خلکو بچی او خدمتګار ګاڼه . ( [1] _ مخونه : ۳۲۰ ، ۳۲۲ او ۳۲۴ )

ښاغلي غلام محمد زرملوال په خپل اثرد افغانستان تر وروستي افغانه کې د نور محمد تره کی د ژوند په اړه په ځینو برخو کې د محترم پوهاند محمد حسن کاکړ سره یو شان نظر لري خو د هغه د ژوند په ځینو نورو برخو یې هم رڼا اچولي ده مونږ دلته د هغه نظر یاتو اولیکني یوه بیلګه را اخلو : (( د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل په ۳۰ مه نیټه د افغانستان جمهوري دولت د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت په نامه ونومول شو او د پنځو افسرانو په ګډون یوه ۳۵ کسیزه انقلابي شورا . نور محمد تره کی د دولت د رئیس او لومړي وزیر په توګه وټاکه ، نور محمد تره کی د غزنی ولایت د مقر ولسوالي د سره کلي په نیمه شپنه او نیمه بزګره کورنی کې زیږیدلی دی . نوموړی په پنځه کلني کې له یوې کونډې سره مزدور شو چې د هغې غواوي به یې څرولې تر ۱۲ کلنی پوري د مقر د ولسوالی په لومړني ښوونځي کې لیک او لوست زده کړ . کله چې د کندهار د عبدالمجید دمیوي لیږلو شرکت ( پښتون شرکت ) کې یې کار کاوه . خپلې زده کړې یې سرته ورسولې . نوموړي د پښتون شرکت سره کار کاوه . په ۳۲ کلنی کې د هغې شرکت د یو ټیټ رتبه مامور په توګه بمبي ته واستول شو بیا یې هلته د شپې لیسه کې خپلې زده کړې پای ته ورسولې ، نور

---

[1] محمد حسن ، کاکړ د ثور کودتاه ، ژوري پایلي مخونه . ۳۲۴، ۳۲۲، ۳۲۱ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد تره کی په هند کې انگریزي ضد خپلواکۍ غوښتونکو غور ځنگونو سره آشنا شو او خان عبدالغفار خان سره یې هم پیژند گلوي پیدا شوه . د ده ځیني مقالي د ویښ زلمیانو په خپروني ( انگار ) کې نشر شوي دي . (([1]_ مخونه ۲۳ _ ۲۴ )

دیادوني وړ ده چې له سیاسي ژوند او شهرت نه د لامخه نور محمد تره کی د ریالست مترقي لیکوال په توگه په ټولنه کې د لوړ او نیک شهرت خاوند و . ده په پښتو معاصر ادبي نثرسره دا لاندې اثار چې ټولنیز طبقاتي ماهیت لري او ور سره ور سره سوسویولوژیک اړخ پکې جوت او څرگند دي لیکلي او چاپ شویدي .

_ د بنگ مسافري ، څړه ، د غوایي لاندې ، سپین یې غوره پښتو ناولونه دي .

_ د بزگر لور یې د پښتو لومړنیو لنډو کیسو یوه لنډه کیسه ده .

دغه راز دوه تیوریک فلسفي سیاسي اثر د ( زندگي نوین ) په دري نثر سره هغه مهال د چاپ ډگر ته را ووت اوس دغه ډیر لږ میندل کیږي .

د نور محمد تره کی د ژوند مبارزي او شخصیت په اړه د ډیرو لیکوالانو له خوا مختلف مطالب لیکل شوي دي خو ټولو دا مطلب تائید کړی چې نوموړی په غزني کې زیږیدلی په کندهار ، بمبې او واشنگټن کې یې دنده اجرا کړي دي . ښاغلي سر محقق شاه محمد میهن ورد په اثر روابط سیاسي و دپلوماتیک روسیه و افغانستان کې د ده ژوند او واکمنۍ د اخرو وختونو په اړه لیکي : (( ۱۹۷۹ ز کال د ستپمابر په **۱۵** مه **۱۳۵۸** ل کال د سنبلي په **۲۴** مه وروسته له هغه چې تره کی د ارگ په حرمسرا ي کې بند شو ، حفیظ الله امین خپل ځان د تره کی پر ځاي د گوند د عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس توگه اعلان کړ . د **۱۹۷۹** ز کال د سپتمبر په **۱۷** مه یې د مرکزي کمیتي پلینوم د ایرکړ . په دي پلنوم کې یې نور محمد تره کی ، محمد اسلم وطنجار ، شیرجان مزدوریار ، سید محمد گلاب زوی او اسدالله سروري له ټولو

---

[1] زاملوال ، غلام محمد (     ) افغانستان تر وروستي افغانه مخونه ۲۳ _ ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګونـدي او دولتــي دنـدو څخـه ګوښـه کـړل . د ۱۹۷۹ ز کـال د اکتــوبر پــه ۸ مـه د تـره کـۍ د مړینـي خبـر د جریـدو پـه وروسـتیو مخونـو کـې نشـر شـو . شـوروي اتحـاد چـې د تـره کـۍ پـه مړینـه کـې غـافلګیره شـوی و. پرتـه لـه کـوم عکـس العمـل څخـه دلـومړني هیـواد پـه توګـه د امـین دولـت پـه رسـمیت وپیژنـده او هغـه تـه یـې مبـارکي وویلـه ، د حفـیظ الله امـین پـه غوښــتنه یـې شـوروي سـفیر پوزانـوف شـوروي تـه وغوښــته او پـر ځـای یـې فکـرت تابیف د سفیر په توګه مقرر شو . ( [1] مخ : ۱۹۳ )

---

[1] سـر محقـق ( شـاه محمـود ) مهـین ورد روانـو سیاســي و دیپلوماتیـک افغانســتان و روسـیه طـي سـالهاي ( ۱۱۰۸ _ ۱۳۸۰ هــ ش ) اکـاډمي علـوم اجتماعي مخ ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ .۱۲_ تیروتني :

نور محمد تره کی د یو سیاسي شخصیت او د افغانستان د واکمن په توګه د مثبتو کړنو په څنګ کې د نورو واکمنانو په څیر یو شمېر تیروتنې کړي او دا حتمي ده چې د کار او دندې د اجرا پرمهال هر څوک تیروتنه کوي دا تیروتني د هغه کوم جرم نه ګڼل کېږي. خو د نورو لپاره اړینه ده چې د هري واکمنۍ د مثبتو او ښوکارونو په څواکې د هغه تیروتنو ته هم اشاره وشي دلته د نور محمد تره کی د ځینو تیروتنو په اړه د شنونکو ځینې څرګندونې را اخلو .

ـ دنور محمد تره کی له خوا حفیظ الله امین ته زیات واک ورکول او د ګوند د رهبرۍ له نورو غړو څخه هغه ته یو امتیازي مقام ورکول چې بیا د ده له کنترول څخه هم ووت.

ـ د هاوانا له سفر څخه د را ګرځیدو پر مهال د بریژنیف او اندروپوف له پلان سره موافقه کول چې اصلاً د ببرک کارمل له خوا هغوی دي کار اړ شوي وو چې حفیظ الله امین له واکه لیرې کړي او د پرچم ډله په ځانګړي ډول ببرک کارمل په واک کې شریک کړي. چې دا کار د ده له وسي څخه بهر او د افغانستان په ګټه هم نه و ځکه وروسته د کارمل واکمنۍ کومه ځانګړې لاس ته راوړنه نه درلوده. خو نور محمد تره کی د دې پلان په تطبیق کې خپل ژوند او واکمنۍ له لاسه ورکړه.

ـ کله چې اسدالله سروري او دهغه ملګري د امین په مقابل کې ودریده ده د دې اختلاف زیاتوالي کې د شوروي سفیر پوزانف ډیره ونډه درلوده ده دنه یوازې شوروي سفیر د اسدالله سروري او امین حرکتونه کنترول نشو کړلي بلکه د ګوند غړو او نوري رهبري ته یې هیڅ معلومات ورنکړل له هغوي څخه یې په دې برخه کې هیڅ مرسته ونه غوښتله ، صفوف تر ډیره وخته له اصلي موضوعاتو څخه ناخبره وو چې وروسته یې ډیري ستونزې پیدا کړي.

ـ د ګوند او دولت د داخلي ستونزو په حل کې یې له خپل نفوذ څخه هیڅ ګټه وانه خیستله ځکه چې نوموړی د ډیر نفوذ خاوند وه او کولی یې شول چې ډیري ستونزي په خپل نفوذ سره حل کړې واې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ له ببرک کارمل سره د ده له خوا د واک شریکول یو ه تیروتنه وه ځکه ده ببرک کارمل له ډیرو پخوا څخه ښه پیژانده او پر چمیان په سلیقوي لحاظ د خلقیانو سره هیڅکله په رښتني توگه اتحاد نه و کړی د ۱۳۵۲ ل کال له یووالي څخه وروسته هم د پرچم جناح خپل پخوانۍ تشکېلات په مخفي توگه ساتلي وز . ده ته لازمه وه چې د دې ټولو حقایقو په پام کې نیولو سره یې په دي برخه کې یې د شوروي اتحاد د چارواکو ته له قناعت ور کولو څخه وروسته له هغوی څخه یو څه وخت غوښتنه کړې وای تر څو په داخل کې د ده د واکمنۍ ستني ټینگې شوي وایې .

ـ یو دم او په چټکۍ سره د اصلاحاتو عملي کول په ځانگړي ډول د ۶ـ۷ او ۸ نمبر فرمانونو تطبیقول ، او د مخالفینو حرکتونو او تبلیغاتو ته پاملرنه نه کول چې په کلیو او بانډو کې یې د ده د واکمنۍ پرضد خلک پاڅون ته هڅول په ځانگړي ډول د سواد زده کړي په کورسونو باندي یې ډیر ټینگار د ده مخالفینو ته د تبلیغ ښه زمینه برابره کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۱.حفیظ الله امین واکمني

## ۱۳۵۸ ل کال د سنبلې ۲۵ مه _ ۱۳۵۸ ل کال د جدي ۶ مه

## ۱۹۷۹ ز کال دسپتمبر ۱۲ مه_ ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر ۲۷ مه

د ۱۳۵۸ ل کال د سنبلې په ۲۵ چې د ۱۹۷۹ ز کال د سپتمبر ۱۷ مې سره سمون لري د افغانستان خلق دیموکراتیک گوند په ۱۹ پلینوم کې نور محمد تره کی له گوندي او دولتي دندو څخه گوښه او حفیظ الله امین د گوند د عمومي منشي ، انقلابي شورا رئیس او صدراعظم په توگه وټاکل شو . چې له همدې نیتې څخه دحفیظ الله امین دري میاشتنۍ واکمني پیل شوه . د حفیظ الله امین لومړنی کار دا و چې ۱۳۵۸ ل کال د میزان ۱۲ مه ۱۹۷۹ له راډیو او تلویزون څخه د نور محمد تره کی مړینه اعلان کړ . خو گومان دا وه چې نور محمد تره کی له مخکې وژل شوی و . ( [1]_ مخ : ۳۱۳ )

حفیظ الله امین د شوروي سفیر پوزانوف سره په لومړۍ لیدنه کې دخبرو پر مهال پرده نیوکه وکړه . چې د پلوماتیک ادب او مقررات تقضوي خو ځیني وایې چې پوزانوف له حفیظ الله امین څخه وغوښتل چې ببرک کارمل د خپل صدراعظم په توگه مقرر کړي ، په همدې خاطر امین پر هغه باندي سخت قهر شو . د شوروي سفیر پوزانونف یې په څپېړه وواهه شوروي ته یې خبر ور کړ چې پوزانونف وغواړي او عوض یې را واستوي ، شوروي اتحاد هم د پوزانونف پر ځای فکرت احمد جانو ویچ تابیوف را واستوه . او ده ته یې د امین د وژلو دنده ور کړه . حفیظ الله امین نور پرچمیان هم پسې ونیول دنور محمد تره کی ملگرو سره یې هم ډیر بد برخورد کاوه . څلورو وزیرانو اسدالله سروري ، سید محمد گلاب زوي ، شیرجان مزدوریار او محمد اسلم وطنجار پسې ډیره هڅه وکړه چې ونیول شي . خو دوی د شوروي اتحاد د سفارت په مرسته لومړی بلغاریا او بیا له هغه ځایه مسکو ته ولیږدول شو ل . څو د ببرک کارمل سره بیا افغانستان ته راغلل . امین د شوروي سره په اړیکو کې هم سخت بر خورد کاوه د گازو د قیمت دلوړویدو په اړه یې شوروي چارواکوته وویل که په ټاکلي قیمت یې اخلی ښه ده که نه افغانستان به په خپلو

---

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم ، افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه مخ ۳۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقالاتو فکر وکړي . ده پر شوروي باور نه درلود پاکستان او امریکا سره یي د اړیکو د پراختیا کوښښ کاوه خو هغه مهال شرایط داسې وو چې شوروي څخه دامین نجات یوستونزمن کار و . ( [1]_ مخ : ۳۱۴ )

حفیظ الله امین د نور محمد تره کی د وخت داگسا ( افغانستان د گټو ساتونکې اداره ) د کام ( د کارگری اطلاعاتو موسسه ) په نامه یاده کړه . استخباراتي ادارې ته یې دنده وسپارله چې د شوروي مشاورینو د فعالیت څارنه وکړي . ده د څارگري اداري په سرکې د اسدالله سروري د خور زوي وگوماره خو ډیر ژر یې خپل وراره او زوم اسد الله امین د هغه پرې ځاي مقرر کړ.

حفیظ الله امین که څه هم دنور محمد تره کی د وخت کابینه وساتله خود گوښه کړل شویو وزیرانو پر ځای یې خپل ټینګ ملگري مقرر کړل . ده فقیر محمد د کورنیو چارو وزیر ، انجینر محمد ظریف د مخابراتو وزیر و صاحب جان صحرایي د سرحداتو د وزیر په توگه مقرر کړل . مخکې هم ذکر شوي چې خپل وراره او زوم اسدالله امین یي د کام د ریس په توگه مقرر کړ د ده په کابینه کې اته وزیران پښتانه ، پنځه تاجک یو ازبک یو هزاره ، یو قزلباش وو. د پولیسو او فوځ چاري زیاتره د پښتنو په لاس کې وې د پوځ لوی درستیز محمد یعقوب د ده ټینگ پلوی و . ([2]مخونه : ۳۲۵ _ ۳۲۲ )

د نور محمد تره کی له وژل کېدو وروسته سروري او نور پرته له شیر جان مزدوریار پرته چې بندي شوی و له بې درکه کېدو سره په گوند کې کړکېچ نورهم پسې زیات او د گوند د کمزورۍ سبب شو ، د حفیظ الله امین په واکمنۍ کې دویم شخص ډاکتر شاه ولي چې د صدراعظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر و ، باید ووایو امین پخواني په کار پوه مامورین گوښه او نوي بې تجربه کسان یي د هغوي پر ځای مقرر کړل . د صالح محمد زیري په وینا حفیظ الله امین او دهغه پلویانو ( صالح محمد زیری ، دستگیر پنجشري او عبدالکریم میشاق د کنجکېانو په نوم یادول ) او دوي یې خپل پخوانۍ مخالفین بلل او کنجکبانو د امین پلویان د امینانو او یا سروخلقیانو په نوم

[1] عطایي ، محمد ابراهیم ، افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه مخ ۳۱۴

[2] پوهاند وصن کاکړ ( ۱۳۸۹ ) د ثور کودتاه او د هغي ژوري پایلي مخونه : ۳۲۵ _ ۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادول چې انقلابي غوځ عمل کوي . د تره کي پلویان د اصولي خلقیانو په نوم یادیدل . دوي کوم مخکښ نه درلود . د ریشخورو پاځون به ښايي د دوی کار وه . ( [1] _ مخ : ۳۲۷ ) خو په خلقیانو کې یوه بله ډله دزرغون په نوم هم شتون درلود چې د امین سره کلک مخالف وو .

د شوروي اتحاد استخباراتي سازمان د کې ، جي ، بي چارواکو هم د حفیظ الله امین پرضد فعالیت پیل کړ . دوی د صولت شاه چې تاجک و خود پښتو متلونو په څیړنه کې ډاکتري شهادتنامه اخیستې و ه . او کانکوف چې په افغانستان کې د شوروي سفارت دویم سکرتر و . دوی دواړو لومړی دمالیي وزیر عبدالکریم ته وویلې که دلته یې ژوند په خطر کې وي شوروي اتحاد به ورته سیاسي پناه ور کړي ، عبدالکریم میشاق نه یوازې هغه ته د رد ځواب ور کړ بلکه امین یي پرې خبر کړ . اقبال وزیري ته یي هم بلنه ور کړې وه خو امین اقبال وزیري ته ویلي و چې کانکوف دا د پنجشیري ته هم دهمدې مقصد لپاره ویزه اخیستي وه . مګر حفیظ الله امین کانکوف او صولت شاه په ۲۴ ځلرویشت ساعتو کې له افغانستان څخه ایستل ، یوازې دستګیر پنجشیري د دې هځونو په پایله کې شوروي اتحاد ته ولاړ . د امین د واکمنی په اخرو وختونو کې را ستون شو او په هغه ملمستیا کې ګډون وکړ . چې له ده څخه پرته د حفیظ الله امین په ګډون ټول مسموم شول په دې کار سره د ستګیر پنجشیري مشکوک وګڼل شو . ( [2] _ مخ : ۳۲۸

پرچمیانو هم د کابل په ښار کې د امین پرضد شب نامې خپرولې په دې اړه نبی عظیمي وایي ( عده یي را عقیده بر آن بود که برخی ازین شب نامه در سفارت شوروي ترتیب و از طرف شب پخش میشد ، در شب نامه به ضرورت

---

[1] _ کاکړ ، پوهاند محمد حسن ، ( ۱۳۸۹ ل ) د ثور کودتاه او د هغې پایلې مخ ۳۲۷ :

[2] _ کاکړ ، پوهاند محمد حسن ، ( ۱۳۸۹ ل ) د ثور کودتاه او د هغې پایلې مخ ۳۷۲ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحـدت و همبسـتگي حـزب حلـق و پـرچم بخـاطر از بـين بـردن امـين تاكيـد ميگرديد. ( [1]_ مخ : ۳۷۲ )

حفـيظ الله د واكمنـۍ پـر مهـال ( ۵۰ ) كلـن و پـه جسـمي لحـاظ ډيـر تكـړه معلوميده لومړی كاريي په ګوند او حكومت كې دخپل مقام ټينګول و، دتره كې د پلوي خلقيانو او پرچميانو په وړاندې يې غوخ عمل كاوه، دتره كې يو شمير ملګري او پيژندل شوې ځيري له دندو څخه لرې كړل .له پرچميانو سره خوله پخوا څخه مخالف و .د پرچمي ډلې مامورين يي هم له دندو لرې كړل پرچميانو امين د (سی، ای، آي. C , I , A ) اجنټ وباله. خو له پرچمي بنديانو سره يې د شوروي مشاورينو د مداخلي له امله سخت چلند نه شو كولی. ( ۲ _ مخ ۳۷۲ )

د امين په واكمنۍ كې د ريشخورو فرقي له د پاځون څخه بله غټه پيښه نه وه ليدل شوي. كه څه هم د هيواد وضع نا ارامه وه بيا هم د ښه كېدو په لري روانه وه په بدخشان او لغمان كې مخالفين موجود وو خو دولتي ځواكونو سره يي مخامخ جګړه نه شوه كولي. امين د ۱۹۷۹ زكال د نوامبر ۲۴ مه د ۱۳۵۸ ل كال د لينـدي پـه ۳ مـه پـه يـوي مطبوعـاتي مركـه كې وويـل: (( پـه ټـول افغانستان كې ارامي ده او خلاف وينـاوي ټولي د بين المللي امپريـاليزم او ارتجاع اختراعات دي.)) ( [3]مخ: ۳۸۰ )

حفـيظ الله امـين دچارو د سمون پـه اړه غـوخ قدمونـه اخېسـتل د اساسـي قانون تصويب، امنيتي موضوعات او اقتصادي چارې يې تر جدي كنترول لاندې سـرته رسـولې خـو د شـوروي اتحـاد د كـې، جـي، بـي سـازمان او د هغـه هيوادچارواكي پر نومړي بی اعتماد شول او ده د واكمنۍ دله مينځه وړلو لـه پـاره يـي اقـدامات پيـل كـړل پـه دي اړه د شـوروي يـو پـوځي چـارواكي جنـرال بګدانوف دا رنګه نظر لري .... ((لږ موده وروسته د حفيظ الله امين او د امريكا د مخفي سازمان ( S.R.U ) تر مينځ اړيكې ښكاره شوې چې د تحصيل پر مهال

[1] كاكړ، پوهاند محمد حسن، ( ۱۳۸۹ ل ) د ثور كودتاه او د هغي پايلي مخ: ۳۲۷

۱ پوهاند، محمد حسين كاكړ ( ۱۳۸۹ ) د ثور كودتاه د او د هغي پايلي مخ ۳۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوموړي سازمان سره اړيکې درلودې. ده د محصلينو تر منځ بې اتفاقي اچوله قومي، ژبني او سمتي بې اتفاقيو ته يې لمن وهله، نو ځکه د امريکا د مخفي سازمانونو لکه (S.R.U او F.B.I د پام وړ وګرزيد مګر د شوروي د د فاع وزارت په دې اړه کوم اسناد نه درلود خو کله چې د نور محمد تره کي له وژنې وروسته واک ته ورسيد په افغانستان کې را منځ ته شوي پېښې شوروي اتحاد ته يوه لويه ستونزه شوه، بل پلو ته په پاکستان کې د مخالفو ډلو تنظيم او پياوړتيا شوروي لا په تشويش کړ. (1_ مخ: ۳۹)

د پاکستان او امريکا سره د اړيکو د ټينګولو موضوع د پاکستان لوري دامريکا له سفارت سره شريکه کړه او د امريکا سفارت ته يې په ۱۹۷۹ ز کال د اکتوبر په ۳۱ مه د امين له يو ي نيمي مياشتې حکومت وروسته ته خبر ور کړ، په دې ليک کې داسې ليکلي و: ((حفيظ الله امين په ډير شوق او علاقې سره د افغانستان او پاکستان تر منځ اړيکو او د دواړو هيوادونو د ليدنو په اړه خبري کوي..)) (2_ مخونه: ۲۴۸ _ ۲۴۹)

د حفيظ الله امين د واکمنۍ د بهرنيو چارو وزير او د صدراعظم مرستيال ډاکتر شاه ولي د امريکا او پاکستان سره د حفيظ الله امين له خوا د اړيکو ټينګولو په اړه داسې نظر لري: د نورو لويديځو هيوادونو سره زمونږ اړيکې عادي وي خو له امريکا سره په استثنايي ډول زمونږ اړيکې د دې هيواد سفير دابس دربز DaBs چې د ۱۹۷۹ ز کال د فبروري په مياشت کې لومړی وتښتول شوه دولت مکلفت درلود چې له تښتونکو څخه د سفير د خلاصون له پاره لازمې کړنې تر سره کړې خو هغه د ځانګړو حوادثو په پايله کې ووژل شو له دې وروسته د افغانستان په اړه د امريکا سياست تغير وکړ او خپلې مرستې يې بندې کړې. امين غوښتل چې له امريکا سره خپلې اړيکې عادي کړي، ده په

---

[1] جنرال جګوانوف _ اي (۱۳۸۲ هـ ش) جنګهای افغانستان از سال ۱۹۷۹ _ ۱۹۸۹ ز مترجمين انجينر عبدالواحد لعل زداه و سلطان محمود عزيز پنجشيري، نګاه انتشارات ميوند، کابل افغانستان مخ: ۳۹

[2] _ انديشمند، محمد اکرم (۱۳۹۱ هـ ش) ما و پاکستان انتشارات ميوند _کابل افغانستان مخونه: ۲۴۸ _ ۲۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل کې دامریکا له شاژدافیر سره وکتل ما هم په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د ۳۴ غونډې پر مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له مرستیال سره ولیدل او په لیدنه کې مو د افغانستان او امریکا تر منځ د اړیکو مساله طرح او بحث پرې وکړ .... ( [1]_ مخونه : ۲۷۸ _ ۲۷۹ ) مونږ د ۱۳۵۸ ل کال د سنبلې په ۲۲ مه نیټه دوه لیکونه یو د پاکستان جمهور رئیس جنرال ضیاء والحق او بل لیک د هغه هیواد د بهرنیو چارو وزیر اغا شاهي ته ولیږل .په لیکونو کې د افغاني دولت نیک نیت او اخلاص سره د اړیکو ټینګولو او بهبود ته اشاره شوې وه . د پاکستان لوری حاضر شو چې د بهرنیو چارو د وزیر په کچه دې خبرې تر سره شي او موافقه شوې وه چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اغا شاهي به د شوروي له یرغل څخه یوه اونۍ مخکې افغانستان ته راشي خو د مختلفو عواملو په اساس د اغاشاهي سفر بلې اونۍ ته معطل شو . ( [2]_ مخ : ۲۷۹)

ځینې په دې عقیده دي چې د اغا شاهی سفر د شوروي اتحاد د مداخلې په اساس وځنډید ځکه پریکړه داسې وه چې ا غاشاهي به د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي په ۴ مه نیټه . افغانستان ته راشي. خو د ۱۳۵۸ ل کال د جدي ۲ مه په کابل کې د شوروي اتحاد د سفیر احمد جانو ویچ تابیوف د حفیظ الله امین سره وکتل او هغه ته یې د بریژنف پیغام ورکړ. په دې پیغام کې ویل شوي وو شوروي غواړي چې د افغانستان اوپاکستان په ارتباط د نظر وړ ټکې درولیږي چې تاسي یې د اغاشاهي سره په مذاکراتو کې تربحث لاندې ونیسئ نوایجاب کوي چې د اغاشاهی سره دا ملاقات د ډسمبر له ۲۵ څخه تر د ډسمبر ۲۹ یا ۳۰ مې ته معطل کړئ . حفیظ الله امین په همدغه ورځ دا یاداښت د ګوند د سیاسي بیرو په غونډه کې مطرح کړ او هلته جالب ډیالوک پرې جوړ شو . چې تاریخي ارزښت لري . په غونډه کې دیادښت تر لوستلو وروسته ډاکتر صالح محمد زیري وویل : څه فرق کوي پاکستان ته به خبر ورکړو چې

[1] _ طنین ، طاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان د قرن بیستم ، تهران ، ایران مخونه : ۲۷۸ _ ۲۷۹

[2] طنین ، طاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان د قرن بیستم ، تهران ، ایران مخ : ۲۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغاشاهي په ۲۹ تاريخ راشي وبه ګورو چې ملګري بريژنيف څه يادښتونه راليږلي پر دي مساله د جلسي ځينو غړو د تائيد نظر ور کړ خو خارجه وزير ډاکتر شاه ولي پټه خوله و امين پر هغه ږغ وکړ .

رفيق ډاکتر شاه ولي چه نظر داريد ؟

داکتر شاه ولي وويل :

ـ جناب امين صاحب در فکر هستم به نظر من هر دو جهت مساله خيلي مغلق وبغرنج است .

په دي وخت کې بيا زيري وويل :

ـ ښه خبره دا ده چې د ملګري بريژنيف يادښت ته انتظار و وايستل شي

شاه ولي وويل :

ـ خوب است ولي من تشويش دارم .

زيري بيا تکراره کړه .

ـ ناحقه په تشويش کې يي يو درې ورځې معطلي دونه شی نه دی .

شاه ولي ځواب ور کړ .

ـ شهر روم در يک شب به خاکستر تبديل شد .

په دې وخت کې امين خپل مخ ته په پرتې کتابچې دا يادښت وليکه .

ـ به وزارت محترم خارجه کشور دوست جمهوري اسلامي پاکستان !

به خاطر جمع اوری بعضی اسناد برای بحث اگر جلالتماب اغا شاهی وزير خارجه بتاريخ ۲۹ يا ۳۰ ډسامبر به کابل تشريف اورد ممنون خواهيم بود . با احترمات فايقه .

امين يادښت يو ځل قرائت کړ بيايي ډاکتر شاه ولي ته ور کړ چې اسلام اباد ته يي مخابره کړي ، دغه معطلي د شوروي له خوا د دي لپاره وه چې د ۱۹۷۹ زکال دسامبر په ۲۷ مه امين له مينځه يوسي دا يوه بر بنډه توطئه وه . ([1]_ ۳۱۸_ ۳۱۹ )

---

[1] _ عطايي ، محمد ابراهيم ، افغانستان پر معاصر تاريخ يو لنډه کتنه ، مخونه : ۳۱۸_ ۳۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان او امریکا سره د حفیظ الله امین له خوا د اړیکو ټینګولو موخه دا وه چې دا کار به د ده پرضد د شوروي د اقدماتو مخنیوی وکړي.
خوجنرال ضیاوالحق د افغانستان له دولت سره د اختلافاتو حل ته ورخطا نه و ، افغانستان باندي د شوروي اتحاد له یرغل وروسته د حفیظ الله امین او پاکستان ترمنځ اړیکو باندي داسي ادعا کېدله. چې حفیظ الله امین د مخالفینو سره یوه ائتلافي حکومت جوړاوه او خپل مخالفین یې له مینځه وړل خو د حزب اسلامي امیرانجینر ګلبدین دا ادعا رد وي او وایي: (زه صاد قانه عرض کوم چې ما دامین سره هیڅ ډول اړیکې نه درلودي او د هغه سره هیڅ ډول رسمي او غیر رسمي مذاکره نه ده شوې او بیا هم صادقانه وایم چې امین فقط یوه اونۍ مخکې له پاکستان سره اړیکې نیولې وي او دا جریان ما ته مرحوم ضیاءالحق وویل چې امین پیام رالیږلي خو دا پیام هغه مهال ما ته را ورسید چې نور مونږ نشو کولی چې هغه ته ځواب ووایو. ([2]_مخ: ۲۸۰)
پاکستان اوامریکا سره د حفیظ الله امین لخوا د اړیکو ټینګول شوروي اتحاد د چارواکو په فکر کې داسي انځور پیدا کړ چې حفیظ الله امین هم لکه انور سادات په قسر به له امریکا سره خپلي اړیکې ټینګي او شوروي اتحاد سره به قطع کړي. بریژنف وویل چې افغانستان به د شوروي ضد نظامي اډي باندي بدل شي ځکه امین به شوروي مشاورین له خپلي خاوري وباسي، همدا علت وه چې د نور محمد تره کی د مړیني وروسته د شوروي استخباراتي سازمان (کی، جی، بی) د ببرک کارمل تر رهبري لاندي د تره کی پلویان (اسدالله سروري، سید محمد ګلاب او محمد اسلم وطنجار) سره ائتلاف جوړ او د امین پر رژیم باندي یې د یرغل تیاري ونیوه. خو شیر جان مزدوریار د خپلي کورنۍ سره پغمان ته د استراحت له پاره تللي و. د پغمان څخه د راتللو وروسته بندي شو پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال لومړي لاندي ۸ نفري ګروپ افغانستان ته راغي. چې عبارت دي له: ببرک کارمل، اناهیتا راتب زاد، جنرال ګل اقا، عبدالوکیل او نور احمد نور د

[2]_ طنین، ظاهر (۱۳۸۴) افغانستان د قرن بستم مخ: ۲۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـرچم د اړخ شخـه او دري تنـه حلقيـان لکـه اسـد الله سـروري ، محمـد اسـلم وطنجار او سيد محمد ګلاب زوي وو . چې د شوروي اتحاد پـه عمـده ډول پـه دي اتـه کسانو باندي اتکا وکړه . ( [1]_ مخونه : ۲۸۲ _ ۲۸۳ )

د شوروي اتحاد د کمونست ګوند لوړ پوري چارواکې د ۱۹۷۹ ز کال پـه نوامبر کې د ې پايلې ته رسيدلي وو چې پـه افغانسـتان کې سياسي بدلونونـه د امريکا پـه ګټه دي . پـه همدي مهال د شوروي اتحـاد د جمهـور رئيـس ليونيد بريژنيـف د بهرنيـو چـارو مشـاور الکسـاندر اکتـوف بريژنيـف تـه وويـل : د دې وېره شـته چې افغانسـتان پـه شوروي ضد اډه باندي بدل شي . بل پلو تـه د امريکا ، ايران او پاکستان لاسوهنو د مسکو وېره لا زياته کړه چې د ايران پر ځای به افغانستان د مرکزي آسيا پـه ګاونډ کې د امريکا پـه نظامي هډه بدل شي . بالاخره د شوروي اتحاد رهبري هيئت پريکړه وکړه چې افغانستان تـه نظامي قوتونـه راوليږي . د نور محمد تـره کـی مړينې او د اوضـاع کړکېچن حالت پر افغانستان باندې د شوروي يرغل ګړندی کړ . پر افغانسـتان باندي د يرغل پريکړه د شوروي د رهبری د يوې کوچنۍ حلقې پواسطه شوې وه . پـه دي حلقه کې د شوروي جمهور ريس بريژنف ،د بهرنيو چارو وزير ګروميکو ، يـوري انـدروپوف ، ( کـی ، جـی ، بـي ) رئـيس ، د دفـاع وزيـر اسـتينوف او د سياسي بيرو غړي سوسلوف ګډون درلود او د سياسي بيرو نور غړي د راډيو له اعلان څخه وروسته پر افغانستان باندي د شوروي له يرغل څخه خبر شول : (( ادوارد شيوارد نادرزې چې د سياسي بيرو غړی و وايي زه او ګربا چوف د ګرجستان پـه مرکز کې وو چې افغانستان تـه د شوروي پـوځ لـه ليږلـو څخـه خبر شو . پـه دې مهال مونږ دواړو د سياسي بيرو غړي وو مونږ وويـل چې دا يـوه تيروتنه ده او دې جګړې ته بايد د پای ټکی کېښودل شي . ( [1]_ مخ : ۲۸۴ )

د ۱۹۷۹ ز کـال د ډسـمبر ۲۷ مـه د ۱۳۵۸ ل کـال د مرغـومی پـر ۶ مـه د شوروي اتحاد پوځونه د هوا او ځمکې له لاري افغانستان ته راغلل حفيظ الله امين پـه همدي ( ۱۳۵۸ ل کال د جدي ۶ مـه ) ورځ مرکزي کميتي غړو تـه د تـاج

---

[1] طنين ، ظاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان د قرن بيستم ( مخونه : ۲۸۲ _ ۲۸۳ )

[1] طنين ، ظاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان د قرن بستم مخ : ۲۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیک په قصر کې میلمستیا جوړه کړې وه دوی ټولو ته د روسي اشپزپ واسطه په سوپ کې مسوم کونکي مواد اچول شوې وو چې له ډوډۍ خوړلو وروسته ټول مسموم شول ، له مسومیت وروسته ټول لوړ رتبه دولتي او ګوندي مشران ماښي یوړل شول ، د دوی لپاره طبي مرستي وغوښتل شوې، ډیر ژر روسی ډاکتر الکی پف د شوروي له سفارت څخه تر ټولو مخکې را ورسید او ماښۍ ته داخل شو . د هر کلي په صالون کې څو تنه د مختلفو وضعیتونو په درلودلو سره بی هوشه وو ، په دوی کې حفیظ الله امین هم و ، خو د امین وضع ډیره خرابه وه او په سختۍ سره یې ساه اخیسته او کاملا بې هوشه و ، کله چې په هوش راغی د تیلفون گوشي یې را واخیسته مگر د تیلفون لین له کاره غورځیدلي و. د امین حرکات لا تر اوسه عادي نه وو. خو کله چې نوموړی متوجي شو یو څه مصیبت منځ ته راغلی نو هر څه عاجل باید یوه چاره ولټول شي. دا وخت د ماښام اوه بجې وي ، امین په بستره کې و حالت یې ښه نه وه ، وضع یې لړلړښه کېده چې دده د اوسیدو په ځای (تاج بیک په قصر) د مرمیو فیرونه شروع شو. د کې، جي ، بي ۳۳۳ نمبر قطعي نوموړي قصر په نښه کړ . خو د حفیظ الله امین د کورنۍ غړي نه پوهیدل چې حمله کوونکې څوک دي په دي اړه د حفیظ الله امین میرمن وایي : ((څو تنه ډاکتران را غلل امین ته یې دوا ور کړه ، سیروم یې تطبیق کړل تر څو زما د خاوند وضعیت لږلږ ښه شو . د ماښام اوه بجي وي چې زه له اطاق څخه خارج شوم او د قصر یو لوی دهلیز ته ورغلم ، هلته مي ناڅاپي د مرمۍ ډیر دروند اواز واوریده ، ژر هغې کوټي ته ورغلم چي امین هلته استراحت و. و مې لیدل چې امین له ځایه پورته شوی او له ما څخه یې پوښتنه وکړه څه وشول ؟ ما ورته وویل د مرمیو فیرونه دي .په همدې وخت کې په دیوالونو مرمۍ ولگیدلې د دې خبرو له اوریدو سره سم له ځایه اوچت شوه ، د هلیز ته ووت چې په دې مهال له څلور خواو څخه په ډیر شدت سره فیرونه شروع شول . د دې فیرونو له اوریدو سره ټول بیداره شول ، له دریم پوړ څخه دویم پوړ ته را ښکته شول له مونږ سره د ډاکتر صالح محمد زیري او ډاکتر شاه ولي میرمنې هم وې . ټول په دهلیز کې کښیناستو زما زوی عبدالرحمن ، د امین د کاکا زوی اوساتونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو د زينې په پاټکيو کې موضع ونيولې ما ورته وسله راوړه هغوی له قصر څخه بهر لورې ته ډزې کولې ، مونږ نه پوهيدو چې څوک فيرونه کوي ماله خپل ميړه امين څخه پوښتنه وکړه څوک دي چې فيرونه کوي ، هغه د ګارد قوماندان جانداد ته دستور ورکړ چې په احتياط سره دريم منزل ته ولاړ شي او وګوري چې چا حمله کړې ده ، کله چې جانداد بيرته را وګرځيد وي ويل : ماته ښکاري چې شورويان دي په دې وخت کې شورويانو د قصر مقاومت مات کړ ، قصر ته داخل شول د داخليدو سره يې سم د کوچنيانو او ښځو په لور فيرونه وکړل له شورويانو څخه يو تن سره چې د حفيظ الله امين عکس يې په لاس کې و او هغه يې په نښه کړي و. تر څو چې مونږ مهمات در لودل هيڅوک ونه توانيدل چې قصر ته داخل شي ، يو شمير شورويان ووژل شول ، دا چې مونږ اول نه پوهيدو چې شورويان دي . کله چې زمونږ مهمات خلاص شول هغوي قصر ته داخل او د داخليدو سره سم يې څلور خواو ته فيرونه وکړل د دوي د فيرونو په پايله کې زما لورګانې ، ملالۍ ، ګلالۍ ، او زما زوی خوازک په مرميو ولګيدل . په داسې حال کې چې له هغوی سره د امين عکس په لاس کې وه زما د لور غوټۍ خواته نږدې شول ، غوټۍ هغوی ته وويل چې ولې فيرونه کوئ امين صاحب دلته دی هغوي وويل امين چيرته ده په دې وخت کې متوجې شول چې امين هلته ناست دی ، پر هغه يې فيرونه وکړل ، هغه يې وواژه زما لورګانې او زامن زخمي شوي وو دوی وليدل چې څوک پاتې نه دي نورغلي شول . ([1]_ مخونه : ۲۸۸ _ ۲۸۹ )

په دې ترتيب د حفيظ الله امين دري مياشتې حکومت پای ته ورسيد او د ۱۳۵۷ ل کال د ثور له ۷ مې نيټې څخه د ۱۳۵۸ ل کال د جدي تر ۲ شپږمې نيټې پورې دا دويم جمهور رئيس و چې ووژل شو او شوروي د خپل يرغل پواسطه په يو مستقل هيواد کې يو مستقل حکومت له منځه يوړ.

د شوروي اتحاد لخوا د حفيظ الله امين له مينځه وړلو او د د دوی تر مينځ اختلاف په اړه محترم پوهنوال شاه ولي خان دا رنګه نظر لري :

(( حفيظ الله امين د کارمل منلو ته تيار نه و، حفيظ الله امين يو زيرکه او

---

[1] طنين ، ظاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان د قرن بستم مخونه : ۲۸۸ _ ۲۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

چالاکه انسان و چې د هري توطي مخنيوي کې يې مهارت درلود ، او په هغه راز باندي ډير ژر پوه شو چې نور محمد تره کی، او بريژنيف د ببرک کارمل د راتلو په اړه کومه پريکړه کړې وه ، امين ډير ژر د کېوبا سفير را وغوښت او غوښتنه يي ترينه وکړه چې دوستانو ( شوروي ) ته وواياست چې د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله ونکړي او هم يي د شوروي اتحاد سفير پوزانف يې را وغوښت او هغه ته يي هم يادونه وکړه چې شوروي اتحاد بايد زمونږ په کورنيو چارو کې مداخله ونکړي . د دواړو چې خبري دومره ترخي شوي چې امين سفير په مخ وواهه او له افغانستان څخه وويست بل پلوته امين غوښتل چي پاکستان او په ځانګړي ډول انجينر ګلبدين حکمتيار سره اړيکې ټينګي کړي. شوروي اتحاد دي پايلي ته ورسيد چې حفيظ الله امين د دوی غوښتني نه عملي کوي بالاخره ببرک کارمل يي د چکوسلواکيا څخه مسکو ته را وغوښت له محمد اسلم وطنجار ، اسدالله سروري ، سيد محمد ګلاب زوي يې د شوروي په مرسته له افغانستان څخه شوروي اتحاد ته بوتلل او هلته يي له کارمل سره يې کښينول او افغانستان باندې د يرغل لپاره سره يو شول . ( [1] ـ مرکه )

په دي ترتيب ۱۳۵۸ ل کال د جدي ۶ مه ـ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۲۷ مه د حفيظ الله وژلو سره سم د شوروي يرغل پيل او د حفيظ الله امين واکمنی ختمه شوه .

[1] ـ مرکه ، پوهنوال شاه ولي د ژبو او ادبياتو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱.۱۱ _ له شوروي سره د نور محمد تره کي او حفيظ الله امين اړيکې

د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د ۷ مې نیټې له بدلون وروسته د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ اړیکې د ځانګړې دوستۍ په بڼه ښودل کېدلې خو برعکس په دغو اړیکو کې ډېر کړکېچ موجود و . دغو اړیکو څو پړاوونه درلودل .
لومړی پړاو د ثور د ۷ مې نېټې له بدلون څخه د حفیظ الله امین تر لومړي وزیر کېدو پورې ، دویمه پړاو د نور محمد تره کي تر وژل کېدو پورې او دریم پړاو د حفیظ الله امین د واکمنۍ پورې بللي شو ، خو اصلي خبره دا وه چې شوروي اتحاد د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د اوومې نیټې د بدلون سره موافق نه و ، دلیل یې دا و چې افغانستان د سیوسیالستي انقلاب له پاره تیار نه و ، بله خبره دا وه چې د ۱۳۵۷ ل کال د اوومې نېټې بدلون په اساسي ډول د خلقیانو او په خاص ډول د حفیظ الله امین کار و ، نه د پرچمیانو ځکه پرچمیانو په دې بدلون کې هیڅ رول نه درلود ، خو شوروي اتحاد مجبور و چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند واکمني په رسمیت وپیژني او ډېره مرسته ور سره وکړي . شورویانو له خلقیانو څخه دواک په لومړیو ورځو کې دوه امتیازونه تر لاسه کړل ، یو یې پرچمیانو ته له خلقیانو سره برابر مقامونه تر لاسه کړل بل دا چې پوزانوف له نور محمد تره کي څخه د دغه وعده و اخستلو په اړه وویل چې افغانستان به د مارکیزم سیزم په پیروۍ د سوسیالیزم د ودانولو په لور روان وي . خو نور محمد تره کي وویل چې په دغې کرښې باندې باید په احتیاط سره تګ وشي ، ګوند به له دې موخو څخه خلک وروسته خبر کړي . افغانستان به په خپل باندني سیاست کې د ناپیلیو هیوادونو په لور روان وي . خو لومړۍ درجه همکاري به یې له شوروي اتحاد سره وي . ([1] _ مخ : ۳۸۱

دپرچمیانو له پاره دغه امتیاز ګټل سمدلاسه مهم و ، شوروي اتحاد د پرچمیانو مشران په ځانګړي ډول ببرک کارمل خپل منونکې پلویان ګڼل ځکه چې حکومت کې یې د هغوي شتون مهم ګانه . پوزانوف پرچمیانو ته اعتبار

[1] محمد حسن کاکړ ، د ثور کودتاه او د هغې پایلې مخ : ۳۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکاوه . او شووري مشرانو ته به يې ويل چې د ثور انقلاب د ببرک کارمل د نوښت زيږنده ده . خو د پرچميانو او خلقيانو تر منځ دا اختلاف بهرنيو هيوادونو ته د هغو د ليږلو اوبيا د پرچميانو له خوا د سفارتونو پر يښودلو په اړه شوروي اتحاد په رسمي ډول څه ونه ويل خو کله چې نور محمد تره کی مسکو ته تللی و ، شوروي جمهور رئيس بريژنيف د هغه سره حفيظ الله امين ته د زيات واک ور کولو په اړه خپل مخالفت وښود او له تره کی څخه يې وغوښتل د امين د واک د زياتوالي مخنيوی وکړي ، د دفاع وزارت بايد له هغه څخه واخلي کله چې امين (لومړي وزير) او د ملي دفاع وزير شو . شوروي د هغه سره په ظاهر کې دوستي کوله مگر په پټه يې هغه تخريبوه ، ځکه د شوروي د کمونست گوند سياسي بيرو د هرات له پاڅون وروسته د افغانستان د چارو د څارنې له پاره د کی ، جی ، بی د مشر اندروپوف ، بهرنيو چارو وزير اندري وگرومبکو ، د ملي دفاع وزير ديمتري اوستينوف او د مرکزي کميټې د بين المللي څانگې له امر بوريس پانوماريف څخه يو کميسون جوړ کړ . چې د افغانستان لپاره د شوروي اتحاد د سياسي کرښلاره جوړه کړي بيا د همدي کميسون په سپارښتنه دوه نظامي کميسونونه افغانستان ته را واستول شول . بريژنيف چې مخکې (۱۹۷۷ ز کال) څخه راپدې خوا يې د فعال کارکولو توان له لاسه ور کړي و . کميسون وکولي شو چې خپلي پريکړې پر هغه په آسانه و مني . ([1]_ مخ : ۳۸۲

په خلقي دوره کې د شوروي مشاورينو شمير په يقين سره معلوم نه دی د ۱۹۷۹ ز کال په مارچ کې د کوسيگين په وينا د مشاورينو شمير ۵۵۰ تنه و خو د تره کی او امين په واکمنيو کې د دوی شمير وار په وار دومره ډير شو ، چې د شوروي سفارت مجبور شو چې نوي څلور پوړيزه ودانۍ او اپارتمانونه جوړ کړل، د امريکا د استخباراتو په حواله د ثور د کودتاه په وخت کې ۳۵۰ نظامي مشاورين د افغانستان په پوځ کې وو ، چې د ۱۹۷۹ ز کال تر سپتمبر پوري د هغوی شمير ۲۵۰۰ دوه نيم زرو ته ورسيد . خو د ۱۹۷۹ ز کال په

[1] _ محمد حسن کاکړ ، د ثور کودتاه او د هغې ژوري پايلي مخ : ۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای کې په افغانستان کې ټول ټال ۵۵۰۰ پنځه نیم زره مشاورین په ملکي او نظامي ساحو کې کار کولو .[1]_ مخونه : ۳۸۸_۳۸۹

د شوروي مشاورینو غټه ستونزه دا وه چې د خپل حکومت په دستور د خپلو مسلکي کارونو تر څنګ دي سیاسي فعالیت هم وکړي دوی پخوا له دې چې افغانستان ته راشي ، په مسکو کې د مرکزي کمیټې د باندنیو اړیکو په څانګه کې د افغانستان د وضع د تحلیل په جریان کې به دوی ته ویل کېدل چې په افغانستان کې باید د پرچمیانو په ګټه کار وکړي او خلقیان دې د شوروي مخالفینو په څیر وپیژندل شي چې دې کار دوی له ستونزو سره مخ کول ځکه د ۱۹۷۸ زکال له اګست څخه وروسته په ګوند او دولت کې خلقیانو حاکمیت یو واقعیت وو او واقعیت بینو مشاورینو دا واقعیت له نظره نه شو غورزولی ، نو ځکه یو شمیر مشاورینو د خپل مشرتابه د هدایت پر ضد عمل کاوه ، د پرچمیانو پر ځای یې له خلقیانو څخه ملا تړ کاوه ، دلته مشاورین په دوه ډلو وویشل شول چې په مرکزي کمیټه او د ګوند په څانګو کې د خلقیانو ملګري په اګسا کې او په شوروي سفارت کې مشاورین د پرچمیانو ملګري وو ، خو امین د شوروي مشاورینو په جلبولو کې غټ لاس در لود هغه ډله چې د سایمونینکو په مشری له کودتا څخه درې اونې وروسته کابل ته ورسیده تر خپل اثر لاندې یې را وستل او د خلقیانو ملاتړ به یې کاوه .
[2]_ مخ ۳۸۹

شوروي مشاورینو په ټولو دولتي څانګو کې د جاسوسي دنده اجرا کوله چې په دوي کې افغانان هم شامل وو خو دوی په ځانګړې ډول په امنیتي برخه کې چې هویت یې خلقي دولت ته هم نه و معلوم خلقي دورې کې په استخباراتي برخه کې ډیر کار وکړ ، او حتي د امین حکومت د دې دواړو ( دشوروي افغانانې شوروي مشاورینو جاسوسانو ) د راپورنو په پایله کې له مینځه ولاړ . ځکه دوی د نورو مشاورینو راپورونه چې د خلقیانو په ګټه وو هغه یې بې ځایه ښودل لکه د واسیلي ، زیپلاینین او جنرال پاونوفسکي چې

[1]_ محمد حسن کاکړ ، د ثور کودتاه او د هغې پایلې مخونه : ۳۸۸_۳۸۹
[2]_ محمد حسن کاکړ ، د ثور کودتاه او هغې پایلې مخ : ۳۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوښښ يې کاوه چې د شوروي يرغل په بې ځايه ښودلو يې ټينګار کاوه چې خلقي دولت په ستونزو بريالی کېدلی شي ، شوروي اتحاد ته ښايي مرسته ور سره وکړي . خو شوروي هغه دخپل حکومت د سياست په مخکې يو خنډ ګڼلو چې د يرغل پر مهال د اندروپوف لخوا زاپلاتين شوروي اتحاد ته په ځانګړي الوتکه کې وغوښتل شو .[1]_مخ : ۳۹۲

د شوروي مشاورينو لوړ پوړو چارواکو او خلقيانو تر منځ د اختلاف او بې باورۍ په اړه غواړم د شوروي اتحاد د صدراعظم الکسي کاسيګن نظر را نقل کړم تر څو د لوستونکو د قناعت وړ و ګرځي . الکسي کاسيګن په دې اړه داسي نظر لري : (( ... غواړم د دي خبري يادونه وکړم . هر څه چې وي تره کی او امين دواړه له مونږ څخه د حالاتو ريښتيني څيره پټوله غواړي ، مونږ تر اوسه پورې له جزياتو څخه خبر نه يو ، چې په افغانستان کې څه تيريږي . د دي په هکله د هغوی نظر څه دی ؟ دوی خو بيخي له خوښۍ ډک انځور وړاندې کوي مګر مونږ او تاسي خو وينو چې په حقيقت کې هلته څه تيريږي ، دوی به ښه خلک وي خو ډير شيان زمونږ له سترګو پټول غواړي دا چې د دې کار دليل څه دي پوهيدل پري ګران دي . ))[2]_ مخ : ۳۴

د امين سره دشوروي د اختلاف زياتوالي پر افغانستان باندې شوروي د يرغل تدابير ونيول ، په دې اړه د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزير اندري ګروميکو داسې نظر لري : زما په فکر بايد افغانستان سره د مرستې په وخت کې يو عمده ټکی په پام کې ونيسو او هغه دا چې مونږ په هيڅ ډول نشو کولی چې افغانستان له لاسه ور کړو ، شپته کاله مونږ يو له بل سره په سوله او ښه ګاونديتوب کې ژوند کړي که اوس افغانستان له لاسه ووځي او دشوروي

---

[1] _محمد حسن کاکړ ، د ثور کودتاه او دهغي پايلي : ۴۰۷

[2] ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) سري لښکري په افغانستان کې ، ژباړن داود جنبش ، دانش خپرندويه ټولنه پيښور مخ : ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد له ځنګه لیري شي نو دا به زمونږ په سیاست باندې یو لوی ګوزار وي . )) [3] ـ خ ۲۹

شوروي چارواکو د همدي دلایلو له مخې د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي په ۶ مه د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر په ۲۷ مه پر افغانستان یرغل وکړ .

---

[3] ـ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) سري لښکري په افغانستان کې ، ژباړن داود جنبش ، دانش خپرندویه ټولنه پیښور مخ : ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲.۱۱ ـ دحفیظ الله امین ژوند او تیروتینې

ژوند لیک :

حفیظ الله امین د حبیب الله خان زوی د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ د قاضي خیلو په قریه کې زیږیدلی دی . د ده د زو کړې نیټه په انټرنیټي سایت کې د نصیراحمد حسین زاده له خوا ۱۳۰۰ لمریز کال ښودلي شوي ده محمد اقا شیرزاد په خپل اثر د افغانستان او سیاسي خوځښتونو کې د ده دزوکړې نیټه ۱۹۲۹ ز کال ښودلي ده . خو پوهاند محمد حسن کاکړ په خپل علمي تاریخي اثر کې د ثور کودتاه او د هغې پایلې کې لیکلي چې حفیظ الله امین د واکمنۍ پر مهال ( ۵۰ ) پنځوس کلن و . که چیري د محترم حسن کاکړ لیکنه اساس ونیسو نو دحفیظ الله زوکړه د ۱۳۰۸ لمریز کال سره سمون لري .[1]

نوموړی په قوم پښتون خروټی و لومړنۍ زده کړې یې په پغمان کې بشپړې کړې . د بکلوریا دوري زده کړې یې د ابن سینا په لیسه کې سرته ورسولې ، وروسته د کابل پوهنتون له ساینس پوهنځي څخه یې د لیسانس سند تر لاسه کړ چې له فراغت وروسته د ابن سینا په لیسه کې د ښوونکي په توگه مقرر شو خو لږه موده وروسته په ۱۳۳۴ ل دهمدې لیسې د مدیر په حیث مقرر شو ، حفیظ الله امین د خپل استعداد په اساس امریکا متحده ایالاتو ته د ماسترۍ د سند ترلاسه کولو لپاره ولاړ ، هلته یې د کولمبیا په پوهنتون کې زده کړې پای ته ورسولې ، دویم ځل د ډاکترۍ د زده کړې بشپړولو لپاره بیا د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ خو دا ځل د یو کال تیریدو وروسته د مختلفو عواملو په اساس بیرته هیواد ته راغي او د ډاکترۍ سند په اخیستلو بریالی نه شو خو د همدې زده کړو له امله د شوروي اتحاد د ځینو چارواکو او پرچمیانو له خوا د C,I,A سی ، آی ، ای د اجنټ په تور تورن شو .

حفیظ الله امین د افغانستان دخلق دیموکراتیک گوند د غړیتوب له حاصلولو څخه لږه موده وروسته د ببرک کارمل سره سخت مخالف شوه ،

---

1

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی د ځانګړي استعداد له امله د نور محمد تره کی د اعتماد وړ وګرځید . چې د ۱۳۵۷ لمریز کال د بدلون قومانده هم ده صادره کړه او د خپلي ترتیب شوي نقشي او پلان پواسطه وتوانیده چې دا بدلون عملي او د داود خان واکمنی ته سقوط ورکړي . د۱۳۵۷ لمریز کال له بدلون وروسته په ډیرې زیرکی او چالاکی سره یې ګوند او دولتي حساس مقامونو ترلاسه کړل او ډیرو ګوندي او دولتي مقامونو کې یې خپل خاص ملګري مقرر کړل . پرچمیان یې په ډیر مهارت له ځوکېو لیري او له هیواده بهر په نورو هیوادونو کې د سفیرانو په توګه مقرر کړل . شوروي اتحاد سره یې هم د یو مستقل واکمن په توګه برخورد کاوه ، شوروي اتحاد کوښښ کاوه چې پرچمیان د ده په ژوند کې د ده په لیري کېدو د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت په دولتي مقامونو کې شریک کړي خو ونه توانیدل او دي کار د امین په ژوند کې هیڅ امکان نه درلود چې پرچمیان دي واک ترلاسه کړي . همدا علت و چې شوروي د ده د وژلو لپاره اقدامات پیل کړل او د ۱۳۵۸ ل کال د جدی په ۲ مه ۱۹۷۹ز کال د ډسمبر په ۲۷ مه نیټه په دې هیواد یې یرغل وکړ هغه هم په داسې حال کې چې امین یې لومړی بې هوشه کړ او بیا یې خپل پوځي عملیات پیل کړل ، که چیري امین په عادي حالت کې وای د شورویانو عملیات ناشوني وو په همدې اساس نوموړی یې په یاده نیټه ووژه او ببرک کارمل یې واک ته ور ساوه .

۱۱. ۳ ـ تیروتیني :

ـ واک ته د رسیدو پر مهال د بندیانو او وژل شویو کسانو لست خوړندول چې دا کار د ده د محبوبیت پر ځای په خلکو د ده پر ضد کرکه زیاته کړه ځکه خلکو ( امین ) په دي وژنو او نیولو کې شریک ګاڼه .

ـ دي د شوروي اتحاد د کی ، جی ، بی سازمان په پټو توطئو نه پوهیدل . حتی د مرګ تر شپو پورې نوموړی د شوروي د راتګ په موخه پوه نشو . د یرغل په شپه نه پوهیده چې دا د چا کار دی . د روسي اشپز استخدامول چې بالاخره د هغه پواسطه ده او د ده ملګرو ته یې په سوپ یا آش کې زهري مواد واچول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د نور محمد تره کی وژل چې د هغه د مړيني په وجه د خلق جناح ډيره ضعيفه شوه په تيره د هغه دملګرو تعقيب او تهديد چې په دي جناح کې يې زيات ملګري او طرفداران لرل.

ـ د اتسخباراتي دستګاه (کام) ضعيفه فعاليت ته پاملرنه نه کول چې هغوي د افغانستان په داخل کې د کی، جی، بی توطيي کشف نه کړاي شوې.

ـ د بريژنيف په غوښتنه د پاکستان د بهرنيو چارو د وزير د سفر ځنډول.

ـ د هيڅ يو سياسي ګروپ سره سازش نه کول.

دا ټولې تيروتنې وې چې د ده په مشرۍ د رژيم د ړنګولو اسباب يې برابر کړل.

بزرگترین درسی که در زنده گی گرفتم این بود که هیچ کشوری نمی تواند په اتکای نیروی خارجی به ازادی ،استقلال و پیشرفت دست یابد . باید به اراده مردم احترام گذاشت و از استقلال کشور دفاع کرد . هر ملتی باید روی پای خود بایستد ببرک کارمل 1. ( ویب پاڼه ) ۱۳۷۴ ل کال

## ۱۲_پر افغانستان د شوروي یرغل او د ببرک کارمل واک ته رسیدل

## ۱۳۵۸ ل کال جدي ۶مه_ ۱۳۶۷ ل کال د دلـــوي ۲۶ مه

## ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۲۷ مه _ ۱۹۸۹ ز کال د فبروري ۱۵مه

1

د یرغل پوځي موخې :

پر افغانستان د شوروي اتحاد د پوځي یرغل موخو په اړه ژورس مددوف په خپل کتاب (( گربا چوف وقضیه تجاوز روسها به افغانستان )) کې داسې لیکلي دي : بریژنف په دې عقیده و چې د شوروي سور پوځ به په دې وتوانیږي چې په دوه ورځو کې د مجاهدینو کار یو طرفه کړي . دوی گومان کاوه چې د شوروي پوځونه به بریالی شي چې د کابل او د افغانستان په نورو ښارونو او دهغو داخلي لارو امنیت ټینګ کړي چې شوروي اتحاد سره وصلیږي . دوی په ۱۹۶۹ ز کال کې د ا تجربه په چکوسلواکیا کې عملي کړې وه . خو پر افغانستان باندي د شوروي د ۱۳۵۸ ل کال لښکر کشي د شوروي په معاصر تاریخ کې په یوې اوږدې بار تیزانی جګړي بدله شوه . [2] _ مخ : ۱۲۲

---

*_ نوټ : دغه پورته وینا ببرک کارمل د بی بی سی د فارسي برخي خبریال له مصطفی دانش سره په ۱۹۹۵ ز کال کې د شوروي اتحاد د یرغل پنځه ویشتم تسیلن دي سره سمون درلود دا هغه وخت چې کارمل د حیراتانو په بندر کې اوسیده . وروسته د فارسي برخي ویب سایت نشر شوي ده

[1] _ http // Pashto .ru/ 2014 . 02. 15// 128767881

[2] دانشیار ، امیر اعتماد ( ۱۳۷۱ هـ ش ) جنگ افغانستان و شوروي عامل فروپاشي جهانی کمونیستم . جلد اول مرکز تحقیقاتی انقلاب اسلامي افغانستان ، موسسه انتشارات بهبیه مخ : ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

یلسین چې کله په ۱۹۸۹ ز کال د لنینگر او د ښار دخلکو له خوا د مشر په توگه وټاکل شو د پورته موضوع په اړه داسې نظر لري: افغانستان ته د پوځونو لیږل دڅلور کسانو تصمیم او پریکړه وه چې دغه څلور کسانو عبارت دي له ، بریژنف ، گرومیکو بهرنیو چارو وزیر، اوسنیتنوف دفاع وزیر او سوسلوف د گوند د بهرنیو اړیکو مسئول. [1] _ مخ : ۱۲۲

د شوروي پوځونو یرغل په اړه بریژنف داسې نظر لري: د افغانستان رهبري له شوروي اتحاد څخه د مرستي غوښتنه وکړه تر څو د انقلاب ضد پرې سرکوب کړي او دغه مرسته د ۱۹۷۸ ز کال د دوستۍ تړون له مخې شوې ده. ([2] مخ:۱۲۳)

یان دار بی شاره په خپل کتاب ،(تحولات سیاسي در شوروي) کې لیکلي : شورویانو د بریژنیف د دکترین د عملي کېدو په بهانه پر افغانستان یرغل وکړ، دهغه دکترین مطابق شوروي اتحاد باید چې افغانستان کې د هغه حکومت چې د ۱۹۷۸ ز کال له کودتاه وروسته منځ ته راغلی دفاع او ملاتړ وشي تر څو په واک کې پاتې شي. او بل هدف یي گرمو اوبو ته ځان رسول وو. [3] _ مخ : ۱۲۳

هغه مختلف عوامل چې د شوروي اتحاد د ستراتیژیکو موخود عملي کېدو او پر افغانستان باندي د یرغل باعث شوځیني یې په لاندې ډول دي.

۱ _ د افغانستان د جغرافیایي موقعیت اهمیت چې دغه سیمه په مرکزي اسیا باندي حاکمه او د هند سمندر ته د رسیدو لپاره د وروستیو یرغلونو لپاره مناسبه ده.

۲ _ د شوروي د امنیتي کمربند او ساتنې له پاره د گاونډیو هیوادونو تر کنترول لاندې را وستل د شوروي د نفوذ او حتی اشغال پواسطه.

---

[1] _ دانشیار، امیر اعتماد ( ۱۳۷۱ هـ ش) جنگ افغانستان و شوروي عامل فروپاشي جهاني کمونیستم. جلد اول مرکز تحقیقاتی انقلاب اسلامي افغانستان ، موسسه انتشارات بهبیه مخ : ۱۲۲

[2] _ دانشیار، امیر اعتماد ، جنگ افغانستان و شوروي مخ : ۱۲۳

[3] دانشیار، امیر اعتماد ، جنگ افغانسان و شوروي مخ ۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ـ په افغانستان باندې تسلط به وکولي شي چې د شوروي ځينې اقتصادي اړتياوې پوره کړي .

۴ ـ د افغانستان بدلول په يو کمونستي هيواد باندې څو په نړيواله کچه ن دسيوسيالستي کولو هدف ته ورسيږي .

۵ ـ د اسلامي نهضت ټکول او ضعيفه کول تر څو د شوروي په گاونډ افغانستان کې د شوروي ضد اسلامي دولت جوړ نشي .

۶ ـ په نړيوال دوه قطبي سيستم کې د نړيوال قدرت په توگه د خپل قدرت د ښودلو په موخه .

۷ ـ شوروي په خپل بريـاليتوب بـاوري و ځکه پـه ۱۹۶۹ ز کـال پـه چکوسلواکيا کې د شوروي پوځ بريالی شوی و .

۸ ـ په ايران کې د شاهي رژيم سقوط او د اسلامي انقلاب بريـاليتوب د شوروي ضد دولت منځ ته راتگ او پر افغانستان باندې يې اغيزه دوی وارخطا کړل . (۱[1] ـ مخونه : ۱۲۴ ـ ۱۲۵

د يرغل پيل :

افغانستان په ۱۹۱۹ ز کال د فبروری په ۲۸ مه له انگليسانو څخه ازادي واخسته ، شوروي اتحاد د مارچ په ۲۷ مه د افغانستان استقلال په رسميت وپيژانده . او افغانستان سره يې د ۵۰۰ ميلو ټوپکو او څو الوتکو بلاعوضه مرسته وکړه . د ۱۹۲۱ ز کال فبروری کې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ تړون لاس ليک شو . په ۱۹۲۴ او ۱۹۲۷ ز کالونو کې د کابل قندهار او کابل مزار شريف تر منځ لارې جوړې شوي ، په ۱۹۷۸ ز کال کې د ثور له بدلون وروسته دغه اړيکې نوې مرحلې ته داخلې . او په نظامي برخه کې په ځانگړې ډول دمشاورينو د راليږلو په اړه يو تړون لاس ليک شو . د ۱۹۷۸کال په ډسمبر کې د دواړو هيوادونو تر منځ د متقابلې مرستې او ښه گاونډيتوب تړون لاس ليک شو ، چې شوروي اتحاد د ۱۹۷۹ ز کال له يرغل وروسته نومړی

---

[1] ـ دانشيار ، امير اعتماد ، جنگ افغانستان و شوروي مخونه : ۱۲۴ ـ ۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړون د سند په توګه یاداوه چې د شوروي اتحاد رهبري د یرغل پریکړه وکړه او افغانستان ته یې خپل پوځونه راولیږل. (1[1] ـ ج)

د امین پرضد د شوروي یرغل پر حسد او غرض باندي ولاړ و ځکه د هغوی د سفیر شړل، د شینډنډ د هوایي اډې له مطلقې سپارنې څخه ډډه، د پرچمي مشرانو د شړلو او تبعیدولو، د تره کي وژنه اوځان دمسکو د یو سړي په حیث د نه را وستلو په خاطر.... بل پلو ته شورویان په دې فکر کې وو چې صرف د تره کي پر ځای د امین را وستل او یا هم دخلق د ډلې پر ځای د پرچم ډلې راوستل به ستونزه حل کړي. [2] ـ مخونه: ۲۹۴ ـ ۲۹۴)

د شوروي اتحاد مشر تابه مخکې داسي پلان درلود چې داود خان د له مینځه تلو وروسته خپل نږدې ملګری او کی، جی، بی ته وفادار ببرک کارمل واک ته ورسوي خو د میر اکبر خیبر د جنازې مراسمو داود خان بې حوصلې کړ او د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند درهبری غړي یې بندیان کړل، پوځي پاڅون په پایله کې د داودخان رژیم له مینځه ولاړ. نور محمد تره کي واک ته ورسید خو د شوروي استخباراتي دستګاه (کی، جی، بی) هڅه کوله چې واک له خلقیانو څخه پرچمیانو ته ولیږدوي، دوی هڅه کوله چې دا کار په لومړي قدم کې د دسیسو له لارې عملي کړي او دا دسیسي روانې وې تر څو په افغانستان کې دوی خپل پوځي موجودیت ته لاره هواره کړي او د تزاري روسي پخواني خوبونو ته د عمل جامه واغوندي او ګرمو اوبو ته د رسیدو په لار کې مهم ستراتیژیک هیواد افغانستان ونیسي. [3] ـ مخونه: ۱۴۸ ـ ۱۴۹)

---

[1] بګدا انوف ـ اي (۱۳۸۲ هـ ش) جنګهای افغانستان از ۱۹۷۹ ـ ۱۹۸۹ مترجم سلطان محمود عزیز پینجشري، بنګاه انتشارات میوند، کابل افغانستان مخ: ج

[2] ـ مصداق، نبی (۱۳۸۹ هـ ش) د افغانستان د سیاسي کمزوري او بهرنی مداخله مترجم ډاکتر نثار احمد صمد، علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار، افغانستان مخونه: ۲۹۳ ـ ۲۹۴

[3] ـ وزیر اقبال (۱۳۸۲ل) د ثور پاڅون د کی، جی، بی دسیسي او شوروي یرغل، د پښتونخوا د پوهي دیره، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه مخونه: ۱۴۸ـ۱۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۷ لمريز کال د ثور د اوومې نيټې له بدلون وروسته ډير ژر د شوروي اتحاد مشرتابه د افغانستان له نويو مشرانو څخه وغوښتل چې د افغانستان او مسکو ترمينځ د مستقيمو اړيکو ټينګولو په خاطر دمخابرې دستګاه افغانستان کې نصب کړي چې د هغې سره به يو بلوک شوروي سرتيري ملګري وي. د افغانستان مشرانو دا غوښتنه ومنله، د مخابرې نوموړې دستګاه يې په عسکري کلوپ کې ځای پر ځای کړه. په دې ترتيب د شوروي اتحاد د سرو لښکرو يو ټولګی زمونږ په پاکه او سپيڅلې خاوره کې ميشت شو، خو دا کړنې په سر کې د مرستې په خاطر وې نه د رژيم د له مينځه وړلو. په غرض ځکه د بګرام په هوايي ډګر کې د پراشوت يو کنډک هم د مرستې په خاطر ځای پر ځای شو. تر څو د افغانستان له هوايي ځواک سره مرسته وکړي. خو د تره کی او امين د واکمنۍ پر مهال دغه کنډک د اندوروپوف د لارښوونې سره سم کومه مرسته ونکړه، مګر د ۱۳۵۸ لمريز کال د جدي په ۷ نيټه د حفيظ الله امين د رژيم په سقوط کې يې د خپلو قوتونو سره مرسته وکړه، دتره کی او حفيظ الله حکومتونو ته دميک ۲۴ او ميک ۲۵ ډوله الوتکو ورکړه هم د ځينو اړينوپرزو د برابرولو په بهانه وځنډيده. دمشاورينو د مشورې په اساس تره کی او امين د نورو طيارو غوښتنه وکړه، يو څه طيارې ورکړل شوې خو د افغاني پيلوټانو د نه شتون له امله، شوروي پيلوټانو الوتنې کولې په دې ترتيب شورويانو خپل پوځي شتون پر لپسې زياتوه تر څو د خلقيانو پر ضد کودتاه کې ور څخه ګټه واخلي.[1] ـ مخ: ۱۵۰

شوروي اتحاد د تره کی په ځير دامين د تير ايستلو په خاطر هغه مسلمان کنډک چې په تاشکند کې وه راوليږه، دا د شوروي لپاره يو چانس و چې د امين پر ضد يې بيا ترې ګټه واخسته چې د زنيت په نوم يو ځانګړې قطعې د مسلمان کنډک څخه په دارلامان کې د امين د رژيم په سقوط کې خو ځنده ونډه درلوده ځکه شوروي اتحاد د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر د شپاړسمي نيټې له

---

[1] اقبال وزري ( ۱۳۸۲ ل ) کال د ثور پاڅون کی، جی، بی، دسيسي او شوروي اتحاد يرغل مخ: ۱۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکامي÷ دسیسي وروسته په دي پوه شول چې پرچمیان په افغانستان او په خاصه توګه په وسله وال پوځ کې هیڅ نفوذ نه لري او هغه پوځونه چې دوی په بیلا بیلو پلمو را استولي دي د حفیظ الله امین د رژیم د سقوط لپاره بسنه نه کوي . له همدي کبله شوروي مشرتابه د یو سلو شلو زرو شوروي پوځیانو د یرغل او افغانستان ته د داخلیدلو لپاره د شرایطو د برابرولو کوښښ پیل کړ ، دې موخې ته د رسیدو لپاره اندروپوف په کابل کې خپل ځانګړي استازي جنرال ایوانوف ته دنده وسپارله چې افغاني چارواکو په ځانګړي ډول امین ته ووایي چې د کی ، جی ، بی د معلوماتو له مخې د پاکستان وسله وال پوځ پلان لري چې په نورستان برید وکړي او هغه ونیسي بل طرف ته اندرپوف د بریژنف دغو لولو په غرض د ایوانوف په وسیله هغه ته د پاکستان له خوا د کابل د نیولو راپور ورکړ ، هغه په راپور کې وویل چې مجاهدین به په نورستان کې موقتي حکومت اعلان کړي ، امریکا ، سعودي عربستان ، پاکستان ، چین او نور لویدیځ هیوادونه به یې سمدلاسه په رسمیت وپیژني دا موضوع جدي ده او کیدای شي د دریمي نړیوالي جګړي د پیل ټکی شي .[1]
_ مخونه : ۱۵۲ _ ۱۵۳

د دې پورته پېښې د مخنیوي په خاطر باید له مرکز او ننګرهار څخه پوځي قطعات نورستان او بدخشان کې پوځي عملیات تر سره کړي که چیرې مرکز کې د قوتونو خلا ایجاد شي ، شوروي به درې کنډکه عسکر بالاحصار ، بامیانو او ګلیه ګي کې ځای پر ځای کړي . امین پرته له دې چې خپلو ګوندي او دولتي ملګرو سره مشوره وکړي دا پورته طرحه یې قبوله کړه خو دا موضوع یې د ۱۳۵۸ ل کال د جدي په پنځه نیټه یعني له یرغل څخه یو ورځ مخکې دسیاسي بیرود له غونډې وروسته هغه وخت یاده کړه چې د ډوډۍ خوړلو خونې ته د ناشتې د خوړلو لپاره د سیاسي بیرو غړي ننوتل ، امین وویل په

---

÷ په دي نیټه ( ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۱۲ مه شوروي اتحاد د کارمل او یو څو تنه نور پرچمیانو د خپلو تیارو وسیلو بګرام ته راوستل چې کودتاه وکړي خو امین پدي خبر شو . دوي ژر بیرته شوروي لورته پرواز وکړ .

[1] اقبال وزیري کی ، جی ، بی توطیه مخونه : ۱۵۳ _ ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې سیوسیالیزم جوړیدل تضمین شو او دا هغه وخت و چې شوروي پوځونه د الوتکو په ذریعه د خواجه رواش هوایي ډګر ته په راتلو پیل کړی وو ، خو د هغو دري کنډکونو له جملې څخه هغه کنډک چې په بالاحصار کې باید ځای پر ځای شوی وایی د الوتکو په ذریعه د خواجه رواش په هوایي ډګر کې ځای پر ځای شو. هغه کنډک چې باید بامیانو کې ځای پر ځای شوی وای هغه د بګرام هوایي ډګر کې او هغه کنډک چې د کبله ګې په دښته کې ښایې ځای پر ځای شوي وایي د ځمکې له لاري یعني د حیرتانو د بندر له لاري را ولیږل شو. خو حفیظ الله امین بیا هم د دی دري کنډکونو په راتګ باندي خفه و ، ځکه ده وویل چې دا کار د ثور د انقلاب ملي ارزښت کموي ، امین زیاته کړه چې شورویانو ته مي ویلي دي چې د دغو دریو کنډکونو عسکر باید پټ وساتل شي چې افغانان یي ونه ویني که نه نیمایي افغانان به هیواد پریږدي د ده په وینا شورویانو دا منلي ده هغه وخت چې افغاني قطعات له عملیاتو بیرته راستانه شي د دوی دا دري کنډکونه به سمدلاسه شوروي اتحاد ته استول کېږي. ( [1]_ مخونه : ۱۵۳ _ ۱۵۴

شوروي اتحاد خپلو ۱۲۰۰۰۰ یوسلو شول زرونو پوځیانو د راننوتلو توطیه او یرغل د دوستۍ او مرستي په نوم په ښه توګه پلي کړه ، خواجه رواش او بګرام هوایي ډګرونو ته یې د یو کنډک پر ځای یوه یوه فرقه را نقل کړه . د امود سیند پرسر د استحکام په ذریعه یې موقتي پل جوړ کړ . او له دې لارې څخه یې د یو کنډک پر ځای زیات پوځونه د افغانستان شمال ته ننیستل چې بیا د سالنګ له لارې کابل ، غزنۍ ، پکتیا او ننګرهار ته یې ولیږل او هلته یي ځای پر ځای کړل ، برسیر پر دې له ترکمنستان څخه یې د تور غونډۍ له لارې زیات پوځونه د هرات او کندهار په لورې واستول چې د هرات ، شینډنډ او کندهار هوایي ډګرونو کې ځای پر ځای کړل. د ۱۳۵۸ ز کال د جدي په شپږمه هغه پوځونه چې د خواجه رواش او بګرام هوایي ډګرونو ته رالیږل شوي وو . د امین د رژیم په راپرزولو کې یې ونډه واخېسته . په دې

[1] _ اقبال وزیري ( کې ، جی ، بی ) بی توطي مخونه : ۱۵۳ _ ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتيب کی ، جی ، بی د دوستي تر پردې لاندې پر افغانستان یرغل وکړ . [1] _ مخ : **۲۵۵**

په دې اړه اقبال *وزيري وايي (( هیڅوک پر دې نه پوهیدل چې شوروي به دافغانانو سره دومره ستر خیانت وکړي هیڅا د شوروي د یرغل اټکل نشو کولی . له دې کبله زمونږ ملګرو اوپوځي قطعاتو د شوروي د یرغل په وړاندې هیڅ تیاری نه در لود په داسې وخت کې مقاومت یوازې د بې ځایه تلفاتو بله نتیجه نه درلوده زمونږ په نظر د عقبنشینی وخت و . [2] مخ : ۱۲۲

عبدالوکیل* د شوروي له یرغل دوه ورځې وروسته په داسې حال کې چې د شورویانو سره یو ځای ګرځیده د افغانستان د راډیو په تالار کې هغو وزیرانو او لوړ پوړو ګوندي چاروا کو ته چې د حفیظ الله امین سره د ملګرتوب په تور بندیان وو داسې وویل : د حفیظ الله امین په واکمنی کې مخالفین موجود نه وو هغه مونږ وو چې یو ځای او بل ځای به مو ډزې کولی ، خلک موتحریکول چې د امین په مقابل کې پورته شي . ، مونږ به خپل سرحدونه په اغزن سیم بدل کړو ، هغه وخت چې سیوسیالیزم جوړ کړو بیا که تاسې ژوندي واست ټول به له زندان څخه را وباسو . .)) [3] _ مخ ۱۲۷

همدارنګه د شوروي د یرغل په اړه محمد اسلم وطنجار او اسدالله سروري دواړه د جلا جلا نظرونه لري دوي وايي : چې شوروي مشرانو په افغانستان باندې د وسله وال یرغل له کبله وړاندوینه کړې وه چې د دې تیري په وړاندې به ټول خلک پاڅون وکړي ، یو میلون افغانانو ته به د سر زیان

---

[1] اقبال وزیر ي ( کې ، جی ، بی ) بی توطي مخونه : _ **۲۵۵**

* اقبال وزیر د حفیظ الله امین په واکمنی دپوځ د سیاسي چار رئیس ، او زده کړې یې په شوروي اتحاد کې سرته رسولي دي .

[2] اقبال وزيري ، د ثور وسله وال پاڅون ، کی ، جی ، بی توطیي مخ : ۱۲۲

* د کارمل دترور زوي و چې بیا د کارمل په واکمنی د بهرنیو چارو ویزر نوموړي د پرچم جناح غړي و

[3] اقبال وزيري ، د ثور وسله وال پاڅون ، کی ، جی ، بی توطیي مخ : ۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوړي او اسد الله سروري وايي چې بريژنف تصميم درلوده چې د پښتنو غروربايد مات شي.[1] ـ مخ : ۱۲۸

د شوروي اتحاد يرغلگرو پوځونو د حفيظ الله امين له وژنې وروسته د خپل ډاړ د حاصلو لپاره اسدالله سروري او سيد محمد گلاب زوی را وستل چې مړي وگوري چې د امړي په خپله امين دی او که نه؟ سروري او گلاب زوی تائيد کړه چې دا مړی د امين دی. د کی، جی، بی يرغلگرو د امين مړی د يو لاس څخه ونيو او د ماڼۍ په دهليز کې يې کش کړ تر څو دا مين لاس وخوت، په اخر کې يې د امين مړی د کی، جی، بی مسلمان کنډک يو افسر چې انور ستار وو پيچ ستاروف نوميده د ښخولو لپاره وسپارل. انور ستاروف د حفيظ الله امين مړی په بی، ام، پي * ماشين کې واچوه، د دارلا امان د غره لمن کې يې د امين د ښخولو لپاره کنده وکېندله، موظف جنرال له ليرې څخه دا جريان په دوربين کې څاره او د مخابرې په ذريعه يې لارښوونه ورته کوله، البته مخکې شورويانو پلان درلود چې د امين مړی کندې ته وغورځوي. بنزين ور باندې تويی کړي او بيا اور ور واچوي، خو له دې څخه وويريدل چې توره شپه ده که څوک د اور لمبې ووينې په بې خبرۍ کې به د خپلو پوځونو له خوا ور باندې ډزې وشي. بيا يې د امين مړی په کېندل شوې کنده کې واچوه، تيږې او خاورې يې ور باندې واړولې او د پاسه يې ور باندې بم وغورځاوه چې د وجود ټوټې يې دخاورو او تيږو د کوچنيو ټوټو سره يو ځای انفجار وکړ. د بم له چاودنې وروسته يې بيا خاورې ور باندې هوارې کړې او غټه تيگه يې ور باندې و دروله چې د انسان نيمايي قد په اندازه يې لوړوالی درلود. له دې وروسته انور ستارويچ د خپلو عسکرو سره بی، ام، پی ماشين ته وخوت او په ماڼۍ کې يې جنرال ته د خپلې دندې د پلې کولو را پور ورکړ. د امين دوه زامن يې د دارلا امان ماڼۍ سره نږدې

---

[1] اقبال وزيري، د ثور وسله وال پاڅون، کی، جی، بی توطيي مخ : ۱۲۸

* بی، ام، پی يو چين داره ټانک و چې په ماشين محاربوي مشهور و چې واړه چينونه يې لرل البته په شوروي پوځ دري ډوله ټانکونه وه. ۱ ـ زرهپوش، ۲ ـ زرهدار يا غول ييکپر او ماشين محاربوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبښ کړل . د حفیظ الله امین ساتونکو او افسرانو په ماڼۍ کې د شوروي افسرانو له خوا د روسي ژبي په استعمال سره فکر کاوه . چې دوستان مرستې ته راغلي دي له مقاومت څخه يي لاس واخست دوی هغوی بندیان او څو ورځي وروسته يي تول ووژل . [1]_ مخونه : ۱۷۱_ ۱۷۲

شوروي خپل پوځونه د دوستۍ او مرستې په بهانه افغانستان ته راولیږل او خپل ناولې او کرغیړن یرغل يې پیل کړ، چې د دغي پروسي رهبري او په افغانستان کې د شوروي پوځونو اداره د شوروي اتحاد د کمونست دسیاسي بیرو غړو اود دولتي لوړ پوړو چارواکو څخه د لاندي با صلاحیته کمیسون پواسطه کېدلي .

۱ _ اندروپوف د کی* ، جی ، بی مشر د کمیسون د رئیس په توګه .

۲ _ اوستینوف د دفاع وزیر د غړي په توګه .

۳ _ اندری ګرومیکو د بهرنیو چارو وزیر د غړي په توګه .

۴ _ پاناماریوف د ګوند دسیاسي بیرو د بهرنیو اړیکو مسول د غړي په توګه

پورته کېمسون چې د کی ، جی ، بی د مشر بهرنیو چارو وزیر ، د فاع وزیر او د کمونست ګوند د باندنیو اړیکو له مسول څخه جوړ وو د یرغل او پوځي عملیات د افغانستان اداري او ګوندي چارې د دوی په لارښوونه سرته رسیدلې . [1]_ مخ : ۱۷۲

---

[1] _ اقبال وزیري د ثور وسله وال پاڅون . کی ، جی . بی توطیه مخونه ۱۷۱ _ ۱۷۲

* کی ، جی ، بی . د شوروي اتحاد د دولتي مسطونیت ( استخباراتي ) سازمان وه .

[1] اقبال وزیر ، د ثور وسله وال پاڅون د کی ،جی ، بی توطیه مخ : ۱۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱۲ .۱ ـ د ببرک کارمل واکمني

۱۳۵۸ ل د جدي ۶ مه ـ ۱۳۶۵ ل کال د قوس ۲۹ مه

۱۹۷۹ ډسمبر ۲۷ مه ـ ۱۹۸۶ ز کال د نوامبر ۲۰ مه

د افغانستان غرنيز او کوچنی هيواد د خپل جغرافيايي موقعيت له امله د تاريخ په اوږدو کې دنړۍ د استعماري هيوادونو پام ځان ته اړولی ، د نړۍ ډيرو استعماري هيوادونو زمونږ په هيواد يرغل کړی . خو دويار ځای دا دی چې د افغانستان قهرمان ملت د پرديو يرغلونو په مقابل کې مقاومت کړی . د خپلې قربانۍ په وجه يي د نړۍ لوی استعماري هيوادونه د هغوی لاس پو ځو سره يو ځای په خپل هدف يې ناکام کړی . ددې هيواد سرحد ونه دروس او انگليس د تم کېدو ځای و خو اوس د معاصر تاريخ په دې حساسه مرحله کې هم افغانستان خپل تير اهميت ساتلی او د شوروي او امريکا پام يې ځانته اړولی دی .[1]ـ مخ : ۲۲

کله چې ببرک [د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر په ۲۷ مه د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي په ۶ مه ]د شوروي اتحاد د مستقيم يرغل په پايله کې واک ته ورسيد لومړۍ بيانيه يي د تاشکند له راډيو څخه د افغانستان د راډيو په فريکونسۍ خپره کړه ، ده په خپله وينا کې وويل : (( زه ببرک کارمل د امين د فاشيتي رژيم د سقوط دا د امريکا د امپرياليسم جاسوس ، ديکتاتور او بې ساری عوام فريب مړينه تاسې د افغانستان مسلمان ځپل شويو ، زجر ليدونکو هيوادوالو ته چې تر اوسه پورې د دې جلاد حفيظ الله امين او امينان د له مينځه تللو په خاطر په تاسې باندې درود او شادباش وايم . ))[2]ـ مخ : ۲۹۳

ببرک کارمل کابل ته له رسيدو سره سم يو اوه پنځوس کسيزه انقلابۍ شورا اوشل کسيزه کابينه اعلان کړه . ده خپل ځان جمهور رئيس د وسله وال پوځ د علی قوماندان د انقلابۍ شورا رئيس او دخلق ديموکراتيک گوند

---

[1] محمد داود ، عابدي (۱۳۸۴) افغانستان و عملکرد هاي استعمار اداره نشراتي و تحقيقاتي قلم ، پيبنور گل حاجي پلازا مخ : ۲۲

[2] طنين ، ظاهر ( ۱۳۸۴ ) افغانستان در قرن بيستم ، محمد ابراهيم شريفي افغانستان تهران ، ايران مخ : ۲۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي منشي پـه توگـه وټاکـه. د ۱۳۵۸ ل کـال د جدي پـه ۲۰ مـه د ۱۹۸۰ ز کال د جنوري پـه لسمه يې يوه سياسي بيرو جوړه کړه چې غړي يې عبارت وو : ببرک کارمل ، سلطان علي کشتمند ، نور احمد نور ، ډاکتره اناهيتا راتب زاد ، اسدالله سروري ، ډاکتر صالح محمد زيری ، او دستگير پنجشري څخه ببرک کارمل. غوښتل چې لـه کـابينې ، سياسي بيرو ، مرکزي کميټې او د انقلابي شورا څخه د خلقيانو لاسونه لنډ کړي. فقط دومره استازيتوب ور کړي لکه پـه اوړو کې مالگـه... د ۱۹۸۰ ز کـال پـه لومړيـو کې يې د خلقيـانو ۱۵ مخکښ غړي د امين سره دملگر توب په جرم ووژل ، له پـوهنې وزارت څخه دوه سوه لوړ پوري خلقي مامورين له څوکېو څخه ليري او يايي تنزيل کړل. په پوځ کې يې د خلقي منصبدارانو شمير کم کړ. [1]- مخ: ۱۲ د سياسي بيرو غړي صالح محمد زيري سره دخلقيـانو د يـو متحد پـه توگـه نـا برابره برخورد کېده د شورويانو دتجاوز سره سم د سياسي بيرو او مرکزي کميټې اکثريت غړي اعدام بنديان بيکاره او يا بې صلاحيته شول ، خلقي کادرونو د عادي مامورينو حيثيت درلود او يا بيکاره وو. [2]- مخ ۳۰۳: د انقلابی شورا د رئيسه هيئت ترکيب کې څلور پرچميـانو درې خلقيـان وو چې عبـارت دي لـه . ۱- ببرک کارمـل ، ۲ - اسدالله سروري ۳ - سلطان علی کشتمند ۴ - نور احمد نـور ۵ - عبدالقادر ۲ - محمد اسلم وطنجار ۷- او جنرال گلاقا. [3]م: ۲۳۵.

د پرچميـانو لـه خـوا پـه کابينـه او انقلابـی شـورا کـې هـم خلقيـانو تـه د پرچميانو سره مساوي ونډه نـه وه ور کړل شوې. ځکه د گوندد عمومي منشي او انقلابي شورا رياست صدارت ، بهرنيو چارو او د فاع وزارت ټولې څوکی پرچميانو ته ور کړل شوي وي .

ببـرک کارمـل پـه يـوه تلـويزوني وينـا کـې حفيظ الله امـين يـې د امريکـا د جاسوس په نوم ياد او نوموړی يې د امريکا ايجنټ او د C,I,A د استخباراتي

---

[1] - محمد ولي ( ۱۹۹۹ ) روسي پراختيا غوښتنه او افغانستان ، دانش کتابتون ، پيښور

[2] - ظاهر ، طنين د افغانستان در قرن بيستم مخ : ۳۰۳

[3] - کشتمند ، سلطان علی ( ) ياداشت هـای سياسـی ورويداد هـای تـاريخی ، جلد سوم مخ : ۲۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

سازمان غړی وګاڼه او زیاته یې کړه که چیرې د شوروي اتحاد محدود پوځي قطعات راغلي نه واي د ثور انقلاب به د ناکامۍ سره مخامخ و ، خو د شوروي اتحاد دا انترناسیونالیستي مرستې وې چې د ثور انقلاب یې نوي پړاو ته داخل کړ . مګر کله چې د شوروي اتحاد د پوځونو د راتګ مسئله مطرح کېږي د هغوی راغوښتل د مخکیني حکومت له خوا ګڼي ، ببرک کارمل د فینلیند د یو ژورنالست د دې پوښتنې په ځواب کې چې شوروي پوځونه چا راغوښتي وویل : (( د پخواني حکومت د غوښتنې د انقلابي شورا د پریکړې او د ګوند د موافقې له مخې شوروي اتحاد موافقه وکړه . خپلې محدودې نظامي قطعې یوازې د هیواد له پولو څخه د باندې د امریکا د امپریالیزم او د سیمې د مرتجعینو چې د چین مرسته ور سره ده ، د تیري د مخنیوي د پاره په کار واچوي او د انقلاب د دویم پړاو تر بریالیتوب وروسته په دې مرستو تائید او تاکېد وشو . [1]ـ م: ۵۱

د ببرک کارمل په پورته ځواب کې درې خبرې دي .

۱ ـ شوروي پوځونه د حفیظ الله امین له خوا را وغوښتل شول .

۲ ـ د دې له پاره چې د ثور انقلاب د خپلو ځپولو لپاره باندنۍ خطر موجود و .

۳ ـ مونږ تائید کړي .

د ببرک کارمل ځواب له واقعیت څخه لیرې ښکاریده ، د ده دا ادعا د حفیظ الله امین د وخت وزیر عبدالرشید جلیلي رد وي او وایي : (( هیڅوک خپل دښمن او یا داسې خلک چې د هغه د پرزیدو او وژل کېدو سبب کېږي نه را غواړي ، دا هغه ډرامې دي چې شورویان د نړیوالو په سترګو کې د خاورو اچولو او له مسئولیت څخه د ځان د خلاصولو د پاره یې جوړ کړي چې مونږ افغانانو را غوښتي یو . خو بریژنیف او د شوروي نورو لوړ پوړو چارواکو په وار وار ویلي چې زمونږ جنوبي سرحدي پولې په خطر کې وې )) . همدارنګه د امین د تشریفاتو رئیس محمد ولي مندوزي د عبدالرشید جلیلي خبره تائید وي وایي : (( امین هیڅکله هم د شوروي د نظامي مداخلې غوښتنه نه ده کړې

[1] محمد ولی ( ۱۹۹۹ ز ) د روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان ، دانش کتابتون مخ : ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هغه یو ملت پال ناسیونالست و ، ده هیڅکله هغه ځواکونه نه را غوښتل چې نوموړي یې وواژه . » [1]_ م : ۵۲_۵۳

د ببرک کارمل دا خبره رښتیا نه ده ځکه که شوروي پوځونه د امین په غوښتنه راغلي وای . نو ولې یې هغه وواژه او د هغه رژیم او کابینه یې له مینځه یوړله خو امین به تل دا هڅه کوله چې پرچمیان او شورویان افغانستان ته پرې نږدي ځکه ده د پاکستان او امریکا سره ښې اړیکې غوښتې ، د ده له خوا لوی خطر شوروي اتحاد ته متوجې و ځکه شوروي او ببرک کارمل امین د امریکا جاسوس ګاڼه او ویل به یې چې د امریکا او چین له خوا افغانستان ته خطرمتوجه دی . شورویانو د امین تګلاره نه خوښوله د تره کی له مینځه وړل هم شوروي ته د منلو وړ نه و ، خو اصلي خبره دا ده چې شوروي اتحادیې نه د تره کی مړینې او نه کارمل دي ته اړ ایستلي شو چې افغانستان ته خپل عسکر را ولیږي . دا د هغوی بهرنی کړنلاره وه چې د افغانستان له نیولو وروسته نور ګاونډي هیوادونه تر اغیزې لاندې راولي ، دوی کارمل شوروي ته را وغوښت او د امین له وژنې وروسته هغه خپله واکمني اعلان کړه . ( [2]_ م : ۵۴

پوهاند محمد حسن کاکړ له پورته نظر سره ورته نظر لري او وایي « روسیې غوښتل چې په افغانستان کې خپل لاس پوځي حکومت را منځ ته او د بخارا چارې یو ځل بیا تکرار کاندي ، هلته شپیته کاله د مخه یوه وړوکې ډلې په اقتدا را وستله ، وروسته یې بخارا د شوروي جز وګرځوله . په افغانستان کې هم د خلقي حکومت مخصوصاً حفیظ الله امین په مشرتابه سره دغه علامې ښوولې وې . چې کاملاً د شوروي اوامرو ته غاړه نږدي . نو دوی په دغه موقع فیصله وکړه چې خلقي حکومت ضعیفه شوی دی د افغانستان مشران او لویان پخوا له مینځه تللي او هلته یو سیاسي خلا هم موجود ده . د حفیظ الله امین د حکومت مخالفان ډیر دي نو همدا موقع ده چې دوی به وکولی شي د

[1] محمد ولي ( ۱۹۹۹ ) د روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان دانش کتابتون مخونه ۵۲_۵۳

[2] محمد ولي ( ۱۹۹۹ ) د روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان دانش کتابتون مخ : ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرچم له لارې په افغانستان باندې خپل تسلط جاري وساتي او کوم حکومت چې دببرک کارمل په مشرۍ جوړیږي کولی شي مونږ خپل هدف ته چې هغه پر افغانستان باندي تسلط لرل دي ورسوي . [1]_ مخ ۳۱۵_۳۱۴

خو ببرک کارمل به ویل : (( د شوروي پوځونه د خپلي انترناسیو نالستي دندې له سرته رسولو، د سولي او امنیت له ټینګښت وروسته به زمونږ هیواد ترک او دوباره به خپل هیواد ته ستانه شي . ..)) ([2]_ مخ : ۲۲۲ )

ببرک کارمل مسکو کې د سفر پر مهال افغانانو ته په یوې وینا کې وویل : (( وطن پرست افغان هغه دي چې د افغان شوروي دوستي ته وفادار پاتې شي ، ملګرو په ښکاره سره باید درته څرګند کړم چې څوک څوک دي او څنګه باید هغه وپیژندلی شي وطن پال افغان څوک دي . هغه اتشین وطن پرست څوک دی په نوي افغانستان کې هغه افغان دي . چې د افغان شوروي دوستی ته وفادار وي . ۳_ مخونه : ۳۴۰_۳۴۱ د ببرک له دي وینا سره د هغه ځیني ګوندي ملګري او عام افغانان موافق نه وو . خو کله چې ۴۰ څلویښتم پوځ افغانستان ته داخل شو دوی لومړی د افغانستان په داخلي جګړو کې ګډون نه کاوه ، دوی په لومړیو وختونو کې لویو لارو کې امنیتي پوستې ایجاد کړې او په مهمو ځایونو لکه اقتصادي موسسي ، هوایي ډګرونو ، بریښنا بندونو د ساتني دنده په غاړه واخیسته ، خو وروسته یي په ټول افغانستان کې نظامي عملیات سرته رسول خو بریالي نشول . ([3] مخ : ۲۳۵ )

---

[1]_ ارغنداوي ، عبدالعلي ( ۱۹۹۷ ) ژوندي خاطري ، بي ، بي ، سي پښتو څانګه پلک اټ پروس پیښور ، مخونه :۳۴_۳۵

[2]_ عظیمي ، محمد نبی ( ۱۳۷۸ ) اردو سیاست درسه ده اخیر ، چاپ سوم میوند سبا کتابخانه چاپ سوم ، پیښور مخ : ۲۲۲

۳_ ارغندادي ، عبدالعلي . ( ۱۹۹۷ ) ژوندي خاطري ، بي ، بي ،سي پښتو څانګهٔ پلک اټ پریس ، پیښور ، مخونه ۳۴۰ _ ۳۴۱

[3]_ عظیمي ، محمد نبی ( ۱۳۷۸ ) اردو سیاست درسه ده اخیر ، چاپ سوم میوند سبا کتابخانه چاپ سوم ، پیښور مخ : ۲۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړيو وختونو کې د شوروي د سرتيرو شمير ۸۱۸۰۰ يو اتيا زرو او ته سوه رسيده د ځواکونو اعظمي شمير په ۱۹۸۵ کال ۱۰۸۰۰ يولک اته سوه کسو ته ورسيد ، دشوروي اتحاد د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او کی ، جی ،بی په افغانستان کې د وژل شوو پوځيانو شمير ۱۴۴۳۳ تنه ښودلی او له دې سربيره ۱۸۰ پوځي مشاورين او ۵۸۴ نور متحصصين وژل شوي دي . او د ټپيانو شمير يې ۴۹۹۸۵ تنه او د اسيرانو ۴۱۷ تنه چې له دې جملې څخه ۱۳۷ تنه له اسارت څخه خوشي شوي او خپلو کورونو ته راستانه شوي وو . د رسمي معلوماتو له مخې شوروي اتحاد په دې جګړه کې ۱۴۷ ټانکونه ، ۱۳۱۴ زرهيپوشونه ، ۴۳۳ توپچي سيستمونه ، ۱۱ زره موټر ، ۱۰۸ الوتکې ، ۳۳۳ هليکو پترونه له لاسه ورکړل . همدارنګه شوروي ځواکونو د وتلو پر مهال افغان پوځ ته ۲۳۰۰ بيلابيل تاسيات له هغې جملې ۱۷۹ پوځي ښارګوټي ۳۲، ګارنيزونونه ، ۹۹۰ زرهيپوشونه ، درې زره موټر او داسې نور تسليم کړل. په ټوليزه کې شوروي اتحاد په افغانستان کې تر ۵۰ زياتې پروژې وداني کړې دي . خو د دوی په عملياتو کې ډير کلي او بانډې وراني او خلک يي مړه او يا هم معيوب شول . ( [1] _ مخ : ويب پاڼه

ديکوکور دوويز په خپل اثر حقايق پشت پرده افغانستان کې د ببرک کارمل د دولت کړنلاره د حفيظ الله امين د دولت سره پرتله کړې او داسې ليکې : (( سياست کارمل ، در مقايسه با سياستهای دوره حفيظ الله امين ، بيشتر با تمايل روسها برای حرکت درجهت يک رژيم فراگير منطقه بود ، رژيم براي مقابله با اين تبليغات که کمونيست ها مخالف اسلام هستند ، به سمبلها وسنتهاي مذهبی از جمله مساجد توجه می کرد يک اداره حکومتي برای اعمار ومرمت مساجد به بهترين شکل ، ايجاد شد ، معاف شدن زمينهای متعلق به رجال مذهبي از طرح اصلاحاتا راضی و اينکه زارعان می توانستد تا حد( ۱۵ ) جريب مالک زمين شوند ، هردو دوری از سياستهای امين که به شورش ( ۱۹۷۸ ) کمک کرد و سياستهای کارمل هنوز نه مسکو را راضي می

---

http : // Pashto , ruvr , ru /2014 . 02-15 / 128767881 [1]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرد و نه حمایت مردم از رژیمش را جلب کرده بود .)) ( [2]_ مخ : ۱۲۲ )

ببرک کارمل د امین تر وژل کېدو وروسته کابل ته را ورسید وروسته خلکو ورته د دوهم شاه شجاع نوم ورکړ ، ده د دولت نوی پروګرام خپور کړ. چې د تره کي، او امین پروګرام و . صرف د پلار وطنه ملی جبهه پري زیاته شوې وه . چې په دې وسیله یې پراخه پرګنې د ګوندي دولت سره همکارۍ ته را بللې ، بالمقابل د خلکو نفرت اوج ته ورسید او ټول پوهیدل چې د دا ځل بهرني قدرت له خوا دولت اداره کېږي که څه هم ده په پوځ کې رفیع د دفاع وزیر ، ډګرمن ګلاقا داردو د سیاسي چارو عمومي رئیس تورن جنرال بابا جان لوي درستیز ، ډګرمن خلیل الله د مرکزي قول اردو قوماندان ، ډګرمن نورالحق علومي د مرکزي قول اردو د ارکان ریس ، ډګرمن محمد نبي عظیمي داومی فرقي قوماندان ، جګړن شهنواز تڼي داتمې فرقې قوماندان ، ډګرمن عبدالقادر میاخیل د ننګرهار د یولسمې فرقي قوماندان ، جنرال میر طهماس روف د کندهار د قول اردو قوماندان او جنرال غلام نبي فراهي د پکتیا د قول اردو قوماندان په توګه وټاکل . خو په حقیقت کې ټول صلاحیت د شوروي د هغو مشاورینو سره وه چې د دغو جنرالانو او افسرانو سره مقرر وو . مشاورینو هرو دوه ورځو کې د شوروي په سفارت او اپراتیفي غونډې جوړولي او په هفته کې یو ځل مشاورینو په کابل کې د شوروي د نظامي قواو لوي قوماندان مارشال سکولوف سره ناسته درلوده . او د هغه له خوا به دایرکتیفونه ورکول کېدل دا ټولې پیښې خلکو لیدلي او د ببرک پر ضدیې نفرت زیاتېده . ( [1]_ مخ : ۳۲۷ _ ۳۲۸ )

کارمل د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي په ۱۲ مه د ۱۹۸۰ ز کال دجنوري په لومړۍ نیټه د پلچرخي له بندیخانې څخه پنځه زره بندیان خوشې کړل چې ډیر

---

[2] دیه ګو کوردوز ، سلیک اس ، هارسیون ( ۱۳۷۹ هـ ش ) پشت پرده افغانستا ن مترجم : اسدالله شفایي ، انتشارات بین المللی المهدی ، تهران مخ : ۱۲۲

[1] عطایي ، محمد ابراهیم ( ۱۳۸۹ هـ ش ) د افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه ، میوند خپرندویه ټولنه ، پیښور مخونه : ۳۲۷ _ ۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې سياسي بنديان وو په دوی کې عبدالرب رسول سياف هم و چې بيا يي په پاکستان کې داتحاد اسلامي تنظيم جوړ کړ . خو اصلي خبره دا ده چې د يو کال په موده کې دغه زندان بيرته د ببرک له مخالفينو څخه ډک شو . د ه خپل مخالفين لکه اسد الله امين چې د شوروي په يو روغتون کې بسترو د شورويانو پواسطه يې را وست او په عام محضر کې يي اعدام کړ ، عبدالله امين ، صاحب جان صحرايي ، انجينر ظريف ، صديق عالميار ، اسدالله پيمان او يو شمير نور کسان محاکمه او اعدام يي رسماً اعلان شو ، د ۱۹۸۰ ز کال دجنوري په ۱۳ مه د ۱۳۵۸ کال دجدي په ۲۳ مه د تره کی، او امين په وخت کې وژل شوي کسان د شهيدانو په نامه فاتحه په عمومي صالونونو کې واخېستل شوه ، چې په خپله ببرک د شهرنو دفاتحې صالون ته ورغلي وه . بيا يې رسماً اعلان وکړ چې دا ورځ به هر کال د شهيدانو د ورځي په نامه يادېږي او عمومي رخصتي به وي .[1]_مخ ۳۳۰

شورويانو په اطلاعاتي او امنيتي ادارو کې کار کاوه د شپې به يې خلک له کورو را ايستل بيا به هغه خلک ورک شول کله به چې د هغوی خپلوانو دولتي مقاماتو ته مراجعه کوله نو هغوی به ځواب ورکاوه چې پاکستان ته تللي دي ، دوه کاله لانه وو تيرشوي چې د پلچرخي بنديخانه ډکه شوه او امنيتي مقاماتو دصدارت او دفاع وزارت خانو ځيني برخې بنديانو ته تحصيص کړې . په عامه توګه هر چا دا فکر کاوه چې ښايي سبا سهار يا ماښام ونيول شي سره د دې چې ببرک کارمل د ۱۹۸۰ ز کال د اپريل په ۲۱ مه د ۱۳۵۹ ل کال دحمل په لومړۍ نيټه آساسي اصول اعلان کړل خو خپل دولت ته قانوني بڼه ورکړي خو بيا هم د ده ټول کارونه د شوروي مشاورينو د مشورو په واسطه پرمخ بيول کيده له همدې امله بريژنيف اعلان وکړ چې کارمل د افغان شوروي دوستۍ ته ډير خدمت کړی بيا ده ته د لينن نښان ورکړل شو ، په دې پسې کارمل بريژنيف ته د افغانستان ډير لوړ مډال ( زرين لمر ) د بريژنيف په ټټر وځړا وه ، چې دې کار سره د خلکو نفرت نور هم زيات شو . نو ځکه يي

---

[1]عطايي ، محمد ابراهيم ( ۱۳۸۹ ) د افغانستان پر معاصر تاريخ يو لنډه کتنه ، ميوند خپرندويه ټولنه ، پېښور مخ :۳۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مډال خبر په ورځ پاڼو کې نشر نه کړ. یوازې د راډیو په خبر یې بسنه وکړه د کارمل د واک په اخرو کې په افغانستان کې هیڅ داسې سیمه نه وه چې هلته د شورویانو پر ضد مجاهدینو جګړه نه کوله. کابل هم د مجاهدینو راکټې برید لاندې راغی. هرې خوا ته دوحشت فضا خپره وه. رشوت، غلا او اختلاس ډېر شو د شپې په ګرځیدو بندیز اعلان شو، د دولت په دستګاه کې کار کوونکو د دولت د سقوط وړاندوینه کوله جیبونه یې ډکول او خارج ته په تیښته وو لکه چې څو واره د افغان کارت رئسیانو چې یو ځل د کارمل د خور خپلوان و دا موسئسه لوټ او تالان کړه او په لکونو ډالره یې وتښتول. (2 _ مخ: ۳۳۱)

ببرک کارمل د شوروي د هر رهبر د مړیني په مراسمو کې ګډون کاوه، دی د بریژنیف، اندروپوف او په ۱۹۸۵ ز کال کې د چرښنکو جنازې ته ورغی، خو کله چې واک ګرباچوف ته ورسید، هغه کارمل د یو شمیر ګوندي او دولتي واکمنانو سره مسکو ته وغوښتل، ګرباچوف دوی ته وویل: که چیرې شوروي خپلې قواوې وباسي تاسې ځانونه ساتلای شئ، په دې خبرې سره د کارمل په څیره کې تغیر راغلی او په ځواب کې یې ورته وویل: که شوروي نن یولک عسکر له افغانستان څخه وباسي نو په یقین سره داسې وضع به راشي چې بیا به یو میلون عسکر راولي، ګرباچوف نجیب مخاطب کړ او ورته یې وویل ته څه نظر لرې؟ نجیب وویل: زه نه پوهیږم چې شوروي به تر څه وخته مونږ ساتي، که مونږ په خپله ځان ونه شو ساتلای په رښتیانو باید پاتې هم نشو، خو زه باور لرم چې اوس تر ډیره ځایه موږ سره امکانات لرو او ځان هم ساتلای شو، تر دې خبرې وروسته ټول پوه شول چې د ببرک کارمل دنده پای ته ورسیده او د نجیب په تندي کې د رهبرۍ ستوری وځلیده، دوی له مسکو څخه راغلل خو ببرک کارمل په مسکو کې پاتې شو، درې میاشتې هلته و په کابل کې اوازې وې چې شورویانو ببرک بندي کړې، درې میاشتې وروسته ببرک کارمل کابل ته را ورسید، خو ګوندي او دولتي خلکو چندان ورته هر کلی ونکړ ولې د کابل ښار د ښوونځیو ځینو نجونو او هلکانو هوایي ډګر سره یو توده

---

[2] عطایي، محمد ابراهیم، (۱۳۸۹) افغانستان پرمعاصر تاریخ یو لنډه کتنه مخ: ۳۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظاهره وکړه چې ببرک زنده باد !، گرباچوف او شوروي ته د مرده باد شعارونه ورکول ، څو ورځې وروسته د ۱۹۸۶ ز کال د مي په ۴ مه د ۱۳۶۵ ل کال د ثور په ۱۴مه د گوند د اتلسم پلینوم د پریکړې پر اساس ببرک کارمل د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د عمومي منشي له مقام څخه گوښه او ډاکترنجیب الله د هغه پر ځای وټاکه ، همدارنگه د ۱۳۶۵ ل کال د عقرب په ۲۹ مه ۱۹۸۶ ز کال د نوامبر په ۲۰ مه د گوند مرکزي کمیټې د شلم پلینوم د پریکړې په اساس ببرک کارمل د انقلابي شورا له ریاست څخه لیرې او پر ځای یې یو غیرې گوندي شخص حاجي محمد څمکنی د موقت رئیس په توگه وټاکه . له دي وروسته د ببرک کارمل ماموریت ختم شو او مسکو ته ولاړ . په دې توگه د پرچم جناح هم لکه د خلق د جناح په څېر دوه ټوټي شوه . چې د یوې مشر ډاکتر نجیب الله او دبلې ډلې ببرک کارمل یادیده . ( [1] _ مخ : ۳۳۲ )

د ببرک کارمل په واکمنۍ کې افغانستان دومره زیان ولید چې د هغې اثرات تر ډیره وخته زمونږ په هیواد کې پاتې شوي او د هیواد سیاسي وضعیت له یو اوږد سیاسي کړکېچ سره مخ کړ .

فرهنگي وضع :

د کارمل د دولت پر ضد د مخالفینو عملیاتو ډیري فرهنگي موسئسي زیانمې کړې. په ۱۹۸۳ ز کال کې د کابل پوهنتون د محصلینو شمیر کم شو او په همدي کال ۱۴۰۰ تنه محصلین شوروي ته د تحصیل له پاره واستول شول چې په دې کار سره مخالفین نور هم عصبي شول ځکه شوروي مشاورینو ځوانان داسې روزل چې یوازې شوروي دوستۍ ته وفادار اوسېږي . او افغانۍ کلتورېې له یاده ووځي په دې دوره کې باختر اژانس ، راډیو ، تلویزیون ، سینما ، تیاتر او دمطبوعاتو ټولې چارې شوروي مشاورینو څارلي او د دوي اوامر یې تطبیقول ، په کابل کې د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼه چې د گوند نشراتی ارگان په لوي تیراژ په دوه ژبو پښتو او دری خپریدله ، خو پښتو ورځپاڼې بندې کېدي او د دری ژبې ورځپاڼې د هغه په عوض توزیع کېدلي . د دې ورځپاڼې په خواکې انیس، هیواد ، کابل ټایمز ، درفش جوانان ،مجله کار ، پیغام وطن ، ژوندون

---

۱ _ عطایي ، محمد ابراهیم ، افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه مخ : ۳۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشریدلي او علمي مجلي لکه اریانا ، کابل ، پښتو ، باستان شناسی تحقیقات کوشاني ، د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپریدلي .
( [1] _ مخ : ۳۳۳ )

شوریانو په خپل نظامي قوت ځینې ښارګوټي او دهیواد اطرافي سیمي تهدید ولي او د دوي په عملیاتو او مخامخ جګړه کې هم ډیر ښوونځي یا اداري او فرهنګي موسسې وراني شوې . د کابل دولتي مطبعه هم د ستونزو سره مخ وه . د هیواد کلتوري وضعیت په ځانګړي ډول د هیواد په اطراف کې ډیر زیان ولید او د هغي اغیزې تر اوس مهال لیدل کیږي .

[1] _ محمد ابراهیم ، عطایي ( ۱۳۸۹ )افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه مخ : ۳۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲.۱۲ ـ د شوروي يرغل پر ضد د افغانانو جهاد او د بهرنيانو غبرگون

ـ هيوا د دننه :

افغانانو تل د خپل دين او هيواد څخه ددفاع په خاطر ځانونه قربان او د نړۍ ډير قوي استعماري هيوادونه يي په خپلو موخو کې ناکام کړي دي چې خپل هيواد يې د استعمار له تسلط څخه ژغورلی دی . د شوروي د يرغل سره سم په ټول هيواد کې جهاد پيل شو . او شوروي پوځونو ته يي ماتې ور کړه او بيرته وتلو ته يي اړ کړل . په افغانستان کې د جهاد ، د پيل په اړه مرحوم يعقوب شرافت په خپل اثر سپيڅلي پاځون کې داسي ليکې : (( ..... کله چې حاجي ښايسته خان ۱۳۵۷ ل کال د ثور په ۱۳ مه د چهارشنبي په ورځ له غرمی څخه مخکې ۱۱ بجې چې د۱۹۷۸ز کال د مې له دريمي نيټې سره سمون لري د زيړوکې د علاقداری ودانۍ ته خپل شل ډزی ټوپک ونيو او جاغور يي ور تش کړ ، د کمونست رژيم پر ضد د جهاد له ا علان وروسته دا لومړنی ډز گڼل کيږي . چې د زيړوکو د علاقداری په ودانۍ باندې د ښايسته خان ډزې وشوې چې همدغه فير په افغانستان کې د جهاد پيل گڼل کيږي .[1] ـمخ : ۲۹

له دې وروسته په ټول افغانستان کې د دولتي قوتونو پر گارنيزونونو او امنيتي پوستو باندي چريکی حملي پيل کړې . او ډير خلک پاکستان ، ايران ته مهاجر شول . په پاکستان او ايران کې له ميشت کېدو وروسته دوی هلته نظامي زده کړې کولې او بيا وروسته په افغانستان ته د جهاد له پاره را تلل له موضوع د اوږدېدو څخه د مخنيوي په خاطر يوه پيښه د مثال په توگه ليکو . د لومړي ځل له پاره د۱۳۵۸ ل کال د ثورپه مياشت کې ۷۰ تنو مجاهدينو له پيښور څخه حرکت وکړ ، دغه مجاهدين د پاړه چينار د زيړانو کندو په سختو لارو باندې په غرونو کې چي له واورو څخه ډک و دا گام د تنگي له لارې د

[1] ـ شرافت ، محمد يعقوب ( ۱۳۹۱ هـ ش ) . سپيڅلي پاځون . دوهم چاپ النور نشراتی اداره مخ : ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړیاڼیو پچیر سیمي ته ورسیدل . دوی د پچیر ملا د قبر په خوا کې مرکز ونیو او له دې ځایه یې په امنیتي پوستو برید کاوه . ( [1]_ مخ : ۸۷

کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ او ببرک کارمل یې واک ته ورساوه . د افغانستان دیني عالمانو او روحانیونو سخت عکس العمل وښود .د ۱۹۸۰ ز کال په پیل کې د شوروي د یرغل د غندلو له پاره په سعودي عربستان کې د اسلامي هیوادونو کنفرانس جوړ شو په همدې کنفرانس کې د دیني علماو له خوا د شوروي او کارمل پر ضدیې جهاد اعلان کړ . د قرانکریم د توبی د صورت د ۴۱ ایت له حکم سره سم چې په نوموړي ایت کې خدای (ج) حکم کړی دی . (( راووزی د جهاد له پاره په سپکو درندو بار ( وسلو ) سره د خدای (ج) په لار کې جهاد وکړئ په خپلو مالونه او نفسونه د خدای (ج) په لاره کې قربان کړئ . ستاسي لپاره دا بهتره ده که پوهیدلي یې . )) [1]_ مخونه : ۳۲۴ _ ۳۲۵

له شوروي یرغل وروسته په ډله ایزه توگه بهرنیو او گاونډیو هیوادونو ته د کډوالو بهیر پیل شو او د نړیوالو پام یې ځان ته راواړه او د نړۍ ډیرو هیوادونو د دې یرغل د غندلو په خوا کې یې شوروي اتحاد ته د ورتلو او دالمپیک په لوبو کې له گډون څخه ډډه وکړه . [2]_ مخ : ۱۳۲

په دې کار کې د پاکستان دولت او استخباراتي سازمان فعاله ونډه واخېسته . د افغانستان مهاجرنیو ته یې په مختلفو سیمو کې پنډ غالي ( کمپونه ) جوړ کړل او بیا یې هغوی ته ځانگړي نظامي تعلیمات ورکول . د افغانستان په اړه د پاکستان د سیاسي او نظامي پالیسۍ د تاکلو په اړه پاکستاني لیکوال او ژورنالیست احمدرشید داسې لیکلي : (( ..... د پاکستان د نظامي برخي پوځي مشران د بهرني سیاست په ټاکلو کې غښتلې ونډه لري او

---

[1] _ شرافت ، محمد یعقوب ( ۱۳۹۱ هـ ش ) . سپیڅلي پاڅون . دوهم چاپ النور نشراتی اداره مخ : ۸۷

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه . مخونه ۳۲۴ او ۳۲۵

[2] نیازي ، شهسوار ،سنگروال ( ۱۳۸۳ ل ) کشتمند ، کارمل د تاریخ په تله کې ، په لندن کې افغان ادبي جرگه مخ : ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرنۍ سیاست تل پخپله نظامیان ټاکي . په بهرني سیاست کې په ځانګړې توګه د هندوستان ، افغانستان او د امریکا د متحد ایالاتو پر وړاندې د پالیسۍ په ټاکنه کې د نظامیانو ونډه زیاته ده . دوی د ملکي بودیجې ۳۰ سلنه مصرفوي او څو ډوله استخباراتي اداري دغه سیاست پر مخ بیایي په څو لسیزو کې دوی د افغانستان او هندوستان په مقابل کې همدغه استخباراتۍ اداري خپله بهرني سیاسي اجنډا پر مخ وړي . .... ) [1]_ مخ : ۲۱

د امریکا متحده ایالاتو هم د مجاهدینو سره مرسته کوله . په ۱۹۸۸ ز کال سی ، آي ، اي C, I , A په اسلام اباد کې موافقه وکړه چې شیرون به د سی ، آی ، اي په استازیتوب به د مجاهدینو قوماندانانو سره اړیکې ونیسي . شیرون د قوماندانانو سره اړیکې ټینګې کړي چې تقریباً څلویښت تنو قوماندانانو ته یې د میاشتي ۵۰۰۰ زره ډالر او لویو قوماندانو ته ( ۵۰۰۰۰ ) پنځوس زره ډالر ورکول . او په همدي کال یې د احمدشاه مسعود سره خپله مرسته د میاشتي ( ۲۰۰۰۰ ) دوه سوه زرو ډالرو ته لوړه کړه . لامل یې دا و چې پاکستان د مسعود سره مرسته نه کوله او د امریکا په کانګریس کې د مسعود طرفدارانو د مسعود سره د مرستو په زیاتوالي باندې ټینګار کاوه ، خو دا مرستي ټولي پټې وې .( [2]_مخ : ۱۷۸)

د شوروي اتحاد پوځونه له خپلو پوځي عملیاتو وروسته دې پایلې ته ورسیدل چې یوازې په نظامي قوت نشي کولی هدف ته ورسیږي . جهادي قوماندانانو سره د اړیکې ټینګولو کوښښ یې پیل کړ . شوروي په ۱۹۸۳ ز کال له احمد شاه مسعود څخه و غوښتل چې له شورویانو څخه د یوې معاملي په اساس ډیر امتیازات تر لاسه کړي . ده په ۱۹۸۳ ز کال د شورویانو سره اوربند اعلان کړ او موافقه یې وکړه چې د پنجشیر د درې په جنوب کې دې د شورویانو یو ګارنیزون پاتې وي او په بدل کې به شورویان د پنجشیر پر درې

---

[1] _ احمدرشید ( ۱۳۹۱ ل ) . پاکستان د ګړنګ په غاړه . ژباړن فیض محمد ځلاند ، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد ننګرهار مخ : ۲۱

[2]_ ستیوکول . ( ۱۳۹۰ هـ ش ) جنګ اشباح ، مترجم محمد اسحاق ، نیګاه انتشارات میوند ، کابل افغانستان مخ ۱۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمله نه کوي خو دا موافقه د دریو کالو خبرو وروسته وشوه . احمد شاه مسعود د دي اوربند په اړه د اسلامي جمعیت له رهبرۍ سره خبري نه وې کړې ،نو ځکه هغوی پرې خفه وو .[1]_ مخ : ۱۱۱

د شوروي اتحاد پوځونو د زور ، فشار اوتطمیع سره سره د افغانستان مجاهدین وتوانیدل چې په لږ وخت کې ډیرې سیمې فتحه او د خپل کنترول لاندې راولي البته په دې بریالیتوب کې زمونږ د قهرمان ملت سربښندنې تاکونکې رول در لود . دلته مونږ د مجاهدینو د فتوحاتو یو جدول لیکو چې په ټول افغانستان کې د عمومي پاڅون اوجهاد ښکارندوی دی .

پــــه ۱۳۵۸، ۱۳۵۹، ۱۳۶۲ . ۱۳۶۵، ۱۳۶۳ ، ۱۳۶۶ ، ۱۳۶۸، ۱۳۶۷، ۱۳۶۹ او ۱۳۷۰ لمریزکلونو کې د مجاهدینو لخوا د فتحه شویو سیمو جدول .

۱ _ ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي په ۲ مه نیټه د تخار ولایت د اشکمش ولسوالۍ فتحه کړ .

۲_ د مرغومي په ۲ مه نیټه یې د کندز ولایت د دشتي ارچي ولسوالۍ فتحه کړ .

۳_ د مرغومي په ۷ مه نیټه یې دلومړي ځل لپاره خواجه غار ولسوالۍ فتحه شو .

۴ _ د مرغومي په ۱۰ مه نیټه یې د کندز ولایت د خان آباد ولسوالي فتحه کړ .

۵_ د مرغومي په ۱۸ مه نیټه یې د تخار د ولایت په لومړي ځل ونیو .

۶_ د مرغومي په ۲۱ مه نیټه د لغمان ولایت د مرکزي بندیخانې فتحه کړ.

۷_ د مرغومي په ۲۲ مه نیټه د لغمان د الیشنګ ولسوالي فتحه .

۸ _ د مرغومي په ۲۲ مه نیټه د ننګرهار ولایت د کامي د ولسوالۍ فتحه کړه .

۹_ د مرغومي په ۲۲ مه نیټه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ فتحه کړه .

---

[1]بتیوکول . ( ۱۳۹۰ هـ ش ) جنګ اشباح ، مترجم محمد اسحاق ، نیګاه انتشارات میوند ، کابل افغانستان مخ ۱۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ _ د دلوي په ۲ مه نيټه د ننگرهار ولايت د لعل پورې ولسوالي فتحه کړه .

۱۱ _ د حوت ۳ مه نيټه د کابل ښار د خلکو پاڅون .

۱۲ _ د حوت ۳ مه نيټه د کندوز د ولايت د خلکو پاڅون او د دې ولايت د بنديخانې فتحه کول .

د ۱۳۵۹ ، ۱۳۶۰ ، ۱۳۶۱ او ۱۳۶۲ لمريز کلونو په اوږدو کې د افغانستان د مجاهدينو فتوحات .

۱ _ ۱۳۵۹ لمريز کال د وري په ۷ مه نيټه يې د کندوز ولايت د چاردري ولسوالۍ فتحه کړه .

۲ _ ۱۱۳۵۹ لمريز کال د ثور په ۹ مه نيټه يې د کندوز ولايت د خان آباد ولسوالۍ فتحه کړه .

۳ _ ۱۳۶۲ لمريز کال دوري په ۸ مه يې د قندهار د ولايت د خاکريز ولسوالۍ فتحه کړه ،

۴ _ ۱۳۶۲ لمريز کال په ۲۰ د قوس د لغمان ولايت د قرغه ولسوالۍ فتحه کړه .

۵_ ۱۳۶۲ لمريز کال ۲۴ د قوس د ننگرهار ولايت د هسکي مينې د عسکري کندک فتحه کړه .

۶ _ ۱۳۶۵ لمريز کال د سنبلي په ۲۲ مه د تخار ولايت گارنيزيون فتحه کړه.

۸_ ۱۳۶۶ د ثور ۸ مه د تخار ولايت در قد ولسوالۍ دينگي قلعه لوائ ونيوله .

۹_ ۱۳۶۶ د سرطان ۱۲ مه د تخار ولايت کلفگان گارنيزيون فتحه کړ .

۱۰_ ۱۳۶۶ په عقرب د بدخشان ولايت د کران او منجان ولسوالۍ گارنيزيون يې فتحه کړه .

۱۱_ د ۱۳۶۶ ۲۲ عقرب د نهرين گارنيزيون فتحه .

۱۲ _ ۱۳۶۷ لمريز کال ۲۸ مه د حمل د تخار په ولايت کې د خواجه غار په ولسوالۍ کې د ۷۹ کندک فتحه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ _ ۱۳۶۷ د حمل په میاشت کې د پروان په ولایت کې د غوربند ولسوالۍ فتحه..

۱۴_ ۱۳۶۷ د ثور ۲ مه د کونړ په ولایت کې د بریکوت غنډا فتحه.

۱۵ _ ۱۳۶۷ د ثور د ۱۸ مه د پکتیا په ولایت کې د څکمنیود غنډ فتحه.

۱۶ _ ۱۳۶۷ د ثور ۱۹ مه د وردګو په ولایت کې د سیداباد ولسوالۍ فتحه.

۱۷_ ۱۳۶۷ د ثور ۲۵ مه د ځائیود ۳۲ غنډ فتحه.

۱۸ _ ۱۳۶۷ د ثور په ۲۸ مه د ۲۸ _ ۲۹ د ګلشاه کوت کندک فتحه.

۱۹ _ ۱۳۶۷ د جوزا ۹ مه د میدان وردک د ولایت مرکز د میدان شهر فتحه.

۲۰ _ ۱۳۶۷ د اسد لومړي نیټه د پکتیا د ولایت د ۲او ۵ غنډونو فتحه.

۲۱ _ ۱۳۶۷ د اسد ۱۲ مه د کابل د ولایت د شکردری ولسوالۍ فتحه.

۲۲ _ ۱۳۶۷ د اسد ۲۰ مه د کندز ولایت د مرکز فتحه.

۲۳ – ۱۳۶۷ د اسد ۲۴ مه د تخار ولایت د مرکز فتح د دویم ځل لپاره.

۲۴ _ ۱۳۶۷ د اسد ۲۵ مه د تخار ولایت د ینګي قلعه ولسوالۍ فتح چه د دویم ځل لپاره.

۲۵ _ ۱۳۶۷ د اسد ۳۰ مه د بامیان ولایت فتحه.

۲۶_ ۱۳۶۷ د سنبلي ۹ مه د بدخشان ولایت د کشم ولسوالي فتحه.

۲۷_ ۱۳۶۷ د سنبلي ۱۸ مه د قندهار ولایت د سپین بولدک نیول.

۲۸ _ ۱۳۶۷ د سنبلي ۱۸ مه د پکتیا ولایت د کټواز د لوا فتحه.

۲۹ _ ۱۳۶۷ د میزان ۹ مه د اسمار ولسوالۍ فتحه.

۳۰ _ ۱۳۶۷ د میزان ۱۵ مه د پکتیا ولایت د زرمت د ولسوالۍ فتحه.

۳۲ _ ۱۳۶۷ د میزان ۱۵ مه د غزني ولایت د خواجه نور دغند فتحه.

۳۳ _ ۱۳۶۷ د میزان ۲۷ مه د بغلان ولایت د اندراب د ولسوالۍ نیول.

۳۴ _ ۱۳۶۷ د میزان ۲۹ مه د کاپیسا ولایت د مرکز فتحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵ _ ۱۳۲۷ د میـزان ۳۰ مـه د قنـدهار ولایـت د ارغنـداب ولسـوالۍ فتحه .

۳۶ _ ۱۳۲۷ د عقرب ۵ مه د غور ولایت د فارسی ولسوالۍ نیول .

۳۷ _ ۱۳۲۷ د عقرب ۲ مه کابل د ولایت د احمد بیک د نظامي پایګاه نیول .

۳۸ _ ۱۳۲۷ د عقرب اوله د ننګرهار ولایت د تورخم بندر نیول .

۳۹_ ۱۳۲۷ د عقرب ۲۵ مه د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ د اړوند علاقه داري فتح .

۴۰ _ ۱۳۲۷ د عقرب ۳ مه د پروان ولایت د رباط کندک فتح .

۴۱ _ د ۱۳۲۷ د قوس ۴ مه د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالۍ فتح

۴۲ _ ۱۳۲۷ د قوس ۷ مه د ننګرهار ولایت د دره نور علاقه دارۍ فتح .

۴۳ _ ۱۳۲۷ د جدي ۲ مه د تخار ولایت د باغ ذخیره ولسوالۍ فتح .

۴۴ _ ۱۳۲۷ د جدي ۵ مه د رقد ولسوالۍ دینګي قلعه او علاقه داري فتح .

۴۵ _ ۱۳۲۷ د جدي ۱۰ مه د چاه آب ولسوالۍ فتح .

۴۶ _ ۱۳۲۷ د جدي ۱۲ مه د کابل په ولایت کې د قره باغ ولسوالۍ او قلعچه په سیمه کې د روسانو د پایګاه فتح .

۴۷ _ ۱۳۲۷ د جدي ۱۵ مه د ننګرهار د خیوي ولسوالۍ فتح .

۴۸ _ ۱۳۲۷ د جدي ۲۱ مه د کابل د کلکان ولسوالۍ فتح .

۴۹ _ ۱۳۲۷ د حوت ۲ مه د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ فتح .

د ۱۳۲۸ _ ۱۳۷۰ کلونو فتوحات :

۱_۱۳۲۸ لمریز کال د اسد ۱۲ مه د بدخشان د ولایت د زیباک د علاقه دارۍ فتح لومړي ځپل لپاره .

۲ _ ۱۳۲۹ لمریز کال د حل ۷ مه په هرات کې د مجاهدینو عملیات یا د جنرالانو د مرګ عملیات .

۳ _ ۱۳۲۹ لمریز کال د میزان ۵ مه د ارزګان د ولایت مرکز ترینکوت فتحه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ ۱۳۷۰ لمریز کال د سرطان په میاشت کې د تخار په ولایت کې د خواجه غار ولسوالۍ فتحه.

۵_ ۱۳۷۰ د سرطان په میاشت کې د بدخشان په ولایت کې د اشکاشم، زیباک او واخان ولسوالیو فتحه.

۶_ ۱۳۷۰ لمریز کال د اسد په میاشت کې د تخار ولایت د چاه آب ولسوالۍ فتحه د دریم ځل لپاره .

۷_ ۱۳۷۰ د سرطان په میاشت کې د بدحشان په ولایت کې د شغنان علاقدارۍ فتحه.

۸_ ۱۳۷۰ د سرطان په میاشت کې د اشکاشم ولسوالي د زیباک علاقدارۍ فتحه د ویم ځل لپاره .

۹_ ۱۳۷۰ د حمل ۱۱ مه د پکتیا ولایت د خوست د ولسوالۍ د لوی فتحه.

پورته جدول د افغانستان له ځینو سیمو څخه ترتیب شوي دي. ([1]_ مخونه: ۱۴۲ ، ۱۴۸، ۱۴۷، ۱۴۹ )

---

[1]_ دانشیار، امیر اعتماد (۱۳۷۱ هـ ش). جنگ افغانستان و شوروي عامل فروپاشي جهانۍ کمونیسم جلد اول، موسسه انتشارات بهینه مخونه: ۱۴۲ ، ۱۴۷ ، ۱۴۸ ، ۱۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳.۱۲_ د بهرنيو هيوادونو غبرگون

كومو هيوادونو چې د شوروي يرغل پـه مقابـل كې د افغانستان سـره كـډه ستراتيژيكه موضع ونيوله هغه : پاكستان ، ايران ، سعودي عربستان ، مصر ، امريكا ، انگلستان ، فرانسه ، لويديځ المان او چين وو . د پاكستان جمهور رئيس جنرال ضياوالحق ، د ايران مذهبي مشر حيات الله خمينی ، د سعودي عربستان پادشاه خالد پادشاه ، د امريكا جمهوررئيس جيمی كارتر ، دچين جمهور رئيس ليي زيان ياني ، د انگلستان صدراعظم ماركرت تارچر ، د فرانسي مشر ژيسكاردسن ، د لويديځ المان مشر هلموت شميت د خپلو هيوادونو د مشرانو پـه توگه پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد يرغل د دغندني تر څنگ يې د افغانستان له مجاهدينو څخه خپل كلك ملاتړ اعلان او د هر راز مادي مرستو يې وعده وركړه . ( [1]_ مخ : ۱۰۲)

پـه ۱۳۵۸ ل ( ۱۹۸۰ ز ) كـال كـې د ملگرو ملتونو د سازمان پـه عمومي غونډه كي د شوروي اتحاد د يرغل په اړه بحث پيل شو . او په همدي غونډه كي د دي يرغل په اړه د نړی هيوادونه په دريو ډلو وويشل شول :

۱ _ لومړۍ ډله هغه هيوادونه وو چې د شوروي اتحاد يرغل دغندلو او محكومولو په خوا كي يې غوښتنه وكړه چي شوروي پوځونه بايد پـه عاجله توگه له افغانستان څخه ووزي دا هيوادونه عبارت دي له :

| | | |
|---|---|---|
| ۱_ امريكا . | ۳۱_ _ . | ۲۱_ |
| ۲_ انگلستان . | ۳۲_ . | ۲۲_ |
| ۳_ فدرالی المان . | ۳۳_ . . | ۲۳_ |
| ۴_ اتريش . | ۳۴_ _ . | ۲۴_ |
| ۵_ استراليا . | ۳۵_ . | ۲۵_ عمان . |
| ۶_ ارجنټاين . | ۳۶_ | ۲۶_ كاناډا . |
| ۷_ ايران . | ۳۷_ | ۲۷_ كلمبيا . |
| ۸_ ايرلند . | ۳۸_ | ۲۸ _ كومورو . |

[1] _ نيازي ، شهسوار سنگروال ( ۱۳۸۳ ل ) . كشتمند كارمل د تاريخ په تله كي . په لندن كي افغان ادبي جرگه . مخ : ۱۰۲

۹ _ ایسلیند .
۱۰ _ البانیا .
۱۱ _ مرکزي افریقا
۱۲ _ السلوادور .
۱۳ _ اسپانیا
۱۴ _ اندونیزیا
۱۵ _ ایتالیا .
۱۶ _ اسیرائیل .
۱۷ _ اردن .
۱۸ _ باربادوس .
۱۹ _ بلژیک .
۲۰ _ بحرین
۲۱ _ بنگلدیش
۲۳ _ بولیوی
۲۴ _ بوتسوانا .
۲۵ _ برازیل .
۲۶ _ بروندوي .
۲۷ _ پاکستان .
۲۸ _ پاراگوي .
۲۹ _ پرتگال .
۳۰ _ ترکیه

۳۹ _ تونس .
۴۰ _ تایلند .
۴۱ _ توګو .
۴۲ _ تانزانیا .
۴۳ _ ډنمارک .
۴۴ _ دومنیکین .
۴۵ _ داراسلام .
۴۶ _ سویډن .
۴۷ _ سوري نام .
۴۸ _ سویزرلیند .
۴۹ _ سنیګال .
۵۰ _ سیرالون .
۵۱ _ سنګاپور .
۵۲ _ سومالي .
۵۳ _ سریلانکا .
۵۴ _ سودان .
۵۵ _ عاج ساحل
۵۶ _ .
۵۷ _ نایجیریا
۵۸ _ نیپال
۵۹ _ ناروي
۶۰ _ سعودي عربستان

۶۹ _ کامرون .
۷۰ _ کویت .
۶۷ _ مالیزیا .
۶۸ _ مالاوي .
۶۹ _ مالت .
۷۰ _ مراکش
۷۱ _ موریس تاپو .
۷۲ _ موریتانیا .
۷۳ _ زایر .
۷۴ _ زامبیا .
۷۵ _ زچب بوی .
۷۶ _ لوګزامبورک .
۷۷ _ لبنان .
۷۸ _ لیبریا .
۷۹ _ کیسوتو .
۸۰ _ فرانسه .
۸۱ _ فیجي .
۸۲ _ غنا .
۸۳ _ جیبوبي .
۸۴ _ فلیپین .
۸۵ _ ګواتیمالا .
۸۶ _ ګینه .

۸۷ _ هاندوراس .
۸۸ _ هایتي . ( [1] _ مخ : ۱۰۸_۱۰۹ )

---

[1] _ دانشیار ، امیر اعتماد ( ۱۳۷۱ هـ ش ) .جنګ افغانستان و شوروي و عامل فروپاشي جهاني کمونیسم مخونه : ۱۰۸ _ ۱۰۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ هغه ډله هیوادونه چې پر افغانستان یې د شوروي یرغل مشروع وګڼه اود وروګلوي د مرستې تر نامه لاندې دې یرغل ته مثبته رایه ورکړه . دغه هیوادونه عبارت دي له .

۱ ـ المان دیموکراتیک . ۷ـ بلغاریا . ۱۳ـ مغولستان .
۲ـ انګولا . ۸ـ کیوبا . ۱۴ـ موزمبیک .
۳ـ ایتوپیه . ۹ـ مجارستان . ۱۵ـ لهستان .
۴ـ اوکراین . ۱۰ـ لاوس . ۱۶ـ سوریه .
۵ـ شوروي اتحاد . ۱۱ـلیبیا . ۱۷ ـ چکوسلواکیا .
۶ـ سپینه روسیه . ۱۲ ـ مادغاسکر . ۱۸ـ ویتنام .[2] ـ مخ : ۱۱۰

۳ـ دریمه ډله هغه هیوادونه وو چې ممتنع رایه یې ورکړه دا دی .

۱ـ الجزایر . ۷ـ نیکاراګوا.
۲ـ یوګاندا. ۸ـدماغه سبز.
۳ـ بورګینا . ۹ـ تیبین.
۴ـ هندوستان . ۱۰ ـ قبرس.
۵ـ ګینه بساوو. ۱۱ـ کانګو .
۶ـ عراق . ۱۲ـ فنلند

هغه هیوادونه چې دملګرو ملتونو د سازمان په عمومي غونډه کې د رای ګیرې پر مهال حضور نه درلود عبارت دي له .

۱ـ یونان .
۲ـ سیسل .
۵ـ یمن .( [1]ـ مخ : ۱۱۰ )

---

[2] دانشیار ، امیر اعتماد ( ۱۳۷۱ هـ ش ) .جنګ افغانستان و شوروي و عامل فروپاشي جهانی کمونیسم مخ : ۱۱۰

[1]ـ دانشیار ، امیر اعتماد ( ۱۳۷۱ هـ ش ) . جنګ افغانستان و شوروي فروپاشي کمونیسم . مخ : ۱۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ترتیب د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي غونډه کې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد پوځي یرغل محکوم او ژر تر ژره یې د دغو پوځونو د وتلو غوښتنه وکړه .

هغه مهاجرین چې پاکستان او ایران ته تللي وو ، د جهادي تنظیمي رهبرانو له خوا جګړایزو رونیزو مرکزونو ته واستول شول چې وروسته یې بیا له هغوی څخه د شووري پوځونو ضد جګړه کې ګټه واخیسته هغوی هم دخپلو قربانیو په پایله کې د شوروي نظامي قواو ته درنه مرګ ژوبله واړوله . څکه دوی په پارتیزانۍ جګړه کې پوره مهارت در لود . بل لوري ته یې د بهرنیو هیوادونو مجاهدینو ته دا زمینه برابره کړه چې د راډیو ګانو ، کتابونو . مجلو او ورځپاڼو پواسطه د شوروي اتحاد د یرغل او اشغال پرضد پراخ تبلیغ وکړي او د ټولې نړۍ مجاهدینو ته یې ډاډ ورکاوه . د دوی یې بې دریغه نظامي او مالي ملاتړ کاوه چې د امریکا هدف شوروي اتحاد ته ماتۍ ورکول او د ویتنام بدل اخېستل و . خو د شوروي اتحاد د یرغل سره سم د پاکستان جمهور رئیس جنرال ضیاء والحق او د هغه د استخباراتي سازمان ( اي ، اس ، ای ) رئیس اختر عبدالرحمن یوه طرحه جوړه کړه. د شوروي پر ضد د د موضع ګیری په اړه د امریکا د کانګرس غړي چارلس ویلسن دا سې نظر لري : (( در ویتنام ۵۸۰۰۰ پنجاه وهشت هزار امریکا یي کشته شده و ما در زمینه مقروض روسها هستیم ... من به خاطر ویتنام با آن یک عقده روانی ګرفته ام و شورویها نیز باید مزه انرا به چشد . )) [1]مخ : ۳

پاکستان د جهاد په خاطر اوه تنظیمونه جوړ کړل ، د دوي استدلال دا وه ،چې مونږ مجاهدین څکه په اوه تنظیمو وویشل چې په جهاد کې یو د بل په وړاندي مثبته سیالي وکړي ، خو حقیقت دا وو چې ضیاوالحق پوهیده کومه وسله او پیسي چې مجاهدینو ته راځي که دا ټوله وسله یو تنظیم ته ورکړل شي او په افغانستان کې یو تنظیم وي بیا به دا تنظیم د دوي له قوماندي څخه سرغړونه وکړي ، نو څکه یي دا لاندي اوه تنظیمونه جوړ کړل او د هر یو تنظیم

[1]_ محمد یوسف ومارک ، ادکین ( ) فاجعه قرن ما ، تک خرس ، مترجم داکتر نثار احمد ( صمد ) مخ : ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سر کې يې يو مذهبي او روحاني شخيصت وټاکه ، لکه حزب اسلامي ، په سر کې گلبدين حکمتيار ، جمعيت اسلامي د برهان الدين رباني په مشرۍ دوی دواړو د اخوان المسلمين د ايديا لوژۍ سره سم فعاليت کاوه ، حرکت انقلاب اسلامي د مولوي محمد نبی تر مشرۍ لاندې ، حزب اسلامي د مولوي خالص چې د حکمتيار د حزب اسلامي څخه يې انشعاب کړي و د مولوي محمد يونس خالص په مشرۍ ،محاذ د پير سيد احمد گيلانی په مشرۍ ، د ملي نجات جبهه د حضرت صبغت الله مجددي په مشرۍ او اتحاد اسلامي د استاد عبدالرب رسول سياف په مشرۍ فعال شول . خو جنرال ضياء والحق په دوی ټولو کې په گلبدين حکمتيار باندي ډيره پيرزوينه در لوده [2]_ مخ : ۳۲۲

ښاغلي ډگروال محمد يوسف په خپل اثر تلک خرس کې د پاکستان موخي روښانه کوي او داسې ليکي : «من به حيث رئيس شعبه افغانی در« اي ، اس ، ای » نه تنها مسوليت آموزش و تسليح مجاهدين را بعهده داشتم بلکه عمليات ايشارات در داخل افغانستان نيز پي پريزی مينمودم .... هدف من اين بود تا افغانستان را بحيث ويتنام شو رويها در اورم ... افغانستان را بايد اهسته اهسته به آتش کشانيد . ما در سال ۱۹۸۳ تقريباً ۱۰۰۰۰ ده هزار تن اسلحه و مهمات را تسليم شديم . در حاليکه اين مقدار در سال ۱۹۸۷ م به ۶۵۰۰۰ شصت وپنج هزار تن رسيد . قسمت عمده و بيشتر اين اسلحه از چين ، مصر ، و بعداً از اسرائيل سرازير ميشد .... يگانه ذريعه ايکه برطيق ان تنظيم ها و قوماندانان را تحت اثر خود در اورده ميتوانستم و يا انها را به خط وسير مطلوب سوق داده ميتوانستم . همان تخصيص يا دريغ داشتن اکمالات و اموزش بود .... ما به غرض طرح اهداف خويش مصروف کارې بودم که بر مبناي آن فيصدی اسلحه برای هر تنظيم را تعيين مينموديم . محک يا معياريکه بر افق آن ما اين فيصدی های واقعبينانه را تدوين ميکرديم کاملاً وابسته به شايستگی آنان در جنگ بود ...... فيصدی تخصيص ايکه درسال ۱۹۸۷ به احزاب داده ميشد ازين قرار بود انجينر حکمتيار ۱۸_ ۲۰ فيصد ، استاد ربانی ۱۸_ ۱۹ فيصد ، استاد سياف ۱۷_ ۱۸ فيصد ، مولوی صاحب

---

[2]_ عطايي ، محمد ابراهيم . افغانستان معاصر تاريخ لنډه کتنه . مخ : ۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالص ۱۳_۱۵ فیصد ، مولوی صاحب محمدنبی ۱۳_۱۵ فیصد ، پیر گیلانی ۱۰_۱۱ فیصد و صبغت الله مجددی ۳_۵ فیصد . درسال ۱۹۸۴ بتعداد بیست هزار مجاهدین از پروگرام اموزشی ما مستفید شده اند . ما در ۱۹۸۵ به تعداد ۱۷۷۰۰ و در سال ۱۹۸۶ بعتداد ۱۹۴۰۰ نفر را اموزش نظامی داده ایم ..... تا ۱۹۸۷ یعنی در زمان چهار سال دست کم ( ۸۰۰۰۰) هشتاد هزار مجاهدین درپاکستان تربیه نظامی شده در حالیکه تعداد بیشتر ازین در افغانستان نیز تحت اموزش قرار گرفته اند ... هدف ما ... نه تنها خروج شورویها از افغانستان بلکه طردو مفرور ساختن کمونست های افغان از کابل نیز بود .... جنرال اختر هم همین عقیده اي را داشت ، در حالیکه ارمان ما نیز چنین بود . روی همین ملحوظ بود که کابل باید مشتعل و تباه میگردید ... این بود سرمنزل مقصود ما از ده مطالب دلخراش کننده دیگر .....)[1]_ مخ : ۳

لـه هنـد څخـه د پاکستان بیلیدل ، پاکستان تـه حساس موقعیت ورکړ، د پښتونستان پرسر د افغانستان سره اختلاف د پاکستان د پوځ ارزښت زیات کړ . د پاکستان حکومت واک د اردو پـه لاس کې و پـوځ نـه یـوازې پـه کورنیو چارو کې فعال رول در لود بلکې پـه بهرنیو مسایلو کې هم وروستۍ خبره د پـوځ خبره وه د بغداد او د نړیوال تړونونو سیټو او سنټو سره د پاکستان پـه یـو ځای کیدو کې یې هم فعال رول لوبولی دی ، همدارنګه پاکستان چې د هند او افغانستان پـه ګاونډ او لـه شوروي اتحاد سره نږدی پروت دی مجبور وو ، تر څو یو پیاوړی متحد پیدا کړي . چې د خپلو ګاونډیو پـه منځ کې د دوی ټینګه مرسته او ملاتړ وکړي . امریکا هم د یو داسې دوست متحد پـه لټون کې و . چې د آسیا پـه زړه کې د چین او هند پـه ګاونډ کې د هند ساحل شوروي اتحاد او فارس خلیج تـه نږدي پروت و . لـه همدي ځایه د دواړو هیوادونو ګټې یو لـه بـل سره تړاو پیدا کوي او د دوي تر مینځ د ستراتیژیکو اړیکو د ایجاد سبب ګرځي . داړیکو لـه ټینګیدو وروسته امریکا پـه پیښور کې د معلوماتو یـو مرکز پرانیست . پـه مرکزي آسیا او افغانستان کې پر مسلمانانو د فشار د زیاتیدو

---

[1]_ محمد یوسف ومارک ادکین ( ) . فاجعه قرن ما . تلک خرس ،، مترجم . داکتر نثار احمد (صمد ) مخ : ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د پاکستان د موقف د پیاوړي کیدو له پاره ښه چانس و . او پاکستان د امریکا سره په نظامي تړونونو کې شامل او له دې موقع څخه یې ښه ګټه واخیسته .[1]_ مخ : ۵۲

د پورته موخي سر ه سم په ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر په ۲۷ د شوروي له یرغل څخه وروسته د افغانستان او پاکستان اړیکې ډیرې بحراني شوې . خو کله چې په (۱۹۸۸ ز ) کال د اګست په ۱۷ مه جنرال ضیاوالحق او جنرال اختر عبدالرحمن په یوې هوائی سانحه کې د یو شمیر جنرالانو سره له مینځه ولاړل او غلام اسحق خان واک ته ورسید . د هغه اړیکې هم د افغانستان د دولت او ډاکتر نجیب سره خرابې وې . خو د ۱۹۹۲ لمریز کال په اپریل کې مجاهدین واک ته ورسیدل میا محمد نوازشریف د پاکستان صدراعظم کابل ته راغی او حضرت صبغت الله مجددي سره یې د مرستو وعده وکړه . د طالبانو د نظام سقوط پورې د دواړو هیوادونو تر مینځ اړیکې دوستانه وې .[1]_ مخ : ۱۲۰

جنرال ضیاوالحق به په خپلو خبرو کې په دې ټکي ډیر ټینګار کاوه چې د افغانستان مجاهدین د پاکستان د دفاع لپاره جنګیږي او دا خبره په ټول پاکستان کې مشهور وه چې ( جنګ افغانستان دفاع پاکستان ) د نړۍ لرې او نږدې هیوادونو خپلو موخو ته د رسیدو په خاطر د افغانستان د مجاهدینو کلک ملاتړ وکړ. او د افغانانو د قربانیو په پایله کې هغوی خپلو موخو ته ورسیدل او شوروي پوځونو په افغانستان کې داسي ماتي وخوړله چې د نورو لاملونو په خوا کې د شوروي اتحاد د ړنګیدو سبب وګرځید .

---

[1]_ انصاري ، خواجه شیر احمد (۱۳۸۳ ل ) . افغانستان د تیلو په لمبو کې ، ژباړن سید عبدالله پاچا ، مومند خپرندویه ټولنه ، کابل افغانستان مخ : ۵۲

[1]_ احمد سعیدي ( ۱۳۹۱ هـ ش ) . پاکستان محور شرارت . چاپ سوم مطبعه سعید . کابل افغانستان مخ : ۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴.۱۲ـ د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په سیاسي بیرو کې د نظر اختلاف

د ۱۹۸۲ ز کال د نوامبر ۱۳ مه چې د ۱۳۲۵ ل کال د لړم له ۲۲ مې سره برابره ده د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو غونډه دایره شوه ، د غونډې په جریان کې ګورباچوف د غونډې ګډونوالو ته وویل : ایا ټولو ملګري ( چیریکوف ، شیوارد نازي او ایلسن ) له یاداشتونو سره اشنا شول . د سیاسي بیرو غړو وویل ! هو : آشنا شو .

ګورباچوف : چې داسې ده نو راځئ د نظریو را کړه ورکړه پیل کړو ما ته خو زړه وايي چې په کار نه دي چې فرصت له لاسه ورکړو . نجیب زموږ مرستې ته اړ دی . هغه د پېښو سم جاج اخلي او د ځان په وړاندې د پرتو ستونزو په سختوالي ډیر ښه پوهیږي . هغه د ملي روغې جوړې له پاره د هڅو چټکوالی ، له بزګرانو سره د یووالي د پیاوړتیا او دهیواد د ګوندي او دولتي مشرتابه یو موټي والی خپله اساسي دنده بولي ..... کارمل لور په لوټه تیره کوي . ( [1]ـ مخ : ۳۲۷ )

دا شپږم کال دی چې په افغانستان کې جنګیږو که نوري لارې چارې ونه سنجول شي نو ۲۰ یا ۳۰ کاله به نور هم د جګړې لپاره هلته پاتې کیږو ، دا کار کولای شي پر حالاتو د اغیزې ښیندلو په هکله زموږ وړتیا تر پوښتنې لاندې راولي ، زمونږ پوځیانو ته هم باید وویل شي چې د جګړو له بهیر څخه یې کافي لوست نه دي زده کړی ، ښايي د دې کار له پاره زمینه نه وي برابره شوي چې زموږ ستر درستیز په خوځیدو راشي . اصلاً د دې ستونزې د هوارولو لپاره سمه لار نه ده غوره کړې . ځکه موږ مجبور یو چې د یوې ناپایه مودې لپاره وجنګیږو او په دې توګه نړیوالو ته ثابته کړو چې د حالاتو د رغولو وس نه لرو

---

[1]ـ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور مخ : ۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ باید دا پروسه په ډیره لنډه موده کې غوڅه او ختمه کړو. (۱ـ مخ: ۳۲۸)

ګرومیکو: باید ستراتیژیک هدف وټاکل شي. څه موده وړاندې مو په دې هکله بحث وکړ، چې باید له پاکستان سره د افغانستان پولې وتړل شي. تجربې وښودله چې موږ د دې کار له بشپړې اجرا څخه د سیمې د ګران جغرافیایي موقعیت او سلګونو غرنیو لارو شته والي له امله عاجز پاتې شوو. نن باید په رسا ټکو کې دا خبره وشي. ستراتیژیکي دنده دا ده چې باید د جګړې د ختم لارې چارې وموندل شي.

ګورباچوف: په پریکړه لیک کې باید د یو کال یا د دوو کلو په موده کې د دغې جګړې د ختم خبره یاده شي.

ګرومیکو: دا کار باید داسې پای ته ورسیږي چې افغانستان د بیطرفه دولت په توګه پاتې شي. داسې ښکاري چې موږ د افغانستان مشرتابه ته د پوځي مرستو د موافقې څرګندولو په وخت کې احتمالي ستونزې پوره نه دي شمیرلي. د افغانستان ټولنیزو لانجو په لنډه موده کې د دې ستونزې هواری ناشونی کړ، د دې هیواد دننه چا زموږ ملاتړ ونه کړ، د افغانستان پوځ به چې څومره کسان جلبیږي، هومره تري تښتي تر کومه چې د افغانستان د کورنیو حالاتو په جاج اخستلو او تحلیل پوري اړه لري. د نجیب هره خبره سرې تقریبا منلي شي. خو لازمه ده چې د کارمل ستړه دې یو ځل غوڅه کړی شي. ځکه چې هغه په یو ډول سمبول بدل شوی دی. په کار ده چې زمونږ استازي له هغه سره یو ځل وغږیږي. باید هڅه وشي چې هغه په عمومي خط السیر کې باقي پاتې شي. د هغه بشپړ غوځول سمه خبره نه ده، غوره دا ده چې هغه همداسې زمونږ تر څنګ پاتې شي. (۲ـ مخ: ۳۲۹)

---

۱ ګروموف، ب (۱۳۷۵ هـ ش). سري لښکري په افغانستان کې. مهتم او ژباړه، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه، پښور مخ: ۳۲۸

۲ـ ګروموف، ب (۱۳۷۵ هـ ش). سري لښکري په افغانستان کې. مهتم او ژباړه، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه، پښور. مخ: ۳۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب د پراخو اقداماتو د کولو وړاندیز کوي . هغوی ته پاملرنه کول په کار دي . یو اقدام له دولتي واکمنۍ څخه د بزګرانو د ملاتړ جلبول دي او بل اقدام د افغانستان دننه او بهر له هغو اسلامي ډلو او تنظیمونو سره خبرې کول دي . چې د روغې جوړې خبرې مني ، دویم اقدام له پخواني پاچا سره د تماس ټینګول دي ، فکر کوم چې د هغو ردول غوره خبر نه بریښي . کیدای شي دا کارونه په کومه بله بڼه هغسې چې د نجیب وړاندیز دی تر سره نشي . اوس یو بل مشخص او مهم ټکی له هغو سره د دې ستونزو د څیړنې لپاره په کار دی . د کار مشخص پلان په کار دي ښه به وي که په دې کار کې له پاکستان سره د تماسونو د ټینګولو له لارې مونږ هم ونډه واخلو . تر کومه ځایه چې د امریکایانو خبره ده . هغوی د افغانستان د لانجې په غوڅولو کې خپلې ګټې نهویني . برعکس د جګړې لا اوږدیدل د هغوی په ګټه دي .

ګورباچوف : رښتیا همداسې ده : ([1]_ مخ : ۳۳۰ )

ګرومیکو : په دې هکله فکر کول په کار دي چې څنګه کیدای شي چې دروغې جوړې بهیر ته هندوستان را جلب کړی شي . د دغو خبرو په سپینولو کې د حل د لارې د موندلو لپاره زموږ د امکاناتو له زیاتوالي سره مرسته نشي کولای . لنډه دا چې د لانجې سوله ایزه حل دي نور هم چټک شي که موږ په دې لاره کې ګامونه او چټ کړو زمونږ اولس به ارامه ساه واخلي .

سالومنځوف : په زړه پورې به وي که د اکتوبر د انقلاب تر او یا یمې کالیزې پورې سیاسي حل بشپړ شي .

ګرومیکو : د د غسې یوې مودې ټاکنه ګرانه ده .

چیري کوف : د دې مسلې په هکله ډیرې پریکړې شوي دي ، خو له بده مرغه د افغانستان د ننه او د هغه چار چاپیره حالات لا هماغسې خړپړ دي . زه د میخایل سرګوویچ ګورباچوف د هغه وړاندیز ملاتړ کوم چې وایي باید هڅې ګړندی او یوې منطقي پایلې ته ور سولی شي . رښتیا ده چې موږ د پولو د تړلو تصمیم نیولی و ، اندر یوویچ ګرومیکو تر دې اندازې په حقه دی چې

---

[1] ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور . مخ : ۳۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجغرافیایي یا نورو عواملو له امله د دغسې یو عمل د سر ته رسولو ستونزي يي په گوته کړي . خو تر یوې اندازې د پولو په ترلو کې زموږ د پاتې راتللو بل دلیل دا دی چې د هر هغه څه د کولو ، وس مو درلود . سرته نه دي رسولي . غلیم اوس خپل تاکتیکونه بدلوي هغه تر ځمکې لاندې فعالیت ته لاس اچولی دی باید د ستونزې د سیاسي حل لارې چارې وموندل شي . پوځي تاکتیکونو په تیرو شپږو کلونو کې نتیجه ور نه کړه .

څه کولی شو ؟ په لومړي گام کې به غوره وي . چې نجیب مسکو ته راوبولو . هغه هیڅکله د لته نه دی راغلی . ښایي د کارمل د دې اوسنیو نخرو دلیل هم دا وي چې موږ تر اوسه نجیب رسمي نه دی میلمه کړی . له هغه سره موږ یوازې په تیلفون کې او هغه هم د منځگړو له لارې خبرې کړې دي . خو دا بیخي بل شي دی مخامخ خبري اتري ضروري دي . کیدای شي د هغه په ترڅ کې ډیرې خبرې روښانه شي مهمه ده چې په دغو خبرو کې نور ځنډ ونشي . په کار ده چې د هغو د سرته رسولو له پاره یوه یا دوه ورځې وخت ومومو . بله مهمه خبره د ځینو کسانو تغیر او تبدیل دی . (1 _ مخ : ۳۳۱ )

گورباچوف : د دغو تغیراتو په راوستلو کې څوک د هغه د لارې خنډ گرځي؟

چیري کوف : تر یوې اندازې موږ ټول د ( دوست* ) د بدلولو په سر خبره همداسې ده . د دفاع وزیر په سر همدا لانجه راپورته شوې ده او د افغانستان دخلکو دیموکراتیک گوند د سیاسي بیرو د نورو غړو د ټاکنې په وخت کې هم همداسې وشول .

گورباچوف : ما فکر کاوه چې شاه محمد دوست ته مو د دغو خبرو د غوځولو په هکله خپله رضا څرگنده کړې ده .

چیري کوف : چې داسې ده نو ولې هیڅ شي نه هواریږي ؟ زموږ زیات وخت د افغانستان د لانجي خیړل نه نیسي . بلکه په دې هکله غږیږو چې دوست چیرته

---

1 _ گروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور .. مخ : ۳۳۱

* _ دوست څخه مطلب محمد دوست د بهرنیو چارو د وزارت څخه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیبرل شي او د دفاع وزیر چیرته کار وکړي. په دې صورت کې باید ملګری کریوچکوف ته چې اوس په کابل کې دی لارښوونه وشي چې له نجیب سره په خبرو کې دې د دې لانجو له څیړلو څخه ځان تیر نه کړي او مخامخ دي ورته: دا لانجي هسې چې معقولې بولي پخپله حل کړي......

دوبرینین: نجیب ته باید د عمل خپلواکي ور کړل شي دلته دوه پوښتنې منځ ته راځي. لومړی د ملي روغې جوړې تګ لاره او دوهمه د افغانستان د شاوخوا حالاتو سیاسي حل.

کارمل باید له لارې لیرې کړل شي. خو دا خبره هم باید له یاده ونه ایستل شي چې د افغانستان د خلکو د موکراتیک ګوند د سیاسي بیرو یو غړی هم د ملي روغې جوړې په برخه کې له نجیب سره توافق نه لري... د دغسې یوې روغې جوړې په برخه کې له نجیب سره توافق نه لری. له بله پلوه د دغسې روغې جوړې نقشه هم وجود نه لري (1 _ مخ: ۳۳۲)

ګورباچوف: د حل له پاره نقشه شته موږ هغه تصویب کړي هم ده، خو په عمل کې هیڅ کار مخ ته نه ځي. سرګي فیود ورویچ (اخرامیف) کیدای شي ته د دې لانجې غوڅولو ته لاس واچوې.

اخرامیف (د شوروي اتحاد دفاع د وزیر مرستیال): د دې لانجې حل شونی نه دی.

دوبرینین: د افغاني مشرتابه له پاره د نقشې طرح لا اساسي خبره نه بریښي. زه مسکو ته د نجیب د رابللو غوښتنه کوم اوس کیدای شي ملګری کریوچکوف ته له نجیب سره د کتنې لارښوونه وکړو. کریوچوف دې نجیب ته ووایي چې هغه په خپله کولی شي د شاه محمد دوست او کارمل برخلیک وټاکي خو دا کار دي داسې وشي چې د ګوند دننه فرکسیوني شخړې بیا را پورته نه شي.

---

[1] _ ګروموف، ب (۱۳۷۵ هـ ش). سري لښکري په افغانستان کې. مهتم او ژباړه، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه، پېښور. مخ: ۳۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخرامیف : پـه افغانسـتان کـې زمـوږ د جنګیـدو دا دی اووه کالـه پـوره کیدونکي دي . د دغه هیواد د خاورې داسې ټوټه نشته چې یو ځل د شوروي عسکر ونه وي نیولې . خو له دې سره سره د هیواد زیاته برخه د باغیانو پـه لاس کې ده . د افغانسـتان حکومت کـافي وسله وال ځواک لـري : ۱۲۰ زره تنـه پـه اردو کې ، ۱۱۵ زره تنه پـه څارندوی او شل زره تنـه پـه استخباراتي ارګـانونو کې تنظیم دي . داسې هیڅ پوځي هدف نشته چې لاس تـه نـه وي راغلي خو بیا هم نتیجه هیڅ ده . د دې ټولو خبرو دلیل دا دی چې پـوځي بریـاوې لـه سیاسي ملاتړ څخه بې برخې دي . ([1] ـ مخ : ۳۳۳ )

پـه مرکز کې واکمني شته خو پـه ولایتونو کـې وجـود نـه لـري ، کابـل او د ولایتونو مرکزونه زمونږ پـه لاس کې دي ، خو پـه نیول شویو سیمو کې د واکمنۍ ټینګـول شـوني نـه شـول . د افغانسـتان د اولس پـر سـر مبارزه مـو بـایللې ده . د اولس کمه برخه دحکومت ملاتړ کوي . زمونږ لښکرو پنځه کاله جګړه وکړه هغه اوس د دې وس لـري چې حالات پـه همدې اوسنۍ بڼه وساتي خو پـه دې عمل سره به جګړه اوږدې مودې پورې دوام ومومي .

پنځوس زره شوروي عسکر د پولې ترڅلو تـه اړم شـوي دي خو بیا هم نـه شـي کولای ټولې هغه لارې نشي بندولې چې لـه بهر څخه پـرې بارونـه را وړل کیـږي . یو ځل بیا وایم چې موږ حالات پـه اوسنۍ بڼه ساتلی شو خو باید چې د حل یوه لاره وموندل شي او لانجه هسي چې اندره یـوییچ ګرومیکو وویـل هڅـه بایـد وشي چې لـه پاکستان سره تماسونه پیل شي . [1] ـ مخ : ۳۳۴ )

وارنځوف ( د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر لومړی مرستیال : غـواړم دملګري اخرامیف لـه خوا د څرګندو شویو نظریو پـه اړوند یو څو خبرې وکړم . افغانستان یو کرنیز هیواد دی .( د وګړو پـه سلو کې اتیا برخـه بزګران دي ) خـو انقلاب همدوی تـه لـه هر چا نـه کم خیر رسولی دی . د انقلاب پـه اتـو کلونو کې

---

[1] ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري پـه افغانسـتان کـې . مهتم او ژبـاړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور .مخ : ۳۳۳

[1] ـ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري پـه افغانستان کې . مهتم او ژبـاړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور . مخ : ۳۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرنیزو محصولاتو اندازه یوازې په سلو کې اووه زیاته شوې او بزگران له انقلاب څخه په مخکي شرایطو کې ژوند کوي . د سیاسي بیرو غړي ملگري زیری* له ما سره د خبرو په ترڅ کې دا ومنله چې (( گوند لا تر اوسه د بزگرانو منځ ته نه دی ور ننوتی )) د ځمکو او اوبو اصلاحات ناموثر را وختل او په عمل کې پلي نه شول . اوس ملگری نجیب هڅه کوي گټوري خواته د هغو د ورگرځولو په منظور په هغو کې تجدید نظر وکړي ، بزگرانو له انقلاب څخه کومه غټه مادي گټه نه ده تر لاسه کړې . له بلي خوا اوسني وخت کې لکه هغسې چې ملگري زیري وویل د هیواد د اتلسو میلونو وگړو له ډلې څخه یوازې پنځه میلونه د دولت تر کنترول لاندې دي . له دې ډلې څخه درې میلونه وگړي په ښارونو کې او یوازي دوه میلونه یې په کلیو کې اوسیږي او دا له ۳۰ یا ۴۰ زرو کورنیو څخه نه زیاتیږي . د دولت او گوند مخکښې مشرتابه ته داسې مشخص پلانونه نه دي پاتې چې څرگنده کړي څه ډول کیدا ی شي د دغو دري څلور سوو زرو بزگري کورنیو مادي حالت چې د دولت تر اغیز لاندې سیمو کې ژوند کوي . په پشپړه ډول ښه کړی شي . د سیاسي بیرو غړي د اقتصادي او کرنیزو چارو د مسئول ملگري زیري په وینا : (( د بیلابیلو عواملو له امله په ځینو برخو کې ددولت تر کنترول لاندې د میشتو بزگرانو حالت له هغه چا څخه ډیر بد دی چې د انقلاب ضد ځواکونو د اغیزې لاندې سیمو کې ژوند کوي )) د انقلاب ضد ځواکونو تر اغیزې لاندې سیمو ته د لومړی اړتیا وړ شیان په ښه بڼه ورسیږي . (غنم په قاچاقي توگه له پاکستان څخه هلته راځي ) په خوست ، ارزگان او نورو سرحدي سیمو کې حالت همداسې دی . د زیري په وینا ځیني وخت داسې ضد او نقیض حالت هم منځ ته راځي چې زموږ تر کنترول لاندې سیمو کې میشتو بزگرانو ته مواد زمونږ له خوا نه بلکه د باندیونو له خوا ور کول کیږي .)) په دې مهمه برخه کې باید عاجل اقدامات

* ـ له زیري څخه هدف ډاکتر صالح محمد زیري دی . چې د سیاسي بیرو غړو او کرني وزیر و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشـي يعنـي د دولـت تـر کنتـرول لانـدي سـيمو کـې يـې بزګرانـو حالـت ښـه کړای شي . ([1]_ مخ : ۳۳۵ )

د افغانستان دخلکو دموکراتيک ګوند د مشرتابه ډير غړي هسې لټ او بې نوښته عادت شوي دي . ودريږي چې مشاور صاحب څه وايي او پخپله خس له ځايه نه خوځوي . خو ملګری نجيب داسې نه دی ، د هغه په څيره کې استعداد او قاطيعت له و رايه ښکاري هغه ته بايد د چارو په اجرا کې استقلال ور کړل شي. خو په عين حال کې دي د هغه د اعمالو څارنه هم کيږي چې د عمر د کموالي په وجه افراطي اعمال راو نه وځي . هغه ته بايد امکان ور کړو چې خپل ټيم په خپله غوره کړي .

ګورباچوف : د تير کال په اکتوبر کې مورږ د سياسي بيرو غونډه کې دافغان لانجې د غوڅولو اصلي کرښه وټاکله . هغه هدف چې مورږ غوره کړي و دا و چې بايد د شوروي پوځونو د ايستلو بهير ګړندی کړای شي . خو په عين حال کې بايد دوست افغانستان ته هم د هغه د اړتيا وړ ټول شيان ور پوره کړی شي . ټاکل شوې ده چې دا مقصد د پوځي او سياسي اقداماتو سره په جوخت په سرته رسولو سره تر لاسه شي . خو له دغو برخو نه په يوه بر خه کې هم پرمختګ نه ليدل کيږي . د افغاني حکومت د پوځي دريځ د پياوړتيا مقصد تر لاسه نه شو . ملي وحدت هم زيات له دې امله تامين نه شو چې ملګري کارمل هيله در لوده چې وړاندي به هم همداسي په کابل کې ناست او زمورږ مرستې به ورسره وي . دې خبرې هم ناوړه اغيزه وښندله چې مورږ د افغاني مشرانو د پريکړو په لاره کې خنډونه اچول او هغه مو کمزوري کړل . ( [1]_ مخ : ۳۳۲ )

له بلې خوا په مجموع کې ټاکل شوې نقشه په ښه توګه نه ده پلې شوې خو خبره په خپله نقشه کې نه بلکه د هغې د پلي کولو په څرنګوالي کې ده . بايد هڅې ګړندۍ شي خو په عين حال کې ددي دوو خبرو دقيق روښانول هم په کار

---

[1] _ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دويم چاپ دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور .مخ : ۳۳۵

[1] _ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دويم چاپ دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور .مخ : ۳۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي . لومړی د دوو کلو په اوږدو کې له افغانستان څخه زموږ د پوځونو ایستل په ۱۹۸۷ ز کال کې دې په سلو کې پنځوس او پاتې نیمايي برخه دي په راتلونکي کال کې وایستل شي . دوهم د سیاسي ځواکونو د حقیقي دریځونو په پام کې نیولو سره د رژیم د ټولنیز بنسټ پراختیا . په دې اړه دي له ملګري نجیب او کیدای شي د افغانستان د خلکو د موکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو له نورو غړیو سره لیده کاته وشي . باید له پاکستان سره خبرې پیل کړو . مهمه داده چې افغانستان ته د امریکاییانو پښه را اوږده نه شي . خو زه فکر کوم چې د امریکې متحده ایالات به په افغانستان کې پوځي لاس وهنې ته زړه ښه نه کړي

اخرامیف : هغوی به خپل وسله وال ځواکونه افغانستان ته ونه لیږي .

دوبرینین : په دې لانجه کې کیدلی شي دامریکې له متحده ایالتو سره یوې موافقې ته ورسیږو . ( [1] _ مخ : ۳۳۷ )

د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سیاسې بیرو په غونډه کې د پوره بحث او نظریاتو له ارایه کولو وروسته چې په هغوی کې د افغانستان او سیمې وضع بر رسي شوه ، دوی ټولو له افغانستان څخه د شوروي د پوځونو د ایستلو په اړه یو شانته نظر درلود او تاکیدیې وکړ چې د افغانستان له حکومت سره باید مرسته وشي . په ګوندي او دولتي رهبری کې باید بدلون راشي تر څو د شوروي د پوځونو وتلو وروسته له ځان څخه د دفاع توان ولري .

---

[1] _ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ) . سري لښکري په افغانستان کې . مهتم او ژباړه ، داود جنبش دویم چاپ دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور .مخ : ۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۳_میخانیل سرګوویپچ ګرباپوف واک ته رسیدل

میخانیل سرګوو چ ګورباچوف په ۱۹۸۵ ز کال د شوروي اتحاد د نوي مشر په توګه وټاکل شو . چې نوموړی په شوروي اتحاد کې د بیا جوړونې ، ازادۍ او ازاد خیالۍ د مفکورې خپرونکی ګڼل کیږي . ګرباچوف په ۱۹۸۵ ز کال واک ته له رسیدو وروسته په شوروي اتحاد کې د بدلونونو د عملي کولو په خاطر د همدې د (۱۹۸۵ ) ز کال په اپریل کې د شوروي د کمونست ګوند پلینوم دایر کړ. د دې پلینوم غونډې په افغانستان کې د شوروي پر پوځي مداخلې باندې کلکه نیوکه وکړه ، د دې مداخلې او اوږدې جګړې د تلفاتو او زیانونو بررسي یې پیل کړه . د افغانستان د قضیې د حل لپاره د ګورباچوف په اړه درې لارې موجودې وې .

۱_ د نظامي عملیاتو زیاتوالي چې پایله یې دواړو خواو ته زیات تلفات اړول دي .

۲_ د شوروي پوځونو فوري ایستل چې په دې صورت کې باید ماته قبوله شي او دې کار د شوروي حیثیت ته یې ډیر زیان اړوه .

۳_ د سیاسي حل له پاره د لارو پیدا کول تر څو په دې کار سره شوروي خپل حیثیت وساتي . [1]_ مخ : ۳۴۹

ګورباچوف دریمه لاره وټاکله اود ۱۹۸۵ ز کال له منې څخه یې د سیاسي حل له پاره هلې ځلې پیل کړې د ګورباچوف دویمه طرحه د نوي سیاسي تفکر پربنسټ د ختیځ او لویدیځ تر منځ د اړیکو ښه کیدل وو . ده د همدې موخې په خاطر په ۱۹۸۵ ز کال په ژنیو او ۱۹۸۶ ز کال په ریکجاویک کې د امریکا له جمهور رئیس رونالدریګن سره وکتل او له هغه سره یې له افغانستان څخه د پوځونو د ایستلو په اړه خبرې وکړې ځکه د نوي سیاسي تفکر طرحي په نړیواله کچه د اړیکو ښه کیدل او یو بل سره د ګډ فعالیت مفهوم درلود . ګورباچوف تحلیل کاوه چې نړۍ د بدلون په حال کې ده . د ټولې نړۍ خلک یو له

[1] پې بران و دیترکلي ( ۱۳۸۳ خورشیدي ) قیقان افغان ( حقیقت تجاوز شوروي بر افغانستان ) مترجم عبدالرحیم احمد پرواني ، انتشارات میوند ، کابل افغانستان مخ: مخ : ۳۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل سره د يو د بل په خواکې د ګډې همکارۍ هيله لري ، د نظامي مقابلي پر ځای بايد سياسي همکاري زياته شي . چې دا کار دوه اړخيزه همکارۍ او فعاليت ته اړتيا لري .ګورباچوف ته د لويديځ سره د اړيکو ټينګول او داخلي اصلاحاتو ډير ارزښت درلود .

ګورباچوف د شوروي د کمونست ګوند په ۲۷ مه کنګره کې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو ايستل بحث اود بهرنۍ سياست له پاره يې لاندې څلور اصله وټاکل .

۱ـ امنيت بايد دوبرې ، انتقام او مقاومت په دکترين باندي استوار نه وي .

۲ ـ د امريکا او شوروي تر منځ اړيکي بايد په هر اړخيزه توګه برسي شې .

۳ ـ که څه هم امريکا خپلو موخو ته د رسيدلو له پاره په نظامي ، او لوکوموتيف يا تحريک باندې اتکا لري ، مګر دامريکا د نظامي صنعت د کمپلکس اهداف د امريکا د خلکو له اهدافو سره تفاوت لري .

۴ـ ننۍ نړۍ د جګړې له پاره ډيره کوچنۍ ده ، ډير زيان ويني نور بايد تسلحياتي مسابقه او هستوي جګړه و درول شي . [1] ـ مخ : ۳۵۱

ګورباچوف په هلسنګي کې د لويديځو هيوادونو او شوروي ګډه غونډه دايره کړه . دې غونډه کې د شوروي او لويديځو هيوادونو اړيکو په ښه کيدو ، د جګړې د خطر د کموالي د اروپا امنيت او نورو موضوعاتو باندي بحث وشو ، دغه غونډه د ۱۹۸۲ ز کال د ډسمبر په ۲۲ مه ( ۱۳۶۵د سنبلي ۳۱ مه ) پای ته ورسيده ، دواړو خواو موافقه وکړه چې د انتلانتيک ساحه به ديورال تر غرونو پوري د هوا له لاري کنترولہ وي . هر وخت چې وغواړي يو د بل نظامي منابع او مرکزونه تفتيش کړي او همدارنګه يو دبل په نظامي تمريناتو کې برخه واخلي دهلسنګي موافقه د ختيځ او لويديځ په نږدې کيدو کې لومړنۍ ګام و .

بيا د ۱۹۸۲ ز کال داکتوبر ۱۰ مه ( ۱۳۶۵ ل کال تلی ۱۸ مه ) د امريکا جمهور

---

[1]ـ پې بران و ديترکلي ( ۱۳۸۳ خورشيدي ) قپقان افغان ( حقيقت تجاوز شوروي بر افغانستان ) مترجم عبدالرحيم احمد پروانی ، انتشارات ميوند ، کابل افغانستان مخ : ۳۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

رئیس رونالدریگن او گورباچوف په اسلنډ کې لیدنه وکړه د گورباچوف دا وړاندیز وکړ چې دواړه خوا به تر لسو کالو پورې د هوا پیما راکټونو تولید او ازمایش څخه ډډه وکړي . خو د امریکا جمهور رئیس رونالدریگن دا وړاندیز رد کړ . د امریکا د دعمل په مقابل کې شوروي اتحاد د امریکا ( ۵ ) پنځه دپلوماتان د ۱۹۸۲ ز کال د اکتوبر پر ۱۸ مه له شوروي څخه خارج کړل امریکا هم د شوروي د دعمل په مقابل کې ۵۰ پنځوس شوروي دپلوماتانو ته له واشنگتن څخه د وتلو امر ( د ۱۹۸۲ ز کال د اکتوبر پر ۲۲ مه ) صادر کړ . [1]_ مخ : ۵۳۲

د ۱۹۸۲ ز کال د اکتوبر په میاشت وه چې د اتریش په ښار کې د شوروي او امریکا د بهرنیو چارو وزیرانو لیدني هم مثبته پایله ور نکړه ، د دې هڅو په لړ کې د شوروي مشر گورباچوف یو لیک د انگلستان د صدراعظمي مارگریت تاچر په نوم لندن ته ولیږه ، د شوروي سفیر د ۱۹۸۲ کال د نوامبر په نیمایي کې دا لیک هغې ته تسلیم کړ . یوه اونۍ وروسته تاچر امریکا ته ولاړه تر څو د ریگن سره خبري وکړي . د خبرو موضوع له امریکا او لویدیځو هیوادونو سره شوروي اړیکې وي . تاچر هم غوښتل چې د امریکا او شوروي ترمنځ روغه وشي . [2]_ مخ : ۳۵۲

گورباچوف ۱۹۸۲ ز کال د نوامبر ۲۰ مه ( ۱۳۶۵ ل کال د قوس ۵ مه ) ډهلي ته ورسید ، نوموړي ژورنالستانو ته د خپل سفر موخه د دواړو هیوادونو تر منځ د ښو اړیکو موجودیت په آسیا کې په موجوده ستونزو خبري کول ، د هستوي جگړې څخه مخنیوي د یو نړیوال سالم محیط منځ ته راوړل په ځانگړي ډول د هند سمندر او اروپا پاسفیک کې د وضعې په اړه خبري دي . گورباچوف د افغانستان په اړه وویل : مونږ قصد نلرو چې هلته پاتې شو د افغانستان خلک هم دا خبره نه مني مونږ د یو مستقل او نا پیلیي افغانستان پلوي یو هغه

---

[1]_ حق شناس ، شر احمد نصري (۱۳۸۵ خورشیدي ) . تحولات سیاسي جهاد افغانستان . حلد اول مطبعه نعماني ، کابل افغانستان مخ : ۵۳۲

[2] _ حق شناس ، شر احمد نصري (۱۳۸۵ خورشیدي ) . تحولات سیاسي جهاد افغانستان . حلد اول مطبعه نعماني ، کابل افغانستان مخ : ۵۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ لري نه ده چې مونږ يو سياسي حل ته ورسيږو چې دا کار به له افغانستان څخه د شوروي عسکرو د وتلو زمينه برابره کړي . که امريکا او پاکستان موافقه وکړي ممکن ډير ژر يو سياسي حل ته ورسيږو .[1] _ مخ : ۵۴۵

د ۱۳۶۵ ل کال د ليندي د مياشتي په ۲۰ مه د افغانستان د حکومت په رهبري کې لاندي بدلونونه اعلان شو ، جنرال محمد رفيع د ملي دفاع وزير په توگه ، نظر محمد د هغه په عوض د صدراعظم د مرستيال په توگه ، شاه محمد دوست د بهرنيو چارو له وزارت څخه ليري په ملگرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان استازي په توگه عبدالوکيل دويتنام د سفارت څخه د بهرنيو چارو د وزير په توگه ، ببرک کارمل هم له گوندي او دولتي دندو څخه سبکدوش د هغه په عوض حاجي محمد څمکني چې يو غيري گوندي شخص و د انقلابي شورا د رئيس په توگه وټاکل شو . نجيب له دې تغير او تبديل څخه وروسته دخپلو ملگرو سره شوروي ته سفر وکړ گورباچوف نجيب ته وويل چې شورويان خپل دوستان يوازي نه پريږدي او خپلو انترناسيونالستي مرستو ته به دوام ورکړي . مگر اراده نلرم چې سور پوځ په افغانستان کې ډير پاتې شي ولي هر هغه څه چې د شوروي اتحاد د پوځونو ايستل چټک کوي هغه د افغانستان د شاوخوا مسايلو د حل عادلانه موافقه ده .[2] _ مخ : ۵۴۸

گورباچوف په ۱۹۸۶ ز کال په ولادي واستوک کې د وينا پر مهال له افغانستان څخه د شوروي پوځ د ۶ شپږو غونډونو د ايستلو اعلان وکړ او زياته يې کړه چې د سياسي توافق په صورت کې به ټول پوځونه وباسي . د ۱۹۸۶ زکال په اکتوبر کې د وعدې سره سم د غه غونډونه ووتل گورباچوف د

---

[1] _ حق شناس ، شر احمد نصري (۱۳۸۵ خورشيدي ) . تحولات سياسي جهاد افغانستان . حلد اول مطبعه نعماني ، کابل افغانستان مخ : ۵۴۵

[2] _ حق شناس ، شر احمد نصري (۱۳۸۵ خورشيدي ) . تحولات سياسي جهاد افغانستان . حلد اول مطبعه نعماني ، کابل افغانستان مخ : ۵۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي بیرو په غونډه کې وویل : زمونږ ځانګړې موخه له افغانستان څخه د پوځونو ایستلو چټکتیا او د یو دوست افغانستان موجودیت ده .[3]_ مخ : ۳۵۳

د شوروي د بهرنیو چارو د وزرات مرستیال کارینکوف او لوی درستیز اخرامیف داسې نظر درلود چې د افغانستان دولت د شوروي پوځونو له وتلو وروسته ژوندي نه شي پاتې کیدلې . نو دافغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند باید په داوطلبانه توګه واک پریږدي او یو ائتلافي حکومت دې جوړ کړي . خو د بهرنیو چارو وزیر ادوارد شووارد نادزې او د کې ، جي ، بي رئیس کریوچکوف داسې نظر درلود چې د شوروي د پوځونو له وتلو څخه وروسته هم به د افغانستان اوسنی حکومت رهبري کوونکی نقش ولري . مګر د ګورباچوف موخه تر هر څه ژر دشوروي پوځونو وتل او دنجیب په رهبری د دولت ساتل وو . د همدې موخې ته درسیدو په خاطر نجیب د ملي روغې جوړې کړنلاره اعلان کړه .[1]_ مخ : ۳۵۴

په پای کې د ګورباچوف د غوښتنې سره سم په ۱۹۸۹ ز کال کې د شوروي ټول پوځونه له افغانستان څخه ووتل. ګورباچوف په خپله وینا کې د اتریخ حقیقت په ډاګه کړ : (( که کمونست ګوند خپله بقا غواړي د کلکو مارکسیتي نظریاتو څخه دې لاس واخلي، ګوند ته په کار ده چې یوائې د زیارکښې ډلې پر ځای د ټولو ډلو د تنظیم رول ولوبوي . )) ده په بوریس یلسن باندې نیوکه وکړه چې د کارکولو پرځایونو باندې یې د سیاسي فعالیتونو بندیز لګولی وو . ده وویل په تیریو نیم کال کې په سلګونو او زرګونو غړو کمونست ګوند پرایښی دی، د ګوند بقا په انقلابي اصلاحاتو کې ده .[2]_ مخ ۱۷۲ _ ۱۷۳

---

[3] _ پې بران و دیترکلي ( ۱۳۸۳ خورشیدي ) قپقان افغان ( حقیقت تجاوز شوروي بر افغانستان ) مترجم عبدالرحیم احمد پروانی ، انتشارات میوند ، کابل افغانستان مخ : ۳۵۳

[1] _ پې بران و دیترکلي ( ۱۳۸۳ خورشیدي ) قپقان افغان ( حقیقت تجاوز شوروي بر افغانستان ) مترجم عبدالرحیم احمد پروانی ، انتشارات میوند ، کابل افغانستان مخ : ۳۵۴

[2] _ ولی محمد ، روسی اولني پراختیا غوښتنه مخونه ۱۷۲ _ ۱۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

گورباچوف په شوروي کې د کي ، جي ، بي استخباراتي سازمان رنګ کړ او کار کوونکي يي دفاع وزارت ته معرفي کړل . د ۱۹۹۱ ز کال د اګست په ۱۹ مه د ګورباچوف مرستيال ګيناډي کيانوف د ده پر ضد کودتاه وکړه ، خو بوريس يلسن کودتاه شنډه کړه او د کودتاه په تور د نورو کودتاچيانو سره يې د کې ، جي ، بي مشر کوچکوف هم ونيول . کوچکوف ستري محکمي ته په خپل بيان کې وويل : د ګورباچوف د حکومت د رنګولو موخه د شوروي اتحاد د مسکين کولو او پر هغه د واکمنۍ کولو په ترڅ کې د غربي هيوادونو د دسيسو څخه مخنيوی و. خو زه په دې خفه يم چې په دې هڅو کې بريالی نه شوم . د ناټو غړو هيوادونو پريکړه کړې وه چې لومړی شوروي اتحاد مسکين او بيا پری واکمني وکړي . [1] _ مخ : ۱۷۳

ميخانيل سرګوويچ ګورباچوف د يو لړ اصلاحاتو په اساس په لويديځ او امريکا کې ډير محبوبيت پيدا کړ په امريکا کې چې کله سرشميرنه وشوه او وه ځلوينښت ۴۷ سلنه وګړو د خپلې خوښې د شخص په توګه د ګورباچوف نوم واخيست . او ۷۹ سلنه خلکو د ده وړانديز د اتمي وسلو د بنديز د تړون په اړه دکال د شخص په توګه ګورباچوف غوره کړ . امريکايي مجلي ۱۹۸۸ ز کال دې دې غوره شخصيت په نامه ونوماوه . د واکمنۍ په وروستي پړاو د ۱۹۹۱ په جنوري کې نوموړی ته د سولي د نوبل د جايزي ګټونکې اعلان شو. او د ۱۹۹۱ په جون کې د ناروې د اوسلو په ښار کې د يوې ستري غونډې په ترڅ کې د جايزې ترلاسه کولو په مراسمو کې يوې ۲۱ کلنې افغاني مهاجره شهلا سلطاني د ګورباچوف په خبرو کې درې واره ورولويده خو دناروې پوليسو هغه له غونډې وويستله . [2] _ مخ :۱۷۴

د شوروي عسکرو د ويستلو پرسره ګورباچوف د سولې د نوبل جايزه واخيسته ، خوا فغانستان کې تر دې مهاله ( ۲۰۱۴ ز کال د اګست ۲۳ ) او ۱۹۹۳ ل کال اسد ۳۱ مه پوري سوله رانغله او د افغانانو د سولې ارمان پوره نه شو .

---

[1] _ ولي محمد ، روسي پراختيا غوښتنه : مخ : ۱۷۳

[2] _ ولي محمد ، روسي پراختيا غوښتنه : مخ : ۱۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۷ لمریز کال څخه تر ۱۳۷۱ زلمریز کال پوري
۱۹۷۹ ز کال ـ ۱۹۹۱ ز کال پوري د شوروي او افغانستان واکمنان

| گڼه | دواک موده | د شوروي اتحاد واکمنان | د افغانستان واکمنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۹۷۸_۱۹۷۹ | بریژنیف | نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین |
| ۲ | ۱۹۸۲ ډسمبر | بریژنیف وروستۍ دوره | ببرک کارمل |
| ۳ | ډسمبر۱۹۸۲_اپریل ۱۹۸۴ | اندروپوف | ببرک کارمل |
| ۴ | اپریل ۱۹۸۴_مارچ ۱۹۸۵ | کانستاتین چرینینکو | ببرک کارمل |
| ۵ | مارچ ۱۹۸۵ | میخایل گورباچوف | ببرک کارمل |
| ۲ | ۱۹۸۲_۱۹۹۱ | گورباچوف | نجیب الله [1]_ مخ ۱۲۷ |

[1] ـ ولي محمد ، اولني پراختیا غوښتنه : مخ : ۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۴_ د ببرک کارمل گوښه کیدل او د ډاکتر نجیب الله واک ته رسیدل
## [ ۱۳۶۵ ل _ ۱۳۷۱ ل ]
## [ ۱۹۸۶ ز _ ۱۹۹۲ ز ]

په شوروي اتحاد کې له گرباچوف سره د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د لوړ پوړي هئیت تر لیدنې وروسته شوروي مشران دې پایلې ته ورسیدل چې کارمل باید گوښه شي ، کارمل هم د خپلو شوروي ملگرو په دریځ پوه شوه ، ځرگنده یې کړه ، موافق دی خو باید کابل ته ولاړ شي او له خپلو همکارانو سره خبرې وکړي ، فکر وکړی چې هر څه به په سمه توگه سرته ورسیږي ، ده هڅه کوله چې له وخت څخه استفاده وکړي . خو شوروي مشرانو له کارمل څخه د استعفا اخېستلو لپاره کریوچکوف چې له اندروپوف سره په ((کی ، جي ،بی ،)) کې کار کاوه او دکابل د رژیم له لوړ پوړو چارواکو سره یې پوره بلدیت درلود وټاکه .

هغه ته ویل شوي وو چې پرته له شورماشوره له کارمل څخه استعفا واخلي کریوچکوف چې کله کابل کې له کارمل سره لیدنه پیل کړه ، کارمل د گواښ په توگه وویل : د شوروي د ډاکترانو د غمخورۍ له برکته زه ځان ډیر ښه احساسوم او روغ ، رمټ یم . کریوچکوف ورته وویل : په افغاني مشرتابه کې ستونزې را منځ ته شوي . شوروي مشران له تاسې غواړې چې د یو صادق ( انترناسیونالست ) ملگري او د هغوی د همکار په توگه خبرې و کړي چې تل یې ټولنیزې گټې له خپلو شخصي گټو څخه لوړې گڼلې دي . کارمل وویل ټول هغه معلومات چې په دې وروستیو وختونو کې سفیر او د(( کی ، جی ، بی )) استازي مسکو ته ور کړل هغه ټول دروغ دي . ([1]_ مخ : ۱۲۳ )

کارمل فکر کاوه چې اوس څه وکړي د شوروي مشرانو سلا ومني او که د شوروي په گټو گوزار وکړي ، . په دې وخت کې کارمل په خبرو کې بند بند شو

---

[1] _ شیبارشین . ل ، و ( ۱۳۸۲ ل ) . دمالتکو لاس ، ژباړن محمد طاهر کاکړ ، د افغانستان نشرات کلتوري ودې ټولنه ، چاپ دانش کتابتون پیښور . مخ ۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ناڅا په يې سمدستي چيغه کړه مامړ کړئ ، ما قرباني کړئ، خو چې دا قرباني ملت ومني ، د کريوچکوف خبرو ته غوږ نه نيوه او اجازه يې نه ور کوله چې دده خبرې ورغوڅې کړي ، قهر او غضب يې زياتيده او په لوړ اوازيې کې خبرو ته ادامه ور کړه او د شوروي رهبري يې ملامته کړه . کريوچکوف ورته وويل چې د مسکو له خبرو په افغانستان کې څوک خبر نه دي . په دې وخت کې کارمل په غضب شو ځواب يې ور کړ . تاسو فکر کوئ چې افغانان خره دي ، کارمل زياته کړه داسې پلان جوړ شوی چې ما له مينځه يوسي ، زما په زرگونو ملگري او همکاران به بنديخانې ته وغورځول شي . تاسي پر مونږ باور نه لرئ ، او مونږ ته دا را يادوئ چې په ۱۹۷۹ ز کال په مسکو کې د تره کی او بريژنيف له تودي ليدنې يوه اونۍ وروسته تره کی د امين له خوا ووژل شو . ولې شورويان زمونږ د هيواد په کورنيو چارو کې لاسوهنه کوي ؟([1] _ مخ : ۱۲۸ )

کريوچکوف د کارمل د دې خبرو په ځواب کې وويل چې شوروي حق لري څکه هغوی په افغانستان کې انترناسيونالستي دنده سرته رسوي او وژل کيږي ، تاسې بايد خپل ځان او د افغان انقلاب وساتئ ، کارمل په لوړ آواز وويل د افغان انقلاب په ارامه پريږدئ . تاسې وايې چه په افغانستان کې شورويان وژل کيږي خپل پوځو نه مو وباسئ ، پريږدئ چې افغانان په خپله د انقلاب ساتنه او دفاع وکړي . خو کريوچکوف ټينگار وکړ چې د استعفا موضوع له کابله پيل شوې ده . مسکو يوازې مرسته کوي چې وضع خرابه نه شي د ورځې په نيمايي کې د دفاع ، کورنيو چارو او دولتي امنيت وزيران کارمل ته ورغلل او په زغرده يې کارمل ته وويل چې استعفا ور کړه ، کارمل هغوی ته هم سخت ځواب ور کړ خو نورنا اميده شو او هيڅوک د هغه په دفاع کې ونه دريدل بالاخره کارمل تسليم شو او خپله استعفا يې ور کړه . [2] ( مخ : ۱۷۰ )

دې سره جوخت د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند د پرچم په اړخ کې اختلاف پيدا شو . د دې اختلاف پر مهال د گوند د سياسي بيرو اکثريت غړي

---

[1]_ شيبارشين . و ، ل ( ۱۳۸۲ ل ) ، د مسکو لاس . مخ : ۱۲۸

[2]_ شيبارشين . و ، ل ( ۱۳۸۲ ل ) ، د مسکو لاس . مخ : ۱۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رهبرۍ د بدلیدو پلوي وو ، اودا کاري یوه اړتیا بلله دوی دې پایلې ته رسیدلي وو چې د ببرک کارمل پر ځای نجیب وټاکي .

د ۱۳۶۵ ل کال د ثور په ۱۴ مه ( ۱۹۸۲ ز کال د مۍ په ۴ مه ) د گوند د مرکزي کمیټې په اتلسم پیلنوم کې د ببرک کارمل پر ځای ډاکتر نجیب د گوند د عمومي منشي په توگه وټاکل شو . همدارنگه د ۱۳۶۵ ل کال دقوس په ۲ مه حاجی محمد څمکنی د ببرک کارمل پر ځای د انقلابي شورا د رئیس په توگه وټاکل شو ، په دې اړه د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د سیاسي بیرو غړي او دخلق جناح ته منسوب میر صاحب کاروال داسې نظر لري : (( په رهبرۍ کې بدلون د شورویانو د فشار په اساس صورت وموند او د کارمل په استعفا کې د گوند داخلي فشار هم موجود و ، ځکه چې ببرک کارمل له شوروي څخه کابل ته راغی ، له ده څخه دولتي لوړ پوړو چارواکو لکه د گوند د سیاسي بیرو غړي صالح محمد زیري د ملي دفاع وزیر نظر محمد ، د کورنیو چارو وزیر سید محمد گلاب زوی، د دولتي امنیت وزیر یعقوبي د استعفا غوښتنه وکړه ، په کابل کې فوق العاده حالت و ، د کارمل د طرفدارانو تیلفوني اړیکي قطع شوي هوایي پروازونه بند شول ، خو کارمل خپله استعفا د شوروي استازي کریوچکوف ته ورکړه ، وروسته تر هغه د گوند په اتلسم پلینوم کې یې استعفا ومنل شوه .(([1]_ مخ: ۴۳۳ _ ۴۳۴ )

د ببرک کارمل له استعفا وروسته په گوند کې اختلاف زیات شو د خلق اړخ هم په دوو ډلو وویشل شو هغوی چې له نجیب سره کار کاوه عبارت وو له: ( محمد اسلم وطنجار ، رازمحمد پکتین ، شیرجان مزدوریار ، انجینر نظر محمد او هغه ډله چې د نجیب مخالف شوي وو عبارت دي له : سید محمد گلاب زوی ، شهنواز تنی ، نیاز محمد مومند ، میر صاحب کاروال . مگر د امین پلویان لکه عبدالرشید جلیلي ، ډاکتر شاه ولي ، عبدالحکیم شرعي جوزجاني ، عبدالقدوس غوربندي ، محمود سوما له بندي خانې څخه تر خوشې کیدو وروسته بې طرفه پاتي شول ، عبدالکریم میشیاق او د ستگیر

---

[1]_ اندیشمند محمد اکرم . ( ۰ ) حزب دیموکراتیث خلق افغانستان . کودتاه فروپاش ۴۳۳ _ ۴۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجشیري په دولت کې شامل وو خو له نجیب سره جوړ نه وو . او کارمل ته یوازې محمود بریالی ، انا هیتا راتب زاد ، نور الحق علومي ، مجید سر بلند ، سرور منګل ، امتیاز حسن ، واسع کارګر ، عبدالستار پردلی وفادار پاتې شول . ([1]_ مخ : ۹۸۰ _ ۹۸۱)

د پرچم د اړخ نورو غړو د لاندې دلایلو پر بنسټ د نجیب په ګټه خپله موضوع بدله کړه .

۱ _ د ببرک کارمل د لیرې کیدو تصمیم ، د شوروي له خوا نیول شوی دی نو د هغوی په مقابل کې مقاومت بې ګټې دی .

۲ _ که چیرې مقاومت وکړي پرچمیان متلاشي کیږي .

۳_ ببرک کارمل په خپله استعفا ور کړې ده .

دستګیر پنجشری وایي دا یوه سپینه کودتاه وه چې د امنیتي وزارتونو د مسئولینو له خوا پرته له وسله وال پاخون څخه سرته ورسیده . مګر د خلق جناح د نجیب په ملاتړ کې هیڅ ګټه و نه کړه او په پایله کې یې ډیر زیان ولید . [2] مخونه :۴۳۵_۴۳۲

حاجي محمد څمکنی د ۱۳۲۵ ل کال د سنبلې له ۲۹ می ( ۱۹۸۶ ز د د سپتمبر له ۲۰ می ) څخه ۱۳۲۵ ل کال د قوس تر ۹ پورې د انقلابي شورا د سرپرست په توګه دنده اجرا کړه ، چې ۱۳۲۵ کال د قوس په ۹ مه د لوی جرګې له خوا ډاکتر نجیب دهغه په عوض . د جمهور رئیس او حاجی محمد څمکني یې د مرستیال په توګه وټاکل شول ، په یاده لویه جرګه کې نوی اساسي قانون تصویب او د هیواد نوم د افغانستان له دیموکراتیک جمهوریت څخه دافغانستان په جمهوریت باندې بدل شو . د نجیب تر ټولو سخته مقابله د جلال اباد جګړه وه چې پوځ د ده سخت ملاتړ وکړ . او د ۱۹۸۹ ز کال په

---

[1] _ کشتمند ، سلطانصی . ( ۰ ) یاداشت هاي سیاسي و رویداد هاي تاریخي مخونه : ۹۸۰_۹۸۱

[2]_ اندیشمند ، محمد اکرم . ( ۱۳۹۱ هـ ) حزب دیموکراتیک خلق افغانستان کودتاه و فروبې مخونه : ۴۳۵ _ ۴۳۲ .

جولای کې پیښه شوه . همدارنګه ډاکتر نجیب الله د ۱۹۹۰ ز کال په جولای کې د ګوند دویمه کنګره دایره کړه ، په دې کنګره کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند نوم د وطن د ګوند په نوم تصویب شو .([1]_ مخ : ۹۸۵ _ ۹۸۶)

[1]_ کشتمند ، سلطانعلی . ( ۰ ) یاداشت های سیاسي و رویدادهای تاریخي مخونه : ۹۸۵_۹۸۶ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴,۱ ـ د ډاکتر نجیب الله کورنی او بهرنۍ پالیسي :

کله چې نجیب الله د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو له انتخابیدو سره سم په ګوندي او دولتي سیاست کې بدلون راغی .ډاکتر نجیب الله د هیواد د عیني واقعیتونو پر بنیاد خپله طرحه یې (د ملي روغې جوړې سیاست) چې په حقیقت کې د شخړو د هوارولو نوې لاره او ژورې انساني محتوا په لرلو سره د افغانانو له جګړو څخه دافغانانو د ژغورلو او په هیواد کې د تل پاتې سولې د ټینګښت لاره وه . د ۱۳۶۵ ل کال د جدي د میاشتې په ۱۳مه نیټه یې په ګوندي غونډه کې د یو ستراتیژیک هدف په توګه وړاندې کړه ، په پای کې د غونډې د ګډونکونکو له خوا تصویب شوه . او د همدغې ورځې له غرمې څخه وروسته په یوې درندې غونډه کې چې په هغې کې ګوندي او غیر ګوندي مشران را ټول شوي وو ، د نجیب الله له خوا د ملي روغې جوړې سیاست رسماً اعلان شو . د ۱۳۶۵ ل کال د جدي په ۲۵ نیټه یې یو اړخیز اوربند اعلان کړ او د ملي روغې جوړې سیاست عملي پلي کیدل پیل کړل ، همدا ډول د نوي سیاست څخه په پیروی د ۱۳۶۵ کال د دلوې د میاشتې په لومړۍ نیټه د سیاسي بندیانو د ازادولو په اړه د ډاکتر نجیب الله له خوا د بخښنې عمومي یو فرمان صادر شو چې د هغې په اساس په زرګونو بندیان خوشې کړل شول . ( [1]ـ مخ : ۱۵ )

د ملي روغې جوړې سیاست هغه وخت په لاندنیو څلورو اصولو ولاړ و .

۱ ـ له پوځي پلوه په ټول افغانستان کې د سولې بسیا کیدل ( یعنې د وسلې ټولول اویوې قانوني افغاني مرجع ته سپارل .

۲ـ په سیاسي ډګر کې ائتلاف ، سیاسي پلورالنیزم ، دموکراسي او یوه پراخ بنسټه حقوقي اداره جوړول .

۳ـ له اقتصادي ، ټولنیز پلوه د اقتصاد د ټولو ډولونو همزمان ممکنه وده او پرمختیا او د ازاد بازار اقتصادي سیستم تقویه .

۴ـ د ملي روغې جوړې په برنامه کې درې مسئلې د ړومبني عملي اقدام په توګه په ګوته شوې وې .

الف : شپږ میاشتنی یو اړخیز اوربند .

---

[1] ـ نوید ، نورالبشر ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن مخ : ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب : دوسله وال اپوزسیون په ګډون د ملي وحدت د حکومت تشکیل .
ج : تقریباً د پنځه میلیونو په شاوخوا کې د افغاني مهاجرینو له پاکستان او ایران څخه راستنیدل . ( [1]_ مخ : ۱۵ )
د دې سیاست معنی دا وه چې د افغانانو تر مینځ د ورور وژنې او وینې تویولو بهیر پای ته ورسیږي . تر څو خپل مینځي ستونزې ته د تیریدنې او ګذشت په روحیه د افغانانو د خپل منځي ډیالوک له لارې د حل امکان پیدا کړي ، د قدرت له یو اړخیز انحصار څخه ډډه وشي او یو پراخ بنسټه ملي اداره جوړه شي . او داسي فضاء را منځ ته شي چې ټول افغانان د ازادو ټاکنو له لارې د خپل سرنوشت د ټاکلو وس پیدا کړي ، ډاکتر نجیب الله د همدې سیاست د پلي کولو په خاطر ( ۱۳۶۶ کال ) د سرطان په میاشت کې د نوي اساسي قانون مسوده خپره کړه . د مخالفینو په شمول له ټولو خلکو څخه غوښتنه وشوه چې په دغه مسوده کې د بدلون په اړه خپل رغنده نظریات د اساسي قانون کمیسون ته واستوي ، څو میاشتې وروسته د نوي اساسي قانون د تائید او تصویب په خاطر لویه جرګه په کابل کې دایره شوه د نو ي اساسي قانون مسوده له یو لړ تغیراتو او بدلونونو څخه وروسته د لویې جرګې د برخه والو له خوا د ۱۳۶۶ ل کال د قوس د میاشت په نهمه نیټه تصویب شوه او ډاکتر نجیب الله یې د نو ي جمهور رئیس په توګه وټاکه . ( [2]_ مخ : ۱۲ )
د ملي روغې جوړې د سیاستستره بریا د ۱۳۶۷ ل کال د حمل د میاشتې په ۲۴ مه نیټه د ژنیو تړون لاس لیک کیدل وو چې د دې تړون پر بنسټ د ۱۳۶۷ ل کال د دلوې د میاشتې په ۲۲ مه نیټه د شوروي پوځونه په بشپړه توګه له افغانستان څخه ووتل او ډاکتر نجیب الله دا ورځ د ملي نجات ورځ اعلان کړه . نوموړي د ګوند د نوم او کړنلارې د بدلون لپاره د ۱۳۶۹ ل کال د سرطان د میاشتې په شپږمه نیټه د ګوند کنګره دایره کړه . ګوند د وطن د ګوند په نوم یاد شو او د پخوانیو بنیاد ګریوو او غیري عملي شعارونو سره یې مخه ښه وکړه . او په ګوند کې د روغې جوړې تګلاره په نوې روحیې سره

---

[1]_ نوید ، نورالبشر ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن مخ : ۱۵
[2]_ نوید ، نورالبشر ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن مخ : ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمبال کړه . د ملګرو ملتونو د دفتر تر مستقیمي سرپرستۍ لاندې او د هغوی په ضمانت د قدرت د ویش او یا بې طرفي شورا ته د لیږدولو میکانیزم د خبرو مهمه موضوع وه .د دغو خبرو رغنده پایلي د ملګرو ملتونو په پنځه فقریزه پلان کې انعکاس وموند .(1_ مخ : ۱۷ )

ټول تدبیرونه په چټکه توګه سرته رسیدل تر څو د ۱۳ کلني جګړې له ناورین څخه ستړي افغانان د یوي همیشنۍ سولې د برې لور ته ورسوي . نجیب د ملګرو ملتو د سکرتر جنرال پطروس غالي د غوښتني په اساس او د هغه د ځانګړي استازي او مرستیال بنین سیوان د پنځه فقره ایزه پلان له مخې د دولتي واکه څخه د ګوښه کیدو او د قدرت د لیږدولو د ژمني په اړه د ۱۳۷۰ ل کال د حوت د میاشتي په ۲۷ مه نیټه خپله تاریخي اعلامیه صادره کړه . په دې ترتیب د ملي روغې جوړې په لار کې ټولې بهانې او خنډونه عملاً ایسته شول ، نجیب ټولو ژمنو ته وفادار پاتې شو . (2_ مخ : ۱۸ )

په نړیواله کچه سیاسي بهیر د ډاکتر نجیب الله په زیان وو ځکه ده د ۱۹۹۱ ز کال د اګست ۱۹ نیټې له کودتاه وروسته په مسکو کې د نجیب ملاتړ ضعیفه شو او د ۱۹۹۱ ز کال په سپتمبر کې شوروي او امریکا موافقه وکړه چې د ۱۹۹۲ ز کال له جنوري په وروسته به د دواړو لورویو له ملاتړ څخه لاس اخلي . مسکو د دې سربیره اعلان وکړ چې کابل ته به دهغوي د اړتیا وړ غله د سوزیدو توکي او وسله لږه او یا بنده کړي او خپل ټول مشاورین به له افغانستان څخه وباسي . د ۱۹۹۱ ز کال د نوامبر په دولسمه د پروفیسور برهان الدین رباني په مشرۍ د څلورو تنظیمونو استازي مسکو ته لاړل . د دې لیدني په پای کې یوه اعلامیه خپره شوه چې د مجاهدینو په رسمیت پیژندلو معنی یې درلوده . ځکه دواړو لوریو اظهار وکړ چې په افغانستان کې مجاهدینو ته د واک په انتقال موافق دي . مسکو مجاهدینو ته د قدرت انتقال قبول کړ خو د نجیب د رژیم سرنوشت نامعلوم و ، د مجاهدینو تر مینځ د اختلاف موجودیت ، بنسټ پالني څخه د امریکا او

---

[1] نوید ، نورالبشر ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن مخ : ۱۷

[2] _ نوید ، نورالبشر ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن مخ : ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویدیځ ویره او د خپل پیاوړي پوځ د موجودیت په وجه نجیب عقیده در لوده چې د ده رژیم به په خپل ځای پاتې شي (1_ مخ: ۳۵۲).

ځکه ډاکتر نجیب الله د دې پوښتنې په ځواب کې چې د ملي روغې جوړې سیاست له کومه ځای څخه سرچینه اخلي؟ داسې ځواب ور کړ. څو ځله ما په مختلفو غونډو کې دې مسالې سره تماس نیولی چې پنځه کاله مخکې د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د ۷ مې نیټې له بدلون وروسته ټول تجارب جمعبندي کړل. او د دیني علماو او روحانیونو او د افغانستان د مختلفو شخصیتونو سره له لیدني وروسته د ملي روغې جوړې لومړنۍ مفکوره له همدې ناستو او د نظر له تبادلې وروسته د ملي روغې جوړې کړنلاره مینځ ته راغله په تدریجي بڼه د مختلفو ډلو او شخصیتونو له نظریاتو څخه وروسته دې نتیجې ورسیدو چې د جګړې د بندیدو لپاره یوازینۍ لاره ملي روغه جوړه ده. (2_ مخ: ۴۸۲)

نجیب الله د ۱۳۶۵ ل کال د مرغومي په ۲۵ مه نیټه شپږ میاشتني اوربند اعلان او په اعلامیه کې له ځینې نظامي ځایونو څخه اصلي مرکزونو ته د نظامي قطعاتو د راګرزیدو یادونه شوې وه. نجیب د ملګرو ملتونو د عمومي منشي او د هند صدراعظم راجیو ګاندي، دزیمبابوې صدراعظم رابرت موګابي چې د نا پیلیو هیوادونو د جنبش نوبتي غونډې ریس و. د پاکستان او ایران رهبرانو ته لیکونه واستول او له هغوی څخه یې وغوښتل چې د ملي روغې جوړې د سیاست په عملي کیدو او له مخالفینو سره د ائتلافي دولت په جوړیدو کې مرسته وکړي، خو په پېښور کې د مجاهدینو د ګوندونو رهبرانو په یو پراخه غونډه کې چې د (۱۳۶۵ کال دجدي په ۲۷) دایره شوه د نجیب

---

1 _ طنین، ظاهر (۱۳۸۴ هـ ش). افغانستان در قرن بیستم. مخ: ۳۵۲

2 _ اندیشمند، محمد اکرم. (۱۳۹۱ هـ ش). حزب دموکراتیک خلق افغانستان کودتاه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله د دولت طرحې رد کړې مګر د نجیب دولت د خپلې کړنلارې تطبیق ته ادامه ورکړه. ([1]_ مخ: ۴۹۱)

نجیب د خپلې کړنلارې د تطبیق په خاطر مسکو ته د دریو اونیو له سفر (۱۹۸۷ ز کال په جولای او اګست کې) څخه تر را ګرزیدو وروسته د مجاهدینو سره د ائتلافي حکومت د جوړیدو له پاره خپل تیاري وښود. ده وړاندیز وکړ چې مجاهدینو ته به نوموړی د انقلابي شورا، جمهور رئیس او وزیرانو شورا د مرستیالانو څوکۍ، لویه څارنوالي او ۱۳ وزارتونه ورکړي، او د ګوند په سرتاسري کنفرانس کې چې ۱۹۸۷ ز کال د اکتوبر په ۱۸ _ ۲۰ نیټې پورې دایر شو، د ملي روغې جوړې د سیاست اساسي کرښې. ترسیم او مشخصې شوې. لکه د ګوندونو ازادي، د ائتلافي ادارو جوړول، د ګوند له چپي سازمان سره اتحاد، یو اړخیزه اوربند د نوي اساسي قانون تصویب د جمهور ریس ټاکنه. ([2]_ مخ: ۴۹۲)

ډاکتر نجیب الله په واکمنۍ کې د ملي روغې جوړې د سیاست د عملي تطبیق په خاطر د ژنیو تړون او یو شمیر نور اړین تضمین لیکونه او تړونونه د نړیوالو سترو قدرتونو (امریکا او شوروي) تر مینځ لاس لیک شول تر څو په افغانستان کې سوله راشي. مونږ دلته د لوستونکو د معلوماتو لپاره دغه تړونونه کټ مټ لیکو:

د ژنیو تړون:

_ د افغانستان د جمهوري دولت اود پاکستان اسلامي جمهوریت تر منیځ دوه اړخیزه تړون او د دواړو هیوادو تر منځ د اړیکو د اصولو پر ځانګړې توګه د نه مداخلې په اړه موافقه.

_ د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت وروسته له دي څخه د متعاهدینو په نوم یادیږي.

---

[1]_ اندیشمند ،حاکمیت فروپاسي. انتشارات میوند، کابل افغانستان مخ: ۴۹۱

[2]_ اندیشمند، محمد اکرم. (۱۳۹۱ هـ ش). حزب دیموکراتیک خلق افغانستان مخ: ۴۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د اړیکو د عادي کولو د نه مداخلي د اصولو رعایتول ، په مقابل کې د ښه ګاونډیتوب رواجول ، د نړیوال او سیمه ایزه امنیت د ټینګښت په خاطر مرسته .

ـ د یو بل په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې د اصل بشپړ مراعتول او په نظر کې نیولو سره لوي دولتونه هم د نړیوالې سولې د ساتنې په احترام او لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو منشور ته ژمن دي .

ـ د هیوادونو د دې حق مراعتول چې هغوی د خپلو خلکو ارادې سره سمه ازادي او حق لري چې خپل سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیز او فرهنګي نظامونه وټاکي ، تاکید کیږي چې په دې برخه کې به دهیڅ ډول فشار ، تهدید او قهر څخه کار نه اخستل کیږي .

ـ د ملګرو ملتونو د منشور او هغې قطعه نامې ته وفاداري چې د ملګرو ملتونو له خوا د نه مداخلې په اړه تصویب شوې په ځانګړې توګه د نړیوال حقوقو هغه اعلامیه چې د دولتونو تر مینځ د دوستانه اړیکو مرستې چې د ملګرو ملتونو د منشور سره مطابقت ولري د ( 1990 ز کال ) د اکتوبر په ۲۴ مه تصویب شوې ده . همدارنګه ملګرو ملتونو د هغې اعلامیې سره سم چې د ۱۹۸۰ ز کال د ډسمبر په ۹ مه نیټه تصویب شوې ده په لاندې موادو موافقه وشوه . ([1]ـ مخ : ۴۰۱ ) .

لومړۍ ماده :

د دواړو متعاهدینو تر مینځ اړیکې ښایې . د دولتو د نه مداخلې د اصولو سره سم تنظیم شي .

دویمه ماده :

---

[1]ـ دیه ګو کودووز ، سیلګ اس . هارسیون . ( ۳۸۹ هـ ش ) پشت پرده افغانستان . مترجم : اسدالله شقایي ، چاپ اول . انتشارات بین المللي الهیدي . تهران مخ : ۴۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نه مداخلې داصل د تطبيق او تحقق په خاطر ، دواړه خواوې وعده کوي چې لاندې تعهدات به اجرا کوي .

۱ـ ملي حاکميت ، سياسي ازادي ، ځمکنۍ بشپړتيا ، ملي وحدت او د نه مداخلې په اړه تعهد کوي او هم دواړه هيوادونه به د يو بل فرهنگي ميراث او ملي هويت ته به احترام کوي .

۲ ـ خپل سياسي حاکميت اقتصادی ، کلتوری او ټولنيز نظام به له هر راز بهرنۍ مداخلې ، فشار او تهديد پرته دخلکو د غوښتنې سره سم ټاکي . دواړه خواوې به د يو بل ټولو حقوقو ته درناوي کوي

۳ـ د يو بل سرحدی پولو باندې نه تيري ، د هر راز زور او تهديد څخه ډډه کول ، د يو بل نظام او کورنۍ چارو کې نه مداخله چې د هيوادونونظامونو ته خطر پيښوي او د تاوتريخوالي لامل گرځي . دمتعاهدينو ژمنتيا .

۴ـ د دې ډاډ ور کول کيږي چې يو د بل د هيواد په قلمرو کې د هغه هيواد حاکميت ، ازادي ځمکنۍ بشپړتيا ، ملي وحدت ، د سياسي ، اقتصادي ، اجتماعي ثبات د له مينځه وړلو په غرض له هيڅ ډول طريقې څخه استفاده نه کوي .

۵ـ له وسله والې مداخلې څخه ډډه کول چې هغه د سياسي نظام د له مينځه وړلو ، نظامي اشغال او يا بله کومه بڼه ولري . يو د بل په کورنيو چارو کې د پټې مداخلې او يا هر ډول کړنه چې د مداخلې بڼه ولري. چې د غه مداخلې په کورنيو چارو کې د نظامي ، سياسي يا اقتصادي بڼه ولري . معظم متعاهدين بايد له هر ډول عمل څخه چې د زور بڼه ولري ډډه وکړي .

۶ـ معظم متعاهدين بايد له هر ډول کړنې څخه چې د مقابل هيواد د وضعې د بې ثباتۍ او ضعيفه کيدو لامل گرځي ډډه وکړي .

۷ ـ دواړه متعاهدې خواوې بايد له هر ډول تحريک ، هڅونې او تشويق څخه ډډه وکړي چې په مقابل هيواد کې د ملي وحدت د نظام د کمزوری کيدو او له مينځه تگ سبب کيږي .

۸ـ د يو بل مخالفينو ته نظامی زده کړې ، هغوی ته وسله او مالي مرستې په واک کې ور کول چې پايله يې يو نظامی قوت جوړه وي د يوبل پر ضد دسيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډل کیږي . دغه راز د یو بل هیواد قومونو ته پسي او وسله لیږل د یوبل په داخل کي لاسوهنه ده . تري ډډه کول د هري خوا ضمه واری ده .

۹_ د هغه هیواد سره دموافقي یا تړون لاس لیک کول څخه ډډه کول کوم چي د مقابل هیواد په کورنیو چارو کي د مداخلي سبب کیږي .

۱۰_ د مقابل لوري په کورنیو چارو کي د مداخلي په منظور د هر ډول توهین ، بد ویلو او پرو پاګندي فعالیتونو څخه ډډه کول .

۱۱_ د متعاهد لوري پرضد باید د هر ډول تر وریستي او ورانکاري ډلي له ملاتړ څخه مقابل لوري دی ډډه وکړي . کوم چي د هغه هیواد په کورنیو چارو کي د مداخلي بڼه ولري .

۱۲_ هغو ډلو ته د پناه مرستي ، تربیه او وسله وال کولو چي د قومي یا سیاسي او دي ته ورته په خپلو سرحدونو کي دمقابل لوري د نظام د له مینځه وړل چي په بي نظمی ګډوډی کي تري ګټه واخلي ډډه پکار وه . او رسنی هم باید د ناوړو تبلیغاتو څخه خود داري وکړي .

۱۳ _ د هر هغه عمل ته اجازه نه ور کول چي مداخله ګڼل کیږي

دریمه ماده :

نوموړی تړون د ۱۹۸۸ ز کال د مي له ۱۵ مي نیټي څخه د اجرا وړ دی .

څلورمه ماده :

هغه کړني او اقدامات چي دواړو خواو ته د دي تړون د دویمي مادي د موادو د تطبیق لپاره اړین دي . د دي تړون د اجرا تر نیټي پوري باید بشپړ شي .

پنځمه ماده :

دغه تړون په انګلیسي ، پښتو او اردو ژبو لیکل شوی دی . د اختلاف د پیدا کیدو په صورت انګلیسي متن د اعتبار وړ دی .

د دي تړون پنځه اصلي نسخي نن ۱۹۸۸ ز کال د اپریل ۱۴ مه په ژنیو کي تهیه شوی دی .

د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل د افغانستان د جمهوري دولت استازي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهرنیو چارو وزیر زین نوراني د پاکستان د اسلامي دولت استازي . (1_ ۴۰۲_۴۰۳ )

د نړیوال تضمین اعلامیه :

_ د امریکا د متحد ایالاتو او شوروي اتحاد د سیوسیالستي جمهوریت .

_ د افغانستان جمهوري دولت او د پاکستان د اسلامي دولت له سیاسي توافق څخه چې د مذاکراتو له لارې یو تړون لاس لیک او غواړي خپلې اړیکې عادي کړي ،. د ښه گاونډیتوب روحیه په دواړو هیوادونو کې تبلیغ کړي تر څو په سیمه او نړۍ کې سوله ټینگه کړي ملاتړ یې کوي .

_ د پاکستان او افغانستان د دولتونو تر مېنځ چې کوم اهداف په تړون کې وټاکل شول عملي او ددي اصولو په رعایت د حاکمیت استقلال ، ځمکنۍ بشپړتیا تضمین او له هغوی سره د چارو په اجرا کې مرسته کوي .

_ د افغانستان جمهوري دولت او د پاکستان اسلامي جمهوریت به یو د بل په کورنیو چارو کې د هر ډول لاس وهني څخه ډډه کوي . ټولې دوه اړخیزه اړیکې په ځانگړي ډول د نه مداخلې اصولو ته متعهد او له ټولو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې همداسې عمل وکړي .

_ دغه اعلامیه له ( ۱۵ / مي ۱۹۸۸ ) څخه د اجرا وړ ده .

_ دغه اعلامیه د ۱۹۸۸ ز کال د اپریل په پنځلسمه په ژنیو کې په پنځو اصلي نسخو کې چې هر یوه یې په انگلیسي او روسي ژبو تهیه شوې ده د ټول متونو معتبر دی . د امریکا د متحد ایالاتو استازی جورج بې شولتر. د شوروي د سیوسیالستي جمهوریت استازي ادوارد شوارد نادزي ( ۱ _ مخ : ۴۰۴ _ ۴۰۵ )

---

1 _ دیه گو کودووز ، سیلگ اس . هار سیون . ( ۳۸۹ هـ ش ) پشت پرده افغانستان . مترجم : اسدالله شقایي ، چاپ اول . انتشارات بین المللي الهیدي . تهران مخ : ۴۰۲_۴۰۳

۱ _ دیه گو کودووز ، سیلگ اس . هار سیون . ( ۳۸۹ هـ ش ) پشت پرده افغانستان . مترجم : اسدالله شقایي ، چاپ اول . انتشارات بین المللي الهیدي . تهران مخ : ۴۰۴ _ ۴۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي روغې جوړې د کړنلارې سره سم د ولایاتو له سطحې څخه تر قریېو او کلیو پورې په ائتلافي ادارې جوړې کړې. تر څو محلي قوماندانان د دوی سره یو ځای شي. ځکه وسله والو هم کولای شول چې د روغې جوړې د کمیسون د غړې او رئیس په توګه وټاکل شي. د سیاسي ګوندونو فعالیت هم ازاد شو. جهادي تنظیمونه هم کولی شي په ولایتونو کې دفترونه پرانیزي دولت به د هغوی امنیت ونیسي.[2] مخ: ۸۸۹. د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال د موجودو سیاسي ګوندونو څخه په لاندې ډول یادونه کوو. چې د دولت په چوکاټ کې یې فعالیت کاوه.

۱_ وطن ګوند ( د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند ) د نوم په تغییر سره له ۱۹۹۰ ز کال څخه وروسته رئیس یې ډاکتر نجیب الله.

۲_ سازا ( سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان چې په ۱۹۶۸ کال کې تاسیس شوه. رهبر یې محبوب الله کوشاني و. او بنسټ ایښودونکي یې محمد طاهر بدخشي، بشیر بغلاني، ظهور الله ظهور او محمد اسحق کاوه وو.

۳_ سزا ( د افغانستان د زحمتکشانو ګوند، د خلق دیموکراتیک ګوند څخه یو بیله شوې څانګه وه رهبر یې حمدالله ګران و.

۴_ د افغانستان د خلکو اسلامي ګوند. لارښوونکی یې عبدالستار سیرت.

۵_ د افغانستان د دهقانانو د عدالت ګوند. لارښوونکی یې عبدالحکیم توانا.

۶_ د افغانستان د خلکو د همبستګۍ ګوند. مشر یې سرور نورستاني.

۷_ کجا: د افغانستان د ځوانو کارګرانو ګوند مشر یې عبدالعزیز تره خیل.

۸_ د افغانستان ملي رستکار. د ټولني مشر پوهاند اضغر

۹_ حزب الله د شیخ وثوق اسلام په مشرۍ.

۱۰_ملي جبهه په ۱۹۸۰ ز کال د عبدالرحیم هاتف په مشرۍ تاسس شوه.

---

[2] _سلطاني علی کشتمند، یاداشت های سیاسي و رویدادهای تاریخ مخ: ۹۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱_ جنش ملی اسلامي . د عبدالرشید دوستم په مشرۍ .
پورته ګوندونو د ټولني په مختلفو قشرونو پوري اړه درلوده (1_ مخ : ۳۴۵)
_ د ملي روغې جوړې د پالیسۍ ستره بریا د ژنیو د تړون لاس لیک کول و. چې د دې موافقې پواسطه د شوروي پوځونو بیرته ستنیدو له پاره لاره هواره شوه . کله چې دغه تړون د ۱۹۸۸ ز کال د اپریل په ۱۴ مه د افغانستان او پاکستان د دولتونو تر منځ لاس لیک شو مهم ټکي یې دا وو .
۱ _ ددغې لوظنافی له مخي په نهو میاشتو کې له افغانستان څخه په بشپړه توګه د شوروي پوځونو وتل .
۲_ خپل هیواد ته په خپله خوښه د مهاجرینو بیرته راستنیدل .
۳_ د افغانستان او پاکستان د دولتونو له خوا یو د بل په کورنیو چارو کې مداخله نه کول .
۴ _ دامریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد د دغه تړون د تضمینوونکو په توګه د تطبیق ژمنه د اعلامیې په شکل کې لاس لیک کړه . 2_ مخ : ۴۱ )
ډاکتر نجیب الله د ملي روغې جوړې پالیسۍ د پلي کیدو په خاطر د کنړ ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو له ځینو برخو څخه د افغانستان د جمهوري دولت ځواکونو وویستل تر څو مهاجر ورونه په خاطر جمعۍ سره د غو سیمو ته ستانه شي . همدارنګه د مجاهدینو اووه ګوني اتحاد دفترونه په دغو سیمو کې خپل کار پیل کړي او بل یې د مجاهدینو بندیان ازاد کړل . 3_ مخ : ۴۲ )
د ژنیو توافقات چې د دوه اړخیزه اړیکو د نه مداخلي او نه تجاوز په منظور د افغانستان او پاکستان تر منځ لاس لیک شول . شوروي او امریکا د تضمینوونکو په توګه په یوه اعلامیه کې خپله اماده ګي وښودله . د مهاجرینو د بیرته ستنیدو په اړه د افغانستان او پاکستان تر منځ یو جلا تړون لاس لیک

---

1_ د پورته ګوند په اړه معلومات د سلطان کشتمند له اثر او د محترم محمد ابراهیم عطایي اثر څخه ګټه اخیستل شوي . مخ : ۳۴۵
2_ کشتمند ، یاداشت ها افغانستان تاریخ معاصر : مخ : ۴۱
3_ نوید ، نور البشر ، ( ۱۳۷۸ ل ) . وطن یا کفن . مخ : ۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو . سندونه په پښتو او انګلیسي ژبو لیکل شوي دي خو د دې سند عملي کیدو ته هیڅ دومره اعتبار نه ورکاوه او حتی کله چې د شوروي قواوې له افغانستان څخه ووتلې . پاکستان وروسته له هغه څرګنده مداخله پیل کړه .( [1]ـ مخ : ۳۳۸ )

په کابل کې د لویې جرګې له دایریدو پنځه میاشتې وروسته د پارلمان له پاره ټاکنې وشوې . د پارلمان څلورمه برخه څوکۍ اپوزیسون ( مجاهدینو ) ته پرینښودل شوې ، ۲۲ سلنه د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند غړو وګټلې ، په جرګه کې د نجیب له خوا مجاهدینو ته د اپوزیسون نوم ورکړ شو او بلنه یې ورکړه تر څو په نوي پارلمان کې برخه واخلي خو هغوی منفي ځواب ورکړ. خو کله چې په دیکوکورددویز لخوا په کابل کې ډاکټر نجیب الله ته د نوي حکومت د جوړیدو وړاندیز وشو ، نجیب الله په ځواب کې ورته وویل ! (( زه پوهیږم چې تاسي څه وایاست ..... زه چمتو یم ، زه تیاریم چې ګوښه شم که تاسي کافي ډاډ ینه را کولاي شئ ، چې پاکستانیان او دهغوی ملګري به هم ستاسي وړاندیز سره همغږې کوي ، زه به تر هغه مهاله ایسته نه شم چې کورته ډاډه شوي نه یم هغوی دا تړون نه توهین کوي او زما هیوادوال نه وژني . زه به هله ګوښه شم چې بشپړه ډاډګیرنه را کول شي داسې چې لویه جرګه به جوړیږي او په هغې کې به زمونږ ګډون تضمین شوی وي . )) ( [2]ـ مخ : ۳۵۰ )

د ژنیو د تړون له لاس لیک کیدو وروسته ملګرو ملتو ، عمومي آسامبلې ته صلاحیت ورکړ چې په افغانستان کې د یو نماینده حکومت د جوړیدو له پاره کار وکړي د همدې موخي له پاره د ملګرو ملتو د سرمنشي ځانګړي استازي دیه کوکودووز د ۱۹۸۸ ز کال د مې په میاشت کې تهران ، اسلام آباد او کابل ته سفر وکړ ، تر څو د دغسې یو حکومت دجوړیدو له پاره نوموړي

---

[1] ـ محمد ابراهیم ، عطایي د افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه . مخ : ۳۳۸

[2] ـ مصداق ،، نبي . ( ۱۳۹۸ ش ) . د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنیو مداخله . مخ : ۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونه هم غږي وکړي ،. ډاکتر نجیب الله او شوروي اتحاد د ملي روغې جوړې سیاست پلی کاوه او د ګډ حکومت غوښتونکي وو مګر مجاهدینو او امریکا هغه په زغرده ونه مانه د امریکا د بهرینو چارو وزیر جورج شولتز وویل : (( چې په دغسي یو حکومت کې به کمونستان د مهمو وزارتونو په اخستلو سره خپل بریالیتوب ته دوام ور کړي . )) ( [1]_ مخ : ۳۳۴ )

حکومت لوړ رتبه کسان یې د شوروي د یرغل الې بللې او هغوی یې د اشغال د بې رحمیو عاملین ګڼل . خو د دې سره سره ملګرو ملتونو له دواړو خواوو څخه غوښتل تر څو یو عبوري حکومت جوړ کړي او په دې حکومت کې به هغه کار پوهان وي چې د کمونستانو او د جهادي تنظیمونو څخه لیرې وې ونډه ولري . ([2]_ مخ : ۳۳۴۴ )

د ملګرو ملتو په منځګړیتوب د ۱۹۸۸ ز کال د اپریل په ۱۴ مه نیټه د ژنیو شوروي لښکري افغانستان څخه ووتلې . په ۱۹۹۱ ز کال شوروي هم ټوټې شو ، له دې وروسته د افغانستان حکومت خپلې ورځې شمیرلې . خود ملګرو ملتو ځانګړې استازي د یه کوکودووز د افغانستان او پاکستان تر منځ د ستونزو د حل له پاره کوښښ کاوه چې دژنیو د تړون مطابق ټولي خواوي د تړون پلي کیدو ته وهڅوي ځکه ددې تړون په موادو کې داسي ذکر شوي وو .: (( د شوروي سوسیالستي جمهوري حکومت او دامریکا متحدایالتونه د دې ملاتړ کوي چې د افغانستان جمهوریت او پاکستان اسلامي جمهوریت د خبرو اترو له لاري د سیاسي هواري هغه تړون لاس لیک کوي . چې د دوو هیوادونو تر مینځ د اړیکو سمون او ښه ګاونډیتوب

---

[1] _ مصداق ، نبي . ( ۱۳۹۸ ش ) . د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنیو مداخله . مخ : ۳۴۴

[2] _مصداق ، نبي . ( ۱۳۹۸ ش ) . د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنیو مداخله . مخ : ۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مخ بیایي او هم په سیمه کې نړیواله سوله او امن ټینګوي .)) ( [3]_ مخ : ۳۴۹ )

د وتلو په عملیه کې ۲ غنډونو وتل پیل شول په هغې کې دري غنډونه پیاده او دري غنډونه د افع هوا وو ، له کابل څخه د وتلو پر مهال داکتر نیجیب ، سلطان علی کشتمند اوکارمل چې لا تر اوسه په کابل کې و . په بالاحصار کې په لوړو او عالي تشریفاتو خدای په اماني وویله او د هغوی تیری یې د انترناسیونالستي خدمت په توګه وستایه . دولسي جرګې رئیس ایوبي او د مشرانو جرګې رئیس محمود حبیبي وټاکل شول ، د پارلمان وکیلانو هم ځانګړی کار نه درلود . زیات یې د کورونو په اخستلو او پلارلو بوخوت وو . نجیب غوښتل چې په پارلمان کې د استضاح غونډه جوړه کړي تر څو سلطانعلی کشتمند پري تهدید کړي او پارلمان د دي دواړو د اړیکو د خرابولو کوښښ کاوه . [1]_ مخ : ۳۳۷ )

۱۴,۲ _ د ډاکتر محمد حسن شرق د صدارت دوره :

د ژنیو له موافقې وروسته د نجیب لخوا د ښه نیت د ښودلو او غیري ګوندي حکومت د جوړولو په خاطر سلطان علي کشتمند چې د ګوند غړی و له صدارت څخه لیرې او د هغه پر ځای یې حسن شرق چې ویل یې دا د ګوند غړی نه دي د صدراعظم په توګه وټاکه . خو هغه باندې هم د کې ، جې ، بې د غړي تور و . خو بیا هم دده په کابینه کې د دفاع ، کورنیو چارو او دولتي امنیت وزارتونه د ګوند غړو ته ور کړل شو ، ځیني وزارتونه هم د نجیب له خوا اپوزیسون ( مجاهدینو ) ته پریښودل شوي وو . د دفاع وزارت یې دري میاشتي احمدشاه مسعود ته وساته خو هغه د ګډون له پاره زړه ښه نه کړ حسن شرق دعوه کوله چې مجاهدین به له دولت سره یو ځای کړي خو

---

[3] _ مصداق ،، نبي . ( ۱۳۹۸ ش ) . د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنیو مداخله . مخ : ۳۴۹

[1] _ محمد ابراهیم ، عظایي . د افغانستان په معاصر تاریخ لنډه کتنه . مخ : ۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو د ده یو لیک ته هم ځواب ورنه کړ ،د حسن شرق فکر دا و چې مجاهدین به ډاکتر نجیب نفي کړي او دی به رئیس شي . شوروي اتحاد ته یې سفر وکړ او د نجیب په اړه یې ګرباچوف ته خبرې وکړې . د هغو خبرو مفصل معلومات د شوروي د بهرنیو چارو وزیر ادوارد شیوارد نازی نجیب ته ورکړل . له همدې نیتې څخه نجیب د هغه د لیرې کیدو کار پیل او پر هغه یې د منافق نوم کیښود . ([1]_ مخ : ۳۳۹ )

کله چې شوروي پوځونه د ۱۳۶۷ ل کال په دلوه ( ۱۹۸۹ فبروري ۱۵ ) کې له افغانستان څخه ووتل د پاکستان له خوا د یوې حملې دکولو را پورونه را ورسیدل یو میاشت وروسته ډاکتر نجیب الله اضطراري حالت اعلان کړ . په دې توګه یې حسن شرق له مینځه وایست او سلطان علي کشتمندي بیرته د صدراعظم په توګه وټاکه .

### ۱۴,۳ _ د جلال آباد جګړه :

د ۱۹۸۹ ز کال په فبرورۍ کې شوروي پوځونه له افغانستان څخه ووتل او یو میاشت وروسته د ۱۹۸۹ ز کال په مارچ کې د پاکستان له خوا پر جلال آباد حمله وشوه چې لس زره مجاهدین ، یو شمیر عربان او پاکستانۍ ور سره ملګري وو . له دې حملې دمخه ډیر تبلیغ کیده چې د شورویانو له وتلو وروسته افغان حکومت د ځان د فاع نه شي کولای. ډیر ژر به کابل د مجاهدینو لاس ته ورشي دغو تبلیغاتو ډیر ګوندي او دولتي کسان وارخطا کړل او له وطنه وتښتیدل او ځینو دولتي سرمایي هم وتښتولې . د سفارتونو غړو دندې پرېښودلې او سیاسي پناه وې واخیستي . خو ډاکتر نجیب خپلو ملګرو ته یو تو ندہ وېناه وکړ . د وطن یا کفن شعار یې ور کړ ، بیا یې جلال آباد ته خپل قوتونه سوق کړل . یو ورځ له سهار څخه تر ما سپېښنه د ښار په څنډو کې جګړه جاري وه دواړو خواو درنې وسلې استعمالولې او د دولت له خوا د سکات توغندي هم استعمال شول ، جګړه ډیره سخته وه په یوه شپه کې له بګرامه څخه ۲۳۰ پروازه اجرا شول ، چا فکر نه کاوه چې دولت بۀ دفاع

[1]_ محمد ابراهیم ، عطایي د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه . مخ ۳۳۹ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. په اخر کې مجاهدین شاته ولاړل ، دواړو خواوو ته درانه تلفات واوښتل په جلال آباد کې قوتونو مستقیمه دفاع وکړه . له دې جګړې وروسته د ډاکترنجیب الله اعتبار زیات شو ، ولې په ګوند او دولت کې د هغه مخالفینو نجیب الله ضعیفه کړ ، د ده مخالف پروګرام فعال غړي فرید مزدک ، نجم الدین کاویاني ، محمود بریالی او د ببرک کارمل نور طرفداران وو چې له احمدشاه مسعود سره یې په پټه همکاري کوله . ( [1]_ مخ : ۳۴۰_۳۴۱ )

د عیني شاهدانو د وینا پراساس دغه جګړه ډیره سخته و ، حتی د پاکستان د پلان خنثی کیدل او ماتی وو .

۱۴,۴ _ شنهواز تنی کودتاه :

د شنهواز تنې کودتاه دنجیب دولت ته سخت ټکان ورکړ ، د شوروي پوځونو تر وتلو وروسته ، ګلبدین حکمتیار داسې تبلیغ کاوه چې یو پوځي کودتاه به وکړي ، نجیب تبلیغ کاوه چې تنی له ګلبدین حکمتیار سره اړیکې لري . خو تنی دا یو تبلیغ ګڼه او ویل یې چې دا یوه توطئه ده ځکه ډاکتر نجیب غواړي د دفاع وزارت صلاحیتونه د ولتي امنیت ( خاد ) ته ورکړي چې اردو او د دولتي امنیت ( خاد ) د عین رتبي افسرانو په معاش کې یې تفاوت پیدا کړ چې د اردو د افسرانو د معاش په پرتله د دولتي امنیت د افسرانو معاش یې څلور چنده زیات کړ . نجیب زما وړاندیزونه نه منل ، همدا کار زمونږ تر منځ د ټکر سبب شو .( [2]_ مخ : ۳۴۱ )

ښاغلي ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند امیر د پورته کودتاه جنرال شهنواز سره د اړیکي په اړه داسې نظر لري : د جلال آباد د عملیاتو ناکامي د نجیب د حکومت دوام ، او له هغه سره د ځینو ډلو ټپلو اوربندونه له خاد سره د ځینو تش په نامه با نفوذه قوماندانانو یو ځای کیدل ، د رژیم له خوا د کابل

---

[1] _ محمد ابراهیم ، عطایي . د افغانستان معاصر تاریخ ته یو لنډه کتنه .مخ : ۳۴۰ _ ۳۴۱

[2]_ محمد ابراهیم ، عطایي . د افغانستان معاصر تاریخ ته یو لنډه کتنه .مخ : ۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرديز د لوي لاري پر انيستل ، تر لوګر او ميدان شهر پوري د کابل د امنيتي کمربند پراخيدل ، د سالنګ په لوی لارې د رژيم د اکمالاتي کاروانونو مصون تګ را تګ، د مجاهدينو د موقت حکومت انحلال په شمال کې د حزب اسلامي پر خلاف د مسعود جګړې چې په مدار مدار نورو سيمو ته خوريدې ، د کابل د رژيم په ګټه او دمجاهدينو په خلاف د غربي اژانسونو شديد تبليغات د پاکستان له خوا د مجاهدينو په موقت حکومت عدم اعتراف ... په يو داسې خطر ناک حالت او وروسته په داسي رکود منتج شوچې د ماتولوله پاره يې يو جدي ابتکار ته ضرورت وو . دا ابتکار بايد د تل په شان حزب اسلامي کړی وای ، په بلې ډلې کې د دې استعداد او توان نه وو . په پوځ کې د ناراضی افسرانو له لاري رژيم ته له دننه څخه د يوه سخت ګوزار د ورکولو فيصله مو وکړه چې په دې سره به رژيم را نسکور شي او يا لږ تر لږه موجود رکود به ختم شي ، له جنرال آصف شور سره چې په حربي ښوونځي کې ځما همصنفی وو او د کمونستانو د اقتدار په دوران کې يو ه موده په ننګرهار کې او څه موده په ګرديز کې د دولت د قطعاتو قوماندان و . تماس ونيول شو که څه هم په دې وخت کې نوموړي په کورس ( آ ) کې استاد و . خو د يو با اعتباره افسر په حيث يې په پوځ کې د کار کولو ښه چانس در لود ، هغه ديته چمتو شو چې له خپل اعتبار څخه په استفادې سره هغه افسران تنظيم کړي چې د روان وضعيت له دوام سره موافق نه وو . او له بحران نه دهيواد د ايستلو په فکر کې وو . ( [1]_ مخونه ۲۰ _ ۲۱ )

دلته بايد دا خبره توضيح کړم چې ما له شپږم څخه تر نهم ټولګي پوري په حربي ښوونځي کې سبق ويلي ، په شپږم ، اوم او اتمو صنفونو کې زه اول نمره وم او آصف شور به کله دريم او کله دوهم نمره شو. خو له اتم څخه نهم صنف ته هغه اول نمره او زه دوهم نمره کامياب شوم . ما ته د دې ناڅاپي تبديلی وجه حربي ښوونځي ته د آصف شور د تره راتګ بريښيد و ، او دا ګومان مې وکړ چې د هغه نفوذ په استادانو د دې باعث شو چې زما په هکله بی انصافي

---

[1] _ حکمتيار ، ګلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطی ، بربنډې څيري . مخونه ۲۰ - ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي . په همدې خاطر ما د حربي ښوونځي د پرېښودو پرېکړه وکړه ، خو درې کاله حربي ښوونځي کې د پاتي کېدو نتيجه دا وه چې ګڼ شمير زما هم دوره افسران په پوځ کې د جنرالي رتبې ته رسيدلي وو ، او ما ته يې د دې امکان را په برخه کولو چې د دوی تر منځ کار وکړی شم.

جنرال آصف شور له لنډې مودې وروسته ما ته د يوه تفصيلي ليک په ذريعه اطلاع را کړه چې تر ډېره حده په خپل کار کې موفق شوي يو او زيات شمير افسران موليدلي دي اکثرو را سره موافقه کړې او نورو باندې کار روان دي . ([1]ـ مخ : ۲۱ )

وروسته له څه مودې د ده کار داسې يو پړاونه ورسيدو چې له ما نه يې د راديو او تلويزوني وينا متن او کستې وغوښتي ما ليکلی متن ورولېږه چې د وينا اساسي ټکي دا وو .

۱ـ ملت ته د پخوانۍ کرغېړن رژيم د نسکوريدو مبارکي وايو .

۲ـ د جګړې له شر څخه د هيواد د ژغورني له پاره افسرانو د دې عسکري اقدام څخه بله لار نه درلوده .

۳ـ مونږ هغه افسران چې د خپل هيواد په استقلال او اسلامي هويت باور لري او غواړې چې د ملت د خوښې سره سم منتخب اسلامي حکومت ته اقتدار انتقال شي .

۴ـ د ټولو جهادي تنظيمونو رهبرانو ته بلنه ورکوو چې په يو موقت بې طرفه حکومت او بيا د همدې حکومت تر نظارت لاندې په ټاکنو کې ونډه واخلي .

ځينو دا نظر وړاندې کولو چې په کار ده دا اقدام د مخه د ټولو يا ځينو موثرو تنظيمونو توافق تر لاسه شي ، که څه هم مونږ ته دا معلومه وه چې تنظيمونه له دې کار سره په څو دلايلو موافقه نه کوي .

الف : ځيني له عبوري حکومت او انتخاباتو سره په دې خاطر مخالفت کوي چې نه يوائې له دې لارې قدرت ته د رسيدو کوم چانس نه لري بلکې په دې کار سره له صحنې څخه وځي .

---

[1] ـ حکمتيار ، ګلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطی ، بربنډې څيري . مخ : ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب : ځيني په بهرنيو قوتونو خصوصاً په غرب پورې دومره تړلي دي چې دوي د هرهغه پلان او اقدام به حتماً مخالفت کوي چې د دغو ځواکونو له مداخلې او موافقې څخه پرته تر سره کيږي .( [1] _ مخ : ۲۲ )

له دې وروسته ما د تنظيمونو د مشرانو په يوې غونډه کې دا خبره په مجمل انداز کې وکړه چې ځينې عسکري صاحب منصبان په دې نظر دي او مونږ ته يې احوال را ليږلی که ټول رهبران له يو موقت دولت او انتخاباتو سره موافقه وکړي ، دوي د نجيب را پرزولو ته تيار دي . عکس العمل هماغه وو چې مونږ يې اټکل کولو په دغو رهبرانو کې دوو کسانو د کابل رژيم ته اطلاع ورکړه ، چې پام کوئ ، حزب اسلامي د کومې کودتاه پلان لري او مونږ ته يې په غونډه کې دا او دا ويلي ... مونږ فيصله وکړه چې دا کار بايد په هر صورت کې تر سره شي . په دغه وخت کې د دفاع وزير شهنواز تڼی او نجيب تر منځ اختلاف هومره تشديد شوي وو چې د روسانو سفير او گڼ شمير لوړ رتبه هئيتونه د دوی په روغې جوړې موفق نشول ، شيوارد نادزي د شوروي اتحاد د خارجه چارو وزير او ورنځوف په کابل کې د دوی ځواکمن سفير د نجيب ملاتړ کولو او په همدي خاطر مسکو په دې اختلافاتو کې د نجيب مرسته کوله ، په خلقيانو مخصوصاً د امين په پلويانو شکمن وو ، چې گوا کې دوي د روسانو له ګټو سره خاصه علاقه نه لري او نشنلستي روحيه ور باندې غالبه ده . د گوند دخلق جناح غړي اکثراً د پښتنو له غريبو او نيستمنو کورنيو څخه او د پرچم غړي زياتره د تاجکو له شتمنو کورنيو را ولاړ شوي وو ، په جګړه کې اصلي ونډه د خلقيانو وه خو په واکمنۍ کې د دوی برخه د پرچميان د برخې په انډول نه وه . ( [2] _ مخ : ۲۲ )

اصف شور وتوانيدو چې له دې وضعيت څخه پوره گټه اوچته کړي ، د اوږدې جګړې څخه د پوځ ستومانه کيدل د جګړې د مستقبل په هکله بي باوري ، د افغاني پوځ له افسرانو سره د روسي مشاورينو له غروره ډک او سپکونکی چلند ، دا هغه عوامل وو چې اکثر افسران په ځانګړي ډول هغه افسران چې

[1] _ حکمتيار ، گلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطې ، بربنډې څيرې . مخ : ۲۲
[2] _ حکمتيار ، گلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطې ، بربنډې څيرې . مخ : ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونستان نه وو ، یا له کمونیزم نه بیزاره شوي وو او غوښتل یې د ملت غیرې ته را وګرځي . د یته هڅول چې د دغسي یوه عسکري بدلون بلنې ته مثبت ځواب ووایي .، جنرال آصف شور په وروستیو څلورو لیکونو کې ما ته اطلاع را کړه چې د دفاع وزارت په قرارګاه او د شهنواز تڼي په ماحول کې زموږ کار ډیر مخکې تللی دی . قرار ګاه او دده دفتر ټول زمونږ په کنترول کې دی . خو دی مو له جریان څخه نه دی خبر کړی ، د اقدام په وخت کې به قوتونو د سوق او اداري کار کاملاً زمونږ په لاس کې وي ، دوی غوښتل چې خپل اقدام په داسې وخت کې پیل کړي چې د نجیب او تڼي تر منځ شخړه په مخامخ تصادم بدله شي خو دا تصمیم د دي باعث شو چې اقدام وځنډیږي او نجیب ته له خطر سره د تیاري کولو فرصت په لاس ورشي . ( [1]_ مخ : ۲۳)

له نجیب سره د وزارت دفاع په مقابل کې د خاد مسلح ځواکونه او د هوايي قواو په مقابل کې د مزار هوايي ځواکونه ملګري وو ، نجیب خپل اقدام مخکې کړ ، د خاد د پنځم ریاست د ځواکونو په واسطه یې د وزارت دفاع قرارګاه محاصره کړه ، عملي تصادم پیل شو آصف شور د قوتونو سوق او اداره په لاس کې واخیسته ، شهنواز تڼی د دې په ځای چې خپلې قرارګاه کې پاتې شي په یو جیپ په کې یې ځان د بګرام هوايي میدان ته ورسولو .د بګرام میدان د نجیب د پلویانو نه تصفیه شوي او عملاً دمخالفو ځواکونو په لاس کې وو . په ارګ یې مسلسله بمباري پیل کړه ، خو د بګرام هوايي ډګر له مزار شریف نه پر له پسې تر بمبارۍ لاندې ونیولی شو . پدې بمبارۍ کې د جنرال مصطفي لویه ونډه وه . د بګرام هوايي ډګر فلج شو جنرال تڼي ارتباطات له خپلې قرارګاه سره قطع شول ، غوښتل یې د جنرال قادر اکا د هوايي قواوو قومندان او ځنو نورو ملګرو سره د کوم هیلکوپټر په ذریعه د مجاهدینو کومې جبهې ته پناه یوسي ، خو وروسته نوموړی او ملګري یې په یو هیلکوپټر او یو آن ۱۲ کې سواره شول او د پاکستان په لوري

---

[1] _ حکمتیار ، ګلبدین ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطی ، بربنډې څیرې . مخ :۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې حرکت وکړ چې هيلکوپر په جمرود کې او ان ۱۲ د پاړه چنار په هوايي ډګر کې را کوزې شوې . (1_ مخ : ۲۳ )

جنرال اصف شور ، جنرال کبير کاروانی او جنرال جعفر سرتبير چې د اقدام لاربنوونه يې کوله يو په ريشخورکې او نور د وزارت دفاع په قرارګاه کې د جګړې په جريان کې ووژلی شول او په دې ترتيب نجيب د خاد په مرسته په خپل اقدام کې بريالی شو . مونږ د تصادم له پيل سره سم خپل ملا تړ اعلان کړ او له ټولو مجاهدينو نه مو وغوښتل چې د نجيب حکومت د پرزولو لپاره له دې فرصت نه اعظمي استفاده او د هغو ځواکونو مرسته وکړي چې دنجيب پر خلاف را پورته شوي دي . ( 2_ مخ : ۲۴ )

د تنظيمونو يو مشر له بي بي سي سره په خپلې يوې مرکې کې نه يوازې د دې اقدام مخالفت وکړ بلکې ويې ويل : ان شاء الله د نجيب ځواکونه د بر لاسی په حالت کې دي . که څه هم نجيب له دې خطر ناکې پيښې نه روغ رمټ ووتو او په ظاهر کې يې بريا په برخه شوه خو په حقيقت کې د ده د زوال ستر عامل همدا اقدام وو . د فوځ زيات شمير افسران وتښتيدل . په سلګونو بنديان شول ، ډير ووژلی شول. په فوځ او وطن ګوند کې بې باوري انتهاته ورسيده . د رژيم اعتبار په داخل اوخارج کې سخته جټکه وخوړه ، رکودمات شو د مجاهدينو ضعيفه روحيه لوړه او مړاوې هيلې يې را ژوندۍ شوې . خو د پاکستان ISI نه غوښتل دا اقدام کامياب شي . د نوموړي اداري مخالفت دوه اساسي وجهې درلودې.

۱_ د اقدام په هکله مخکينی را پورته درلودل او په ناڅاپي ډول له يوې ستړې پيښې سره مخامخ کيدل ، دې کار د پاکستاني لوړو مقاماتو په وړاندې د دې ادارې د هغه وخت د مسولينو بی کفايتي په ګوته کوله ، نو ځکه يې له مونږ نه د غچ اخېستلو په خاطر د دې اقدام د ناکامولو هڅه وکړه .

---

1_ حکمتيار ، ګلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطی ، بربنډې څيري . مخ : ۲۳
2_ حکمتيار ، ګلبدين ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . پټې توطی ، بربنډې څيري . مخ : ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ پاکستان او امریکا په ګډه دې نتیجې ته رسیدلي وو چې په عسکري اقدام کې د کابل رژیم نسکور بدل د دوی په ګټه کار نه دی. ([1]ـ مخ: ۲۴)

زه باید دا ټکی واضح کړم چې مونږ د دې اقدام په وخت کې د قوي نشراتو لپاره د (۵۰) کیلو واټه MW ترانسمیټر په بهر کې اخیستي وو او د پاکستان له لارې مو داخل ته انتقالولو، خو آی، اس، آی د هغه له سپارلو نه ډډه وکړه او نږدې یو کال یې له ځان سره وساتله او له اقدام ډیر وروسته یې مونږ ته تسلیم کړه. د اقدام د شنډولو لپاره ISI شهنوازتنی له خپلو ملګرو سره په هماغو حساسو شیبو کې چې جګړه لا روانه وه دوی په اسلام آباد کې په یوه مخفي ځای کې تر نظارت لاندې وساتل او د ده رابطه یې له مونږ سره قطع کړه چې اقدام کاملاً شنډ شوه جګړه پای ته ورسیده او نجیب په اوضاع مسلط شو هغو ته یې اجازه ورکړه چې له ما سره وګوري. ([2]ـ مخ: ۲۵)

ډاکتر نجیب د کودتاه تر ناکامیدو وروسته ډیر خلقي افسران له پوځ څخه وویستل او ډیر یې بندیان هم کړل. او دهغوی پر ځای یې پرچیمان مقرر کړل د دفاع په عالي شورا کې یې پر جنرال محمد رفیع ډیره اتکا کوله، خو تنی او د هغه ملګري د شورا غونډې ته راتلل، شهنواز تني دنجیب اوامرو ته اعتانه کوله، دنجیب او تني د اختلاف د حل لپاره شوروي سفارت مداخله وکړه، خود کې جې بی مداخلې تنی غافل کړ. تر څو نجیب پري ناڅاپه حمله وکړه دا پلان دومره دقیق و چې تنی څو ساعته وروسته پوه شوه او د نجیب تر حملې وروسته یې په هوایي بمبار د لاس پوري کړ. داسې معلومیده چې لومړي حمله تني کړې وي. خو لومړی حمله د نجیب ګارد په امر دریمې لیوا د دفاع وزارت په قرار ګاه باندې وکړه. دا کودتاه د ۱۹۹۰ ز کال دمارچ په پنځمه وشوه. له دې ورځې څخه یو ورځ مخکې، صالح محمد زیري، نیاز محمد موند، د دفاع پخواني وزیر نظر محمد، دستګیر پنجشیري، هاشم څارنوال، قادر اکا په دارالامان کې د تني سره غونډه وکړه، دوی غوښتل چې د نجیب او تنی تر منځ روغه وکړي. خو وروسته نجیب دا ټول د کودتاه دعاملینو په

---

[1]ـ حکمتیار، ګلبدین (۱۳۷۸ هـ ش). پټې توطې، بربنډې څیري. مخ ۲۴

[2]ـ حکمتیار، ګلبدین (۱۳۷۸ هـ ش). پټې توطې، بربنډې څیري. مخ: ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه بندیان کړل ، د ټنی په امر جیټ الوتکو پښتونستان واټ ، ارګ ،د سلام خاني مانۍ او استقلال لیسي باندې بمباري وکړه ، په بالاحصار او دارالامان کې یې یو پر بل ډزې کولې . جګړه تر مازیګره پورې ډېره سخته وه ، د شپې سسته شوه کله چې د بګرام هوایي ډګر فلج شو . ټني خپل ګوندي کارت او کمربند په وزارت دفاع کې د میز پر سر کیښودل اود خپلو ملګرو هر یو نیازمحمد مومند ، جنرال قادر اکا ، جنرال حمزه او نورو سره په یوه هلیکوپټر او ان ۱۲ کې پاکستان ته ولاړل . زیری ، دستګیر او نظر محمد بندیان شول او هغه افسرانو چې په کودتاه کې دنجیب په ګټه فعالیت وکړ عبارت دي له : جنرال آصف دلاور ، جنرال سید اعظم سعید ، جنرال جلال رزمنده ، جنرال عبدالرزاق ، جنرال عبدالستار ، جنرال عبدالروف بیګي ، ډګروال بابه جان ، عبدالمجید روزي ، او جنرال دوستم چې یو شمیر خلقي افسران هم ورکې شامل وو ، دوی ته غټې رتبې او بخششونه ورکړل شول ، جنرال ټنی ته په اسلام آباد کې کور او نور اړین ثیزونه ورکړل شول خونجیب د دفاع وزارت محمد اسلم وطنیار ته ورکړ خو خلکو ته زیات زیان ورسید .
([1]_ مخونه : ۳۴۲ – ۳۴۳ )

## ۱۴،۵ _ د فضل الحق خالقیار حکومت :

د ۱۹۹۰ ز کال په می کې داکتر نجیب الله د اساسي قانون د تعدیل له پاره جرګه دایره کړه . قضا او څارنوالي یې غیری ګوندي کسانو ته ورکړه ، نجیب په خپله وینا کې په اروپا ، امریکا او نورو هیوادونو کې مهاجرو افغانانو ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي . په همدغه غونډه کې سلطان علي کشمند یې د صدارت له څوکۍ څخه لیري او فضل الحق خالقیار یې د هغه پر ځای وټاکه ، فضل الحق خالقیار د هرات دیو ځمکه وال زوی و . چې د پښتون زرغون ولسوالي کې د تسلیمیانو له خوا زخمي شو . نوموړی له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ او د هرات تنظیمه رئیس او مشاور وزیر دندي یې هم اجر ا کړې وې . د ده په کابینه کې محمود بریالی ، عبدالصمد سلیم ، محمد انور

---

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخونه : ۳۴۲ _ ۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارغندیوال او عبدالقیوم نورزی ، د صداراعظم مرستیالان میرمن معصومه عصمتي وردګه د پوهنې وزیره ، غلام محی الدین انیس دریځ د عدلي وزیر ، ډاکتر مهر محمد اعجازي د عامي روغتیا وزیر ، عبدالوکیل د بهرنیو چارو وزیر ، ډاکتر راز محمد پکتین د کورنیو چارو وزیر ، محمد اسلم وطنجار دملي دفاع وزیر ، غلام فاروق یعقوبي د دولتي امنیت وزیر ، محمد صدیق سیلا د اسلامي شونو وزیر محی الدین شهباز د کرنې وزیر ، محمد انور دوست د خفیفه صنایعو وزیر ، فقیر محمد نیکزاد ساختماني وزیر ، انجینر عبدالصمد صلاح د کار او صنایعو وزیر ، ډاکتر ودیر ساپي د ملکي هوا نور دي وزیر . انجینر محمد نسیم علوي د مخابراتو وزیر ، میر عبدالغفور رحیم د اوبو او بریښنا وزیر ، احمد بشیر رویګر د اطلاعاتو او کلتور وزیر ، ډاکتر محمد انور شمس د عالي تحصیلاتو وزیر ، فتح محمد ترین د عودت کوونکو وزیر ، ذکیم شاه د سوداګرۍ وزیر ، انجینر حیات الله عزیز د کلیو د بیا ودانولو چارو وزیر ، خلیل الله د ترانسپورټ وزیر ، شاه ولي مشاور وزیر ، سید اکرام پیګیر مشاور وزیر ، فقیر محمد یعقوبي مشاور وزیر ، دې پراخې کابینې چې وزیرانو یې په مشکل د یو بل سره پیژندل ، زیات یې په خپل کار نه پوهیدل په هیواد کې ستونزه دا وه چې په هره سیمه کې جګړه وه . کابل هم د راکټونو د پراخې حملې لاندې و ، د وزیرانو غونډې په مشکله جوړیدله کله به چې جوړه هم شوه وزیرانو به د افغانستان د جګړې په اړه د بي ، بي ، سي او امریکا غږ په خبرونو تبصره کوله . ( [1] مخونه : ۳۴۳ _ ۳۴۴ )

**۱۴،۲** _ یو پر بل پسې د ښارونو سقوط :

د ټني تر کودتاه وروسته پوځ خپل مورال بایلاوه هر فرد او افسر د سقوط په فکر کې او هر چا د نجات تلاش کاوه . د ۱۹۹۰ ز کال په اکتوبر کې د اورزګان د تیرین کوټ ګارنیزون چې زر نفره مجهز قوت یې درلود د والي او نورو کار کوونکو د سازش په وجه سقوط وکړ دې کار د اردو په

---

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخونه : **۳۴۳ _ ۳۴۴**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورال باندې منفي اغیزه وکړه . په خوست کې د مجاهدینو او دولتي قواوو تر منځ سخته جګړه روانه وه . ډیر خلک په دواړو خواو کې ووژل شول . ډیرې وسلې له مینځه ولاړې ، د خوست ښار زیان ولید ، دغه لوی نظامي مرکز د ۱۹۹۱ ز کال د اپریل په لومړۍ نیټه سقوط وکړ . ([1]_ مخ : ۳۴۲)

ډاکتر نجیب دا ماتې ومنله . دریم سقوط مزار شریف و چې د ۱۹۹۲ ز کال په مارچ کې سر ته ورسید ، چې د جمهور رئیس په خوا کې د پرچم ډلې چې لاربښوونه یې کارمل کوله دا توطیه عملي شوه خو د مزار شریف له سقوط وروسته د نجیب رژیم د سقوط په حال کې معلومیده ، د شمال مجاهدین ، دوستم او مسعود سره یو ځای شول ، خلقي جناح ګلبدین حکمتیار ته ځان نږدې کړ ، ډاکتر نجیب شمال ته نبي عظیمي ولیږه خو هغه هم د کارمل نجم الدین کاویاني او فرید مزدک سره ملګری و . نجیب به بنین سیوان باندې تکیه وکړه خو په دې نه پوهیده چې هغه د نواز شریف د لاربښووني سره سم د نجیب د وهلو د پلان کار لاس لاندې نیولې و . د کابل له سقوط څخه یوه اونۍ او څو ورځې مخکې د چهاریکارو ښار سقوط وکړ او د مسعود قوتونه ورته راغلل ، په همدغه وخت کې د فرید مزدک ، نجم الدین کاویاني ، نبی عظیمی او عبدالوکیل له خوا کودتاه صورت ونیو ، لومړی عبدالوکیل چې د بهرنیو چارو وزیر و په چاریکارو کې یې د مسعود سره وکتل چې کله کابل ته راغي په نجیب یې د ملي خاین حکم وکړ او نجیب هم د فرار هڅه وکړه چې د کابل په هوایي ډګر کې طیاري ته پرې نه ښودل شو ، نوموړی په کابل کې د ملګرو ملتو د فتر ( نماینده ګي ) ته را ستون شو ، هلته یې پناه واخېسته په دې ترتیب د کابل ښار هم د ( مسعود ) ، دوستم او جنرال مومن قوتونو ته چې تازه یې ائتلاف کړئ لاس ته ورغی . ( [2]_ مخ : ۳۴۷ )

۱۴,۷_ د نجیب د رژیم سقوط :

---

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ : ۳۴۲

[2] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخونه : ۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهنواز تڼی له کودتاه وروسته د نجیب پر ضد فعالیتونه پیل شول ، په ګوند کې د خلقي اوپر چمي اړخونو هغه ټول پخوانۍ مخفي مرکزونه دوباره فعال شول . ببرک کارمل خپل غیر پښتانه ګوندي ملګري له ستمي روحیي سره نږدې کول چې دغه خطرناکه لاربښوونه ، محمود بریالي ، نجم الدین کاویاني او فرید مزدک کوله ، ډاکتر نجیب الله هم په دې پوهیده خو بیا یې هم مزدک او کاویاني ته ډېره موقع ورکوله ، خو دا کار پر نجیب باندې د کې ، جي ، بي لخوا تحملیده . چې د کارمل د ډلې لخوا په څو مرحلو کې کودتا تر سره شوه .

لومړۍ مرحله : نجیب د مزار شریف اداره جنرال جمعه اڅک ته وسپارله ، خو په مزار او جوزجان کې عبدالرشید دوستم څان د قدرت مرجع ګاڼه ، لومړی د جمعه اڅک او دوستم تر منځ اړیکې خرابې شوې ، د حیرتانو اداره جنرال مومن ته سپارل شوې وه ، مومن هم د جمعه اڅک د امر اطاعت نه کاوه ، نجیب د مومن پر ځای ډګروال ستار بشرمل حیرتانو ته واستوه خو جنرال مومن هغه بندي کړ او د حیرتانو ګارنیزون یې خپل سنګروګر ځاوه . نجیب مومن ته امر وکړ چې کابل ته راشي ، خو هغه دوستم ته مراجعه وکړه دوستم وویل چې هغه باید جمعه اڅک له مزار شریف څخه وباسي دا بې اتفاقي د کارمل له پاره ښه زمینه برابره کړه . هغه دوستم او مومن ته وویل چې مقاومت وکړي .( [1] _ مخ : ۳۴۷ )

دویمه مرحله : کله چې ډاکتر نجیب الله د دفاع وزارت مرستیال نبي عظیمي ته وویل چې مزار شریف ته ورشي . مومن او دوستم کابل ته راولي ، جنرال نبی عظیمی هم د کارمل د ګروپ سره تړاو درلود ، ده مومن او دوستم په مزار شریف لا پسې په خپلو غوښتنو ټینګ کړل . او وئ هڅول چې د جمهور رئیس پر ضد مقاومت وکړي . په ۱۹۹۲ ز کال کې مزار شریف ته نبی عظیمی له ورتګ څخه وروسته د هغه ولایت وضعه ډېره خرابه او سقوط یې حتمي شو . نجیب د وطن د دفاع د شورا رئیس ارکان جنرال رفیع مزار

---

[1] _ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخونه : ۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف ته ولیږه ، خو رفیع هم بیرته ناکام راغی . خو ده دوستم ته د نجیب دا پیغام ورسوه چې جمعه اڅک به دشمال د اپراتیفی ګروپ له قوماندانۍ څخه برطرف او کابل ته را وغوښتل شي . جنرال دوستم ته وظیفه ورکول کیږي چې مومن له حیرتانو څخه کابل ته را ولیږي . جمهور رئیس به هغه عفوه کړي . د شمال جبهې له خوا نجیب ته دا پیغام را ولیږل شو .

ـ جنرال دوستم دې د شمال اپراتیفي عمومي قوماندان وټاکل شي .

ـ په شمال کې دې نظامي کادرونه د جنرال دوستم له خوا او ملکي کادرونه د نجم الدین کاویاني ، فرید مزدک ، سید اکرام پیګیر او محمود بریالي له خوا پیشنهاد او منظور شي .

ـ جنرال مومن دې خپلې وظیفي ته ادامه ورکړي . ( [1]ـ مخ : ۳۴۸ )

د کودتاه ستمي رهبرانو د احمد شاه مسعود سره هم اړیکې درلودلې . خود کودتا یو مهم غړی نبی عظیمی تر اوسه پټ او د نجیب د اعتماد وړ او علومیان ( جنرال نورالحق علومی او جنرال عبدالحق علومی ) هم د کودتا عمده غړي وو . او په مقابل کې یوه ضعیفه ګروپ محمد اسلم وطنجار ، سلیمان لایق . ماہو کی منګل او اسد الله پیام د کودتاه د خنثی کولو هڅه کوله . خود بریالیتوب چانس یې ډیر کم و ، د ۱۹۹۲ ز کال د فبروري په میاشت کې د کابل د سقوط علایم څرګند شول ، جمهور رئیس هم پوهیده؟ خو کودتاه دومره دقیقه وه چې خنثی کول یې ستونزمن و ، د نجیب الله تیروتنه دا ده چې په عبدالوکیل او نبي عظیمي یې ډیر باور وکړ خو هغوي په مقابل کې د کودتا چیانو ملګري شول ، نجیب هم غوښتل چې د عبدالحمید محتاط پو اسطه د احمد شاه مسعود سره اړیکه ټینګه کړي . خو محتاط د نجیب د پیغام په خوا کې مسعود ته د کابل وضع تشریح کوله ، د ملګرو ملتو د سر منشی ځانګړي استازي بنین سیوان د نجیب او مجاهدینو تر منځ تګ او را

---

[1]ـ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ : ۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

تگ کاوه خو بنین سیوان د نواز شریف تر اغیزې لاندې و او د هغه د پلان سره سم یې حرکت کاوه . (1_ مخ :۳۴۹ )

د ملگرو ملتو پلان یو غافلونکي پلان و چې ملگري ملتونه به له دواړو خواو څخه یو شورا جوړ وي او قدرت به د غې شورا ته انتقالیږي ، هغه به د پراخه بنسټه حکومت د جوړیدو زمینه برابر وي . په پیښور کې مجاهدینو او د پرچم گروپ د احمد شاه مسعود په مشرۍ په چاریکار او کابل کې د واک د نیولو کوښښ کاوه . له شمال څخه د مسعود د قواو راتگ کابل ته بالکل ریښتنی و . نجیب په کابل کې څلور الوتکي موظیفي کړي چې له قندهار څخه کابل ته د جبار قهرمان خلک راوړي . خو دا الوتکي د محمد نبی عظیمی په امر چې د کابل د گارنیزون قوماندان و ، مزار شریف ته لاړې او د د وستم ملیشه یې انتقال کړه .

دریمه مرحله : د کودتاه کوونکو له خوا د کابل هوایي ډگر تر نظارت لاندې ونیول شو . د شپې نهه بجې دوه الوتکې له مزار شریف څخه ازبک ملیشي هوایي ډگر ته را ورسولي چې مجید روزي ور سره و . دچار آسیاب پر ځای په هوایي ډگر کې پاتې شول . د دولتي امنیت وزیر یعقوبي په مرموز ډول خودکشي وکړه ، داکتر نجیب الله په ارگ کې تر نظارت لاندې و . د بنین سیوان مرستیال حسین او غلي د گارنیزون قوماندان نبی عظیمی ته خبر ورکړ چې بنین سیوان د شپې کابل ته رسیږي د شپې د ملگرو ملتو یوه کوچنۍ الوتکه د کابل په هوایي ډگر کې کیښناستله او یو ساعت وروسته درې فلکس واگونون موټرونه هوایي ډگر سره نږدې په درې لاره کې د محافظیونو له خوا و درول شول. د میدان قوماندان ستار نبی عظیمی ته یې خبر ورکړ چې له دریو موټرونو څخه په یوه کې ډاکتر نجیب له احمدزي او جفسر سره یو ځای ناست دي ، غوښتل یې ترمینل ته داخل شي . نبي عظیمي ځوآب نه ورکاوه له نیم ساعت څخه وروسته بیا نبي عظیمي ته تیلفون وشو چې موټرونه بیرته ولاړل ، کودتاه چیانو غوښتل چې نجیب ونیسي .

---

1_ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخ : ۳۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخیسته په دې توګه د ډاکتر نجیب الله واکمني پای ته ورسیده او هغه رژیم چې د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل په ۲۷ مه را منځ ته شوی و له مینځه ولاړ او کابل کې تنظیمي حکومت پیل شو . (1_ مخونه : ۳۴۹ _ ۳۵۰ )

۱۴٫۸ _ مړینه ٦ میزان / ۱۳۷۵ لمریز کال :

ډاکتر نجیب الله چې کله د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخیسته د هیواد داخلي جګړې یې په دقت څارلې . نجیب احمدشاه مسعود ته په یو پیغام کې وویل : احمد شاه مسعود باید د وخت دغوښتني سره سم د ګوښه ګیری او تنظیمي جګړو څخه ځان لیرې کړي ، د لویدیځو هیوادو په ځانګړي ډول د امریکا سره مثبتې خبرې پیل کړي ، زه خو دلته په یو طلایي قفس کې بندي یم که زه چیري د مسعود پر ځای وای پرته د وخت له ضایع کیدو څخه مې د تنظیمونو څخه لار جلا کوله . له امریکا سره مي جدي خبري پیل کولي . ځکه مسعود په دې وخت کې د یوي داسې لاري ټاکنې ته اړتیا لري . تر څو د اوسني بحراني او کړکیچن حالت څخه ځان وباسي ده وویل چې امریکا خو پرما اعتماد ونکړ اوس ستاسې وخت دی چې له امریکا سره د خبرو او تفاهم وخت د لاسه ورنکړئ . د دې لارې ټاکنه به دیو نوي سیاسي دورې پیل وي . ( ١ _ مخونه : ۲۵ _ ۲۲ _ ۲۷ )

د ۱۳۷۵ لمریز کال د تلي په ۴ مه د نجیب میرمنې اغلې فتانی ، کابل ته د طالبانو د داخلیدو یو ورځ مخکې دنجیب سره په تیلفوني اړیکه کې هغه ته ډاډ ور کړ چې نوموړی له هر ډول احتمالي خطر څخه محفوظ دي . زیاته

---

1_ عطایي ، محمد ابراهیم . افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه مخونه : ۳۴۹ _ ۳۵۰ )

١ _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابیده ( اسرار مرگ داکترنجیب الله : مخونه : ۲۷، ۲۲، ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کړه چې له هر ې خوا دوی ته پيغامونه را رسيدلي چې د ملګرو ملتونو له دفتر څخه خارج نه شي د ده امنيت به ونيول شي . [۲]_ مخ : ۲۷ )

د ۱۳۷۵ ل کال د تلې په ۵ مه نيټه طالبان له دريو لارو څخه کابل ته داخل شول ، د کابل د نيولو په خاطر يې جګړه چټکه کړه ، د احمد شاه مسعود قوتونو کابل پريښودل پيل کړل . له احمد شاه مسعود سره د نجيب د نه تللو په اړه مارشال فهيم داسي وايي : احمد شاه مسعود په مخابره کې پر ما غږ وکړ او وې ويل : ډاکتر نجيب خبر کړه چې دولتي قوتونه له کابل څخه خارجيږي که چيرته يې خوښه وي د ملګرو ملتونو دفتر دې خوشې کړي او له مونږ سره دې د شمال په لور حرکت وکړي . ما څلور تنه هر يو ډاکتر جلال عتيق ، ډاکتر ګلبدين او مصباح ډاکتر نجيب ته وليږل او د احمدشاه مسعود پيغام يې ورته ابلاغ کړ . مګر ډاکتر نجيب د منني په خوا کې زمونږ ليږلي هيت ته وويل : هغه ترجيح ور کوي چې همدلته پاتې شي ، مارشال فهيم زياتوي چې ډاکتر نجيب د ملګرو ملتونو له دفتر څخه خارج نه شو او اخرنۍ غوښتنه يې دا وه چې کابل ته د طالبانو د مسولينو تر را رسيدو پورې شپږ تنه خپل مخصوص ځانګړو ساتونکو ته دنده وسپاري تر څود ځينو حلقو له خوا د احتمالي خطر د پيښدو په صورت کې له ده څخه ساتنه وکړي ، شپږ تنه زما د ساتي له پاره را وليږي زه که تر سبا ژوندی پاتې شوم د ملګرتوب حق به ادا کړم . د ډاکتر دې خبرې زه د شک سره مخامخ کړم چې ځينو پټو حلقو به ده ته په دې څو کالو کې ډاډ ور کړی وي چې هغه دوباره واک ته رسوي ، دلته يوه پوښتنه پيدا کيږي چې ده ولې داسې خبره وکړه په داسي حال کې چې نوموړي له خطر څخه اګاه و . بيا يې ولې پنجشير ته د تللو وړانديز رد کړ ، ما بيا هم شپږ تنه ساتونکي د حبيب تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو دفتر ته واستول چې ښار ته د طالبانو له داخليدو وروسته يې هغه ځای ترک کړ ، فهيم زياتوي چې احمدشاه مسعود د کوه ساپې له غره بيا پر ماغږ وکړ او له کابل څخه يې ډاکتر نجيب سره د ده د وتلو مساله

---

[۲]_ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابيده ( اسرار مرګ داکترنجيب الله مخ : ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرحه کړه ، خو نجیب بخښنه وغوښته او د شمال خوا ته یې د تللو څخه ډډه وکړه . (1[1] _ مخونه : ۲۸ _ ۲۹)

محمد اسحق توخي د ډاکتر نجیب یاور چې دصحنې شاهد و ، وایې چې د قسیم فهیم اشخاص چې ډاکتر نجیب ته راغلي وو ، له هغو سره د پیژندنې پوره اسناد نه وو چې گوندې دا د فهیم کسان دي او بل دا چې ډاکتر نجیب استدلال کاوه چې باید په خپله فهیم د احمدشاه مسعود پیغام راوړی وای ، توخي بیا د نجیب له قوله زیاتوي او وایي . که چیرته دولتي رهبرانو زما د سرنوشت سره علاقه درلودلي او زما په اړه یې د یو سیاسي پناهنده په توگه د مسولیت احساس کړ ؛ وای ، د ملگرو ملتونو د سازمان د عمومي منشي مرستیال گولډ وین غوښتني ته به یې زما او زما د ملگرو مصون ویستلو په اړه و ، مثبت ځواب ویلی وای ، توخي زیاتوي د طالبانو لخوا د جلال آباد ښار له نیولو وروسته ښاغلی گولډ وین کابل ته راغی ، د مجاهدینو د حکومت له مشرانو څخه یې غوښتنه وکړه چې اجازه ورکړي تر څو ډاکتر او ملگري یې د الوتکې پواسطه یو بل هیواد ته ولیږدوي ، خو دوی اجازه ور نکړه . که دوی غوښتل چې نجیب له مینځه ولاړ نه شي هغه ته یې باید اجازه ورکړای وای ځکه د اجازي نه ورکولو له پاره هیڅ دلیل موجود نه و . (2[2] _ مخ : ۲۹)

د ملگرو ملتو د دفتر یو کارکوونکی د پورته موضوع په اړه داسي وایي : ((ډاکتر نجیب د احمد شاه مسعود او قسیم فهیم د دعوت په اړه داسي وویل : زه مخکې د هیواد جمهور رئیس وم اوس غواړم چې له یوه قوي تضمین څخه وروسته له دې ځای څخه بهر شم ، بیا هم فهیم د مازیگر شپږ بجې یې د ملي امنیت په اداره کې کار کاوه بیا یې د ملگرو ملتو د دفتر د ساتني مسول اسدالله مشکوري ته وویل : چې له ډاکتر نجیب څخه خواهش

---

[1] _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابیده ( اسرار مرگ داکترنجیب الله : مخونه : ۲۸ _ ۲۹

[2] _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابیده ( اسرار مرگ داکترنجیب الله : مخ : ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي چې د يوه هموطن او يوه افغان په حيث له ما سره پنجشير ته ولاړ شي . او ډاکتر ته ووايي چې ډير ژر به د قدرت تشه را منځ ته شي ، مونږ د يوه احتمالي خطر څخه ويريږو . له دې ځايه بيرون او له مونږ سره لاړشه چې په راتلونکي کې ونه وايې چې د کابل د پرېښودلو پر مهال دې له ما سره نامردي وکړه ، خو د نجيب ورور شاپور احمدزي د اسدالله مشکوري په جواب کې وويل : مشکوري صاحب گومان ونکړې چې مونږ له بوټي څخه پيدا شوي يو . امريکايان هم له ډاکتر نجيب څخه ملاتړ کوي . د شاپور احمدزي خبرې داسې معلوميدي چې دوی ته هيڅ خطر متوجه نه وي. او تر دي چې خپل يو ساتونکي ته يې وويل: اړتيا نه شته چې ته پنجشير ته ولاړ شې . ډاډه اوسه فقط دوه ورځې حوصله وکړئ ستونزه به ډير ژر حل شي . يو ساعت وروسته طالبان قلعه زمان خان ته را ورسيدل . د شپې اوه بجې په کابل کې د قدرت خلا را منځ ته شوه. په دغه وخت کې د ډاکتر نجيب خپلوان او دوستان د گارد د قوماندانی يو تن غړی ستار خان هم راغی دوی غوښتل چې داکتر نجيب د ځان سره بوزي او ساتنه يې وکړي . خو دوی هم بريالی نه شول او نجيب له دوی سره هم لاړ نه شو . د شپي له ۷ او و بجو څخه د شپي تر (۱۲) بجو پورې دپنځو ساعتو له پاره په کابل کې د قدرت خلا منځ ته راغله چې دولس بجې د طالبانو لومړنۍ تعرضی ډله کابل ښار ته داخله شوه . يوه درې کسيزه ډله د ملگرو ملتو د دفتر په کوم ځای کې چې ډاکتر نجيب او ملگري يې اوسيدل را ورسيدله . داسې گومان کيږي چې دا ډله د مخکني پلان په اساس د ملگرو ملتو د فتر ته راغلي وه ، د دې دفتر کارکوونکي وايي چې دې خلکو اوږدې ږيرې در لودې . په پښتو ژبه يې خبرې کولې ، لونگۍ يې پر سر تړلې وې مگر د طالبانو له عادي خلکو سره يې شباهت نه در لود ، د دې صحنې شاهدان وايي چې نجيب په لومړنۍ برخورد کې هغوی ته ول وپيژندل او د هغوی سره يې عادي خبرې کولې ، دوی يو تن له دريم مکرويان څخه د ځان سره را وستي و . هغه د ډاکتر نجيب دوست و ، نجيب هغوی کوټې ته رهنمايي کول هلته يې نيم ساعت خبرې وکړې د تشنج موضوع پکې نه وه ، دا ډله بيرته رخصت شوه او ډاکتر نجيب هغه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې پورې بدرگه کړه ، ټول وايي چې دا خبرې ټولې د اسحق توخي په ياد کې شته اما د طالبانو بله ډله په ډاتسن کې د شپې دوه بجې د ملگرو ملتونو دفتر ته داخله شوه . نجيب تر دروازې پورې د هغوی ملگری و ؟ خو په دروازه کې نجيب يو تن ته وويل ته خو زما خبره واوره ! ته خو زما خبره واوره ! په دې وخت کې يوه طالب وويل : زمونږ مشر په ارگ کې دي غواړې تاسې ووينې نجيب ځواب ور نه کړ خو مقابل لورې اسرار کاوه . په دې وخت کې ډاکتر نجيب د نا پيژندو کسانو سره په قراره قراره دملگرو ملتو له دفتر څخه بيرون شو . د نجيب دا حرکت د مخکنيو حرکتونو بر خلاف و . ځکه مخکې نوموړی په اسانۍ سره د ملگرو ملتونو له حويلۍ څخه نه وتلو . د دوی څلور موټرونه بيرون ولاړ وو ، نجيب د ارگ د تللو په اړه قرار قرار د هغه موټر په لورې چې دروازه يې خلاصه شوې وه حرکت وکړ . کله چې ډاکتر نجيب موټر ته پورته شو د هغه باډيگارد جفسر هم د طالبانو د موټر خوا ته نږدې شو ، غوښتنه يې وکړه چې هغه ته هم اجازه ور کړي تر څو ډاکتر نجيب سره تر ارگه پورې ملگری وي او هغه يوازې پرې نږدي . خو اجازه يې ور نکړه . همدا چې ډاکتر نجيب يې لومړی په رضا وروسته په زور موټر ته داخل کړ د طالبانو په خير و کې قهر او غضب زيات شو او جفسر يې د لغتو او سوکانو پواسطه له موټر څخه ليرې کړ . مخکې له دې چې موټر حرکت وکړي د نجيب او طالبانو تر منځ کشمکش زيات شو . ډاکتر وويل : جانه ته زما خبره واوره ! جانه ته خو زما خبره واوره ! : [1]_ مخونه : ۷۱ _ ۷۲ )

د طالبانو او نجيب تر منځ تاوتريخوالی زيات شو . نجيب شاپور احمدزي ته لاس وښوراوه چې د ده خوا ته ور شي د نجيب په خواکې په شدت سره د دروازې دستگير پورته کړ او د نجيب لاس تر ليخې پورې بيرون پاتې شو . موټرو حرکت وکړ وايي چې په ډاتسن کې ځای نه و . ځکه يې حيات جفسر په موټرو کې پرې نښود . جغسر بيرته د شاپور احمدزي او شاپور خواته وگرزيد ، چو پټيا او خفگان يوه لويه څپه خپره شوه او داسې وضع منځ ته

---

[1] _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابيده ( اسرار مرگ داکترنجيب الله : مخونه : ۷۱_ ۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغله چې دوړاندويه نه شوي کيداي په ناڅاپي ډول د دفتر دروازه ووهل شوه او طالبان په چټکۍ سره د ملګرو ملتو د دفتر خويلۍ ته داخل شول. له شاپور احمدزي څخه يې غوښتنه وکړه چې په ارګ کې له ډاکتر نجيب سره يو ځای شي. شاپور احمدزي چې په روانی لحاظ کاملاً اماده و له نجيب سره يو ځای شي د طالبانو غوښتنه يې قبوله کړه. په ډيرو تيزو قدمونو سره د طالبانو ډاتسن ته وخوت خو جفسر پوه شو چې په دواړو ورونو به څه حالت را غلی وي. (1_ مخ: ۷۳)

د ملګرو ملتو د دفتر څو تنه کارکوونکي چې د ډاکتر نجيب الله او دهغه د ورور په اړه يې تشويش درلود. په دروازه کې ولاړ وو يو تن کارکوونکي چې د خپل نوم له ښودلو څخه ډډه کوي وايي: يو موټر دملګرو ملتو د دفتر له مخې څخه په ډيرې بيړې سره تيز تير شو او د اريانا په څلور لاره کې ودريد زه هلته ورغلم کله چې د اريانا څلورلارې ته ورسيدم، څو تنه مې وليدل چې مخونه يې په لونګيو (لاوستونو) پټ کړي وه، له ډاکتر نجيب سره په کشمکش کې وو، کله چې مونږ ته يې فکر شو وې ويل تاسې حراميان دلته څه کوي؟ يو تن زمونږ خواته را وګرزيد، مونږ په شاه لاړو او د ملګرو ملتو دفتر ته راغلو، سهار وختي چې له يکه توت او کابل بای څخه د ترکارۍ کراچی را تللې او غوښتل يې چې له دې لارې د شهرراه مارکيټ ته ولاړ شي کله چې د اريانا څلور لارې ته نږدې کيږي د ترافيکو په سمتي غورفه کې چې ترافيکو د دريدو ځای وو دوه تنه په پړې کې ځوړند دي. دوی دملګرو ملتو د دفتر له مخي تيريدل او د ملګرو ملتو د دفتر ساتونکو ته وايي چې دوه تنه د اريانا په څلور لارې کې ځوړند دي. مامورين باور هم نه کوي خو د نيم کيلو متر واټن له طي کول وروسته کله چې د اريانا څلور لارې ته له رسيدو سرسم نږدې کيږي حيرانيږي ګوري چې دواړه ځوړند کسان يو ډاکتر نجيب او بل شاپور احمدزی دي. (١_ مخونه: ۷۳_ ۷۴)

---

1_ مامون، رازق (۱۳۸۷ هـ ش) راز خوابيده (اسرار مرگ داکترنجيب الله: مخ: ۷۳

١_ مامون، رازق (۱۳۸۷ هـ ش) راز خوابيده (اسرار مرگ داکترنجيب الله: مخونه: ۷۳_ ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې توخي او جفسر د ملګرو ملتو د مامورینو له خولې د نجیب او د هغه د ورور احمدزي د اعدام خبره اوري نو په وارخطایي سره د فرار لار لټوي او د ملګرو ملتونو مامورین هم د هغوي د تښتې له پاره زمینه برابر وي بالاخره جفسر او توخي د ملګرو ملتو د دفتر د شاه دیوال له لاري فرار کوي تر څو په یو خوندي ځای کې پټ شي . ( [1]_ مخ : ۷۴ )

د ۱۳۷۵ ل کال د تلې په ۶ مه چې لا تر اوسه د نجیب د مرګ خبر نه و خپور شوی د امریکا غږ رادیو خبر نشر کړ چې د افغانستان پخوانی جمهور رئیس د طالبانو د یوې ډلې له خوا ارګ ته یوړل شو . ښایي نومړی د طالبانو د لومړی وزیر په توګه اعلان شي . خو امان الله د ملګرو ملتو یو کار کوونکي ویلي دي کله چې د ملګرو ملتو کارکونکي له دې خبر شول چې ډاکتر نجیب طالبانو ارګ ته وړی ، ډیر ژر مونږ ارګ ته ولاړو تر څو خبر شو چې په ډاکتر څه راغلي دي ، خو طالبان د سلام خانې د قصر په دروازه کې ولاړ وو ، مونږ ته یې وویل چې په دفتر کې هیڅوک نشته . د طالبانو لوړ پوړي چارواکي تر اوسه نه دي راغلي . خو د ارګ اشپز بیا بل ډول خبرې کوي . هغه وایي چې هغه شپه نوکري و کله چې په موټرو سپرو طالبانو داکتر نجیب د ارګ داخل ته راوړ . دهغه یې د ارګ اصلي ماڼي اوسلام خانې ته چې د سربازانو د اوسیدو ځای و په لوري د وړو وړ . نجیب یې په ظاهر کې په ډیر ادب او عزت سره هغه ځاي ته رهنمایي کړ اما نیم ساعت وروسته د سربازخانې له داخل څخه ترخې خبرې واوریدل شوې . څو شیبې وروسته څو تنو طالبانو نجیب په زور د سلام خانې ماڼۍ څخه د ارګ د اصلي ماڼي د سړک خواته ټیل واهه . نجیب له هغوي څخه د ارام برخورد غوښتنه کوله خو هغو په ډیر قهر سره هغه د ټوپکو پواسطه تهدید وه . په ناڅاپه توګه دوه تنو طالبانو یوه رسۍ ( طناب ) د ډاکتر نجیب په غاړه کې واچوله او نورو دوو تنو نومړی د کلانشکوف په کونداغونو باندې په سر و تنه واهه په اخر کې یې د هغه لاسونه شاته وتړل ، یو تن طالب طناب د موټر په شاتني برخي

---

[1] _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابیده ( اسرار مرګ داکترنجیب الله : مخ : ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې وتاتړه او ډاتسن ته یې اشاره وکړه چې حرکت وکړه ، ډاتسن په ډیرې چټکې سره له خپله ځایه پناه شو او ډاکتر نجیب یې په ځان پسې راښکوده او ، له دروازې بهر شوه. مونږ پوه نشو چې ډاتسن چرته لاړه د هغې شپې پر سبا خبر شو چې نجیب له خپل ورور سره د اریانا په څلور لارې کې په دار ځړول شوی دی. ([1]_ مخ : ۷۲)

نجیب په داسې حال کې ووژل شو چې د طالبانو د رهبرۍ غړی ملا رباني په جلال اباد کې و . او له دې پریکړې څخه یې اطلاع نه درلوده . ځینې جنرال اسلم بیګ په دې خاطرچې ګڼې چې په لومړۍ شیبه د طالبانو له شورا څخه مخکې کابل ته را ورسید ،. د ډیورند د کرښې سند یې نجیب ته وړاندې کړ چې لاس لیک یې کړي . خو هغه انکار وکړ ، نجیب له یو تن څخه ټوپک واخیست د جنرال اسلم بیک ورور یې وویشت. وروسته هغوی ډاکتر نجیب شکنجه کړ. خو د دې خبرې په اړه کره شواهد نشته . ځینې هم جنرال شهنواز تڼی د نجیب قاتل ګڼي چې د هغه طرفدارانو د طالبانو په واکمنۍ کې دندې اجرا کولې داکتر حیدر ننګرهاری د آصف شور• د زوی قدیر له قوله وایې غرزې خواخوږې د ۱۳۷۵ ل کال د میزان ۲ مه د جمعې ورځ سهار ۲ بجې د مکرویانو په ۱۰۸ بلاک ۱۳ اپارتمان کې زمونږ د کور دروازه وټکوله . ماته یې زیری را کړ چې ستا د پلار دښمن (نجیب) مې وواژه . قدیر و ایې کله چې د اریانا څلور لارې ته ولاړو نجیب او دهغه ورور مې په دار ځوړند ولیدل. خوښ شوم او ومې ویل ډیر ښه کار وشو . ننګرهاری وایې چې افراسیاب خټک هم راغلي و تر څو دنجیب د قاتلانو سره روغه وکړي خو بریالی نه شو . ننګرهاری زیاتوي چې دنجیب په وژنه کې یو امریکا یې جنرال د

---

[1]_ مامون ، رازق (۱۳۸۷ هـ ش) راز خوابیده (اسرار مرگ داکترنجیب الله : مخ ۷۲

• : آصف شور د شهنواز له نږدې کسانو څخه و . چې د ۱۳۲۸ ل کال د کودتاه وروسته چې کله تڼي پاکستان ته ولاړو . دنجیب قوتونو په ځانګړې د خاد د پنځم ریاست قوتونو د جلال رزمند په مشرې د وزارت دفاع قرارګاه ته داخل شوې چې په نتیجه کې آصف شور کبیر کاروانی او نور ووژل شول . (۳_ مخ : ۸۵)

۲_ مامون ، رازق (۱۳۸۷ هـ ش) راز خوابیده (اسرار مرگ داکترنجیب الله : مخ ۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریکل په نوم هم شریک وو . خو د دې امریکا یې جنرال په اړه مهم اسناد شتون نلري . ( [1]_ مخ : ۸۲ )

ډاکتر نجیب دملګرو ملتو له دفتر څخه وویستل شو . وروسته یې وواژه . چې ډیره پړه د ملګرو ملتو په مسولینو او د استاد رباني په حکومت ده . ځکه چې تقریباً پنځو کالو واکمنۍ په موده کې یې ډاکتر نجیب ته د دې زمینه برابره نه کړه چې هغه له افغانستان څخه ووزي او له خپلې کورنۍ سره یو ځای شي . دواړو خواو د طالبانو پرمختګ په دقیقه توګه څاره . احمدشاه مسعود د مارشال فهیم د تللو له پاره پیغام را ولیږه خو د هغوی یو تن هم پخپله د ده د بیولو لپاره را نغلل او هم یې هغه کسان چې د ده د لیږدولولپاره راستولي شوي وو نه پیژندل کیدل ، نجیب هم پرته له مقاومت څخه د طالبانو سره د ملګرو ملتو له دفتر څخه خارج شو چې دا کار هم د ده په وژنه کې اغیز درلود .

**۱۴,۹ _ تیروتیني :**

ډاکتر نجیب الله افغانستان کې د سولي د ټینګښت لپاره هلې ځلې پیل کړې هغه هیله درلوده چې مجاهدین او په غربی هیوادونو کې مهاجر به له ده سره یو ائتلافي حکومت جوړ کړي خو دا کار ونشو ، نوموړي په دې لار کې خپله واکمني له لاسه ورکړه . نجیب د مثبتو کارونو په خواکې ځیني تیروتني هم وکړې چې دلته یې یادونه کوو :

- ❖ د ملي روغې جوړې ، د سیاست د اعلان میکانیزم ، د ګوند د نوم بدلول او نورو سیاسي اشخاصو ته په حکومت کې د لوړو څوکیو ورکول و چې له دې کار سره د ګوند ټول غړي موافق نه وو .
- ❖ په زور باندې د شهنواز تڼي لري کول ، او کودتاه ته زمینه برابرول ، د ځینو خلقي افسرانو بندي کول چې د پوځ مورال یې ضعیفه کړ .
- ❖ _ د دوستم په پوځي ټولګیو اود جمهوری ریاست په ګارد باندې ډیره اتکا کول چې دې دواړو قوتو نو د نوموړي د واکمنۍ په وروستیو کې د ده ټینګ ملاتړ ونه کړ .

---

[1] _ مامون ، رازق ( ۱۳۸۷ هـ ش ) راز خوابیده ( اسرار مرګ داکترنجیب الله : مخ ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ ـ د ګارد يوي نوې قطعي جوړول او د نوموړي قطعه معاش لوړوالي يې د دفاع او کورنيو چارو د وزارتونو د کار کوونکو په روحي باندې منفي اغيزه وکړه .

❖ ـ سياسي بيرو عضويت ته د هغو پرچمي مشرانو لوړول چې نجيب ته وفادار نه وو او د کارمل په هدايت يې خيلې کړنې سرته رسولې .

❖ ـ جنرال دوستم او جنرال مومن د پخلاينې لپاره دنبی عظمیی ليږل ځکه نبی عظيمی د کارمل د ګروپ سره پټې اړيکې در لودې او دنجيب ضد فعاليت يې کاوه هغه دوستم وهڅاوه چې د نجيب پرضد په خپل موقعيت کې ټينګ پاتې شي او کابل ته د هغوي د قطعاتو د راتګ او په هوايي ډګر کې د هغوی ځای پر ځای کولو نقشه هم د ده له خوا تطبيق شوه .

❖ نوموړی د کارمل د پخلايني لپاره هيڅ کوم عمل و نکړ خو هغه د ده پر ضد د دی د ډلې دننه يو قوي فراکسيون جوړ او فعال کړ . دوی په داخل کې د نجيب د پلانونو د تطبيق څخه تل اګاه او دهغه د خنثی کولو لپاره يې چټک اقدامات کول .

❖ نجيب و نشو کړای چې د ګوند په داخل کې خپل پرچمي او خلقي مخالفين وځاري .

❖ د داکتر نجيب الله کادری سياست هم تر ډيره بريده کمزوري وه ، ځکه هغه په ډيرو کمزورو کادرونو له حده زيات اعتماد او باور وکړه ، چه دده د واکمني په وروستيو کې نه يواځې د ده په ګټه څه ونکړل بلکه حتی وفادار هم پاتې نه شول .

❖ دشوروي تر ړنګيدو وروسته د روسيی د نوي دولت سره د اړيکو نه ساتل .

❖ دژنيو دتړون د لاس ليک پرمهال د افغانستان د مجاهدينو مشرانو ته چې له شوروي قواوو سره جګړه کړې وه . هغوي ته برخه نه ور کول يعني د پاکستان دنماينده سره يوځای دمجاهدينو نماينده ګانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي د پوځونو د وتلو څخه مخکې په انتقالي حکومت موافقه کړي واي تر څو د ټاکنو له پاره زمينه برابره شوي واي خو ډاکټرنجيب يواځې د پاکستان په ژمنو اعتماد وکړ ، مجاهدينو په خبرو کې دګډون زمينه برابر نه شوه چې هغوي هم د ژنيو توافقاتو او د بنين سوان پلان ته هم کوم ارزښت ور نکړ .

دا پورته يادي تيروتنې د شوروي ، امريکا ، پاکستان او ايران د مستقيمي لاسوهنې پواسطه دنجيب د واکمني د سقوط لامل شوه .

## ۱۵ـ دشوروي پوځونو ماتې او وتل
## ۱۹۸۹می کال د جنوري ۱۵ مه

دبريژنيف له مړينې وروسته ، چرنيکو ، او اندرپوف واک ته ورسيدل په دغه موده کې د شوروي اتحاد کمونست گوند سياسي بيرو کې د افغانستان د نيولو په اړه ډيرې ستونزې موجودې وې . ځکه په دوی کې ځينې په افغانستان کې دشوروي د پوځونو د موجوديت او يرغل مخالف اوځينې پلويان وو دپلويانو په ډله کې ولسمشر بريژنيف ، د دفاع وزير ديمتری استينوف او د کا جي بی دبهرنـي څانگې مشر خرچيکوف او مخالفينو کې صدارعظم الکسا کاسيگين ، د بهرنيو چارو وزير اندري گروميکو او کې جي بي مشر اندرپوف شامل وو . په دې اړه گرباچوف ډير قاطع و . کله چې هغه واک ته ورسيد ، غوښتل يې چې د امريکا او شوروي په اړيکو کې بهبود را منځ ته شي . له افغانستان څخه يې د شوروي پوځونو وتل د دې اړيکو د بهبود له پاره يو شرط گاڼه ، مگر د شوروي نظامی افسران د گورباچوف دې تصميم سره کلک مخالف وو . ځکه هغوی په دې عقيده وو چې دوی بايد په ټيټو سترگو افغانستان څخه خپلي لښکري ونه باسي ، خو دا پوځونه د يوه تړون په پايله کې ووتل نه د يوي بريالی جگړې پواسطه چې دا کار دوی د ځان له پاره لوی شرم گاڼه ، ميخايل گورباچوف چې ۱۹۸۵ز کال د مارچ په ۱۱ مه د کمونست گوند عمومي منشي په توگه ټاکل شوي وو د ۱۹۸۵ ز کال د نوامبر په مياشت کې يوه غونډه کې ببرک کارمل ، سلطان علی کشتمند او نجيب الله ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي د پوځونو د وتلو پـه اړه خبرداری ورکړ. ([1]
_ مخ : ۳۳۱ )

کله چې ډاکتر نجیب الله د ۱۹۸۶ ز کال د مې په ۴ مه د ۱۳۶۵ کال د ثور په ۱۴ مه د ببرک کارمل پر ځای د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو. ده ته د شوروي مشرتابه وویل چې شوروي پوځونه په افغانستان کې نه شي پاتې کېدلی او له دې هیواد څخه ووځي ، د شورورۍ د کمونست ګوند په ۲۷ مه کنګره کې هم له افغانستان څخه د خپلو پوځونو د ایستلو پرېکړه وشوه.

د دې جګړې قیمت شورویانو ته ډېره درنده تمامیده. شورویانو په دې ځان ډاډه کاوه چې دخلق دیموکراتیک ګوند د نوي مشرتابه د نوي کرنلارې (ملی روغې جوړې). او نویو کادرونو په روزني سره ښه پیاوړی شوې دی اوس کولی شي چې په خپله وجنګیږي. ([1]_ مخ : ۳۴۱ _ ۳۴۲ )

د شوروي اتحاد په چارواکو هغـه وخت فشار ډېر شو چې د شورو ي عسکرو له تلفاتو څخه د میډیا او مطبوعاتو پواسطه د دوي ولس خبر شو. بل پلو ته د ملګرو ملتونو سازمان هم د شوروي له چارواکو غوښتنه کوله چې له ازاد او ناپیېلي افغانستان څخه ووزي. ناپیلیو هیوادونو هم په دې برخه کې ټینګار کاوه. چین ، د خپلو سرحدی ستونزو حل له افغانستان څخه دشوروي پوځونو په وتلو پوري محدود ګاڼه. ([2]_ مخ : ۳۴۲ )

کله چې ګورباچوف واک ته ورسید د قزاقستان د الماتا په ښار کې یې په خپله بیانیه کې ژمنه وکړه چې له افغانستان څخه به خپل پوځونه را وباسي او د ولادي واستوک په مشهور وینا کې یې د افغانستان جګړه د ((ناسور زخم)) په نوم یاده کړه ، بل طرف ته سی ، آی ، او آی . ایس ، آی د افغانستان مجاهدینو

---

[1]_ ظاهر ، طنین ، افغانستان در قرن بیستم مخ : ۳۳۱

[1]_ مصداق ، نبی ، ( ۱۳۸۹ ش ) . افغانستان اساسي کمزوري او بهرنۍ مداخلي . مترجم نثار احمد صمد ، علامه رشاد خپرندویه ټولنه . مخ : ۳۴۱ _ ۳۴۲ )

[2]_ مصداق ، نبی ، ( ۱۳۸۹ ش ) . افغانستان اساسي کمزوري او بهرنۍ مداخلي . مترجم نثار احمد صمد ، علامه رشاد خپرندویه ټولنه . مخ : (۳۴۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ستينگرونه توزيع کړل ، چې په مجاهدينو کې يارمحمد او ملا عبدالسلام راکټي ډير شهرت پيدا کړ ، دستينگر راکټونو په موجوديت کې د شوروي د هوايي پوځونو طياري اړ شوي چې لوړ پروازونه وکړي . په دې صورت کې بيا هغوی دقيق بمبارد نه شو کولای او راکټونو د خطا کيدو په خاطر يې مسلسلې رڼا پاشلې . د گورباچوف د واک په لومړيو دوو کلونو کې جگړه ډيره توده شوه ، خو ليدونکي او شنونکي دې پايلې ته ورسيدل چې هغه د شوروي جنرالانو دا د افغانانو د شجاعت او مقاومت په مقابل کې وروستی چانس و . خو د شوروي سور پوځ خپلو ظلمونو او پوځي عملياتو ته دوام ورکړ او د حل لاره يې نوره هم ستونزمنه کړه . له افغانستان څخه دشوروي پوځونو د وتلو په اړه د گورباچوف له ژمنو څخه وروسته يې نور دري کلونه هم په برکي ونيول تر څو د ۱۹۸۸ ز کال د مې او اگست تر منځ موده کې له خپل ۱۵۵۰۰۰ يو سلو پنځه پنځوس زره کسيز فوځ څخه ۵۰۰۰ پنځوس زره عسکر وويستل او ټول عسکر په بشپړه توگه د ۱۹۸۹ ز کال د فبرورۍ تر ۱۵ مې پوري ووتل . ( [1]_ مخ : ۳۴۳ )

دجلال آباد جگړه د افغانۍ حکومت د دفاع وړتيا او د شوروي وړاندوينه تر يو حده ربنتيا کړه . خو شوروي اتحاد تر وتلو وروسته هم دافغانستان حکومت د پوځي ډول ډول وسايلو په شمول هر ډول مرسته ورکوله . د ۱۹۸۸ ز کال په اکتوبر کې يې د سکاډ توغندي او ۳۰ ديرش وزره ميک ۱۷ بم اچونکي الوتکي ورکړي . په ۱۹۸۹ او ۱۹۹۰ ز کلونو کې شوروي اتحاد د افغانستان د حکومت نوري اړتياوې هم پوره کولې . خو په ۱۹۹۱ ز کال کې شوروي اتحاد ونړيد او د روسيې مرستې هم ختمې شوې . يو کال وروسته د کابل حکومت د ژينو د تړون له مخې ژمن وو چې سياسي بې طرفه تکنوکراتانو ته وسپاري خو بريالي نشو . ([2]_ مخ : ۳۴۴ ) ځکه ځينو له افغانستان څخه دشوروي پوځونو د وتلو اصلي لامل د ژنيو د تړون لاس ليک گاڼه خود د

---

[1]_ مصداق ، نبی ( ۱۳۸۹ ش ) د افغانستان سياسي کمزوري مخ : ۳۴۳
[2] _ مصداق ، نبی ( ۱۳۸۹ ش ) د افغانستان سياسي کمزوري مخ : ۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوروي پوځونـو وتلـو موضـوع پـه اړه خبـرې لا د ببـرک کارمـل د حاکمیـت پرمهال پیل شوې وې .

ببرک کارمل له گورباچوف سره په لومړۍ لیدنه کې گورباچوف ته وویل چې د پاکستان له خوا د مداخلې د قطع کیدو په اړه له قوي تضمین پرته راضي نه دي چې شوروي پوځونه دي له افغانستان څخه ووزي ، خو له افغانستان څخه دشوروي پوځونو وتل د گورباچوف غوښه پریکړه وه د ببرک کارمل موضعگیري د گورباچوف له پاره د تحمل وړ نه وه . مگر نجیب الله د هغه دي غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه او د ژینو د موافقې د لاس لیک له پاره یې زمینه برابره کړه . د ژنیو تړون له افغانستان څخه دشوروي پوځونو د وتلو له پاره یوه ابرومندانه لاره وه ، تر څو شوروي اتحاد له دې کړکیچن حالت څخه ځان خلاص کړي . خو د شوروي پوځونو وتلو ، گورباچوف ته دا زمینه برابره کړه چې د شوروي په داخل کې خپله کړنلاره عملي کړي . مگر شوروي پوځونو په خپل یرغل سره افغانستان د بهرنیو هیوادونو د مداخلې په ډگر باندې بدل کړ ، وروسته پرته له دې څخه چې افغانستان د ثبات او نه ارامي له پاره اړونده هیوادونو او قوتونو سره موافقې ته ورسیږي او دهغوی کړنو ته متوجه شي . افغانستان یې پریښود ، افغانستان کې لا جگړه روانه وه خو شوروي او امریکا په ډیرې بې تفاوتۍ سره د افغانستان د سرنوشت سره برخورد وکړ، ځکه دوی د ژنیو د تړون پرمهال د تضمین کوونکو په توگه په افغانستان کې د جگړې د بندیدو اوثبات لپاره وعده کړې وه . خو بیا دوي خپل تعهد عملي نه کړ . په دې اړه د ملگرو ملتونو سرمنشي وایي : (( ما وړاندیز وکړ چې یوه لویه جرگه دې جوړه شي ، یو پراخه بنسټه دولت دې جوړ شي ، چې دشوروي د پوځونو له وتلو څخه وروسته سمدستي واک په لاس کې واخلي . خو دواړو لویو قدرتونو (شوروي او امریکا ) د دې وړاندیز ملاتړ ونه کړ . ([1]_ مخونه : **۵۲۵_۵۲۲** )

[1]_ اندیشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتاه حاکمیت و فروپاشي مخونه **۵۲۵ _۵۲۲** )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي تړون په پای کې یې لاس لیک هم کړی وو . خو د دواړو هیوادو د بهرنیو چارو وزیرانو یو د بل پرضد خبرې کولې . د امریکا د بهرنیو چارو وزیر شولتز وویل : « که شوروي اتحاد د کابل له حکومت سره خپل ملاتړ ته دوام ور کړي ، امریکا به هم د مجاهدینو ملاتړ ته دوام ور کړي . ده په داسې حال کې دا وینا وکړه چې دشوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر ادوارد شیواردنادزې په یوه اعلامیه کې دنجیب الله له دولت سره د مرستي کول د دواړو دولتونو تر منځ ددوستۍ د تړون په اساس اعلان کړل . » ( [2] ـ مخ : ۵۲۷ )

شوروي او امریکا د ژنیو د تړون له لاس لیک څخه وروسته په خپله موضعګیري کې تر یوه حده ثابت وو . خو د دواړو خواو د تضمین کوونکو په توګه یې په افغانستان کې د وضع د ثبات له پاره هیڅ ډول علاقه ونه ښودله او په دې برخه کې یې خپل اخلاقي او سیاسي تعهد پر ځای نکړ . همدا علت و چې د ژنیو له موافقې وروسته هم په افغانستان کې جګړه قطع نه شوه برعکس جګړه نوره هم پراخه شوه . نجیب الله هم د ۱۳۷۰ ل کال د مرغومي په ۲۵ مه ( ۱۹۹۲ ز کال د جنوري په ۱۵ مه ) د ده له سقوط څخه درې میاشتې مخکې د ملي روغې جوړې د پنځمې کالیزې د لمانځنې پر مهال وویل : « د شوروي د یرغل په مقابل کې د افغانستان د خلکو پاڅون د ۱۳۲۷ لمریز کال د دلوې په ۲۲ مه بریالی شو . » او ځانګړي فرمان کې د ۱۳۲۷ ل کال د دلوې په ۲۲ مه د ملی ژغورنې ( نجات ) ورځ او دا ورځ یې عمومي رخصتي علان کړه . هر کال به د افغانستان د خلکو دملي جشن په توګه لمانځل کیږي . ( [1] ـ مخ : ۵۲۸ )

اصلي پوښتنه دا ده چې نجیب الله له افغانستان څخه د شوروي قوتونه وتلو ته اړ ایستل ؟ یا شورویانو د خپلو پوځونو وتل پر نجیب الله تحمیل کړل ؟ د نجیب له خوا د دلوې ۲۲ مه د ملي نجات د ورځې په نوم یادول د دې

---

[2] ـ اندیشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتاه حاکمیت و فروپاشي مخ : ۵۲۷

[1] ـ اندیشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتاه حاکمیت و فروپاشي مخ : ۵۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارندوی ده چې دشوروي پوځونو په وتلو کې د ده ارا ده او فشار موجود و ، نجیب د ملي روغې جوړې دسیاست د اعلان څخه شپږ میاشتي وروسته ( ۱۳۶۵ په جدي کی ) دیو امریکایي ژورنالیست د پوښتنې په ځواب کې وویل : (( ... بیا دا خبره تکراروم که چیرې باندنۍ مداخله او تجاوز قطع شي ، د ژنیو تړون لاس لیک شي .. د ملی روغې جوړې سیاست بریالي شي . د شوروي سیوسیالستي هیواد یو سرتیری به پاتې نه شي او خپل سوله غوښتونکي هیواد ته به ستانه شي . )) (مخ _ ۵۲۹ )[1]

نجیب الله د شوروي عسکرو وتل د پورته شرایطو پورې مربوط ګڼل خو شوروي د خپلو عسکرو وتل غوښتل نه د شرایطو بشپړیدل . په دې صورت کې د شوروي د عسکرو وتل پر نجیب باندې تحمیل شول . شوروي منابع ادعا کوي چې د افغانستان دولت په ریښتني ډول باور نه کاوه چې شوروي پوځونه به په رښتیا سره له افغانستان څخه خارج شي . دوی د مجاهدینو سره د مقابلې هیڅ ډول طرحه نه وه غوره کړې ، ګوندي او دولتي مسئولینو په هیڅ ډول نه غوښتل چې شوروي پوځونه له افغانستان څخه خارج شي او غوښتل یې د شورویانو دوتلو طرحه چې د ۱۹۸۷ ز په اپریل ( ۱۳۶۶ ل حمل ) کې عملي کیدله خنثی کړي . نجیب د ۱۹۸۹ ز کال په جنوري ( ۱۳۶۷ په جدي ) کې له شورویانو وغوښتل چې له ۳۰۰۰ درې زره یا ۵۰۰۰ پنځه زره شوروي عسکر قندهار ته واستوي چې د مجاهدینو له خوا کلابند شوی و ، ګورباچوف شل کاله وروسته له هغې چې شوروي پوځونه له افغانستان څخه وتلي وو . دا مطلب تائید کړ وایي : چې ما په تاشکند کې نجیب ته وویل چې د شوروي پوځونو د وتلو په اړه تصمیم نیول شوی دی . نوره لازمه نه ده چې مونږ په افغانستان کې پاتې شو . ([2]_ مخ : ۵۳۰ )

---

[1] _ اندیشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتاه حاکمیت و فروپاشي مخ : ۵۲۹

[2] _ اندیشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب دیموکراتیک خلق افغانستان ، کودتاه حاکمیت و فروپاشي مخ : ۵۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي نه يوازې له افغانستان څخه پوځونه وويستل . بلکه درې کاله وروسته يې دنجيب له دولت څخه مخ وګرزاوه . خپلې نظامي او مالي مرستي يې لږې او حتی بندې کړې . اصلي خبره دا ده چې د شوروي پوځونه د ۱۹۷۹ ز کال په ډسمبر کې د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند سره د مرستې، د انقلاب او له افغانستان څخه د دفاع په نوم پر افغانستان نظامی يرغل وکړ . تقريباً ۹ کاله د نوموړي دولت او ګوند د حاکميت او استحکام په خاطر وجنګيدل . ډير افغانان شهيدان او ټپي شول خو دوی پرته له دې چې خپلې موخې ته ورسيږي په ۱۹۸۸ ز کال کې يې له افغانستان څخه د خپلو لښکرو ويستل پيل او افغانستان يې پريښود ، کله چې په شوروي کې بوريس يلسن واک ته ورسيد . په شوروي اتحاد کې د کمونست ګوند حاکميت هم پای ته ورسيده ، له دې سره سم له افغانستان سره د شوروي مرستې هم قطع شوې . اود نجيب الله دولت ته يې شا کړه . د مرستو قطع کيدل د نجيب دولت د سقوط لورته سوق کړ ، په دې اړه جنرال ولا تين ورينکوف داسې نظر لري : (( د نجيب د حکومت د سقوط يو لامل د مسکو د مرستو قطع کيدل وه . کله چې شوريان خارج شول . نجيب الله درې کاله د مجاهدينو په مقابل کې مقاومت وکړ . يلسن مرستي قطع کړې ، نجيب مجبور شو چې خپله څوکۍ پريږدي ، نجيب دخپلو ذخيرو پواسطه له ۱۹۸۸ ز کال څخه تر ۱۹۹۲ ز کال پورې مقاومت وکړ خو د روسيي دنوي رهبرۍ د سياسي خيانت پواسطه د نجيب دولت سقوط وکړ . ( [1]_ مخونه : ۵۳۲ _ ۵۳۳ )

په لنډه توګه ويلی شو چې د شوروي د پوځونو وتل د ۱۹۸۸ ز کال د مې په مياشت کې پيل شول او د ۱۹۸۹ ز کال د فبرورۍ په ۱۵ مه د شوروي پوځ وروستي عسکر او د څلويښتم پوځ قوماندان بوريس ګروموف دا موله سيند څخه تير او د افغانستان خاوره يې ترک کړه ، د افغانستان په جګړه کې

[1] _ انديشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب ديموکراتيک خلق افغانستان ، کودتاه حاکميت و فروپاشي : مخونه : ۵۳۲ _ ۵۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي پوځونه بريالي نه شول ، ځکه دوی د جګړې د ګټونکي په توګه ونه وتل . ( [2] _ مخ : ۵۳۳ )

د شوروي اتحاد سرو لښکرو پر افغانستان باندي ديرغل په پايله کې ماتې وخوړه . ځکه دوی خپل هدف ته ونه رسيدل ، دوی چې له کوم ګوند او دولت څخه د دفاع په خاطر افغانستان ته راغلي وو هغه يې يوازې پريښود ، چې بيا يې له دريو کلونو وروسته سقوط وکړ .

شوروي اتحاد د ۹ کالو زيات شتون څخه وروسته د وتلو پر مهال يې ۱۲۰۰۰۰ يولک شل زره پوځ څخه ۱۴۴۵۳ څوارلس زره څلورسوه دري پنځوس تنه مړه ، ۴۹۹۸۳ نه څلويښت زره نه سوه دري اتيا تنه ټپيان او ۳۳۰ دري سوه ديرش تنه لا درکه شوي وو . دوی له دومره تلفاتو وروسته بيرته ناکام خپل هيواد ته ستانه شول . ( [1] _ مخ : ۵۳۲ )

خو د افغانستان ولس ته يې ډير مادي او معنوي زيان واړوه ، دا يرغل چې په ماډرن وسلو سمبال پوځ کړې وه د افغانانو بې کچې قربانۍ هغوی په خپلو موخو کې ناکام کړل ، خو د وتلو په وخت يې د افغانستان پوځ ته ( ۲۳۰۰ ) بيلا بيل تاسيسات پريښودل چې له هغې جملې څخه ۱۷۹۰ پوځي چوڼۍ ، ۳۲ ګارنيزونونه ، ۹۹۰ زرهپوش او درې زره موټر پريښول . ( [2] _ انټرنيت )

د شوروي پوځونو ناکام وتل د افغانستان په معاصر تاريخ د انګليسانو د دوهم يرغل ( ۱۸۷۸ ز کال ) او د استقلال تر جګړې ( ۱۹۱۹ ز کال ) وروست لوي برياليتوب چې د نړۍ د يو زبرځواک په مقابل چې په دويم جنګ کې هيټلر ته ماتې ور کړې وه .په خپلو موخو کې ناکام او خپل هدف ته درسيدو مخکې بيرته وتلو ته اړ کړ .

---

[2] _ انديشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب ديموکراتيک خلق افغانستان ، کودتاه حاکميت و فروپاشي : مخ : ۵۳۳

[1] _ ( انديشمند ، محمد اکرم ( ۱۳۹۱ ش ) . حزب ديموکراتيک خلق افغانستان ، کودتاه حاکميت و فروپاشي مخ : ۵۳۳

[2]– http:// Pashto .ru/ 2014 .020.015 12876288

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۱ _ د شوروي د کمونستي رژیم ړنګېدل
## ۱۹۹۱ ز کال اګست ۱۹ مه _ ۱۳۷۰ ل کال د اسد ۲۸ مه

د افغانستان دخلکو د قرباني او جهاد په پایله کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د پوځونو ماتې او وتل ، د نړیوال فشار په خواکې په شوروي پوځونو باندي د افغانستان د مجاهدینو ملا ماتونکي ضربې چې د افغانستان په هره سیمه کې یې دوي ته درانده تلفات و اړول او له غوځي ماتی سره یې مخ کړل . خو ددې لاملونو په خواکې د اقتصادي او سیاسي بحران زیاتوالي هم اغیزمن و ، چې دشوروي خلک یې په ورځني ژوند کې له ستونزو سره مخ کړي وو ، میخایل ګورباچوف ته دا کړکیچن وضعیت د تحمل وړ نه و . دوی په څرګند ډول احساسوله چې د شوروي اتحاد دا خراب وضعیت پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د نظامي یرغل محصول ده ، د هغه لومړنی اقدام دا و چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند او دیموکراتیک جمهوریت په رهبری کې بدلون را وړي ، تر څو وکولی شي چې د شوروي اتحاد پوځونه په ابرومندانه بڼه له افغانستان څخه وباسي ، که څه هم ګورباچوف غوښتل چې شوروي له دي ویجاړېدونکي وضعیت څخه چې ورځ تر بلي خرابیده بیرون وباسي . ده خپل اصلاحات د سیوسیالستي ټولني د تکامل له پاره یوه اړتیا ګڼله ، نوموړی وتوانیده چې د ژنیو تړون د یوه تضمین کوونکي په توګه لاس لیک ، او له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د پوځونو د وتلو زمینه برابره کړي . مګر په شوروي اتحاد کې وضع ډیره بحراني او له کنترول څخه ووته . ([1] _ ۲۲۱ )

افغانستان کې د شوروي د پوځونو ماتی او له دې هیواد څخه د هغوي وتل په شوروي اتحاد کې دسیاسي وضعیت بحراني کیدل د نړۍ یو شمیر هیوادونو ته هم خپلواکي ور په برخه کړه، میخایل ګورباچوف د شوروي اتحاد په یو اویا کلن تاریخ کې د لومړی ځل لپاره ( ۱۹۹۰ ز کال ) د مارچ په ۱۸ مه شوروي جمهوریتونو ته اعلان وکړ ، چې له راګیری وروسته دوی ته اجازه ده چې بشپړه خپلواکي ، که د روسي سره پاتې کیدل غواړي ، خو له راي ګیری

---

[1] _ میهن ورد شاه محمد ( . ) روابط سیاسي و دیپلوماتیک افغانستان و روسیه طي سالهای ( ۱۱۸۰ _ ۱۱۸۱ هـ ش ) مخ : ۲۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې دبالتیک ریاستونو د خپلواکۍ اعلان وکړ ، د شوروي اتحاد د واکمنو له خوا د هغوی د ارامولو له پاره ځواکونه ولیږل ، د بالتیک ریاستونو راي ګیري وکړه زیاتوبې د خپلواکۍ په حق کې رایه ورکړه ، او د روسي د عسکرو پر ضد سرکونو ته را ووتل ، په مسکو کې هم خلکو د کریملین په مخکې مظاهره وکړه . بورسیس یلسن چې د روسي فدراسیون مشر و د ګورباچوف د استعفي غوښتنه یې وکړه . (1 _ مخ : ۲۷۴ )

له دې وروسته په نړۍ کې د سیوسیالیزم او شوروي اتحاد زور واکۍ پر ضد په نړیواله کچه کرکه او نفرت مخ په زیاتیدو وو . په ډیرو هیوادونو کې د کمونست ګوندونه د زوال لوري ته سوق شول .

په ختیځه اروپا کې هم د کمونستي ګوندونو د غړو شمیر په سلو کې څلویښت ( ۴۰ ) سلني تـه را ټیټ شو . په ایټالیا کې د دریو لکو غړو د کمونست ګوند غړیتوب پریښود . همدارنګه د فرانسي د کمونست ګوند غړو شمیر کم شو ، د انګلستان ، ناروی ، ایرلیند او لویدیځ المان کمونستي ګوندونو په ټاکنو کې له یو سلنې ۱ څخه هم کمې رایي وګټلې پایله یې دا شوه چې په پارلمان کې غړیتوب پیدا نکړي ، په امریکا او کاناډا کې هم د کمونست ګوندونو د غړو شمیر مخ په کمیدو شو . په استرالیا ، منځنۍ او لایتني امریکا کې هم د کمونستانو فعالیتونه په ټپه و دریدل بالاخره په اروپا کې له ۲۳ کمونستي ګوندونو څخه یوازې ۱۲ګوندونو مړ ژواندي فعالیت کاوه ، چې په اروپایي هیوادونو کې د سیوسیالستي زورواکانو پر ضد ولسونه را پورته شول ، په پولینډ کې د کارګرانو اتحادیي کمونستانو ته ماتې ورکړه ، د لومړي ځل لپاره یې غیر کمونست صدراعظم تا دیو مازووسکي غوره کړ ، تر دې وروسته په ختیځې اروپا کې د ختیځ المان او چکوسلواکیا مشران په چټکۍ سره له واک څخه ولویدل ، دهنګري د سیوسیالست ګوند مشرتابه هم په خپل بدل نوم سره بیله لاره غوره کړه ، په رومانیه کې هم د

---

[1] میهن ورد شاه محمد ( . ) روابط سیاسي و دیپلوماتیک افغانستان و روسیه طې سالهای ( ۱۱۸۰ _ ۱۱۸۱ هـ ش )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماينې ايلينا چاوشکوپر ځای نشنل سالويشن ، يو عبوري حکومت اعلان کړ ، د بلغاريا صدراعظم انګرمګنوف د ځلورو ورځو لاريونونو وروسته د ۱۹۹۰ ز کال د نوامبر په ۲۹ مه استعفی ورکړه ، د شوروي اتحاد د جمهوريتونو هم د خپلواکي د اخستلو له پاره هڅې پيل کړې . د ګورباچوف د خپلو اصلاحاتو په تطبيق کې له خنډ سره مخامخ شو . د ګورباچوف مرستيال ګينادي ګيانوف د ۱۹۹۱ ز کال د اګست په ۱۹ مه دده پر ضد کودتاه وکړه چې د بوريس يلسن له لوري شنډه شوه . ([1]_ مخ : ۲۷۵ _ ۲۷۲ )

د ۱۹۹۱ ز کال د ډسمبر په ۸ مه هغو هيوادونو چې د ۱۹۲۲ ز کال کې يې دشوروي اتحاد د جوړيدو د اساسي تړون (سند ) لاس ليک کړی وو دې پايلې ته ورسيدل چې د نړيوالو جغرافيايي او سياسي حقايقو له مخې نور شوروي اتحاد وجود نه لري ، حالاتو ځيره بدلوله هغه نظامي تړون ( ناټو ) چې د شوروي اتحاد د پراختيا غوښتني د مخنيوي له پاره د لويديځو هيوادونو له خوا جوړ شوی و. په خپله اوس پکې ګډون وکړ . د روسي فدراسيون رئيس بوريس يلسن ۱۹۹۱ ز کال د ډسمبر په ۲۰ مه اعلان کړ . چې دده هيواد په ناټو کې ګډون کول غواړي با لاخره دي بدلونونو پخوانی شوروي اتحاد دی ته اړ کړ چې دشوروي اتحاد د ړنګيدو اعلاميه يې خپره کړه . د ۱۹۹۱ ز کال د ډسمبر په ۲۲ مه پنځلسو وړوه جمهوريتونو له شوروي څخه آزادي واخيسته ، د مسکو اوسيدونکو د لينن تابوت را ونړاوه ، شوروي اتحاد دتل لپاره له مينځه ولاړ . ([2]_ مخ : ۲۷۲ ) او دغه جمهوريتونو د ګورباچوف د ۱۹۹۰ ز کال د مارچ ۱۸ مې نيټې اعلاميي وروسته شوروي جمهوريتونو ته دا زمينه برابره کړه چې د خپلې ارادې پر بنسټ ازادي واخلي او د روسي څخه کاملا جلا او خپلواک جمهوريتونه شي . دوی يو پربل پسې خپله ازادي اعلان کړه او مستقل هيوادونه يې ايجاد کړل .

---

[1] –ولی محمد (۱۹۹۹ ز کال ) . د روسي پراختيا غوښتنه او افغانستان ، دانش خپرندويه ټولنه مخونه: ۲۷۵_۲۷۲

[2] _ ولی محمد (۱۹۹۹ ز کال ) . د روسي پراختيا غوښتنه او افغانستان ، دانش خپرندويه ټولنه مخ : ۲۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوروي د جمهوريتونو د ازادي د اخستلو نيټې

| شماره | د هيواد نوم | د ازادي اخستلو نيټه |
|---|---|---|
| ۱ | لتوانيا ، لتويا او هستونيا | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۲۱ مه |
| ۲ | مالداويا | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۲۷ مه |
| ۳ | ازربايجان | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۳۰ مه |
| ۴ | قرغيزستان | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۳۱ مه |
| ۵ | ازبکستان | ۱۹۹۱ز کال د اگست ۳۱مه |
| ۶ | تاجکستان | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۹مه |
| ۷ | ارمنستان | ۱۹۹۱ ز کال د اگست ۲۱مه |
| ۸ | ترکمنستان | ۱۹۹۱ ز کال د سپتامبر ۲۹مه |
| ۹ | اوکراين | ۱۹۹۱ ز کال د سپتامبر ۲مه |

بالاخره ۱۹۹۱ ز کال د سپتامبر ۲۲ مه ، روسي رسماً د شوروي اتحاد سقوط اوا نحلال اعلان چې په دې ترتيب شوروي کمونستي رژيم سقوط وکړ .( [1] _ مخونه: ۲۲۱ _ ۲۲۲ )

شوروي اتحاد د افغانتسان د خلکو د برحق او روا جهاد او قرباني په پايله کې د نظامي ، اقتصادي ، سياسي ، ستونزو سره مخ شو چې نور يې نشو کولی هغه جمهوريتونه چې ۷۰ کاله مخکې د دوي ولکی لاندې راغلي وو اداره کړي ، دغه نړيوالو سيستم او د نړۍ لوي ابر قدرت زمونږ د مسلمانو خلکو د قربانۍ په پايله کې داسې ويجاړ شو چې نور يې د تولیدو امکانات د لاسه ور کړل ، او د خپلو داخلي ستونزو په حل کې پاتې را غلل . د افغانستان خلکو له ځان څخه د تيريدنې د دين او هيواد په لار کې د قربانۍ پواسطه نړۍ ته وښودله چې د نړۍ يو اتومي او نړيوال طافت نه شي کوي چې دوي تر خپل کنترول لاندې راولي او اشغال يې کړي .

---

[1] _ ميهن ورد شاه محمد ( . ) روابط سياسي و ديپلوماتيک افغانستان و روسيه طې سالهای ( ۱۱۸۰ _ ۱۱۸۱ هـ ش ) مخونه : ۲۲۱ _ ۲۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۷_ پایله

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت تل د دې باعث شوی تر څو دا هیواد د یرغلونو او خونړیو جګړو ډګر وګرځي او د تاریخ په هره مقطع کې دخپل حساس موقعیت ګران قیمت ادا کړي ، دا هیواد له ۱۷۴ کلونو څخه تر زیاتې مودې پورې ( ۱۸۱۵ز _ ۱۹۸۹ ز ) د هند سمندر ته تر ټولو لنډلار وه ، نو ځکه د روسانو د حرص او تمې ښکار و . د ساړه جنګ اخرنۍ جګړه ( ۱۹۷۹ ز _ ۱۹۸۹ ز ) د دې هیواد ابادۍ په کنډ والو بدلې کړي او د مظلومو هیوادوالو ککرۍ پکې خاورې شوې . په دې ناورین کې د افغانستان مجاهدو خلکو سخته جګړه وکړه او د وینولښتي و بهیدل ، افغانستان ازاد شو خو پرته له دې چې افغانان له دې بریا څخه ډیره ګټه واخلي ، دغه لښتي د نورو د ګټو د ریاب ته توي شول ، افغانستان ویجاړ او کنډوالې یې د کمونیزم په هدیره بدلې شو ې . خو هغو لویدیځو هیوادونو چې لومړۍ یې د جګړې پر مهال د افغانستان د جهاد ملاتړ وکړ مګر د شوروي اتحاد د کمونستي دولت له ړنګیدو او د سړې جګړې د پای ته رسیدو وروسته پرته له دې چې د دې جګړه ځپلي هیواد او ملت پر وړاندې د مسولیت احساس وکړي خپل تلتک یې را ونغاړل او د پاکو شهیدانو له څنګه تیر شول او افغانستان یې د سیمي او ګاونډیو هیوادو د واکمنانو لاس وهنو ته پریښود ( [1]_ مخونه : ۲ _ ۳ ) .

ښاغلی غلام محمد زرملوال لیکي : (( افغانتسان د خپل جغرافیایي موقیعت له کبله د تاریخ په اوږدو کې د لویدیځ ، ختیځ ، شمال او سهیل تر منځ د پل حثیت لرې او بیلابیلو پړاوونو کې د زمانې د سترو ځواکونو او ښکیلا ککرو د رقابت ډګر ګرځیدلی دی دغو اروپایي سترو ځواکونو له

[1] _ انصاري ، بشیر احمد ( ۱۳۸۳ ل ) ، افغانستان د تیلو په لمبو کې . میوند خپرندویه ټولنه ، کابل افغانستان مخونه ۲ _ ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپا څخه هند ته د رسیدو او یا د هند د ساتنې په خاطر پر افغانستان یرغل کاوه .)) (2_ مخ : ب

د افغانستان جغرافیایي موقیعت او فزیکي جوړښت په عین حال کې مصیبت او برکت دواړه دي . ځکه کله چې یرغل کوونکي هند ته د رسیدو په خاطر له افغانستان څخه تیریدل زمونږ د هیواد غرنیز جوړښت او له آزادۍ سره د خلکو د بې کچې مینې له امله په ځان ډیر مغرور واکمنان د هغوي د پوځونو سره د سکندر مقدوني څخه نیولي تر چنګیز ، ګوډ تیمور ، او نورو استعمارګرانو ته ماتې ورکړې او پر افغانستان باندې یې د هغوی واکمني نا ممکنه کړې ده . (۲_ مخ : ۲۴۵ )

د افغانستان مجاهدین اوغازیان د قربانۍ او کلکې ارادي په پایله کې وتوانیدل چې سرې لښکرې له ماتې سره مخ کړي ، شورویانو وروسته هڅه کوله چې خپله ماتې پټه کړي او د خپلې ماتې د پټولو په خاطر یې د ژینو تړون لاس لیک کولو ته زمینه برابره کړ . دا سند د افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو تر منځ د ۱۹۸۸ ز کال د اپریل په ۱۴ مه دمازیګر په څلورو بجو د ژینو ښار د جامعه ملل ( ملتونو ټولني ) په ماڼۍ کې لاس لیک شو . د امریکا او شوروي اتحاد له لوري یې ملاتړ وشو په دې تړون کې د مهاجرینو ستنیدل ، د افغانستان او پاکستان تر منځ د وضعې عادي کیدو له پاره مرسته ذکر شوې وه . شوروي پوځونه له افغانستان څخه ووتل پر افغانستان باندې د هغوي یرغل او نور عوامل د دې لامل شو چې د شوروي کمونستي رژیم رنګ او دا لویه امپراطوري له مینځه تلو سره سم په شوروي

---

[2] _ زرملوال ، غلام محمد ( ۱۳۸۳ لمریز ) . افغانستان تر وروستي افغانه ،دانش خپرندویه ټولنه پیښور مخ : ب

۲ _ مصدق ، محمد نبی ( ۳۸۹ ش ) . د افغانستان سیاسي کمزوري او بهرني مداخلي ډاکتر نثار احمد مخ : ۲۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د کمونستي ګوند د جوړيدو مفکوره هم له مينځه ولاړه . ( [1]_ مخونه : ۱۰۰_۱۰۱ )

افغانستان د شوروي اتحاد دپوځونو له وتلو وروسته دنړيوالې ټولنې له پامه وغورزيد په دې اړه د ملګرو ملتو د سازمان استازي ديګو کور دوويز هم داخبره تائيد وي او ليکي : (( يګانه ماموريتې که من داشتم اين بود که مذاکرات را درمورد خروج نيروهای شوروي پيش ببرم ، به هيچ وجه وظيفه ای نداشتم تا در باره آينده افغانستان ګفتګوه های را براه اندازم . اما اين مسله مهم بود من به ابتکار خود پيشنهاد کردم تا لويه جرګه برګزار شود و دولت با پايه وسيع را با وجود اورد که فوراً بعد از خروج نيروهای شوروي قدرت را بدست ګيرد اما متاسفانه دو ابر قدرت ( امريکا و شوروي) از اين پيشنهاد حمايت نکرد . )) ([2]_ مخ : ۱۴۸ )

د ۱۳۵۷ لمريز کال دثور د۷ مې نيټې له بدلون وروسته د شوروي اتحاد چاروکو ته د مستقيمې لاس وهنې زمينه برابره شوه . دخپلو مرستو او مشاورينو د زياتوالي په پايله کې و توانيدل چې د دولت د ټولو پوځي او اداري برخو له اجرا اتو څخه اطلاعات تر لاسه کړي . اود خپل هدف سره سم هڅوي ته عملي لوري ور کړي ، دخلقيانو او پرچميانو تر مينځ داختلاف د زياتوالي ، سفارتونو ته دپرچم داړخ درهبرۍ د غړو ليږل ، د شوروي اتحاد د رهبرۍ ځيني غړي په نور محمد تره کی او حفيظ الله امين شکمني شول له هاوانا څخه د نور محمد تره کی د را ګرزيدو پر مهال يې په مسکو کې پر هغه ومنله چې حفيظ الله امين به له واک څخه ليرې کوي او د پرچم اړخ ببرک کارمل ته به دهغه ځای ورکوي . خو دا کار د نور محمد تره کی له وس څخه وتلی و حفيظ الله امين چې ځيرک او چالاک سياست پوه و او په هره شيبه کې يې ټولې خواوې څارلې د بريژنيف او نور محمد تره کی له پلان څخه اګاه ، تره

---

[1] _ منځنی ، حيکم الدين ( ۱۳۹۳ ) . امريکا او شوروي د سړي جګړې پرمهال . مومند خپرندويه ټولنه ، ننګرهار مخونه : ۱۰۰ _ ۱۰۱

[2] _ نوروزي ، محمد امير ( ۱۳۹۱ هـ خورشيدی ) . بازي قدرت . انتشارات سعيد جاده اسماي ، کابل افغانستان مخ : ۱۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یې له مینځه یوړ. شوروي اتحاد په دې کار خفه او د خپل پلان په تطبیق کې ورته یوه نوې ستونزه پیدا شوه ، د امین له مینځه وړل ورته ستونزمن شول ، ولې بیا هم شوروي اتحاد د خپل پلان د تطبیق په خاطر هڅه کوله، چې پر افغانستان باندې د یرغل له پاره زمینه برابره کړي ، ځکه چې دا گومان یې کاوه که مونږ د ثور انقلاب پرېږدو چې ناکام شي یا حفیظ الله امین د لویدیځي نړۍ خواته وگرزي ، مونږ به بیا د امیر دوست محمد خان او امیر شیر علی خان دوخت تیروتنه تکرار کړي وي. همدا لامل وو چې شوروي اتحاد د امین له مینځه وړلو او خپل حاکمیت او سلطې لاندې د افغانستان د راوستلو په خاطر یې په ( ۱۹۷۹ ز ) کال د ډسمبر په ۲۷ مه چې د ۱۳۵۸ هـ ش کال د مرغومی په ۶مه پر افغانستان یرغل وکړ ، ځکه روسانو د پطرکبیر د طرحې د تطبیق په خاطر دبخارا ، تاشکند او نورو سیمو له نیولو وروسته افغانستان ته توجه وکړه او په ځانگړیو شرایطو کې د امیر دوست محمد خان او د امیر شیر علی خان دربارته یې خپل سفیران یو پر بل پسې راولیږل ، تر څو هغوي د روسیې خواته واړ وي. انگلیسانو افغانستان ته د دواړو سفیرانو را تگ تحمل نشو کړلای او پر افغانستان یې په ( ۱۸۳۹ز ) او (۱۸۷۸ ز ) کال دوه نظامي یرغلونه وکړل د دواړو واکمنۍ یې سقوط کړې. د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې یې هم د مرستې او سوداگرې په بڼه توطئې عملي کړې. د افغانستان دولت د ( ۱۹۵۵ ز ) کال د لوې جرگې د پریکړې په پایله کې د افغانستان د دفاعي قوت د پیاوړتیا له پاره د شوروي اتحاد څخه د مرستې غوښتنه وکړه ، شوروي اتحاد هم دې غوښتني ته مثبت ځواب ور کړ. د دې مرستو په پایله کې د شوروي سره زمونږ هیواد اړیکې دومره ژورې او پیاوړې شوې چې د سردار محمد داود خان ور څخه بیرته را گرزیدل ستونزمن کار و ، په پای کې داود خان له شوروي سره په اختلاف کې خپله واکمني او ژوند له لاسه ور کړ ، چې بیا شوروي په مناسب وخت ( ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۲۷ مه _ ۱۳۵۸ د جدي ۶ مه ) کې پر افغانستان نظامي یرغل وکړ ، دحفیظ الله امین واکمنۍ یې سقوط کړه دوی تقریباً لس کاله په افغانستان کې تیر کړل ، افغانانو ته یې ډیر ځانې او مالي زیانونه واړول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي بنسټونه ویجاړ شول ډیر شمیر افغانان پاکستان ، ایران ، اروپا او امریکا ته مهاجر شول .( [1]_ مخونه : ۲۴۹ _ ۲۵۰ )

افغانانو که نړیوال د کمونیزم له شر څخه خلاص کړل خو وروسته له افغانانو څخه د دوست او دښمن پیژندل ګډه وډه شوه ، د امریکا متحد ایالات ، لویدیځو هیوادونو او د هغوي سیمه ایزو پلویانو پر افغانانو لومړی خپل رقیب ( شوروي اتحاد ) را و پرزاوه ، بیا یې ورته شاه کړه او د دوی د قربانیو څخه یې ناوړه ګټه واخېستله . وروسته بیا هم افغانستان د ګاونډیو او نړیوالو هیوادو د استخباراتي موخو د پلي کولو او جګړو ښکار شو . ([2]_ مخ : ۷۴ )

افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال د افغانستان د نفوس ۹ سلنه خلک وژل شوي ، ۳ سلنه معیوب شوي ، ۳۳ سلنه یې نورو هیوادو ته مهاجر شوي ، ډیر خلک په کلیو او دګډوالو په کاروانو. کې د هوايي ببماري له امله شهیدان او ټپیان شول ، د کلیو نفوس له ۸۵ سلنې څخه ۳۳ سلنې ته را ټیټ او د ښارونو نفوس له ۱۵ سلني څخه ۳۳ سلنې ته لوړ شو . ( [3] _ مخونه: ۵۸۲_ ۵۸۷ )

د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته ډاکتر نجیب الله کوښښ کاوه چې مجاهدین په واک کې شریک کړي ، تر څو د افغانستان جګړه ختمه شي . نجیب الله د ۱۳۶۹ ل کال د ثور په دویمه د نور محمد تره کی د واکمنۍ پر مهال د انقلابۍ شورا اووم او اتم نمبر فرمانونه چې د ښځو د مهر او د ځمکو د اصلاحاتو او توزیع په اړه وو لغو کړل ، نوی اساسي قانون یې تصویب کړ ، حتی له خپل نوم څخه یې د ملګري کلمه لرې اویوازې نجیب یې استعمالوه د ګوند نوم یې د وطن د ګوند په نوم بدل کړ ، د بنین سیوان د پلان

---

[1] _ مهین ورد ، شا محمد ( . ) روابط سیاسی دیپلوماتیک افغانستان و روسیه مخونه۲۴۹_ ۲۵۰

[2] _ غیرت ، اغا محمد ( ۱۳۹۲ ل ) . د افغانستان پنځه زرکلن تاریخ هینداره : مخ ۷۴

[3] _ اندیشمند ، فروپاشي حزب د ، خ ، ا . مخونه : ۵۸۲_ ۵۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اساس د واک پریښودلو ته اماده شو خو دې بدلونونو کومه مثبته نتیجه ورنکړه او مجاهدینو هم مثبت ځواب ورنکړ .([1]_مخ : ۱۴۲ )

د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند ( خلقیانو ) دواکمنۍ په لومړیو وختونو کې د افغانستان زیاترو خلکو له نوي رژیم څخه د خلکو د استازي رژیم په توګه ملاتړ وکړ. خو په خواشینۍ سره د ګوند په رهبرۍ کې د مشرانو خپلمنځي اختلاف ، په سیاسي او دیپلوماتیکو چارو کې د کافي تجربې نه لرل او په شوروي اتحاد باندې ډیر باور د دې لامل شو چې د شوروي د توطیو او تیري مخه یې ونه شوه نیولی. د شوروي یرغل په پایله کې ډیر افغانان او په خپله خلقیان هم د دې توطیو او تیري ښکار شول. هیواد د نړیوالو مقتدرو قوتونو او ګاونډیو هیوادونو د ټکر اومقابلې میدان وګرزیده .([2]_ مخ : ۲۸۸ )

د شوروي اتحاد د سرو لښکرو له ماتې او د نجیب د رژیم له سقوط وروسته کیدای شول د ټولو هڅو افغانانو د هیلو او امیدونو سره سم چې د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو په خاطر یې د شوروي اتحاد د سرو لښکرو د پوځي یرغل په مقابل کې د قربانۍ او سربښندنې پواسطه حماسې جوړې کړې . یو قوي اسلامي دولت یې جوړ کړی واي. او د افغانستان خلک یې د یو قهرمان ملت په توګه چې د وینو په تویولو سره یې د نړۍ یو لوی طاقت ته ماتې ورکړې وه پیژندل شوي وای. خو په جهادي غورزنګ کې د شوروي او ګاونډیانو د نفوذ له کبله د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په مقابل کې د کارمل ډلې په کودتا سره دغه پروګرام ناکام اوپه پایله کې قدرت لپاره د جهادي تنظیمونو تر منځ جګړې پیل شوې . افغانستان یو ځل بیا د خپل منځي جګړو په میدان بدل او لاس ته راغلي ویاړونه د دښمنانو د توطیو له امله له خاوره سره خاورې شول . دمرکزي حکومت پر ځای د بې شمیره قوماندانانو واکمني منځته راغلې ، فساد ورځ تر بلې زیاتیده ، شوروي او

---

[1]_ نوروزي ، محمد امید ( ۱۳۹۱ هـ خورشیدی ) . بازي قدرت ، انتشارات سعید ، جاده اسمیاي کابل ، افغانستان . مخ : ۱۴۲

[2]_ عبدالرشید ، جلیلی ، غمیزه څرنګه پیل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا د ګاونډیانو سره یو ځای د خیر په غونډی ناست وو . تر څو د طالبانو اسلامی تحریک را منځ ته شو او اسلامي امارت يې تاسيس کړ خو له دريو هيوادو پرته دنړۍ نورو هيوادو اسلامي امارت په رسميت ونه پيژندانده چې وروسته د امریکا له خوا دطالبانو پر ضد جګړه پيل او دنظامي قوت په استعمال سره يې هغو له واک څخه لري کړاي شول . په هيواد کې نوې جګړه پيل شوه مګر افغانان لا د يوه سوله ايز افغانستان په تمه دي او هر وخت په افغانستان کې د سولي د ټينګښت لپاره د خدای (ج) دربار ته لاس په دعا دي . که خدای (ج) د دي مظلوم ملت سوال قبول کړي ، خو برعکس د شوروي له ماتې وروسته ځینې هیوادونه خپلواکه شول او ځین يې له يوې اوږدي تجزيي وروسته بيرته سره يو ځای شول او يو واحد دولت يې جوړ کړ ، خو افغانانو د دي لوی قربانی او لوی برياليتوب څخه کومه ګټه وانخسته ، او د لا نورو ستونزو سره مخ شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۸_ مناقشه :

کومه څېړنه چې «پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل او د شوروي کمونستي رژیم پر سقوط یې اغیزې» تر سر لیک لاندې تر سره شوې . هڅه شوې ، چې په هغه کې د شوروي اتحاد او سردار محمد داود خان د اړیکو د خرابیدو لاملونه ، په افغانستان کې د شوروي د نفوذ زیاتوالي لاملونه څرگند شوي چې په ځانگړې ډول د شوروي نفوذ د سردار محمد داود خان د صدارت پر مهال د شوروي له خوا د اقتصادي او پوځي مرستو په پایله کې زیات شو ، ځکه لومړی شوروي د افغانستان پوځ ته مختلفې وسلې ور کړې وروسته یې د دې وسلو د استعمال په خاطر ، د روزنې لپاره یو شمیر ځوان افسران شوروي ته ولیږل شول ، خو شوروي اتحاد د اکتوبر د انقلاب په ځانگړې ډول د دویمې نړیوالې جگړې ( ۱۹۳۹ _ ۱۹۴۵ ز کال ) څخه وروسته د سوسیالیزم د نفوذ او ددې تیوري د تبلیغ لپاره پراخه فعالیت کاوه . او د مخ پرو دی هیوادونو یې ملی دیموکراتیک انقلابونو ته هڅول ، تر څو گوندونه جوړ او واک تر لاسه کړي ، چې دوی افغاني ځوانو افسرانو ته د مسلکي زده کړو په خوا کې سیاسي تیوري هم تدریسوله ، چې دغه ځوان افسران د زده کړو وروسته په هیواد کې د دندو د اجرا پر مهال د افغانستان د خلک دیموکراتیک گوند په لیکو کې تنظیم شول ، وروسته د دوی په وسیله د سردار محمد داود خان رژیم سقوط او د شوروي اتحاد د یرغل له پاره یې زمینه برابره کړه .

څېړنې وښودله چې شوروي اتحاد په معاصر تاریخ کې د امیر دوست محمد خان دربار ته په ۱۸۳۸ ز کال او د امیر شیر علی خان در بار ته په ۱۸۷۸ ز کال کې خپل سفیران را ولیږل چې د انگریزانو د کرکې او یرغل باعث شول . د امان الله خان له خوا د استقلال له اعلان څخه وروسته شوروي اتحاد لومړی هیواد و . چې د افغانستان ازادي یې په رسمیت وپیژندله او د مرستو وعده یې ور سره و کړه ، خو د امان الله خان له خوا د اکتوبر د انقلاب د مخالفینو سره د مرستې په وجه شوروي له هغه سره د اړتیا پر مهال بې دریغه مرسته ونه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ شوروي اتحاد د اعليحضرت محمد ظاهر شاه دواکمنۍ پر مهال په ځانګړي ډول د سردار محمد داود خان د اوه کلن اقتصادي پلان په تطبيق کې د پام وړ مرستې وکړې او غتې کرنيز ، اقتصادي پروژې د دوی له خوا تمويل شوې چې په دې پروژو کې شوروي مشاورينو او تخنيکي ماهرو انجينرانو او کارګرانو کار کاوه . ځينې يې د کې . جی . بی د استخباراتي سازمان غړي وو او استخباراتي فعاليتونه يې سرته رسول .

ـ څېړنې وښودله چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د نفوذ په زياتوالي کې د افغانستان واکمنان ډېر ګرم نه دي ځکه د افغانستان په ګاونډ کې د امريکا مرستو پواسطه د پاکستان نظامي پياوړتيا ورځ په ورځ زياتيده ، نو سردار محمد داود خان د پاکستان د وضيعت په اړه انديښنه در لوده خپل ورور سردار محمد نعيم خان د يو هئيت سره امريکا ته واستوه تر څو د امريکا څخه نظامي مرستې تر لاسه کړي خو د امريکا د هغه وخت چارواکو دمنفي ځواب ورکولو په خوا کې درې نور شرطونه لکه د نقدو پيسو ور کول ، پاکستان ته وسلې ښکاره کول ، د پښتونستان د ادعا څخه تيريدل هم وړاندې کړل ، چې دا کارونه دافغانستان له پاره سخت وه . سردار محمد داود د دې ستونزو د حل د لارې دپيدا کيدو په خاطر لويه جرګه دايره کړه ، جرګې پريکړه وکړه چې له شوروي اتحاد څخه دې نظامي مرستې واخستل شي . شوروي د افغانستان غوښتني ته مثبت ځواب ورکړ . تقريباً د (۷) ميلونو ډالرو په ارزښت وسله افغانستان پوځ ته ور کړه په دې وسيله يې په افغانستان کې خپل نفوذ زيات کړ .

ـ د افغانستان په شمالي ولايتونو کې د لويديځو هيوادونو د انجينرانو داستخدام په اړه د بريژنيف غبرګون اود سردار محمد داود خان د قاطع ځواب په نتيجه کې شوروي رهبران دې پايلې ته ورسيدل چې د افغانستان په دولت کې بايد بدلون راشي . دا کار يوازې د افغانستان دخلک ديموکراتيک ګوند کولی شول چې دې وضعې ته دشوروي په ګټه بدلون ور کړي . همدې موخې ته درسيدو له پاره د دې ګوند د دواړو اړخونو ( خلق او پرچم ) تر مينځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحدت تامین کړ. تر څو دواړ خواوې په ګډه د سردار محمد داود خان رژیم سقوط کړي.

ـ څېړنې وښودله چې له شوروي څخه د سردار محمد داود خان تر را ګرځېدو وروسته له کابینې څخه د پرچمي وزیرانو لرې کول د خلق له ګوند سره د داود خان اړیکې خرابې شوې. خو داود خان ته یې ګټه ونه کړه، او مقابل لوری یې متوجې کړ، چې د میر اکبر خیبر په مړینې سره دافغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند فعالیت نورهم چټک شو، داود خان د خلق دیموکراتیک ګوندي د مرکزي کمیټې ډیر شمیر غړي په دې تور چې هغه ته یې د خاین خطاب کړی بندیان کړل. حفیظ الله امین د دې پېښې له خبریدو سره سم د محمد داود خان د رژیم د سقوط نقشه ترتیب او د تطبیق له پاره یې محمد اسلم وطن جار ته ولیږله. هغوي په خپل وخت اقدام وکړ او د محمد داود خان رژیم یې سقوط او افغانستان خلک دیموکراتیک ګوند واک ته ورسید. شوروي اتحاد لومړنی هیواد و چې نوی رژیم یې په رسمیت وپیژاند او د هر راز مرستو وعده یې ور کړه.

ـ د شوروي اتحاد مشر لیونید بریژنیف په نور محمد تره کی او حفیظ الله امین ډیر اعتماد نه در لود، ولې بیا هم د هغوی په واکمنۍ کې یې د مشاورینو شمیر زیات کړ او دغو مشاورینو د دولتي چارواکو د ټولو کارونو څخه یې شوروي مشرانو ته رپوټ ور کاوه، شورویانو حفیظ الله امین د نشنلست او د امریکا د جاسوس په نوم یاد کړ، نور محمد تره کی یې د هغه پلوي ګاڼه. کوښښ یې وکړ چې دوی دواړه په خپل منځ کې سره مخالف کړي، د کی. جی. بی، د جاسوسۍ دستګاه په ډیرې آسانۍ سره وکوي شول چې دواړه یې په خپل منځ کې ټکر کړي، بیا نور محمد تره کی د حفیظ الله امین پواسطه ووژل شو. خو د حفیظ الله امین د له مینځه وړلو لپاره شوروي پوځونو په افغانستان یرغل وکړ او د امین پر ځای ببرک کارمل واک ته ورساوه.

ـ شوروي تر دې نامه لاندې پر افغانستان یرغل وکړ چې د ثور انقلاب ته نجات ور کړې، او په افغانستان کې د امپریالیزم د نفوذ مخه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي د ۱۹۷۹ ز کال څخه تر ۱۹۸۹ ز کال پورې پر افغانستان کې په ډيرقوت نظامي عمليات وکړل او ډيرې نوې وسلې يې استعمال کړې ، خو برياليتوب ته ونه رسيدل د جګړې مصارفو او ځاني تاوان شوروي په دې قانع کړه چې دوي په افغانستان کې بريالي کيدلی نه شي د سياسي هلو ځلو او د افغانستان په رهبري کې له بدلون وروسته د ژينو تړون لاس ليک او د شوروي د سرو لښکرو د وتلو له پاره يې زمينه برابره او افغانستان څخه ووتل ، خو زمونږ مظلوم ولس اوسه (۱۳۹۳ لمريز کال) پورې د جګړې په لمبو کې سوځي او د نجات لاره ترې ورکه ده .

- بايد يادونه وشي چې د شوروي يرغل د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند د داخلي اختلاف ، واک ته له رسيدوسره د ببرک کارمل ډيرې مينې او د شوروي اتحاد د پراختيا غوښتنې د سياست له امله صورت وموند . د يرغل پر مهال د پرچم اړخ واک انحصار نورو ګوندونو او سازمانونو ته يې د پام وړ ازادي او ونډه ور نه کړه . هيله يې در لوده چې د شوروي پوځي عمليات به د دوی مخالفين په کلي ډول له مينځه يوسي . خو د افغانستان ټولو خلکو د دوی پر ضد د مجاهدينو له صفونو سره يو ځای شول . د دې يرغل او خپل منځي جګړو اغيزې تر اوسه پورې پاتې دي . اوسني زعامت بايد د واک له انحصار څخه ډډه وکړي تر څو د افغانستان سياسي وضيعت ثبات پيدا کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹ـ وړاندیزونه:

۱ـ د دې څېړنیز اثر د څېړنې او لیکنې پر مهال دې پایلې ته ورسیدم چې پر افغانستان باندې د شوروي د یرغل اقتصادي ، سیاسي ، ټولنیز او فرهنګي پایلې باید په جلا څېړنو او پروژو کې وڅېړل شي تر څو د دې یرغل د پایلوټولې خواوې روښانه شي.

۲ـ د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند کې د تاسیس له نیټې څخه داخلي اختلافات موجودو . چې دغه اختلافات واک ته له رسیدو وروسته د دواړو خواو ترمنځ دقدرت پر سر نور هم زیات شو . د دغو اختلافاتو د لاملونو د پیدا کولو لپاره جلا دقیقو څېړنو ته اړتیا ده ځکه همدغه اختلافاتو پر افغانستان باند ې دشوروي د یرغل له پاره زمینه برابره کړه . د دغه یرغل په پایله کې د افغانستان د پرمختګ مخه ډب او د افغانستان د وروسته پاتې کیدو سبب شو.

۳ـ که اوس په نړۍ کې شوروي اتحاد د یوه نړیوال ځواک په توګه شتون نه لري ، خو نړیوالو سیاسي اړیکو ته په پاملرنې سره د افغانستان په بهرنۍ سیاست او اقتصادي وضع باندې د هغوي اغیز اوس هم د پام وړ دی ، هڅه باید وشي چې د اقتصادي او سیاسي پالیسو په طرحه کولو کې د روسي او شمالي ګاونډیو هیوادونو اغیز او نفوذ په پام کې و نیول شي او په اقتصادي برخه کې باید د هغوی مرستې ته پاملرنه وشي تر څو پخوانۍ اقتصادي پروژې بیا ورغول شي.

۴ـ په څېړنه کې دا څرګنده شوه چې د افغانستان لوړ پوري چارواکی اساسي قانون پر ځان نه تطبیقوي ، وړاندیز دا دی چې د افغانستان ټول چارواکی باید اساسي قانون په ځان او نورو باندې په یو شان تطبیق کړي تر څو د افغانستان سیاسي وضیعت ثبات پیدا کړي. د پارلماني ټاکنو له پاره باید پراخه زمینه برابره شي تر څو صادق او ریښتیني هیوادوال پارلمان ته لاره پیدا کړي ، چې وکړي شي د حکومت په چارو باندې قانوني کنترول وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰_ نښلوني

## څلورمه نښلونه

دسردار محمد داود خان دواک ته له واکنمي څخه د ډاکتر نجیب الله دواکمنۍ ترسقوط پورې د ځینو پېښو کرونو لوژي ۱۹۷۳ زکال

۱۳۵۲ ل دچنګاښ ۱۲ مه _ ۱۳۷۱ لمریز کال ثور ۸ مه پورې

۱۹۷۳ جولاي ۱۷_ ۱۹۹۲ زکال د اپریل ۲۵ مه

۱_ ۱۹۷۳ زکال دجولای ۱۷ مه ۱۳۵۲ ل کال دچنګاښ ۲۲ مه سردار محمد داود خان کودتا وکړه او شاهي رژیم پر ځای یې جمهوري نظام اعلان کړ.

۲_ ۱۹۷۳ ز کال د اګست په ۲۴ مه پخواني پاچا محمد ظاهر شاه رسما استعفا وکړه .

۳_ ۱۹۷۳ زکال اګست ۲۲ مه :

د افغانستان جمهور رئیس دیوې وینا په ترخ کې د جمهوریت کړنلاره اعلان کړه .

۴_ ۱۹۷۳ زکال دسپتمبر ۲۱مه:

د محمد هاشم میوند وال دافغانستان پخواني صدراعظم دکودتا په تور ونیول شو .

۵_ ۱۹۷۳ ز کال داکتوبر په لومړۍ نیټه :

د کابل راډیو اعلان کړ چې محمد هاشم میوند وال په زندان کې ځان وواژه .

۶_ د ۱۹۷۴ ز کال د مې ۴ مه :

د افغانستان داسلامي غورځنګ مشر استاد غلام محمد نیازي اوځو تنه ملګري یې ورسره بندیان شول.

۷_ ۱۹۷۴ ز کال د مې ۹ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمحمد داود خان له خوا نوی بیرغ په ارگ باندې وځړول شو .

۸_ ۱۹۷۴ ز کال د جون ۴ مه : د سردار محمد دادو خان لومړي ځل شوروي اتحاد ته سفر وکړ .

۹_ ۱۹۷۵ ز کال دجولاي ۲۱مه :

د اسلامي گوند غړو د سره رود ، پنجشیر په ولسوالۍ اویو شمیر نورو ولایتونوباندي حمله وکړه خو بریالي نشول .

۱۰_ ۱۹۷۷ ز کال د جنوري ۳۰ مه :

د ا ساسي قانون دتصویب او جمهور رئیس دانتخاب لپاره لویه جرگه دایره شوه .

۱۱_ ۱۹۷۷ ز کال فبروري ۱۴ مه :

لوي جرگي له خوا اساسي قانون په ۱۳ فصلونو او ۱۳۲ مادو کې تصویب کړ .

۱۲ _ ۱۹۷۷ ز کال د فبروري ۲۴ مه :

د افغانستان ولسمشر محمد داود خان نوي اساسي قانون توشیح کړ .

۱۳_ ۱۹۷۷ ز کال د اپریل ۱۲مه :

سردار محمد داود خان شوروې اتحاد ته سفر وکړ .

۱۴_ د۱۹۷۷ ز کال د اکتوبر ۱۰ مه :

دپاکستان جمهور رئیس ضیاوالحق کابل ته راغی او له محمد داود خان سره یې وکتل .

۱۵_ ۱۹۷۷ ز کال د نومبر ۱۲ مه :

د پلان وزیر علي احمد خرم په خپل دفترکې ووژل شو .

۱۲_ ۱۱۹۷۸ ز کال داپریل ۱۷ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرچم ډلي مشر ميراکبر خيبر ترور شو .

۱۷_ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۱۹ مه :

دمير اکبر دمړي د ښخولو په مراسمو کې سخته مظاهره شوه .

۱۸_ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۲۲مه :

د افغانستان دخلق ديموکرتيک ګوند درهبري هئيت غړي د نور محمدتره کی، او کارمل په ګډون ونيول شول .

۱۹_ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۲۷ _ ۱۳۵۷ ل کال د ثور ۷ مه :

د افغانستان په پوځ کې د افغانستان دخلق ديموکراتيک ګوند غړو افسرانو کودتا وکړه .

۲۰_ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۳۰ مه :

دجمهوريت نوم يې د افغانستان په ديموکراتيک جمهوريت بدل او نور محمد تره کی، د انقلابي شورا درئيس په توګه اعلان شو .

۲۱_ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۳۰ مه :

شوروي اتحاد دلومړني هيواد په توګه د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت په رسميت وپيژنده .

۲۲ _ ۱۹۷۸ ز کال د مې لومړي نيټه :

د انقلابي شورا په دويم فرمان کې د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت نوي کابينه اعلان شو . .

۲۳ _ ۱۹۷۸ ز کال د مې ۱۴ مه :

انقلابي شورا په خپله دريمه ګڼه فرمان کې د ۱۹۷۷ ز کال اساسي قانون لغوه اعلان کړه .

۲۴ _ ۱۹۷۸ ز کال د مې ۲۲ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورستان ولایت د وایگل درې خلکو په علني توگه د نوي حکومت مخالفت وکړ.

۲۵_ ۱۹۷۸ ز کال دجون ۲ مه :

د څلورم نمبر فرمان په ترڅ کې دولتي بیرغ او نښان بدل شو .

۲۶_ ۱۹۷۸ دجون ۱۳ مه:

د انقلابي شورا په پنځمه گڼه فرمان کې دشاهي کورنۍ له یو شمیر غړو څخه تابیعت واخستل شو .

۲۷ _ ۱۹۷۸ زکال دجون ۱۷ مه :

د پرچم ډلې ځینې مشران بهرنیو هیوادونو ته د سفیرانو په توگه ولیږل شول.

۲۸ _ ۱۹۷۸ زکال دجولاي ۱۲ مه:

شپږم نمبر فرمان حکومت دسوداوسلم په برخه کې صادر کړ .

۲۹ _ ۱۹۷۸ د اگست ۱۷ مه :

د دفاع وزیر عبدالقادر لوی درستیز جنرال شاه هپور احمدزی او جمهوریت روغتون رئیس میر علي اکبر د کودتاه په تور ونیول شول.

۳۰ _ ۱۹۷۸ زکال اگست ۲۳ مه :

دپرچم د اړخ ځینې رهبران دنور محمد تره کی پر ضد د کودتا په تور ونیول شول

۳۱_ ۱۹۷۸ دسپتمبر ۹ مه :

د پاکستان ولسمشر جنرال ضیاوالحق افغانستان ته راغی او له نور محمد تره کی سره ویې ولیدل.

۳۲_ ۱۹۷۸ د اکتوبر ۱۷ مه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت اووم نمبر فرمان د ښځې د مهر په اړه صادر کړ .
۳۳ _ ۱۹۷۸ اکتوبر ۱۹مه :
نور محمد تره کی د افغانستان نوې بیرغ د جمهوري ریاست د ماڼۍ پر سر و دراوه .
۳۴ _ ۱۹۷۸ نومبر ۲۷ مه :
د کابل راډیو اعلان وکړ چې د پرچم ډلې شپږ تنه مشران دببرک کارمل په شمول چې په بهرنیو هیوادونو کې د سفیرانو په توگه ټاکل شوي وو یو شیمر او ددولت پر ضد د توطي په تور له خپلو دندو څخه لیري کړل شول .
۳۵ _ ۱۹۷۸ زکال دنومبر ۲۸ مه :
حکومت اتم نمبر فرمان دمځکو د اصلاحاتو په اړه صادر کړ .
۳۶ _ ۱۹۷۸ زکال دسمبر ۵ مه :
د هر اړخیزو همکاریو تړون په مسکو کې د نور محمد تره کی اولیونیل بریژنیف تر مینځ لاس لیک شو .

۳۷ _ ۱۹۷۹ زکال فبروري ۱۴ مه :
د امریکا دمتحدایالاتو سفیر اډلف ډبس د کابل په ښار کې ووژل شو .
۳۸ _ ۱۹۷۹ زکال د مارچ ۱۲ مه :
دسمنگانو د ولایت دره صوف د ولسوالۍ خلکو پاڅون وکړ او پر حکومتي تاسیساتو یې حمله وکړه .
۳۹ _ ۱۹۷۹ زکال د مارچ ۱۳مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان یوشمیر دیني عالمان دپاکستان د پیښور په ښار کې سره جرګه شول او د افغانستان دحکومت پرضد یې د جهاد فتوا صادره کړه .

۴۰_ د ۱۹۷۹ زکال د مارچ ۱۵ مه د ۱۳۵۷ ل کال د حوت ۲۴ مه :

دپوځ افسرانو د هرات د ښار د نږدې سیمو خلکو د نور محمد تره کي دحکومت پرضد پاڅون وکړ

۴۱ _ ۱۹۷۹ زکال مارچ ۲۷ مه :

حفیظ الله امین د افغانستان د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو .

۴۲_ ۱۹۷۹ زکال اپریل ۲۱مه :

دننگرهار فرقې افسرانو او سرتیرو د کابل دحکومت پرضد پاڅون وکړ .

۴۳_ ۱۹۷۹ زکال دمې ۹ مه :

د لوګر مختلفو ولسوالیو د حکومت پرضد پاڅون وکړ .

۴۴ _ ۱۹۷۹ زکال د مې ۲۹ مه :

د افغانستان د اسلامي نهضت مشر پوهاند غلام محمد نیازي له یو شمیر ملګرو سره اعدام شو

۴۵ _ ۱۹۷۹ زکال دجون ۲۳ مه ۱۳۵۸ ل کال د سرطان ۲۰ مه :

د کابل ښار خلکو د میوندجادې او چند اول په سیمو کې په عمومي پاڅون لاس پورې کړ .

۴۶ _ ۱۹۷۹ د اګست ۵ مه :

د کابل بالاحصار د قرارګاه افسرانو او سرتیرو د کابل حکوت پرضد پاڅون وکړ .

۴۷ _ ۱۹۷۹ زکال د اګست ۲۲ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسمارغونډ چې د حکومت ځواکمن قوت و له حکومت سره مخالفت وکړ د مجاهدینو سره یو ځای شو.

۴۸ _ ۱۹۷۹ زکال د سپتمبر لومړی نیټه :

نور محمد تره کی د ناپیلیو هیوادونو په کنفرانس د ګډون له پاره د کیوبا پلازمینې هاوانا ته سفر وکړ.

۴۹ _ ۱۹۷۹ زکال د سپتمبر ۱۰ مه :

نور محمد تره کی له کیوبا څخه بیرته د راتګ پر مهال په مسکوکې تم شو او هلته یې د سریملین له مشرانو سره ولیدل.

۵۰ _ ۱۹۷۹ سپتمبر ۱۱مه :

نور محمد تره کي د کیوبا او شوروې تر سفر وروسته کابل ته راغي.

۵۱ _ ۱۹۷۹ زکال د سپتمبر ۲مه :

د کابل راډیو اعلان وکړ چې د کابینې دري تنه وزیران (محمد اسلم وطنجار، شیرجان مزدوربار او سید محمد ګلاب زوي) د له خپلو دندوڅخه ګوښه شول.

۵۲ _ د۱۹۷۹ زکال د سپتمبر ۱۴مه :

د جمهوریت ریاست دارګ په دننه کې د نور محمد تره کی او حفیظ الله امین د پلویانو تر مینځ جګړه وشوه.

۵۳ _ ۱۹۷۹ زکال سپتمبر ۱۲ مه :

له ګوند او دولت څخه د نور محمد تره کي لیري کیدل . اعلان او حفیظ الله امین واک ته ورسید.

۵۴ _ د ۱۹۷۹ زکال اکتوبر ۱۹ مه :

د کابل راډیو اعلان وکړ چې نور محمد تره کې ورپیښې ناروغۍ له کبله وفات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۵ _ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۱۲ مه :
شوروي اتحاد څو نظامي واحدونو پولي ته نږدي ځای پرځای کړل .

۵۶ _ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۲۲ مه :
یو شمیر شوروي سرتیري د بګرام په هوایي ډګر کې کښته شول .

۵۷ _ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۲۴ مه :
دشوروي اتحاد په سلګونو نظامي الوتکې دکابل پر اسمان را ښکاره شوې او کابل ته یې نظامي وسایل او سربازان را ولیږدول . د کابل هوایي ډګر دملکي الوتکو پرمخ بند کړای شو او هغې سیمې ته نږدې یې د ملکي کسانو تګ را تګ بند کړ .

۵۸_ د ۱۹۷۹ زکال ډسمبر ۲۷ مه : ۱۳۵۸ ل کال د جدي ۲ مه :
شوروي عسکر په دارالا امان ، تاج بیګ غونډۍ د کابل راډیو تلویزیون اود کابل ښار په سلګونو پوځی او دولتي ادارو حمله وکړه او حفیظ الله امین یې د کورنۍ له یو شمیر غړو سره یو ځای وواژه .

۵۹ _ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۳۰ مه :
پر افغانستان د سرو لښکرو د یرغل وروسته ببرک کارمل دچهلستون په ماڼۍ کې دلومړي ځل له پاره خبري کنفرانس ورکړ .

۶۰ _ ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر ۳۰ مه :
د کابل راډیو اعلان وکړ چې حفیظ الله امین محاکمه او اعدام شو .

۶۱_ ۱۹۷۹ ز کال ډسمبر ۳۱مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرک کارمل نوې کابينه اعلان کړه ، افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند مرکزي کميتې عمومي منشي . انقلابي شورا رئيس او لومړى وزير په توگه اعلان شو .

۲۲_ ۱۹۸۰ ز کال جنورى ۵مه :

د ملگرو ملتو د امنيت شورا د افغانستان پر مسئله غونډه راوبله ، د پنځلسو غړو څخه يو لسو يې له افغانستان څخه د شوروي د پوځونو سمدستي ايستل وغوښتل .

۲۳_ ۱۹۸۰ ز کال د جنوري ۷ مه :

د عمومي ببښنې له مخې د څرخې پله له زندان څخه په زرگونو سياسي بنديان خوشي شول .

۲۴_ ۱۹۸۰ ز کال د جنورى ۱۴ مه :

د ملگرو ملتو په ځانگړي عمومي غونډه کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د سربازانو د سمدستي ايستلو په اړه په يوه پريکړه ليک کې ۱۰۴ مثبتي رايې، ۱۸ مخالفي او ۱۸ ممتنع رايى ور کول شوي .

۲۵_ ۱۹۸۰ ز کال جنوري ۲۰ مه :

دامريکا جمهور رئيس جيمی کارتر اعلان وکړ که چيرې شوروي د ۱۹۸۰ زکال دفبروري تر ۲۰ مي له افغانستان څخه و نه باسي نو امريکا به په مسکو کې د المپيک په لوبو کې گډون ونکړي .

۲۶_ ۱۹۸۰ز کال د جنورى ۲۷ مه :

اسلامی هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو غونډه جوړه شوه د افغانستا پر مسله يې بحث وکړ .

۲۷_ ۱۹۸۰ ز کال د فبروري ۲۲ مه _ ۱۳۸۵ کال د کب ۳ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاريانو د تکبير په نارو د حکومت مخالفت وکړ ، خو حکومت د څرخکيو او سرتيرو پرې ډزي وکړي او په سلګونو کسانو مړه او ټپيان شول .

۶۸_ ۱۹۸۰ ز کال د اپريل ۲۱ مه :

ببرک کارمل د افغانستان نوي بيرغ پر ارګ باندې وځړاوه .

۶۹_ ۱۹۸۰ ز کال د اپريل ۲۱ مه :

د کابل پوهنتون او دليوثا ګردانو مظاهره وکړه .

۷۰_ ۱۹۸۰ ز کال د اکتوبر ۱۵مه :

ببرک کارمل يو لوړ پوړې هئيت سره مسکو ته د شوروي اتحاد د مشرانو سره خبرو له پاره ولاړه .

۷۱_ ۱۹۸۰ ز کال د نوامبر ۲۰ مه :

د ملګرو ملتونو شورا له افغانستان څخه دشووري ځواکونو د ايستلو په خاطر د ۱۱۱ مثبتو رايو ، ۲۲ مخالفو او ۱۳ ممتنع رايو سره يو پريکړه صادر کړ.

۷۲_ ۱۹۸۰ ز کال دفبروري ۲۵_ ۲۸ :

په سعودي عربستان کې د اسلامي هيوادونو دريم کنفرانس داير او دشوروي يرغل يې محکوم کړ .

۷۳_ ۱۹۸۱ ز کال د جون ۱۰ مه :

سلطان على کشمند د کابل د حکومت د لومړی وزير په توګه اعلان شو .

۷۴_ ۱۹۸۱ ز کال د جون ۱۵ مه :

د پلار وطنی ملي جبهی د کنګری غونډ په کابل کې جوړه شوه .

۷۵_۱۹۸۱ ز کال د جولای ۱۱ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل حکومت پخوانۍ لایحه تعدیل کړ او د عسکري نیولو عمر یې را ښکته کړ .

۷۶_ ۱۹۸۱ ز کال سپتمبر ۲۲ مه :

مجاهدینو او قومي مشرانو په کویټه کې لویه جرګه دایره کړه تر څو د جهادي مشرتابه په اړه یې بحث وکړ .

۷۷_ ۱۹۸۱ ز کال دنومبر ۱۸ مه :

د ملګرو ملتونو سرمنشي پریزد کولیار د افغانستان په چارو کې د خپل ځانګړې استازي په توګه وټاکه .

۷۸_ ۱۹۸۱ دنومبر ۱۸ مه :

د ملګرو ملتونو سازمان د دریم لپاره د افغانستان څخه د شوروي عسکرو د ایستلو په اړه یو پریکړه لیک په ۱۱۲ موافقو رایو ، ۲۳ مخالفو رایو او ۱۲ ممتنع رایو تصویب کړ .

۷۹_ ۱۹۸۱ ز کال ډسمبر ۱۲مه :

ببرک کارمل د دویم ځل له پاره مسکو ته سفر وکړ د ازادی او لمر نښان چې د افغانستان تر ټولو لوړ نښان و ، د بریژنیف ته یې و رکړ .

۸۰_ ۱۹۸۱ ډسمبر ۲۷ مه :

د امریکا جمهور رئیس او تالر ریګن وړاندیز وکړ چې د مارچ ۲۱ مې د ورې نیټې سره سمون لري . د افغانستان د خلکو سره د پیوستون په توګه و لمانځل شي .

۸۱ _ ۱۹۸۲ فبروي ۲۲مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتو سرمنشي پزيز دکولپار خپل مرستيال ديکو ليار خپل مرستيال ديکولوردوويز د افغانستان په چارو کې خپل ځانګړي استازي وټاکي .

۸۲_ ۱۹۸۲ د جون ۱۲ مه :

د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي تر نظارت لاندې د افغانستان په اړه په جنيوا کې په غير مستقيم ډول د مذاکراتو لومړی دوره پيل شوه .

۸۳_ ۱۹۸۲ ز کال جون ۲۴ مه :

د کابل او پاکستان د استازو تر منځ د ژنيو په ښار کې غير مستقيم مذاکرات پای ته ورسيد .

۸۴_ د ۱۹۸۳ ز کال دجون ۲۱_ ۲۴ می :

د مذاکراتو غير مستقيمه دوره چې په ژنيو کې دايره شوي .

۸۵_ ۱۹۸۳ ز کال ډسمبر ۱۵ مه :

د شمال لسو تنو لويو قوماندانو د تخار ولايت داشکمش د ولسوالۍ د شر شر په سيمه کې سر ه کښيناستل چې نظامي عمليات او سياسي فعاليتونه په هماهنګه توګه مخ ته وړي او دوي دغه نظامي او سياسي ډله نظار شوراپه نامه ونوموله .

۸۶_ ۱۹۸۴ ز کال دجنوری ۱۴مه :

د کابل حکومت د عسکری جلب له پاره نوي لايحه اعلان کړه او دغه پريکړي له مخې ځوانان د ۱۸ کالو په عمر عسکري خدمت ته جلبيدل .

۸۷_ ۱۹۸۵ فبروري ۲۵مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشوروي اتحاد مشر میخایل گورباچوف دشوروي اتحاد د کمونست گوند اتمه کنگره افتتاح کړه او په خپله وینا کې یې د افغانستان جګړه دشوروي اتحاد له پاره د ناسور زخم وباله .

**۸۸_ ۱۹۸۵ ز کال داپریل ۲۳ مه :**

ببرک کارمل په کابل کې د قبایلو عالي جرګه پرانیستله .

**۸۹_ ۱۹۸۵ زکال می ۲۴ مه :**

شوروي او افغان ځواکونو د کنړ په مختلفو درو کې د مجاهدینو پر ضد ستري حملې پیل کړي .

**۹۰_ ۱۹۸۵ ز کال د اګست له ۲۹ می ډ سپتمبر تر ۳ می :**

په ژیتوا کې دغیر مستقیمو مذاکراتو پنځه دوره پیل شوه .

**۹۱_ د ۱۹۸۵ ز کال د اکتوبر ۱۷ مه :**

د ملګرو ملتو څلویښتمه عمومې غونډه جوړه شوه او د لومړي ځل لپاره د افغانستان د مجاهدینو د ائتلاف هیات د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ په هغه غونډه کې ګډون وکړ .

**۹۲_ ۱۹۸۵ ز کال ډسمبر ۱۲_۱۹ مه :**

په ژینوا کې د کابل د حکومت او د اسلام آباد تر منځ د مذاکراتو دوهم پړاو پنځمه دوره پیل شوه .

**۹۳_ ۱۹۸۶ د اپریل ۲۱ مه :**

د امریکا متحده ایالاتو افغان مجاهدینو ته د الوتکو ضد ستینګر راکټونو ورکول منظور کړل .

**۹۴_ ۱۹۸۶ زکال دمي ۳ مه :**

ببرک کارمل د افغانستان خلق دیموکراتیک د مرکزي کمیتي د عمومي منشي له څوکۍ څخه استعفا وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۵_ ۱۹۸۲ ز کال دمي ۴ مه :

د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند د مرکزي کيمټې اتلسم پلينوم جوړ شو او هغه کې يې ډاکتر نجيب الله د افغانستان د خلق د ديموکراتيک گوند د عمومي منشي وټاکل شو .

۹۶_ ۱۹۸۲ ز کال د مى ۵_ ۲۳ مى :

دغير مستقيمو مذاکراتو شپږمه دوره د افغانستان د مسئلى د حل له پاره د کابل او اسلام آباد تر منځ په ژنيو کې پيل شوي .

۹۷_ ۱۹۸۲ ز کال د جون ۱۲مه :

دافغانستان د مجاهدينو د ائتلاف ويا ند پروفيسر برهان الدين رباني د امريکا د جمهور رئيس رونالرريگن سره په امريکا کې وليدل .

۹۸_ د ۱۹۸۲ زکال دجولايې ۲۸ مه :

د شوروي اتحاد مشر ميخايل گورباچوف په ولا دي واستوک کې اعلان وکړ چې دده هيواد شپږ غونډه سرتيري به د روان کال تر پايه له افغانستان څخه را ووځي.

۹۹_د ۱۹۸۲ ز کال د جولاى ۳۱مى د اگست ۱۸ مى :

دژنيو د غير مستقيمو مذاکراتو اوومه دوره جوړه شو مگر بې له د التونکي غونډى د تاريخ ټاکلو څخه پاى ته ورسيده .

۱۰۰_د ۱۹۸۲ ز کال د سپتمبر ۲۵ مه :

په لومړى ځل په مځکى څخه هوا ته سيټنگر د جلال ابادهوايى ډگر ته ترنږدى استعمال شول .

۱۰۱_ ۱۹۸۲ ز کال د نومبر ۵ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتو عمومي منشي د ۱۲۲ رايو په اکثريت سره له شوروي اتحاد څخه وغوښتل چې له افغانستان څخه ووځي .

۱۰۲ _ ۱۹۸۶ ز کال د نوامبر ۲۰ مه :

ببرک کارمل له ټولو حزبي او دولتي مقامونو څخه ګوښه انو پر ځای حاجی محمد څمکی د کفيل په توګه وټاکل شو.

۱۰۳_ د ۱۹۸۶ ز کال ډسمبر ۱۲ مه :

ډاکتر نجيب الله مسکو ته لاړ او هلته له ميخايل ګورباچوف سره وليدل .

۱۰۴_ د ۱۹۸۷ ز کال د جنوري لومړي نيټه :

دکابل حکومت د جنوري له ۱۵ مې نيټې څخه وروسته د مجاهدينو سره يو طرفه اوربند اعلان کړ .

۱۰۵_ د ۱۹۸۷ ز کال دجنوري ۱۵ مه :

د افغانستان هوايي ځواک باړه چناره ښار ګوتې سره نږدې سيمي بمبار کړ .

۱۰۶ _ د افغنسنان د مجاهدينو مشرانو او مهاجرينو د پښور ښار په يو لويه غونډه کې د ډاکتر نجيب الله له خو داوربند وړانديز ور کړ .

۱۰۷ _ د ۱۹۸۷ ز کال د فبروری له ۲۵ مې د مارچ ۱۰ مه :

په ژنيوا کې د غير مستقيمو مذاکراتو اتمه دوره د کابل او پاکستان تر منځ پيل شوه .

۱۰۸_ د ۱۹۸۷ د جولای ۲۰ مه :

د کابل د حکومت رئيس نجيب الله په مسکو کې له ميخايل ګورباچوف سره وليدل .

۱۰۹_ د ۱۹۸۷ ز کال د نومبر ۳۰ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې د کال حکومت لویه جرګه را وبلله تر څو پرنو آساسي قانون بحث وکړي .

۱۱۰_ د۱۹۸۸ ز کال د اپریل ۱۴ مه :

د ژنیو توافقات د کابل حکومت ، پاکستان ، شوروي اتحا او دامریکا د متحده ایالاتو دنماینده ګانو له خوا امضا شول .

۱۱۱_ د ۱۹۸۸ ز کال د می ۱۵مه :

د ژنیو د توافقاتو په ارامی سره د شوروي عسکر و لومړی ډله له جلال اباد څخه دشوروي په لور روانه شوه .

۱۱۲_ د ۱۹۸۸ ز کال د مي ۸ مه :

د امو سیند له پله څخه دشوروي عسکرو د کاروان په تیریدل سره له افغانستان څخه دشوروي سرتیرو وتل پیل شول .

۱۱۳_ د ۱۹۸۸ زکال دمی ۲۷ مه :

محمد حسن شرق دکابل د حکومت د لومړی وزیر په توګه وټاکل شو.

۱۱۴_ د۱۹۸۸ ز کال د جون ۱۸ مه :

د افغانستان مجاهدینو لوړ رتبه کسانو د انجینر احمدشاه احمدزی په مشر حکومت جو ړ کړ .

۱۱۵_ ۱۹۸۹ ز کال د جنوري ۲۷ مه :

لویدیځو هیوادونو او جاپان خپل سفارتونه په کابل کې وتړل .

۱۱۶_ د سید جمال الدین په نامه د اسلامی حزب یو قوماندان د تخار ولایت کې د جمعیت اسلامي پر مجاهدینو حمله وکړه . چې ۳۲ تنه قوماندانان او افراد یې ووژل شول .

۱۱۷ _ د ۱۹۸۹ ز کال د اګست ۱۵ مه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجینر گلبدین حکمتیار د موقعت حکومت بی اعتباره او د بهرنیو چارو له وزاتو څخه یې استعفا اعلان کړه .

۱۱۸_ د ۱۹۸۹ ز کال د ډسمبر ۲۲مه :

د اسلامي حزب قوماندان د جمعیت د محاهدینو د وژلو په تور اعدام شو .

۱۱۹ _ د ۱۹۹۰ ز کال د مارچ ۲ مه د ۱۳۶۸ ل کال د حوت ۲ مه :

د کابل حکومت دفاع وزیر جنرال شهنواز تڼی کودتاه وکړه .

۱۲۰_ د ۱۹۹۰ زککال د مارچ ۷ مه :

شهنواز تڼی په شمول د کودتاه مشران پاکستان ته ولاړل .

۱۲۱_ د ۱۹۹۰زکال د اپریل ۱۲ مه :

نجیب الله رژیم ته د تسیلم شویو کسانو په هرات کې د ډلو پواسطه د هرات والي خالقیار یې ټپی او دملی امنیت د ریاست ریس جلال رزمنده ووژل شو .

۱۲۲_ د ۱۹۹۰ ز کال د می ۷_ ۹ مه :

فضل الحق خالقیار د کابل حکومت د لومړی وزیر په توگه وټاکل شو .

۱۲۳ _ د ۱۹۹۰ زکال دمی ۷_۹ مه :

د څو ولایتونو مجاهدینو قوماندان د یکشا کې سره را غونډ او د سرتا سري شورا بنسټ یې کیښود .

۱۲۴_ د ۱۹۹۰ ز کال د می ۲۱ مه :

فضل الحق خالقیار خپله کابینه اعلان کړه .

۱۲۵_ د ۱۹۹۰ ز کال د می ۲۸ مه :

په کابل کې لویه جرگه جوړه او د اساسي قانون په بدلونو یې بحث وکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲۶_ د ۱۹۹۰ ز کال جون ۲۳ مه :

د جهادي قوماندانانو دویمه شورا د سلگونو قوماندانانو په گډون د یکشا ولایت د ژوري په اډه کې جوړه شوه .

۱۲۷_ د ۱۹۹۰ سپتمبر ۲ مه :

د اسلامي محاذ د تنظیم ځیني قوماندانانو چې دننگرهار ولایت یې غونډه جوړه کړې و د سکاټ توغنډی د بریدله امله ۲ تنه مړه او ۲۵ ټپیان شول .

۱۲۸ _ د ۱۹۹۰ زکال د اکتوبر ۱۹ مه :

د افغانستان د جهادي قوماندانانو سراسري عالي شورا کمیسون د بدخشان د ولایت دشاه سیلم په سیمه کې غونډه وکړه .

۱۲۹ _ د ۱۹۹۰ زکال د اکتوبر ۲۴ مه :

د اسلامي حزب او جمعیت د اختلاف د لیري کولو په خاطر په ازاد و سیمو کې یو واحد اداري پر جوړښت یو پریکړه لیک په پښور کې لاس لیک کړ .

۱۳۰_ د ۱۹۹۱ ز کال فبروري ۹ مه :

د مجاهدینو یوه دري سوه گیزه هیت سعودي عربستان ته ولاړه .

۱۳۱ _ د ۱۹۹۱ ز کال دمارچ ۳۱مه :

مجاهدینو د خوست ښار فتحه کړ .

۱۳۲_ د ۱۹۹۱ ز کال د اپریل ۳۱ مه :

دکونړ ولایت په مرکز اسعداباد کې د یو ستري چاودنې له امله ډیر کسان ووژل شو .

۱۳۳_ د ۱۹۹۱ زکال داگست ۳۰ مه :

د جماعت الدعوت تنظیم مشر مولوي جمیل الرحمان د پاکستان په سرحدی ښار باجوړ کې ووژل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۴_ د ۱۹۹۱ ز کال سپتمبر ۱۳مه :

دشوروي او امریکا یو پریکړه لیک تصویب کړ ، چې د هغه پر اساس به د ۱۹۹۲ ز کال د جنوري له لومړی نیټې څخه افغاني اړخونو ته وسله نه ورکول کیږي .

۱۳۵ _ د ۱۹۹۱ ز کال د نوامبر ۵ مه

د روم په ښار کې ظاهر شاه باندې پرتگالي ژونالیست حمله وکړه خو هغه روغ پاتې شو .

۱۳۶_ د ۱۹۹۱ ز کال نوامبر ۱۱مه :

د مجاهدینو لومړي هئیت د پروفیسر برهان الدین په مشري د شوروي حکومت په بلنه مسکو ته سفر وکړ .

۱۳۷_ ۱۹۹۱ز کال د نوامبر ۱۵ مه :

د بلخ ولایت د حیرتاتو سرحدي ښار کې جنرال مومن د ډاکترنجیب الله د حکومت مخالفت وکړ .

۱۳۸ _ د ۱۹۹۲ د مارچ ۱۵ مه :

د سمنگانوولایت مجاهدینو ونیوه .

۱۳۹ _ د ۱۹۹۱ ز کال د مارچ ۲۰ مه :

د عبدالرشید دوستم له خوا په مزارشریف د ملی اسلامي جنبش په نامه ډله یې جوړه کړه .

۱۴۰ _ ۱۹۹۲ ز کال د اپریل ۱۱مه :

د سالنگ د لویې لارې د امنیتي پوستو افسران له شمالي قوایې سره یو ځای شول .

۱۴۱ _ د۱۹۹۲زکال د اپریل ۱۲ مه :

ډاکتر نجیب الله په کابل کې د ملگرو ملتو په دفتر کې پناه واخیستله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۴۲_ ۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۱۸** مه :

د هرات ولایت مجاهدینو ونیوه .

**۱۴۳_** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۰** مه :

د مختلفو ډلو مجاهدینو د کندهار ولایت فتحه کړ .

**۱۴۴_** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۲**مه :

مجاهدینو د سختی جګړې وروسته دبدخشان ولایت د فیض اباد ښار ونیو .

**۱۴۵_** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۳** مه :

د جلال آباد ، ګردیز ، مهترلام او قلعه نو ښارونو د مجاهدینو ونیول .

**۱۴۶_ ۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۴** مه :

د مجاهدینو تنظیمونو په یوه طرحه موافقه وکړ ه چې د هغې پر اساس پروفیسر صبغت الله مجددی د دوو میاشتو لپاره د انتقالي اداری د مشر په توګه وټاکل شو.

**۱۴۷_** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۵**مه :

د مجاهدینو مختلفو ډلو د کابل ښاراداره په لاس کې واخستله .

**۱۴۸ _** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۵** مه :

د کابل ښار د امنیت لپاره افغانستان اسلامی دولت لومړنۍ اعلامیه صادره کړه .

**۱۴۹ _** د **۱۹۹۲** ز کال د اپریل **۲۵** مه :

د کابل د جنوبي سیمو په ډیرو ځایونو کې د اسلامي حزب او دجمعیت اسلامي د متحدینو ترمنځ جګړه ونښته ، او د اسلامي حزب کسان د کابل اطرافو ته پر شاتګ ته مجبور شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۰ _ د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل ۲۷ مه د ۱۳۷۱ ل کال د ثور ۷مه :
دافغانستان د موقت حکومت د جمهور رئیس پروفیسر صبغت الله مجددی په مشری د مجاهدینو کاروان له پېښور څخه کابل په لور حرکت وکړ .

۱۵۱ _ د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل ۲۸ مه _ ۱۳۷۱ ل کال د ثور ۸ مه :
د افغانستان مجاهدینو د قدرت د انتقال مراسم د بهرنیو چارو د وزارت دستوري په مانۍ کې تر سره شول او د ډاکتر نجیب الله واکمني پای ته ورسیده واک رسماً پروفیسر مجددی ته وسپاره .
۱۵۲ _ د ۱۹۹۲ ز کال د مجاهدینو حکومت نوي کابینه اعلان شو .

۱۵۳_ د ۱۹۹۲ ز کال مي په ۲۵ مه :
د احمدشاه مسعود او ګلبدین حکمتیار ترمینځ د اوربند او د شمال ځواکونو څخه دکابل د خالۍ کولو پریکړه لیک څرخي پله په سیمه کې لاسلیک شو .
۱۵۴_ د ۱۹۹۲ ز کال دمي ۲۹ مه :
کومه الوتکه چې پروفیسر صبغت الله مجدی له خپلو ملګرو سره د پاکستان څخه راتله د کابل هوایي ډګر ته نږدي یې الوتکه په توغندی وویشتل شو .[9]

[9] _ علمی ، حامد ( ۱۳۸۸ل کال ) . د افغانستان پېښلیک . ژباړن غلام ولي نوري ، نوري کلتوري مرکز .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۱_ ماخذونه:

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**